00048013

THE
ASIATIC SOCIETY OF BOMBAY
Town Hall, Bombay.

Digitized with financial assistance from the
Government of Maharashtra
on 07 April, 2016

THE

GULSHAN-I-ROH:

BEING

SELECTIONS, PROSE AND POETICAL,

THE PUSHTO, OR AFGHĀN LANGUAGE.

EDITED BY

CAPTAIN H. G. RAVERTY,

OF HER MAJESTY'S THIRD REGIMENT, BOMBAY N. I.

AUTHOR OF A GRAMMAR AND DICTIONARY OF THE PUSHTO LANGUAGE; A THESAURUS OF ENGLISH AND HINDŪSTĀNĪ TECHNICAL TERMS, ETC. ETC.

48013

ac.

اوس دَ فکر تورہ واچوہ حمیدہ
چہ دِ نشتہ پہ پښتو کښې بل حریف

axd 4

LONDON:
LONGMAN, GREEN, LONGMAN, AND ROBERTS, PATERNOSTER ROW;
WILLIAMS AND NORGATE,
HENRIETTA STREET, COVENT GARDEN, AND 20, SOUTH FREDERICK STREET, EDINBURGH.
HERTFORD: STEPHEN AUSTIN.
MDCCCLX.

ORI
Per 891.5
Row/Gul
48013

STEPHEN AUSTIN,

PRINTER, HERTFORD.

00048013

TO THE RIGHT HONORABLE

JOHN, BARON ELPHINSTONE, G.C.B., K.C.H.,

ETC. ETC. ETC.

GOVERNOR OF THE PRESIDENCY OF BOMBAY,

THIS WORK

IS,

WITH THE GREATEST RESPECT,

DEDICATED

BY HIS LORDSHIP'S MOST OBEDIENT HUMBLE SERVANT,

H. G. RAVERTY, CAPTAIN

3RD REGIMENT, BOMBAY N. I.

PREFACE.

Pus̲h̲to Manuscripts of any antiquity are now become scarce, even amongst the Afg̲h̲āns, whose language it is. This has, doubtless, been caused by the numerous civil convulsions which Afg̲h̲ānistān has undergone during the last sixty years, in which period the cultivation of the Afg̲h̲ān language has, comparatively, declined. Hence the few works now to be met with are generally full of errors, from the fact of the Kātibs, or Copyists, being, with rare exceptions, persons wholly unacquainted with the Pus̲h̲to language, and not Afg̲h̲āns, who are, generally, indifferent writers.

With the exception of a few well-known Pus̲h̲to works in the East India House, in London, some six or seven in number, not including duplicates and triplicates, books in this language are rarely met with out of Afg̲h̲ānistān, where they are sufficiently scarce and difficult to obtain.

Under these circumstances, I considered that a work, containing the correct text of portions of the most standard authors, together with extracts from several rare works unprocurable in the present day, and of which, probably, not more than one or two copies exist, would alike prove acceptable to the Orientalist and to the Student; more particularly when printed in a type which, for clearness and beauty, cannot be equalled in typography or in caligraphy, and at a cost below what an ignorant Copyist would demand for his labour.

The chief object, however, contemplated, when the work was commenced, was to facilitate and encourage the acquirement of the Pus̲h̲to language, the reasons for which have been fully stated in the Preface to the Dictionary.

This work, with the aid of the Grammar and Dictionary now published, will also enable the European Orientalist to acquire at home the knowledge of a language, the literature of which contains "Full many a flower" that hitherto has been doomed "to blush unseen, and waste its sweetness on the desert air."

The work contains considerable portions of six prose and ten poetical authors, which I have endeavoured to select, with due attention to the wants of the Student and as favourable specimens of the style and subject of the writings of each, from the oldest work in the language now procurable—the Mak̲h̲zan-ul-Asrār of Āk̲h̲ūnd Darwezah, written in the reign of the Mug̲h̲al Emperor,

Akbar—down to the last poet of any considerable repute, Mullā Æabd-ul-Hamīd—though last, not least—who lived in the latter half of the past century, during the reign of Tīmūr Shāh, son of Ahmad Shāh, Abdālī, the founder of the Durānī monarchy.

All these extracts have been carefully collated, in some instances, as in the case of the Poems of Æabd-ur-Rahmān, with as many as fifteen or twenty different copies; and taken from ancient MSS. in my possession, some of which, even if they have before been heard of, have been seldom seen, such as the extensive "History of the Afghāns," by Afzal Khān, nephew of Khūshhāl Khān, the renowned chief of the Khattaks; the translation of Pilpay's Fables from the Persian version by Abu-l-Fazl, Minister of the Emperor Akbar, by the same author; and also the Poems of Kāzim Khān, Shaidā, his son—the original and only copy of which I possess—a work that even his own descendants of the present day had never seen until shown to them by me.

An English translation of some of the best poems, the greater number of which are contained in the present work, together with memoirs of the different authors, is prepared, and will be published some time during the coming year.

It being customary amongst Oriental authors to choose a significant name for their works, I have chosen for mine that of "Gulshan-i-Roh," signifying "The Flower Garden of Roh," as the mountainous country of Afghānistān is termed, and from whence the Afghāns have derived the name of Rohilahs; and I trust that its flowers will prove both fragrant and acceptable to all lovers of Oriental literature.

H. G. R.

Bombay, December, 1859.

CONTENTS.

PROSE WORKS.

		PAGE
1.	Tārīkh-i-Murassaæ of Afzal Khān	1
2.	Fawā'īd-ush-Shari'æa'h, of Ākhūnd Kāsim	55
3.	Kalīlah-wo-Damnah, or Æilm Khāna'h-i-Dānish, of Afzal Khān.	81
4.	The Writings of Bābū Jān	117
5.	Makhzan Pushto, or Makhzan-ul-Asrār, of Ākhūnd Darwezah	133
6.	Gul-dasta'h, of Æabd-ul-Kādir Khān, a translation of the Gulistān of Saædī	151

POETICAL WORKS.

1.	Poems of Mullā Æabd-ur-Rahmān	1
2.	Poems of Khūshhāl Khān, Khattak	31
3.	Poems of Mullā Æabd-ul-Hamīd	73
4.	Poems of Khwājah Muhammad	103
5.	Poems of Mīrzā Khān, Ansārī	119
6.	Poems of Kāzim Khān, Shaidā	133
7.	Poems of Ashraf Khān, Khattak	149
8.	Yūsuf-wo-Zulīkhā; a translation from the Persian of Jāmī, by Æabd-ul-Kādir Khān, Khattak	164
9.	Poems of Æabd-ul-Kādir Khān, Khattak	187
10.	Poems of Ahmad Shāh, Abdālī, Shāh Dur-i-Durān	201

BY THE SAME AUTHOR,

TO BE PUBLISHED DURING THE PRESENT YEAR,

SELECTIONS

FROM

THE POETRY OF THE AFGHĀNS,

FROM THE SIXTEENTH TO THE NINETEENTH CENTURY:

TRANSLATED FROM THE ORIGINAL PUS'HTO;

WITH MEMOIRS OF THE DIFFERENT AUTHORS.

"Full many a gem of purest ray serene
The dark unfathom'd caves of ocean bear;
Full many a flower is born to blush unseen,
And waste its sweetness on the desert air."

☞ THE ORIGINALS OF THESE POEMS ARE CONTAINED IN THE PRESENT WORK.

گلشن روه

یوه مجموعه د گلو

د نثر و نظم په ژبه د پښتو

تالیف د

راورتي صاحب بهادر کپتان د دریم پلټن د بمبئي خاطي

له فوج د ملیکهٔ زمان

د سوسن ژبه حیرت کړه سرمه سایه
چه شیدا په دا بهار کښې سخن گوي شه

axd4

چهاپ شوي په مطبع کښې د ستیون آستین صاحب
په ښهر د هرتفرد سنه ۱۸۶۰ عیسوي

STEPHEN AUSTIN,

PRINTER, HERTFORD.

دیباچه

زاړه کتابونه د پښتو په دي زمانه کښِ ډیر کم یاب دي بلکه په مینځ کښِ د پښتنو هم چه ویونکي د دي ژبي دي سبب ئي دا دي چه له هغه وقتَ چه زهمسنو د پاینده خان بارکزي لاس د تسلّط پر بادشاه خپل مونډلي وه زلزلي د فساد په دغه ملك کښِ پله پسي لویدلي دي ځکه محاوره او ریاضت د ژبي د پښتو په دغه وقت په نسبت و پخوانیو وقتو ته کم شوي دي هم له دي سببَ که کوم کتاب له اتفاقَ په لاس کښیوزي له ډیري غلطیا قابل د لوستو نه وي ولي چه کاتبان ټول مګر ځني ځني له دي ژبي بالکل نا واقف دي بلکه پښتانه هم نه دي ځلره چه پښتانه اکثر له خوش نویسئ بیګانه دي نور کتاب دپاره د نقل و خوش نویس ته د بل قوم ور کړي نقل کوي

پرته له ځنو مشهورو کتابو چه په کتاب خانه کښِ د سرکار کمپني بهادر په معموره کښِ د لندن شته نور دباندِ تر افغانستان کتابونه د پښتو په لاس راوړل نادر دي له دي جهته ؤپوهیدم چه یو کتاب جمع شوي له متفرقو کتابو نه تصنیف شوي د ښو ښو مصنفانو په صحي عبارت او له ځو نورو نادرو کتابو څخه چه په دي زمانه کښِ ډیر کم یاب دي چه په ګمان سره به زیات تر یوه دوي نسخي نه وي مطلوب او مقصود به ؤ شمیره شي خصوصاً هغه وقت چه چهاپ شوي په حرفو سره وي نچه په صفائي او خوش نمائي

سیال نه په لیکلو او نه په چهاپ کښ لري او په قیمت سره چه کم دي ـ
تر مزدورۍ د کوم بد خط او نا واقف کاتب

مګر لوي مراد له تصنیف د دي کتاب آسانول د دي ژبي او باعثول د
هوا خواهانو ئي وه تا چه په هدایت د دي کتاب باعث شوي په څو ورځو
کښ ژبه د پښتو حاصله کړي له څه سببو چه په دیباچه کښ د پښتو لغت
مي په تفصیل بیان شوي دي

له مدد د دي کتاب سره له دوو نورو یعني تعلیم نامه د قاعدو د پښتو
ژبي او لغت چه ذکر ئي شوي دي چه درو سرو یو ځاي اجري موندلي ده
اهل علم د نمر ختو فرنګستان توانیږي چه پخپل کور کښي واقفیت حاصل
کړي په لانبو کښ د دریاب د یوي ژبي چه مرغلري آبداري او جواهر قیمت
بها لري او بي مدد د ملاح او بي منت د ناخدا په کښتئي د مطالعي د دي
کتاب وخنډه ته د زده کړي د پښتو ژبي ځان ورسوي

پسندول او جمع کول له کتابو متفرقو څخه مشکل کار دي په نظر د
انصاف په نسبت و مصنفانو ته مګر کوښښ مي وکړ دپاره د واضح کولو د
نموني د عبارت او اصطلاح د هر یوه له مصنفانو له هر باب یا د نثر یا د
نظم دپاره د دي چه په کار د شاګردانو په زده کړه کښ د ژبي د پښتو
هم راشي

په دي کتاب کښ مي حصي له لسو کتابو د نظم او شپږو کتابو د نثر
درجي کړي دي شروع شوي له زاړه ترین کتاب څخه چه په دي وقت کښ
موندهِ کیږي یعني مخزن الاسرار د آخوند درویزه تصنیف شوي په بادشاهي
کښ د اکبر بادشاه د مغلو ته کتاب پوري د ورستي د شاعرانو چه لائق د

تحسین دي یعني در و مرجان د عبدالحمید ـ که آخر د شاعرانو دي مګر تر نورو کم نه دي ـ چه په زمانه کښ د تیمور شاه ځوي د احمد شاه باني د بادشاهۍ د اودلو وه

دا واړه په نظرِ دقیق او فکرِ عمیق سره مقابله شوي دي له څو زړو نسخو سره چه مشهوري دي او له نورو کتابو سره چه په لاس مي اتفاقاً راغلي وُ چه که نوم ئې آرویده کیږي مګر په نظر نه راغي لکه تواریخِ مرصّع په ژبه د پښتو تصنیف د محمّد افضل خان ځوي د اشرف خان ځوي د ملك خوشحال خان ختك او علم خانهٔ دانش چه محمّد افضل خان مذکور کلیله و دمنه تصنیف د ابو الفضل وزیر د اکبر بادشاه ترجمه کړه او دیوان د محمّد کاظم خان تخلص. شیدا ځوي د محمّد افضل خان مذکور چه یګانه نسخه د دي وقت ده او چه خپلوانو ئې اګرچه نوم د دیوان آرویدلي وه مګر سترګي ئې په سیاهي د هغه نه وي روښانه کړي څو ما ور ښکاره نه کړ

ترجمه د څو ښو غزلو په انګریزي چه اکثر په دي کتاب کښ درج دي هم تیاره کړي مي ده او امید لرم چه په دي کال کښ ګهنه د چهاپ واغندي

فهرست

نثر

۱ تاریخ مرصّع د محمّد افضل خان ختك

۲ فوائد الشریعه د آخوند محمّد قاسم

۳ کلیله و دمنه یا علم خانهٔ دانش د محمّد افضل خان ختك

۴ کتاب د بابو جان

۵ مخزن الاسرار د آخوند درویزه

۶ گلدسته د عبدالقادر خان ختك ترجمه د گلستان د سعدي

نظم

۱ دیوان د ملا عبدالرحمان

۲ دیوان د خوشحال خان ختك

۳ دیوان د ملا عبدالحمید

۴ دیوان د خواجه محمّد

۵ دیوان د میرزا خان انصاري

۶ دیوان د محمّد کاظم خان شیدا

۷ دیوان د اشرف خان ختك

۸ یوسف و زلیخا د عبدالقادر خان ترجمه د کتاب د جامي

۹ دیوان د عبدالقادر خان ختك

۱۰ دیوان د احمد شاه ابدالي

نسخې د نشر

•

فهرست د غلطو

PAGE.	صحيح	غلط	سطر	صفحه	نسخه
35	په دا مينځ	په دا امينځ	۱۵	۳۵	تاريخ مرصع
61	حشم	حشم	۹	۷	فوائد الشريعه
71	ذره	زره	٦	۱۷	
85	بادشاه	باشاه	۱۲	۵	کليله و دمنه
102	کوټي	کوئي	۱۳	۲۲	
113	دپاره	د پاره	۱۳	۳۳	
125	د زړه مينه دِ	زړه مينه ده	۱	۹	بابو جان
,,	په وو له دِ په ويره	په وو له دِ به ويره	۴۴	,,	
132	مصلحتي د ده	مصلحتي ده	۹	۱٦	
137	مذهب د الهاميه	مذهب د حلولي	۲۰	۵	مخزن پښتو
155	زنهار	زنهر	۲۰	۵	گل دسته
166	په نگهباني د ملک	په نگهباني ملک	۱٦	۱٦	
169	بې رنگَ	بي نگَ	۲۱	۱۹	
181	زير و زبر	زيروزبر	۲۲	۳۱	

له دیوانه د عبدالرحمان سربنړي

عبدالرحمان

بسم الله الرحمن الرحيم

ګوره هسي کردګار دي رب څما — چه صاحب د کل اختیار دي رب څما

همکي بزرګواران چه څوک وائي — تر همه بزرګوار دي رب څما

نه ئي هیڅ حاجت پچا باند موقوف دي — نه د هیچا منت بار دي رب څما

له نیستي د هستي صورت پیدا که — هسي رنګ پروردګار دي رب څما

هم صانع دي د جمله‌و مصنوعاتو — هم سامع د هر ګفتار دي رب څما

چه ئي هیچرته نه مثل نه مثال شته — د هغه عطرو عطار دي رب څما

هر تعمیر چه د دنیا او د عقبي دي — د همه وارو معمار دي رب څما

خوانده د نا نویسو صحیفو دي — دانده د هر اسرار دي رب څما

که ظاهر دي که باطن دي که مابین دي — له همه‌و خبردار دي رب څما

شریک نه لري پخپله بادشاهي کا — بي شریک شهریار دي رب څما

هسي نه چه واحدي ئي ده له عجزه — په واحد وجود بسیار دي رب څما

حاجت نه لري د نور چا و یاري ته — له هغو سره چه یار دي رب څما

څه حاجت دي چه ئي بله خواته غواړم — پخپل کور کښ همکنار دي رب څما

هیڅ تغییر و تبدیل نه لري رحمنؔ

تل تر تله برقرار دي رب څما

تر حده تیره شوه په یار پسي ژړا څما — نه ګروهیږي په ژړا سره آشنا څما

که مي هره وینا د رو مرغلري شي — لا لائق د غوږو نه ګنړي وینا څما

په نارو به مي بيدار كړ كه خوب وړي وي بارِ ويښ را ته اوده شه دلربا څما
زه مكتوب غند په پټه خوله گويا يم خاموشي څما تيري كه تر غوغا څما
كښت د عشق په توده زمكه امان چري سمندر بويه چه زيست كا په صحرا څما
دا يار نه دي چه هجران له ما بيل كړي روح څما دي چه له تنَ دي جدا څما
زه رحمان بي خپله ياره نور څه نه غواړم
كه قبوله شي د خداي په در دعا څما

دوباره دِ راتله نشته په دنيا نن دِ وقت دي كه دروغ كړي كه رښتيا
هره چار چه تر وقت تيره شي عنقا شي عنقا ندي په دام نښتي د هيچا
تر ورځ تيري اوبه بيرته نه جاروزي نه جاروزي تير ساعت په بيرته بيا
تير ساعت په مثال مړي د لحد دي مړ چا نه دي ژوندي كړي په ژړا
كه مقصود لري تلوار كړه وقت كوتاه دي غره مه شه د دي عمر په بقا
هره نښه چه صحيح كښري په زړه كښ پغرور به هغه نښه كړي خطا
په اميد اميد ئي خلق نااميد كړه د ايام له مكره مه شه بي پروا
چه د مرگ په تماچه دِ شي خوله ماته ترو په ماته خوله به څرنگ كړي ثنا
ويره ژلي ارتني چه وينا وائي تا ته وائي كه پوهيري په وينا
هلك نه ئي چه په زور دِ څوك تعليم كه هم عاقل ئي هم بالغ ئي هم دانا
په عمل د نيكو بدو فهم وُ كړه چه په دا كښ دِ بهبود دي كه پدا
سر د نن په گريوان كړه ستركي رونړي دير په بيرته بيرته مځه سر هوا
سرهوا سرهوا مځه و آسمان ته ته په اصل كښ له زمكي ئي پيدا
د عمل په ځاي به دا پوښتنه نه وي چه ته څوي ئي يا نمسي ئي د فلانا
هغه ناوي چه په ځان ښائسته نوي څوك ئي څه كاند ښائست د مور وُ نيا
په خپل ځان ښيكړه وُ كړه وُ ويريره په ښيكړه غره مه شه د ادي او د ابا
دا خبره زه وځان ته كړم اي ياره دلگير مه شه كه مي نوم واخست دِ تا
نوم د ستا او د بل آخلم ځان ته وايم نه مي كار نه مي غرض شته په نور چا

هر چه وايم همه واړه خان ته وايم دا عيبونَ دي همه واړه خما
که مي څاي د دِ غمونو واي په زړه کښ - ما به څه لره کوله دا انشا

چه د مرګ سختي خواري دِ پښوا دي
اي رحمانَ ولي نه مري لا پښوا

هيڅ ثابته نه کړه چا د دِ دنيا وفا واړه سترګي پټي مينه کا په دا دنيا
هرڅوك چه دعوي په دنيا کاند د خپلوِي واړه غلط وائي دنيا نه ده د هيچا
دا فلك کلال دي سازول او ماتول کا ډيرئي ما و تا غند پيدا کړل هم فنا
هرسنګ وکلوخ چه ليده کيږي د دِ دهر واړه ککري دي څوك د شاه څوك د ګدا
دام دِ هيڅوك نه رِدي د دنيا و رهګذر ته ښکار به کړلي نه شيُ د سيمرغ و د عنقا
هرڅوك چه له دي فاني نفس وابستګي کا نه به شي تړلي په زنځير سره هوا
ماه دي که آفتاب دي عاقبت واړه خراب دي ګل که هميشه وي هم څه نه تر ابدا

مه دروِمه رحمنَ پخلاف د دانايانُ
مينه د دنيا پسندلي نه ده هيڅ دانا

که څوك يار په جهان غواړيِ يار دي دا يار دي دا که د جهان سينګار دي دا
نه به ما غند شيدا وي په جهان کښ نه به تا غند دلبره شي پيدا
ما به صبر ستا په جور و جفا وُکړ ولي نه شي د زړا په څاي خندا
جدائي به دِ هيچري قبوله نه کړم څو مي نه دي روح کالبوت سره جدا
لك ورستو مقتديان وړاند امام وي ما په تا پسي ده کړي اقتدا
زه يو نه يم درست جهان په قامين دي که بادشاه دي د دِ دور که ګدا
کشکي خط د اماني و ما را کړي چه له ما سره وعدي کړي د فردا
زه په خپله په تا نه يم مين شوي ستا له لوريه په ما شوِ وه ندا
زه په تا باند مين يم له ازله نه چه کړي مي نن ورځ ده ابتدا

چه د ستا د عاشقئي په تيغ ادا شي
د رحمان به هله غاړه شي ادا

راشه مه کوه له چا سره جفا   لږ ژوندون دي ضایع کیږي بي وفا
په دنیا کښ هیڅوك نه دي پاته شوني   واړه تلوني دي که نن وي که صبا
دا یاران چه نن و تا و ته جلوه کا   په دوه روځي پس به واړه شي فنا
که دیدن دِ د چا خوش وِي ور ته ګوره   چه فنا شي بیا به کله شي پیدا
د خزان پاڼي چه بیلي شي له ښاخ   په حکمت به ئي پیوند نه کا حکما
چه په ځمکه څاڅکي پریوزي له آسمان   بیا له ځمکي ختي نه شي په سما
ګمان مه کړه چه بیا سترګو لره ور شي   هغه اوښي چه له سترګو شي جدا
دا په هره ورځ چه خیژي بل بل نمر دي   هر چه پریوزي هغه نه شي ختي بیا
که جنت په زهد نه دي بي کرم   هر سړي دِ خپله غاړه کا ادا
که د نفس د پاره سل محنت وُکړي   یو محنت به دِ پکار نه شي فردا
که تمام جهان په خپله ګیډه وُ خوري   یاد به نه شي په درود او په دعا
که یوه دانه دَ وږي په لاس ورکړي   هم دغه به دِ توښه شي په بقا
که یو څاڅکي اوبه تږي لره ورکړي   د دوزخ او ستا ترمیان به شي دریا
که یوځله سرد خداي په لوري ټیټ کړي   په قیامت به سر بلند شي تر هر چا
بازار دا دي که څوك سود و سودا کاند   په هغه جهان نه سود شته نه سودا
آشنایان که څه پوهیږي نن ئي وقت دي   چه زاریږي یو آشنا تر بل آشنا
که ژوندون دي خوهم دادي په جهان کښ   چه له چا سره تیریږي په خندا
خداي امان وُکړه له هسي زندګي   چه رته بد وائي له بله بل له تا
زهر ښه دي چه په صلح په صلاح وي   نه شکوي په فتنه و په غوغا
نس په خاورو په خس ډك ښه دي بي غم   نه د غم په خاورو خس په څه حلوا
ماته ملا په مشقت په محنت ښه ده   نه حرامه همیاني د چا تر ملا
ړوند بهتر دي چه څه نه ویني په سترګو   نه چه سترګي په پردي حرم کا وا
ګنګ بهتر دي چه بي کام و بي زبان وي   نه چه ژبه شي په بد ویل ګویا
کوڼ بهتر دي چه څه نه آروي په غوږو   نه چه غوږ کاند د بدو په وینا

دیو او دد که پښوا د رشي خو بهتر دي خدای دِ بد سړي د ر نه ولي پښوا
د جاهل تر همدمي ډیر بهتر دي که له چا سره همدم وي اژدها
که مشکل دي خو د زړونو رغیدل دي سهل کار دي سود و زیان د دي دنیا
سود و زیان د دنیا واړه سهل کار دي خدای دِ نه کا څوك په سهل کار رسوا
چه د ورور د عزیز زړه پر آزاریږي حاصل مه شه هغه خپله مدعا
ښه خواږه چه یوئې خوري بل ورته ګوري خواږه نه دي هغه زهر دي ګویا
ګاه د نورو رضا بویه ګهي خپله په کار نه ده همیشه خپله رضا
چه ښادي یو ګړي نه وي غم تر تله دغه هسي چاري نه کاند دانا
منصفانو لره بویه چه انصاف کا نه چه نغوته که د حرص د هوا
د سړي په خاطر هر څه هر څه ګرزي نه چه وُ کنړي همه واړه روا
دینداران دِ و خپل دین وته نظر کا څوك فکرونه د ثواب دي څوك خطا
خدای دِ نه کاند خطا د چا له لاسه څه نسبت دي د خطا او د عطا
هسي نه چه سړي واړه سره سم دي څوك عالي دي څوك اوسط دي څوك ادنا
د هرچا حرمت پښپله اندازه دي نه چه مومي نفر څای د امرا
رحمان شکر وُ شکایت له هیچا نه کړم
نه شته بل دوست دښمن څما بي ما

هغه بیاموند سعادت په دا دنیا چه ئي بیاموند قناعت په دا دنیا
نه ملکونه د سلیمان په هزار کاله نه یوه ګړي طاعت په دا دنیا
یو نفس د خدای په یاد کښ اولي تر دي نه د درست جهان دولت په دا دنیا
په دنیا کښ ګټه هغو عالم وُ کړه چه ئي وُ کړ عبادت په دا دنیا
که نعمت دي خو طاعت و عبادت دي ګنړه نه شته بل نعمت په دا دنیا
که محنت که مشقت دي خو د دین دي په کار نه دي بل محنت په دا دنیا
بي له خدای هرچه دي واړه فاني دي که لذت دي که زینت په دا دنیا
که بادشاه دي آخر خاورو لره د رومي څه عزت دي څه حرمت په دا دنیا

تر هغه به بل نادان په جهان نه وي — هر چه غواړي فراغت په دا دنیا

نه چه چند گاه فرصت په دنیا غواړي — چا موندلي دي فرصت په دا دنیا

دا فلك به ئې په سر د ریگ روان کا — هر چه کانده عمارت په دا دنیا

د مستانو تر لغزش څه کم نه دي — د سړي استقامت په دا دنیا

په روانو ابو راشه عمر گوره — ډیر دي هنبره اشارت په دا دنیا

هر ژوندي چه د مړه په قبر راشي — بس که هنبره نصیحت په دا دنیا

دا پاخه پاخه سرایونه محلونه — خو به وران شي عاقبت په دا دنیا

وري ستر گي د آسمان څه هسي نه دي — چه څوك پریږدي سلامت په دا دنیا

هرچه راشي همه واړه څني دروسي — مسافر دي هر صورت په دا دنیا

ریاضت په قیامت نه شي مرد هغه دي — چه ئې وُ کړ ریاضت په دا دنیا

هم په دا خویو خصلت به صبا پاڅي — خدای څوك مه کړه بد خصلت په دا دنیا

هم هغه به ئې خرمن وي پس له مرگ — هر چه کانده زراعت په دا دنیا

که هغه جهان په دا کښي لیده نه شي — زه ئې وینم علامت په دا دنیا

په قیامت کښي به توبه څبله وُ نه شي — ما لیدلي دي قیامت په دا دنیا

امانت به د لحد په میان کښي پروت وي — هر چه اوسي امانت په دا دنیا

نیك عمل حضور جنت دي طالع بویه — چه حاصل که څوك جنت په دا دنیا

نیك کردار نیك عملونه نیك خویونه — هم جنت دي هم راحت په دا دنیا

ضدیت د سړي عمر په عذاب کا — په کار نه دي ضدیت په دا دنیا

لاس په سر پر نسینه یبني و هر چا ته — هم دغه دي شرافت په دا دنیا

که بلنده مرتبه د چا په کار وي — لوي مقام دي عدالت په دا دنیا

بل ارمان به له جهانه یوور نه شي — مگر مهر و محبت په دا دنیا

د هغه جهان سودا واړه دلي ده — که څوك کانده تجارت په دا دنیا

که طالع د سړي نه وي جاروتلي — هیڅ پټ نه دي حقیقت په دا دنیا

نیك له نیکو سره بویه بد له بدو — که څوك غواړي ولایت په دا دنیا

ولایت دي خدای هغو لره ورکړي　　چه يې ور کړ سکونت په دا دنیا
که تمامه دنیا واړه سره یو شي　　نور به نه که خپل قسمت په دا دنیا
که څه مرد دي خو هغه دي په دنیا کښ　　هر چه نه لري حاجت په دا دنیا
چه رغبت يې د جمله خطاؤ سر دي　　څوک به څه کاند رغبت په دا دنیا

په رحمان باند دا عمر هسي تیر شه
لکه تیر شي یو ساعت په دا دنیا

هوښیار مه ګڼړه هوښیار د دِ دنیا　　بي وقوف دي وقوف دار د دِ دنیا
روښنائي په هغو زړونو ده حرامه　　چه پر کښیني ګرد غبار د دِ دنیا
پوچ ګوئي ده چه يې اهل د دنیا کا　　هر کلام و هر ګفتار د دِ دنیا
د طفلانو پڅیر دوي خالي بازي کا　　هر چه کاند کار و بار د دِ دنیا
واړه ډکي خولي د پیو هلکان دي　　کار دیده و پخته کار د دِ دنیا
همیشه به بي وقوفه بي شعور وي　　چه مخمور وي په خمار د دِ دنیا
د شرابو به هم هسي مستي نوي　　لك مست وي خمر خوار د دِ دنیا
هر بیمار لره دارو په جهان شته دي　　دارو نه لري بیمار د دِ دنیا
د هر سوي علاج وُ شي په جهان کښ　　مګر سوي په شرار د دِ دنیا
هر چه واچوي و اور ته واړه سوځي　　مور به نه شي طلبګار د دِ دنیا
ګرفتار يې همیشه په غم کښ غرق وي　　هیڅوک مه شه ګرفتار د دِ دنیا
تل به پروت وي په ظلمت و په تورتم کښ　　چه اسیر وي په کفار د دِ دنیا
څه و بت وته سجده څه و دنیا ته　　بت پرست دي پرستار د دِ دنیا
په مسلم کښ خاصه مسلم هغه دي　　چه يې وُ شلاوه زنار د دِ دنیا
تن يې پاتو شي بې سره سر يې لاړ شي　　سردار کله دي سردار د دِ دنیا
زوئي لونړه یتیمان که څني درومي　　بي وفا دي مور و پلار د دِ دنیا
همیشه به يې یو پنډ د غم په سر وي　　چه په سر يې وي دستار د دِ دنیا
واړه غم دي که يې پیري که يې پلوري　　نور څه نه شته په بازار د دِ دنیا

همکي واړه تګان دي تګي کاندي — فروشنده و خریدار د دې دنیا
په دنیا به مینه نه کاندي هیڅوک — چه خبر وي په اسرار د دې دنیا
چه نظر د چا په دین و په ایمان وي — هغه نه که انتظار د دې دنیا
چه ویریږي له کوهیه له ګرنګ — هغه نه دروځي په لار د دې دنیا
آشنایان ئې هم واړه مکاران دي — څه ویساه ده په مکار د دې دنیا
لوي هلك ئې همه واړه اغیاران دي — یار دي چري په دیار د دې دنیا
چه پیدا شي همکي واړه فنا شي — را شه وګوره تاتار د دې دنیا
هر سړي لره چه ورشي ځني دروځي — ما لیدلي دي رفتار د دې دنیا
په یوه ګړي بهار وي بیا خزان وي — بقا نه لري بهار د دې دنیا
که هزار هزار پښتي ورته کیږدي — بي بنیاده دي دیوار د دې دنیا
که د اوسپني حصار ترځان چاپیرکړي — شیشه وګڼه حصار د دې دنیا
لك سیوري د آفتاب په مخ کښې ګرځي — نه شته هیچرته قرار د دې دنیا
هیڅ ګمان د بهتري پرې مه کړه — بهتري ده وار په وار د دې دنیا
بي مقراض غوځوي د سړي عمر — هم د لیل و هم نهار د دې دنیا
پس له مرګ به حساب له سړي غوښت شي — په انداز و په مقدار د دې دنیا
عاقبت خو به یوموټي شي د خاورو — ګلعذار و ګلرخسار د دې دنیا
برابر به له ګداۍ سره پاځي — شاهزاده و شهریار د دې دنیا
پاس به داغ وي د لئیم په سینه باندې — هر درم و هر دینار د دې دنیا
د قانع تر قناعت صدقه شه — هم دنیا هم دنیادار د دې دنیا
پس له مرګه به همه واړه مظلوم وي — ظالمان او ستمکار د دې دنیا
تر قیامته دغه شل دغه لس لولي — پوره نه کړ هیڅا شمار د دې دنیا
چه ایام پر د کفن د غسل ورشي — بې پردي شي پرده دار د دې دنیا
په تخته باندې بیرون شي له حجابه — شرمناك و شرمسار د دې دنیا
تر هر چا به پیغمبر څخه وه ډیره — که څه قرب وي یا وقار د دې دنیا

یو فساد به يُ بیان نه شي رحمانَ
فسادونــه دي بســیــار د دِ دنــیــا

نه تنها يئ شکرلب — گل رخساريئي سيم غبغب
په نادرو کښي نادره — پــه عجبو کښي عجب
په جمله وُ معشوقو کښي — بــوالعجــب منتخــب
بي زيورهِ دل فريب — بــي تــرتيــب مــرتــب
دا يو دادِ آلهي دي — بــي تــالاش بــي طــلــب
آب حيات حيات بيامومند — ستا د لبو لــه ســبــب
مخ دِ سپين تر سپين صباح دي — زلــف تور تر تور شــب
ستا دَ مخ عرق دانه وه — زينت رانيو له کوکب
د ښائيست مخکي دِ نشته — تــر مشرق تــر مــغــرب
د وصال مونده دِ گران دي — مگر مهر شــي لــه رب
چه د رب مهر پر وُ شه — هغه خلاص شوُ له غضب
دا دولت د خداي په داد وَي — مونده نه شي له نسب
عشق څه هسي علم نه دي — چه حصليږي له مکتب
مکتب حال د مذهب وائي — عشق سوا دي له مذهب
د عاشق مذهب هم دا دي — چه دِ نه وي بي طلب

ستا د حسن په تعريف کښ
رحمان گنگ دي له ادب

ورځ دِ تيره په شوخي کړه شپه له خواب — خــداي به کله يادوي خانــه خراب
په شتاب شتاب دِ تله دي که پوهيږي — غــافــل مــه شــه د دِ عمر لــه شتاب
دلته دم وقدم واړه په حساب دي — پــل لــه لار غلط مه ږده بــي حساب
راستولي خداي حساب دي په کتاب کښ — خبر زده کړه له حساب له کتاب
زه دِ پيژنم په اصل کښ تراب يئي — تــه ځــان څــه څندي په گتو له تراب

څو په دا جهان اوبه له تندي نه شي   په قيامت به دِ سينه نه شي سيراب
اندرون به دِ له اورهس ډک شي   چه نن ډک شو له شراب له کباب
ته دا خپل نيک و بد و تله په خپله   چه ګناه دِ څو تيري کا تر ثواب
په هغه جهان به څرنګ څواب ورکړي   چه په دا جهان عاجز يئي له څواب
چه آفتاب يوه نيزه شي ترو به څه کړي   چه نن سيوري لره تښتي له آفتاب

په آزار د چا راضي مه شه رحمانَ
که خلاصي په قيامت غواړي له عذاب

هسي مست يم ستا د شونډو په شراب   چه به بل نوي دا هسي مست خراب
لاس د ستا له مينې آچوم و ګل ته   لکه بوټي ته لاس آچوي غرقاب
دا سرخي و سفيدي د ستا د مخ ده   که څما په مخ باران دي د خوناب
څه اثر به څما اوښي په تا کاندد   لا زيات شي اور په اوبو د کباب
عاشقان که سترګي روڼې که په عشق کښي   ډا خواب نه دي دا منزل دي د سيلاب
ما چه خال د ستا د ورځو په ميان و ليد   نه بل هسي رنګ امام شته د محراب
شاپيرئي چه ليدي نه شي سبب دا دي   مخ د ستا له شرم نغاړي په حجاب
چه صبا شي ستا تر مخ پور شرميږي   څکه زيست په توره شپه کاند مهتاب
حجاب واخله تور کړه مخ د هغو خلقو   چه تحسين کا ستا په دور د آفتاب
هسي نه چه زه دلبر وايم و تا ته   خداي دي تا لره درکړي دا خطاب
ستا د مخ په ورق باند خط و خال دي   د مصحف په صحيفو باند اعراب

يو کتاب په سر بتر کښي چا و نه کړ
بي رحمانَ چه ئي کړي دا کتاب

ستا په مخ کښي د جمال څه حساب نشتَ   څکه ما څخه د صبر مجال نشتَ
ته د سر و د مال ويره په ما مه ږده   ويره ما څخه د سر و د مال نشتَ
زه په دا سبب له ويري سره ريږدم   چه ستا ويره د ثواب د وبال نشتَ

که وعده د یوي ځاریو ساعت کړي د هغي ځارِ امید مي په کال نشتَ
د شهید و حال ته ګوره حال ئي څه دي بي تا هسي ځما حال دي بل حال نشتَ
روښنائي مي د چشمانو ستا دیدن دي په دا کور کښي بل چراغ ومشال نشتَ
په جویبار ځما د سترګو سروه ته یي په دا نهر باند غیـر نهال نشتَ
مخ دِ بي خط و بي خال هسي زیب کا چه ئي هیڅ حاجت په خطو په خال نشتَ
د آفتاب په مخ کښ هره ورځ زوال وي ستا د حسن په آفتاب کښي زوال نشتَ
ستا په یاد زه رحمان هسي رنګ مشغول یم
چه په زړه کښي مي هیڅ غم د وصال نشت

په دنیا کښ مخ د یار دي نور څه نشتَ هر چه دي د یار دیدار دي نور څه نشتَ
چه و هجر و وصال ته ئي نظر کړم یو دوزخ دي بل ګلذار دي نور څه نشتَ
کارخانه چه د دي دهر لیده کیږي همګي د عشق سرکار دي نور څه نشتَ
هو مژګان ئي په ما هښ چارِکاند .. وایم عین ذوالفقار دي نور حه نشتَ
بویه مرد چه ئي له مخ زلفي واخلي دغه ګنج دي دغه مار دي نور څه نشتَ
د محسن د محسنات صفت به څو کړم کوتاه وایم چه بي شمار دي نور څه نشتَ
و هر لور ته چه د زړه په غوږو څیر شم جوړ د محبت بازار دي نور څه نشتَ
هر طبیب ته چه ځان و ښیم دا وائِي چه له عشق دي آزار دي نور څه نشتَ
خوار رحمان که بي تا مینه په چا وُکه
عین د قتل سزاوار دي نور څه نشتَ

تا خو زده ځما د زړه له احتیاج ترو ما څه پوښتي چه څه غواړي محتاج
د طالب د مطلوب راز به ما دروُښو. که ته نه واي خبردار له دي رواج
یار که یار ته حال په خوله نه وائي څه شوُ و حکیم ته پټ څرګند دي له مزاج
که ته ځما له حال ما پوښتي حال دا دي چه بي تا مي ورځ بتره ده تر داج
آشنائي به ما په کوم قوت کوله که خبر وای ستا د هجر له تاراج
که تر سلو به یو خواسټ د چا قبلیږي خدای دِ هیڅوک رنځور نه کا بي علاج

په رحمان بلا پسي که زهیريږي
ته مشغول اوسه له خپله تخت و تاج

ستا وصال دي را بخښلي څما روح ستا هجران دي پیرودلي څما روح
چه هرګز ملك الموت پر نه پوهیږي هسي شان دي تا وکښلي څما روح
ستا په مخ پسي مخ و نیوه راهي شه له صورت دي وتلي څما روح
ځان ئي هسي ستا په مینه پس ورك کړ چه هیڅا نه دي لیدلي څما روح
که وي هم به تا څخه وي که ئي خداي کا نه دي بله خواته تللي څما روح
بلبل نه دي دا چه آلوزي په ګلو ستا په لور دي آلوتلي څما روح
چه ئي خاور کړ صورت د تا په در کښي سر تر عرش دي وکښلي څما روح
ته ئي پیژني چه څه دي یا څه نه دي نور چا نه دي پیژندلي څما روح
زه رحمان له خپله ځانَ خبر نه یم
چه په څه رنګ ئي کښلي څما روح

کله شؤ لا کله خریداریم ستا د مخ تیر تر سر و مال یم په بازاریم ستا د مخ
بي د تا له مخه مي نورهیڅ په مخ کښي نشته دي هسي رنګ نتلي په ناتاریم ستا د مخ
هیڅ پسترګو نه وینم دا خپل صورت چه کوم دوب تر هسي حده په انواریم ستا د مخ
دود د آه وکاږم په بهنه د تماکؤ سوي لوغړن مدام په ناریم ستا د مخ
نور وګړي واړه همګي د دنیا کار که زه همیشه غرق په انتظاریم ستا د مخ
شکر چه ئي خلاص کړم د نور خلق لمنت سر په سجده یېښي منت باریم ستا د مخ
هره مخوا چه دروسم زه رحمان د زړه په سیر
بل مطلب مي نه شته طلب کاریم ستا د مخ

که څه وایم له هجران وایم څه له دِ دردَ بي درمان وایم څه
توان د دم وهلو نه لرم و یار ته چه توان نه لرم بي توان وایم څه
چه ئي و وینم له ځان خبر نه یم چه خبر نه یم له ځان وایم څه
د خپل زړه له حال هیڅ را ویل نشي له بي نامو بي نښان وایم څه

د عشق راز چه هیڅا کنه دي بیان کړي　　　ترو به زه له بي بیان وایم څه
د خپل یار له غم درست په اوښیو ډوب یم　　　له دي هسي رنګ طوفان وایم څه
زه چه پروت یم د هجران په تناره کښ　　　د وصال له ګلستان وایم څه
سر و مال د سړي لوټ که زړه ئي یوسي　　　له دِ هسي دلستان وایم څه
زاغان بولي بلبلان شړي له باغ　　　د دِ دهر له باغبان وایم څه

هر چه وایم تر همه واړه بهتر دي
زه رحمان به له جانان وایم څه

ګوره بیا به څوك ادا کا په زړه غوندۍ　　　چه دا هسي مسته ګرزي مخ بر منډۍ
ته چه ګل د آشنائي له باغ غواړي　　　خبر زده کړه د هجران له خار و خنډۍ
طالبان که مرور دي هم پخلا دي　　　بي مطلوب و چا نه رسي دا هنډۍ
ما رستم د دهر وُ لیده په سترګو　　　د خپل یار له جور ژاړي لك کنډۍ
د عاشق د لاغري سبب هم دا دي　　　چه فرقه د معشوقو شوه په زړه پنډۍ
زه به حور د جنت بي یاره څه کړم　　　خداي دِ سروه د چا نه کاند ارهنډۍ
سخت ساعت د بیلتانه به مي هیر نشي　　　که را ډکه شي د تور لحد ګور هنډۍ

زه رحمان د هغه حسن ثنا ګوي یم
چه جرګه د عاشقانُ ده پرِ پنډۍ

چه م یار وُ لید په سینه د اغیار کې　　　له غیرت م لیمه شوه په خونبار کې
زه په وصل کښ هجران هسِ سیځم　　　لك څوك چه خالي لاس وي په بازار کې
زړه م بي خپل نګار آرام نه کا　　　که هر څو ئي کړم په نقشُ په نګار کې
په امید د زلفو وُ نښتم په دام کښ　　　روهلي وم ساده دل په هندوبار کې
د دیدن په ګدائي کښ ننګ مي نشي　　　درویزګر یم د بتانُ په دربار کې
د وفا د ګلو پاڼي په کښ نشته　　　کاشکي مه واي د دِ دهر په ګلذار کې
که پښوا تر آشنائي بیلتون لیده شواي　　　هیڅ بنده د خداي به نه وُ په دا کار کې

زه رحمان ئې د فردوس له غم خلاص کړم
چه په کلي په کوڅه شوم د خپل يارګډ

نه رسيږي ستا و حسن وته حورَ ‌ ‌ ‌ ‌ خو نه رسي و ميرمن وته مزدورَ
ستا و قدو و قامت ته نه رسيږي ‌ ‌ ‌ ‌ که نشتر که سپاري وي که کجورَ
تر قامت پورِ دِ سروه ده سرکوزه ‌ ‌ ‌ ‌ تر صورت پور دِ شمع ده بي نورَ
هر سړي چه دِ و حسن ته نظر کا ‌ ‌ ‌ ‌ شاپيرۍ ئې په نظر وي نا منظورَ
چه تا مي د خپلُ شونډُ ور په خوله کړه ‌ ‌ ‌ ‌ طائفه دِ د صوفيانُ کړه مخمورَ
اوس ته وايه چه په څه رنګ دِ وُ ستايم ‌ ‌ ‌ ‌ زه خو ستا په مينه وُ لاړم له شعورَ
دا جذبه د عاشقۍ نه ده نور څه ده ‌ ‌ ‌ ‌ ګنړه کله څوک وتي شي له دستورَ
اوس به زه د شب خيزۍ منت پښه کړم ‌ ‌ ‌ ‌ چه څهره دِ کړه په خوب کښې را حضورَ
که څوي سل څله تيري لري تر لونړو ‌ ‌ ‌ ‌ صدقه شه ناقابل څوي تر لورَ
چه په ننګ و په ناموس تر لونړوکم وي ‌ ‌ ‌ ‌ خداي دِ مورکانه په هسي څوي بورَ
ننګيالي تربوړون ښه دي اوکه نوي ‌ ‌ ‌ ‌ ننګيالۍ ترله هم ښه ده تر تربورَ
خوبروئي بي دلبري په کار نه ده ‌ ‌ ‌ ‌ لکه ونه بي ميوه په پانړو ګورَ
که د غلوزي لباس وُ که څه به وُ شي ‌ ‌ ‌ ‌ شهد نه دي چا موندلي له زنبورَ

په رحمان د ښايستهوُ قدر ډير دي
د طبيب له قدره چا زده بي رنځورَ

تل به نه وي شګفته ګلذار د عمر ‌ ‌ ‌ ‌ نه به جوړ وي همېشه بازار د عمر
لك سيند د اباسيند په غورزي درومي ‌ ‌ ‌ ‌ هس يون دي په تلوار تلوار د عمر
لك برق چه ځان ځرګند کاند بيا نوي ‌ ‌ ‌ ‌ هس تيز دي بي له شك رفتار د عمر
چه سمند ئې نه جلو لري نه واګي ‌ ‌ ‌ ‌ خو به پريوزي عاقبت شهسوار د عمر
سرکښي لري تر هسِ حد پوري ‌ ‌ ‌ ‌ چه نيوي نه شي هيڅوك مهار د عمر
په ساعت د سل کالو ياري پري کا ‌ ‌ ‌ ‌ بي وفا دي هسِ رنګ يار د عمر
نه ووزم له کور چرت نه سفر کړم ‌ ‌ ‌ ‌ بي سفر مي غوڅيږي لار د عمر

عاقبت به د اجل په مقراض غوځ شي — پیوسته یه مدام نه وي تار د عمر
خپل صورت به د حباب په سترګو ګوري — که څوك وګاند په زړه کښ شمار د عمر

بیا ئې وار په دا دنیا نشته رحمان
پهر چا باند چه تیر شي وار د عمر

چه په وقت د ځانکندن وکاږي ریږ — ترو نن ولي هس ناست ئې بي تدبیر
هر سړي چه ګاندِ غم په مخ کښ ویني — له هغه غم لا نن ګرزي دلګیر
چه ارمان ئې وي صباح پند د پیرانُ — ولِ نن طلب د پیر نه که بي پیر
د خدای یاد به دِ څه رنګ په زړه شي — چه دِ غیر لري نه شي له ضمیر
چه د توك په طلب ګرزي خدای دِ هیر دي — فقیري دا هسِ چري وي فقیر
دغه غم دِ خدای بدل کړ په ښادئ — زهیر مشه په آشنا پسِ زهیر
تمامي عمر په آب و په آتش وي — عاشقان د لعلو لبو له تاثیر
که هر څو ښایسته ډیر دي په جهان کښ — و هر چا وته خپل یار دي بي نظیر

که په مرګ که په ژوندون وي خدای دِ نکه
د رحمان خلاصي د زلفو له زنځیر

پس له مرګ آرت څوك ویني خپل ګور — که حق وائي هنمره آرت به وي ګور
تر ځان زیاده کمه چار څه پکار نه ده — ځان پلویشت کړه چه دِ څودي اوږده سور
چه جامه د چا اوږده شي یا کوتاه — ور کاوه شي هنرمند لره پیغور
هر سړي چه په حساب کښ تیر و بیر شي — ملامت پرِ وایه کیږي لور په لور
چه لائق د ملامت او د تهمت شي — ځای لري که بي عزت شي هم سر تور
چه عزت حرمت ئې نه وي په جهان کښ — دغه هسي ژوندون و سوځه په اور
بي عزتَ سړي خوښ د هیچا نه وي — مګر هسي بي عزت وي ځنِ نور
خپل مجلس ئې تر جمله مجلسو خوږ وي — په هر ځاي چه وبله ور یشي خر سور
هر هم جنس له هم جنس سره جوړ وي — زیب که هره کبیده پخپل انځور
نا بینا پخپله خونه کښ بینا دي — بینایان په پردي ملك کښ کړ و کور

که یقین د بد کردارو په کردار کړي — کښي دِ ښه د بد کردار سړي پېغور
درست صورت د یوه نوك په درد دردمند شي — وران شي درست ښهر د یو سړي په تور
که یو غاښ په خوله کښ خوږند شي یا پریوزي — درسته خوله پرِ بد نمایه شي هر کور
یو سړي چه په کوړمه کښ د چا کرم شي — واړه کرم شي که پنځه وي که څلور
بد کردار خوي پیدا مه شه له موږ — حبطه کاند ناموس د پلار و مور
هر څوك خپله خوشنودي غواړي له خدایه — بار نه شي دغه کار په زر و زور
خداي پخپل قدرت څوك لوي څوك ئي هلك کړه — نه چه هر ښهر ډلي شي یا لاهور
د ټنکو پوروڼه هر څوك سره کاند — بخت هیڅا ورکړي نه دي و بل پور
د چا تاج په سر زري خنجر تر ملا وي — څوك څوك څي په کلي کرزي په خره سور

اي رحمانَ د خداي نوم به چا وا نه خست
که د خداي چار په پلار شوي یا په ورور

دغه یار دي دا اغیار — دغه کل دي دغه خار
دغه کل دي دغه خار دي — دا منصور دي دغه دار
دا رقیب دي دا حبیب دي — دغه کنج دي دغه مار
دغه عقل دغه عشق دي — دغه غم دي دا غم خوار
دا هجران دي دا وصال دي — دا خزان دي دا بهار
دا طاعت دا معصیت دي — دغه نور دي دغه نار
دا عالم دي دا جاهل دي — دا خفته دي دا بیدار
دا رحمان دي دا جانان دي
دا طبیب دي دا بیمار

هسي تله کاندِ وکور ته یاران زر زر — لك تله کا و خپل کور ته کاروان زر زر
هسي زر زر مرګ پر موږه شتابي کا — لك لو د پاخه کښت که دهقان زر زر
هسي زر زر دا دنیا وبلته آوري — لك آوري وبله ریګ روان زر زر
هسي زر زر صورتونه دي ماتیږي — لك ریږي لاله زار په خزان زر زر

هسي زر زر دا شيرين عمر تيريږي لك بحر چه بهيږي روان زر زر
د بنړو غنبل هم هسي زر زر نوي
لك دروميي له جهانَ رحمان زر زر

کاهي ځان پغارمه سوځي کهي ريږدي پسارَ کله مري له لوږي تندي کله مري په ډير خوارَ
واړه په غوغا دي چه راغلي په دنيا دي نه غه وږي په قرار دي نه قرار هغه مارَ
کله لاس په سر وبله ته کښيږدي تواضع کا کله وبله کيږدي لاس په توره په چارَ
خاوري د آدم چه خميره کړ فرښتګانو درست ئي په غمونو په دردونو وُ لاړَ
څه شو که څوک نن ساعت واهه شي يا تاړه شي پيښ به شي هغه هم په واهه هم په تارَ
څو به وي تندرسته دا څموره بنا سسته زه ئي در مانده يم په پشتي په اخارَ
بنائي که څوک پس له مرګ ځاندي په لحد کښ هرچا چه پدا ژوندون کښ خپسر وُ ژارَ
وينم واړه تلوني هيڅوک نه دي پاتو شووني يون دي په دا لار هم د ځوان هم د زارَ
زلف د دلدار دي چه هر څوک ئي طلبکار دي لوي دي که هلك دي که غتان دي که وارَ
سخ د هغه چا دي چه پدر کښي ئي قبول شه زار د هغه چا دي چه نه دره ئي شارَ
ما غند رحمان عندليبي کړه ور ته سلو
خداي خبر چه کوم يو هغي ترکي ويارَ

مدام ناست يم وچ کوګل سترګي په نم کښ عشق را وُ بنو بحر و بر په خپل حرم کښ
ما چه زخم ستا د توري په خوله کښل کړ نور مي دا لذت بيا نه موند په مرهم کښ
دي مجنون چه سر په پښو د ليلي کښښو سر بلند شه په عربو په عجم کښ
زورور مدام غالب وي په کم زوريو زه له نورَ غمَ خلاص يم ستا په غم کښ
لك زه چه مستغرق يم ستا په غم کښي بل به نوي په جمله بني آدم کښ
لکه مر چه د ژونديو په ميان پروت وي هس بيل يم له عالمَ په عالم کښ
هيڅ يو دم مي د دم ګريو په دم نه شي هم په دا چه څما دم دي ستا په دم کښ
نه مي بي تاګفتوګوي نه جست وجوي شته مراد مي ته ئي په هردم په هر قدم کښ

که نصیب مې شي کوزغالي ستا د سپیو   وُ به نه کړم نور نظر په جام د جم کښ
زړه مې هسې ستا په زلفو پسې بایلو   لکه غوټه د چا پریوزي په تور تم کښ
سره په وینو د سرو ګلو په څیر زانګي   هزار زړونه ستا د زلفو په هر خم کښ
زه رحمان کناره خوښ وم له عالمَ
بار ستا کتو رسوا کړم په عالم کښ

سپین مخونه تور کودي شي په پیري کښ   سم قدونه کوږ لړګي شي په پیري کښ
لکه شمع د سحر آفتاب د ژمي   هم بي تابَ هم زیړي شي په پیري کښ
که پل یو سر بڼدي و بله خواته درومي   خپل صورت تمام پریدي شي په پیري کښ
د مړه‌ؤ په حساب کښ غزاوه شي   که څرګند لیده ژوندي شي په پیري کښ
مړلا ښه دي پس له مرګ بیا ژوندي شي   نه شته دا چه څوك زلي شي په پیري کښ
که څه وُ خوري لك زهر په څوریږي   نه خوړاي شي نه څه ښیاي شي په پیري کښ
دا څواني ده چه څه آروي یا ئي ویني   نه لیده نه آوریده شي په پیري کښ
اي رحمانَ پیريْ هسې عاجزي دهْ
که رستم وي د زړه سوي شي په پیري کښ

خدایه څه شو هغه ښیلي ښیلي خلق   په ظاهر په باطن سپین سپیڅلي خلق
هیڅ خندا مې له دي خلق سره نه شي   ژړوي مې هغه تللي تللي خلق
خبر نه یم چه وکومه خوا ته وُلاړ شه   لیده نه شي هغه ما لیدلي خلق
لکه نمر چه د اورو په څوکه درومي   هسې درومي په جهان راغلي خلق
دریغ یو څله خو بیا په جهان راغلیَ   له جهانَ په ارمان وتلي خلق
هزار حیف دي چه په خاورو کښ لاړه شي   په سوه او په چندنړ لړلي خلق
رحمان هسې خوند له خلقَ بیارته بیا موند
چه هرګز نه وي دا خوند موندلي خلق

چه امید په عمارت د دِ دنیا ك   د کاغذ په کښتي سیر د دریا ك
د آسمان توسن هیڅا تښځلي نه دي   څوك به څرنګ سورلي د باد په شا ك

نه ليوه په آدميت آموخته کيږي — نه اميد د مروت شي له افلاك
له فلكَ د وفا اميد باطل دي — کله ديو له آدم زاد سره وفا لك
زمانه په اسلام کفر سمه گرزي — فرق د تور و د سپين کله نا بينا لك
ما د دهر علامت په سترگو ؤ ليد — چه هر دم هزار پيدا هزار فنا لك
هيڅ اميد مي د ايام په گردش نه شي — چه فرصت به په خپل دور و ما را لك
پخپل عمر به هيڅا ليدلي نه وي — هغه چاري چه يار هر ساعت په ما لك
چه د گلو غنچه کيږدم په دستار کښ — شوم طالع مي هلته خار خني پيدا لك
که و زرو وته لاس کړم خاوري کيږي — که د خاورو په آرزو شم استغنا لك
جدائي د خداي بلا ده نه توانيږم — خوشي زړه مي پديدن پسي بلا لك
هنمبره صبر دي عاشق څخه له کومَ — چه د نن وعده موقوفه په فردا لك
که د اور جامه را واغندي دلبره — په نظر څما جلوه لکه زيبا لك
پخپل عشق کښ که څوك بد را باندوائي — زړه گمان کړم چه همه څما ثنا لك
ملامتْ په عاشقْ ښائي دا دستور دي — چه روغ خلق په رنځور پور خندا لك
عاشقي او نام و ننگ دي سره نري — په روښانه ورځ به څرنگ څوك غلا لك

دا جواب رحمان هغه کا چه دولت وي
که دلبر د ديدن مَي پيا پي را لك

چه په زړه مي تور لحد شي د خپل خاك — بي مزه شي هم مي خوب هم مي خوراك
چه د خوب و د خوراك مزه شي ورکه — نور له مرگ برابر شي هغه ږواك
غلط دا دي چه څوك عمر ورته وائي — هغه عمر چه تيريږي په پخساك
نن سپيره په خاورو ډکه خوله بهتريم — چه آخر مي دا خوراك او دا پوښاك
ځاي لري که ږوندي ځان په خاورو خښ کړم — چه مي پس له مرگ ځاي دي يو مغاك
گويا شوي دي هغه چه شدني وي — زه پخوا تر هلاکت يم اوس هلاك
زړه چه روغ وي گريبان څيري کاوه نه شي — له گريبان معلوميږي د زړه چاك
تن و ځاي و جامه پاك هله په کار دي — چه وربي شي د چا زړه له غير و پاك

سړي بويه چه درون و بيرون يو وي نه هغه چه بيرون زر وي درون لاك
له سړيَ غرض واړهِ سړي هوش دي كه په سر كښ ئي طره وي كه مسواك
د دنيا چاري همه واړه فاني دي څوك يو دوي ورځي خوشحال وي څوك غمناك
په ساعت كښ څوك خوشحال كا څوك ملال كا دا خويونه قديمي دي د افلاك
چه څه كاند واړه خداي دي نور څوك نشته
رحمان څه دي څه ئي واك څه ئي ادراك

چه له نازه پوشيده لري چشمان خپل څه به ويني مظلومانو مقتولان خپل
چه ښكنځل را ته په قهر قهر كاند دا لا وګڼري په ما باند احسان خپل
ګفتګوي په اشارت كاند له نازه ګله اسم د چا آخلي په زبان خپل
په ګريبان باند چه تك وهي غوتي عاشق كښيباسي لاسونه په ګريبان خپل
خريدار ئي له حيرتَ بي شعورَ شي چه د حسن رنګ څرګند كا په دوكان خپل
چه خپل مخ په آئينه كښي ور څرګند شي مخود په خپل سر فرو كاند په ځان خپل
چه ئي څوك و عاشقي وته هوس كا ګويا لوبي كا په دين و په ايمان خپل
هيڅ صرفه د چا په سر و په مال نه كا ما ليدلي دي په خپل مطلوبان خپل
دا مقام دي د هغو رنګو عالمو چه هيڅ نه ويني په سترګو سودُ زيان خپل
مجنون ملك د عاشقي هاله بيامونده چه په اور باند ئي وُ سه خانومان خپل
آفرين د عاشقانو په همت شه چه ور تير تر سر و مال وي په جانان خپل
هيڅ د سترګو غړولو خوند ئي نه وي
چه رحمان په سترګو نه ويني ياران خپل

مه غوږ باسه د نااهل په قيل و قال په كار نه دي قيل و قال د بد سګال
يا به ذكر په دولت و په زينت كه يا به فكر كا د مال و د منال
يا به هسي پوچ ګوئي كاند اغازه چه مضمون ئي نه مردار وي نه حلال
د دانا او د نادان صحبت دي هسي لك ګډ شي وبله لعل و كتي لال
لك لعل و كتي لال چه وبله ګډ شي يا صحبت دي د عيسي و د دجال

هغه عمر چه تیریږي بي هم جنسٙ — ترو به څه وي د دغه عمر احوال
د دنیا چار فاني دي مرد هغه دي — چه خبر شي په حرام و په حلال
اباسیند لا څه مجال لري په تله کښ — د دنیا د چارو هیڅ نه شته مجال
د دنیا چارِ په مثل خواب و خیال دي — څوك به څه کا اعتماد په خواب و خیال
لك ملكُ مالِ پخوب کښ در څرګند شي — څو چه ویښ شي نه دِ ملك وي نه دِ مال
لك زګ چه د ابو په سر لیده شي — که ئي واخلي هیڅ در نشي لك خیال
لك دود چه غرونه در څرګند شي — تار په تار شي په یوه نري شمال
لك بېخ چه د سرو په زور شي جمع — هیڅ ئي نه وي د آفتاب په مخ مجال
اعتماد ئي په ښادي و په غم مه کړه — نه ئي هجر په قرار دي نه وصال
ګاهي کودي په مخ باند را کیښ شي — ګاهي را کیښ شي په مخ باند رویمال
خراب زړه مي بهي غواړي بلا دا شوه — چه کښي را معلومیږي کال په کال

که وصال مي د یار نیا موند هاله څوان یم
کنړه اوس څو ژه رحمان یم د چلسال

بیا دِ نوي شراب څکلي دي په پوهیږم — په رخسار دِ ګل کرلي دي پوهیږم
که هزار څله لاس رنګ کړي په نکریزو — تا څما په وینو وللي دي پوهیږم
معرکه څما د مرګ نه ده نور څه ده — رقیبان چه دِ بللي دي پوهیږم
چه رقیب او تا غوږونه وبله ور وړه — ما هغه ساعت ژړلي دي پوهیږم
څه حاجت دي چه دا خط په ملا لولم — چه څما په باب دِ کښلي دي پوهیږم
ته خپل جور و جفا څه وائي و ماته — همه واړه مي منلي دي پوهیږم

رقیبان چه دِ تیري په رحمان کاند
تا په خوا پور نیولي دي پوهیږم

چرته د یار شوندي چرته غم د دل و جان — چرته کتي لعل او چرته لعل د بدخشان
پاك او منزه دي عشق د نفس له خاصیتٙ — چرته چاه د ګیدي چرته چاه د زنخدان
لږ تفاوت نه دي د رندئي د زاهدئي — چرته زلمي جونه چرته کندي یتمان

وارِه بي وقوف دي چه ځوك دين پدنيا پرولي   چرته پنځه ورځِ چرته عمر جاودان
ځارشه د هوا د حرص خيال ترقناعتَ   چرته ملك د مصر چرته ده غلامان

نه شي د ملنكو د خونيانو ځبله كلي
چرته عزيز خان چرته ملنگ عبدالرحمان

خان سلطان د دي جهان   آخر دروِمي خوار حيران
د قضا په جيل ترِلي   په مثال د بنديوان
شيرين ځان ور ځخه دروِمي   نه ئي زور رسي نه توان
كه ښندي مال و ملك وارِه   هيڅ رنگ نه مومي امان
نه ئي مل نه ئي حامي وي   درد ئي وريشي په ځان
درمانده ور ته وُ لاړ وي   وزيران و وكيلان
هيڅ دارو ئي كړلي نشي   كوز كوز كوري حكيمان
بادشاهي ئي پاتو كيږي   زړه ئي څوي په ارمان
چه ئي روح له تنَ بيل شي   نور پري ژاړي فرزندان
يو ساعت ور باندي ژاړي   آخو صبر كا خواران
بيا ئي غسل لرِه واخلي   په تخته باند عريان
په جامو ئي هوسيږي   مرده شوي او غسالان
چه له قبرِه ئي بازگشت كا   مال ئي يوسي ميراثيان
په مسند ئي دعوي كاند   هم دوستان هم دښمنان
سهيلي ئي تالا كاند   هغه خپل مصاحبان
نام نښان ئي هسي ورك شي   لك عين بي نښان
نه ئي ځښي پاتو كيږي   نه ئي اسم په زمان
دا دنيا آب روان ده   نه شي نَقش په آب روان
كه هزار آباداني كا   نهايت خانه ويران
لكه باد هسي پرتير شي   هغه دور د دوران

دا بیان دور و دراز وه
کوتاه قطع کړ رحمان

هسي تیز دروي روان | ګویا برق دي دا جهان
د اسیا په څیر ګردش کا | په زمین بانه آسمان
ککري دي د سرو | چه اوریږي تر دا میان
پیدا کیږي فنا کیږي | نه ئې سر شته نه سامان
نه ئې سر شته نه سامان | نه ئې حد شته نه پایان
څني ډول وهي ښادي کا | څني ویر کا د خپل ځان
څني شمع غنده ژاړي | څني ګل غنده خندان
که ئې ګوري یو بازار دي | که ئې ګوري یو بیابان
که ئې ګوري یو ګلشن دي | که ئې ګوري یو زندان
یوه هسي تماشا ده | چه ئې نه شي هیڅ بیان
کیفیت ئې موندہ نه شي | په دلیل و په برهان
چه ئې کوم خوا رفتن ڈي | یا ئې چرته دي مکان

خدای عالم دي په دا علم
هیڅ خبر نه دي رحمان

تور لیمه مي د فراق په ژړا سپین شو • دوباره د زړه په وینو کښي رنګین شو
ما وِ زړه به لا دیدن کړم د یارانو خبر نه وم چه یاران په کوچ تعین شو
چا پتنګ غونده ځان واچاوه و اور ته څوک ژوندي لکه بلبل په آتشین شو
و مړه وته د مرګ خواږي شوي پیښي او ژوندي په زندګي کښي اندوهګین شو
د قضا سپاهیانو هسي لاس په تاخت کړ چه پایمال هزار خسرو هزار شیرین شو
چه قدم ئې په آسمان ینبود له نازه هغه هسي ناز پرور زیر زمین شو
چه مدام ئې په سنجاب د پاسه خوب کړ اوس په زمکه بي بستره بي بالین شو

د رحمان خاطر به ولي پریشان نه وي
چه پریشان ورځه جمع همنشين شو

که دلدار په دلداري ځما قدم ږدي — ګويا هر قدم په لوري د حرم ږدي
ځاي لري که بي منتً بوسه را که — کوم کريم په چا منتً د خپل کرم ږدي
معشوقه مشفقه بويه مهربانه — نه قارون چه په ځان اسم د حاطم ږدي
خداي و ما وته ګلونه د جنت کړه — که داغونه مي په زړه باندي د غم ږدي
هسي پټ لرم دا زير رخسار له خلقه — لك زر چه څوك له خلقً پټ پنهم ږدي
هيڅ مانه دي څوك له مستً ستركو نكا — كوم يو مست دی چه قدم په لارِسم ږدي
راحت بي زحمتً نه دي چا موندلي — کوم طبيب په روغ صورت باندي ملهم ږدي
زه هر ګوره تر خپل يار پورِ شرميږم — برهمن چه سر په پښود خپل صنم ږدي
و آسمان ته لاس د عقل نه رسيږي — ګنړه عشق په عرش کرسي باند قدم ږدي

زه رحمن ئيٌ تاج ګڼړم د يار له لاسً
که مي پنډ په سر د جوړو د ستم ږدي

په يوه زړه به وږي يا به موړ ئي — په يوه ذره به ګرم يا به سوړ ئي
که ځواني له خدايه غواړي ځوان به وُ مري — او که پس له ځوانئي پائي خو به زوړ ئي
بنده ګان خو کله جوړ کله نا جوړ وي — څه خداي نه ئي چه به تل تتله جوړ ئي
عاشقي به دِ آسمان غند سر لوړ کا — که مجنون غند هرڅو په صورت اوړ ئي

عبادت خو په ځواني کيږي رحمانَ
په پيري کښ به څه زهد کړي چه بلوړ ئي

ته چه خپله بي عقلي هوښياري بولي — کشکي بياموسي د غوښتو په نرخ شولي
عشق يو داد دي په عاشق باند له خدايً — هسي نه دي چه ئي پيري يا ئي پرولي
زليخا غند به بله شيدا نه وي — که د مصر مستوري وي واړه تولي
هغه بحر څه په بحر حساب نه دي — چه اوبه ئي خاك آلودي وي ختولي
له هغو سره به څه فكر د يار وي — چه په غم وي د کاله يا د کهولي

عاشقي د خپل نغري په غاړه نه شي   څو په يار پسي وا نه خلي څلي څولي
د وصال په نعمتونو غره مشه   جدائي خلقي کړي په زړه زمولي
در گوهر په تله نه دي چا تللي
د رحمان شعر گوهر دي که ئې تولي

کشکي زه خاوري ايري د تا د دروي   چه قدم دِ هميشه څما په سر وي
څو يو ځله څما و ستا وبلته مخ شوي   نور مي موخه ستا و غيشو ته تتر وي
تمام تن مي د زخمو په شان ووړ ووړ شوي   خو په ما د تورو سترگو يو نظر وي
په زير رنگ په سپين اوښيو به ما بيامونده   که د ترکو ملاقات په سيم و زر وي
ملامت به په ما څه لړه وايه شه   که د تا د دلبرئي څوک خبر وي
مرتبه که ستا د عشق کړم ور څرگنده   ملايک به واړه وائي که بشر وي
تماشي به څما هاله در ښکاره شوي   که ته ما غند بيدل وي زه دلبر وي
په خونبار به څما سترگو غند نه وي   که په مخ ئې د تيرو تورو پرهر وي
يا نسيم د صبحدم يا عندليب شوي   چه د ستا په گلشنو څما گذر وي
ستا په درد کښې طبيب وائي و رحمان ته
لا به ښه شوه که دِ حال تر دا بتر وي

مخ د يار شمس و قمر دري واړه يو دي   قد ئې سر و صنوبر دري واړه يو دي
حاجت نه لرم په شهد و په شکرو   لب د يار شهد و شکر دري واړه يو دي
که بي ياره په بستر د پاس پروت يم   نار و خار و دا بستر دري واړه يو دي
چه و در و ديوار ته ئې نظر کړم   باغ بوستان و دغه در دري واړه يو دي
چه غبار ئې د کوڅي را باند راشي   دا غبار مشک و عنبر دري واړه يو دي
خداي د يار له هجره هيڅوک خبر مه کړه   تلخت و قتل و دا خبر دري واړه يو دي
هغه دم چه سړي درومي له جهانه   توري خاوري سيم و زر دري واړه يو دي
قلندر که په ريښتيا قلندري کا   خان سلطان دا قلندر دري واړه يو دي
ورد نه شي په پردي زمکه هيڅوک   مبصر و کور و کر دري واړه يو دي

چه دِ نه په کښي یو یار نه دِ آشنا وي هغه ښهر بحر و بر دري واړه یو دي
په دوکان د نابیناؤ جوهریانو خرمهره لعل و گوهر دري واړه یو دي
دا پیران دِ عار څما له عشقَ نکا پاك عاشق پیر و پدر دري واړه یو دي
په سبب د ظالمانو حاکمانو کور و اور و پیښور دري واړه یو دي
څه شو څه شو که څان ستائي و رحمان ته
بي هنر و گاو و خر دري واړه یو دی

یو یو داغ پر تمر یښي د هر چا دي که بادشاه د ولایت دي که گدا دي
سیرابي په دا چشمه د جهان نشته تشنه لب ئي گوښي گوښي په غوغا دي
لږ راحت په ډیر زحمت پسِ موندہ شي د دي دهر خس حرام شه که ویړیا دي
د دنیا ښادي بي غمَ موندہ نه شي لږ خیرات د شوم له کوره په بلا دي
فراغت پرِ باند ولي حرامِ نه وي چه داخل په سراچه د دي دنیا دی
د مجنون د حال پوښتنه به څوك څه کا جهان واړه کور په کور مجنون لیلي دي
عشق یو هسي رنګ افسون په عالم پوکا چه عاشق په تورو سترګو نابینا دي
د هرچا بخره ئي ورکړه گوښي گوښي خپل نصیب د هر سړي جدا جدا دي
ورکړه راکړه همگي د بل په لاس ده دلته دخل نه څما دي نه د ستا دي
په هر کار چه د صاحب د زړه رضا شي پر بنده که ناروا وي هم روا دي
خاه ناخواه که ئي رضا وي که ئي نوي د قسمت رسد رضا و نارضا دي
څان ایمان سپارلاي بویه و هغه ته چه ئي حکم جاري شوي پر هرچا دي
د هرچا په لاس چه حکم حاکم ورکړ جهان واړه د هغه په مدعا دي
چه مولي ور سره مل نوي رحمانَ
که لښکري ورسره وي یك تنها دي

سپین رخسار او مشکین خال دِ وبله ضم دي یا محمود و ایاز ناست سره همدم دي
که دِ مخ په زلفو پټ دي باك ئي نشته د حیات اوبه هم پټي په تورتم دي
ستا له زلفو له رخساره له سرو شونډو پیدا شوي شام شفق او صبحدم دي

په دهن کښې دِ غاښونه تجله کا یا غوټئي په غنچه کښې د شبنم دِي
نه چه یو څما زړه غوټ ستا په غمزه دي چاره غوښي لا قدیم سره په غم دِي
بي ژړا و چا ته نه ګوري سیاه چشم د نرګسو غوړیده د جوي په نم دِي
راحت نه دي چا موندلي بي زحمتہ ستا جفا و وفا دواړه مغتنم دِي

ستا د حسن د تعریف له برکت
د رحمان د شعر کوکي په عالم دِي

په نامه د هغه خدای مې دا بیان دي چه یو نوم ئې په نومونو کښې سبحان دي
هغه کار چه و هرچا وته مشکل وي هغه کار واړه و ده وته آسان دي
هم بادشاه د دي جملهٔ بادشاهانو هم د هر یوه سلطان په سر سلطان دي
څوك آفتاب شِي په آسمان راخيژولي ده آفتاب زا خيژولي په آسمان دي
څوك د نمر په مخ حجاب شي غوړولي ده پټ کړي نمر په ابر کښې نهان دي
څوك په شپه کښې شي مهتاب پیدا کولي ده په شپه کښې پیدا کړي مهتابان دي
څوك یو څاڅکي پریستي شي له آسمانہ نزول کړي ده په موږ باند باران دی
څوك شي روح ننه یستي په یوهٔ ماشي زنده کړي ده په روح تمام جهان دي
څوك و سنګ شي رنګ د ګلو ورکولي ده و سنګ ورکړي رنګ د ارغوان دي
څوك له خاورو شي یو ګل زرغونولي ده له خاورو زرغون کړي ګلستان دی
څوك له اوره شي اوبه پیدا کولي ده له اوره پیدا کړي زمستان دي
څوك بنده لره ایمان شي ورکولي ده ورکړي هر بنده لره ایمان دي
څوك له زمکي و آسمان وته ختي شي ده عیسي لره ورکړي دا مکان دي
څوك له خدایہ سره خبري شي کولي ده موسي مشرف کړي په دا شان دي
څوك یښووي په توسن د هوا زین شي یښي ده په هوا تخت د سلیمان دي
څوك په سپینہ ږیره پائي تر قیامتہ ده په خضر باند کړي دا احسان دي
څوك له څاڅکي شي ګوهر پیدا کولي پیدا کړي. ده له څاڅکي در مرجان دي
څوك شي رزق و هر مخلوق ته رسولي دی د هر یوه مخلوق روزي رسان دي

چه په ده شي هغه کار له هيڅا نشي — هر توانا د ده تر توان پوري نا توان دي
په اوبو کښ ده د کاڼري کوټه بنا کړه — ده ورکړي په کښ اور لره امان دي
په سجده ئې زمکي سردي لګولي — هم ئې زوړند په رکوع سره آسمان دي
هره ونه پر قيام ور ته ولاړه — هرګياه ئې په تسبيح سره زبان دي
همه واړه په تسبيح د ده مشغول دي — که سړي دي که پيري دي که حيوان دي
مخلوقاتو هسې نه دي پيژندلي — لك ده څخه چه قدر د خپل ځان دي
حد پايان ئې هيڅ سړي موندلي ندي — معرفت ئې هسي بحر بي پايان دي
نه هيڅوك د ده په خير د ده پشان دي — او نه دي د چا په خير د چا پشان دي
نه ئې زيان نه ئې نقصان نه ئې زوال شته — او بي زيان بي زوال بي نقصان دي
نه ئې مثل نه ئې مثال نه ئې مکان شته — دي بي مثل بي مثال بي مکان دي
پاك ئې وګڼه بي شك بي ګمان — له هغو چه د چا شك د چا ګمان دي
نه ئې څوك په سترګو ويني نه ليده شي — او بي چون بي چګون نمايان دي
که څوك وائي ليده نه شي ليده نشي — او که وائي و هرچا وته عيان دي
هر ماهي ئې په درياب کښ حمد وائي — هر مرغه ئې په چمن کښ ثنا خوان دي
حق په حق ثنا هيڅا ئې کړي نه ده — نه له هيڅا واقع شوي دا بيان دي
منزه دی له جملهٔ جهتونو — او بيا هر جهت په ده باند ودان دي

له هزارو صفتونو باور مه کړه
چه ئې کړي نيم صفت عبدالرحمان دي

له دیوان د خوشحال خان ختک

خوشحال خان خټك

چه عجب رنګ دلخواه دي دا صهبا   چه ساقي ئې را کوي په مرحبا
د غنچې خندا محال وه په چمن کښې   که نسیم پرِ ګذر نه کړي هر صبا
مصلحت ئې د بلبل په کار کښې دا وه   چه صبا کړي د غنچې قمیص قبا
د بلبل قدر هم زده کړه اې ګله   که هرځوئې په دا خپل حسن زیبا
چه علاج ئې وابسته پخپل مطلوب وي   د عاشق له رنځه څه زده اطبا

بې د یار د رنړا مخه ګمان مه کړه
چه خوشحال به په بل مخ شي شکیبا

نو بهار شه بیا نرګس په باغ مستي کا   چه صبا مې په سنبل درازدستي کا
په پنځه ورځې کښې ګل د باغ تازه وي   په شپږمه ورځ فنا خپله هستي کا
مبتلا بلبل سر د ګل په پښو ږدي   لکه برهمن د بت بت پرستي کا
تواضع زده کړه په تن له سروي ونې   چه په هسې بلندي کښې دا پستي کا

کړلانړي څه نور شراب نوشلي نه دي
دا مستي واړه په جام الستي کا

یار مې مرور دی که څوك وي چه ئې پخولا کا   ژر پاڅه ریبارَ ځما زړه پسې بلا کا
تل به د جفا په دریابونو کښې غوټې خوري   څوك چه زړه د دور په دلبرو مبتلا کا
څه ګنده عالم دی څه ئې دود دی څه ئې رسم   وږي په ځای پرېږدي و مړو وته صلا کا
هیڅ سزا ئې نه شي باندِ لاس د ما د زړه شوي   تورِ زلفِ ستا دي چه دایم د زړونو غلا کا
ستا د تورو زلفو ظالمي څه پټه نه ده   مست چه زوروور وي ظالمي په برملا کا

ته چه عاشقي کړي قبلوه په عاشقي کښې   تل په عاشقانو باند خلق الا الا کا
ستا خونخوار زلفُ زه تنها نتلي نه يم   ځو به د ما خوار غند لا نور هسي جلا کا
راشه که ئي ګوري دا په خپل جمال مغروره
ځو رنګ نازونه په خوشحال خلا ملا کا

اورنګ زيب څه آرايش د تخت و تاج کا   تخت و تاج به ئي مرګي تاخت و تاراج کا
په جهان کښې به ئي پاتوښه بد نوم شي   ده زده چارِ د کسري که د حجاج کا
زه غمجن په عيد په جشن خبر نه شوم   که درست خلق د دهلي ابتهاج کا
اوبه سترګو لره لاړي اور د زړه شه   ځوك به څه رنګ ژوندون په دا مزاج کا
چه په رګ مي ګتي کيږدي رنګ ئي زيړ شي   طبيبان مي به په ځو د رنځ علاج کا
جدائي د ما په زړه کا هسي چارِ   لکه باز ئي په تارو يا په دراج کا
دوه مين چه په هوادُ وبله بيل شي   خداي ئي ښکله د تش سلام محتاج کا
څما اوښي د ګوګل په جوش پيدا شي   • ملکه اور چه • له کبابَ نم اخراج کا
هر ناوك چه د قضا له شست خيږي
زمانه د خوشحال زړه وته • آماج کا

چه خپل خوي شي پجهان بد خواه دَ چا   د خپل خوي وِي نه چه وِي تباه د چا
من فليل په يوه مچ سره بد بوي شي   بد دِ نه شي يو زمان همراه د چا
کانړي لال دَ بدخشان ګيا کيميا ده   چه ئي نه پيژني ته ګناه د چا
چه بادشاه ئي ستمګر شي خلق خوار شي   خداي دِ نه کا ستمګر بادشاه د چا
زه که صل څله وفا کړم يار جفا کا   بخت • دِ نه شي په دنيا سياه د چا
دا جمشيد او سکندر فلك پرِ نه ښوي •   پرِ به نه ږدي هميشه کلاه د چا
چه کرم نه وي له خدايه فتح نه شته   که افزون شي تر ملخ سپاه د چا
دا دنيا لکه لولئي ده خوشحالَ
که ئي ګوري ګاه د چا شي ګاه د چا

تا وي چه غم مه کړه ذور زهِ ستا يم ته د ما   زه خودِ ژوندي کړم که دروغ کړي که رښتيا

ښه بلا زیبا ئې بې نظیره محبوبا ئې که دا عیب دِ نه واي په زړه سخته ئې بلا
که کل جهان خوبا شي لور په لوري محبوبا شي عجب لا که پیدا شي یوه تا غوندې زیبا
په هونبره ډیر مقتولو ته لا هیڅ نه ئې ملوله که صل خونونه وُ کا د جلاد نرو ښه پروا
چه گل غواړم له تا نه ستا له باغ له بوستانه که خس را عنایت کړې هم په گل نیولې ما
څو زه بنده زنده یم د هغو زلفو بنده یم چه تل ئې صل صل زړونه په هرتاروې مبتلا
که لوې دې که هلك دې واړه ستا په لورِ ورك دې په ښهرکښې څوك نه شته چه مَین نه دې په تا
د سروې ونه گوره په زمان شي نا منظوره چه و خوځې په باغ کښې ته په دا قدو بالا
نسیه جنت ښادې ده د زاهد و د ملا
په لاس جنت موندلې نن خوشحال دې ستا لقا

بیا رباب د مغني ښه سرایت کا په ویل کښې نوې نوې حکایت کا
شیخ وکنج د صومعې زه به گلگشت کړم د بهار گلونه ما ته هدایت کا
گدایانو لره غم د گیډې ډیر دې بادشاهان دِ غم د ملك و ولایت کا
دا د ما د بخت اثر نه دې نورښه دې له رقیب چه شکوه په دا غایت کا
د وفا مهر و کرم به ئې لا ښه وې په جفا کښې چه دا هونبره عنایت کا
په دا ښهرکښې څرگند شراب خرڅیږي محتسب د باده نوشو رعایت کا
په ماڼرې دِ هم خوشحال شم هم دلگیرشم لکه څوك چه له چا شکر و شکایت کا
که د ښکلیو د دیدن مینه گناه ده
سکه خوشحال ختك درست عمر جنایت کا

چه د پلار سره دروغ نفاق خلاف کا له نور چا سره به ښه رنگ زړه صاف کا
گوره بیا ئې کوم نفاق دروغ په زړه وې منافق په خپل گناه چه اعتراف کا
نه به زه د ناخلف گناه معاف کړم نه به خداې د عزازیل گناه معاف کا
دا واړه غرونه هیڅ نه دې لا راضي یم که په میان کښې مِ خداې غرد کوه قاف کا
حال د خپل زوې وخپل پلار وته معلوم دې څوك به ښه لره د عاق را ته اوصاف کا
نه به ده غند دروغ دروغژن واې نه به ده غند ترڅې مکر و گذاف کا

هم هزار رنګ دروغ ګذاف په زړه کښي   هم هزار رنګ په خوله د اخلاق لاف کا
چه مي هسي تربيت د نا خلف کړ   دا په دا چه دي د ما سره مصاف کا
په ژوندون ئي ديدن مه وينم هاله هم   پس له مرګه دِ خما د ګور طواف کا

په ژوندون به ئي ارمان وُ وُزي له دلَ
زمانه که له خوشحال سره انصاف کا

که يو خله مخ ښکاره کا تر نقاب   د ښايست نامه به واخلي له آفتاب
لاله ګل به ئي له مخه خوبي وام کا   په زلفينو به سنبل کاند بي تاب
خلق څه لره تهمت په زمانه ږدي   په چشمانو ئي دنيا کړله خراب
د خمار په علامت ئي سترګي سري دي   که چا بي وقت بيداره کړه له خواب
د خاطر ويني نوشي په ځاي د مَيو   بيا ئي نقل هم د زړونو له کباب
خاصه مرګ د معشوقي د مقتولانو   چه جنت لره به دروځي بي حساب
خما زړه قبله نماي شي نه جاروزي   وُ بل لور ته سترګي د وروځيو له محراب

په وعده ئي زړه خوشحال مه کړه خوشحال
د وفا طمع څوك نه کا له حباب

چه ئي خوب په پالنګ نه وه بي د پرو له بالښت   راشه ګوره نن داره کړه تر سر لاند اومه خښت
چه فاني دنيا ئي بولي بود ئي نشته ناهني ده   څکه دا ده اي نادانه د هوښيار تر فهم زښت
دا دنيا خارښتي بزه ده په ساتل ئي څه مزه ده   شپون ئي وُ شړي لبزونه چه ئي پوه شي له خارښت
چه هم تول ځي هم دلئي دا طوفان دي که ږلي   چه ئي وړي مونده نه شي هي توبه لهسي کښت
ما ليدي په دا چشمانُ درني ميني د شاهانو   يک باره ورځني وُ لاړل چه ئي درسته وُ نه غوښت
د لکونو پيدا غول کړه د جهان ګنجونه تول کړه   .نه به ته نه به ستا پشت وي بيا سنجرشه يوځوپښت
د سيلاب په مخ دِ کور دي دا دني فکردِ نور دي   چا به نه کړه هورته خونه چه به دا په سيلاب رغښت
پدنيا کښي که شداد شي بيا به ته په بلا ياد شي   که بهښت په دنيا روغ کړي څه دِ سود له دي بهښت
هغه يوړله له ځانه دا فاني دنيا اي ځوانه   چه ئي تار په تار خوره کړه نه هغو چه ئي وُ نغښت
ما ليدلي دي کارونه طور طور رفتارونه   په ورتله په ستغ ختنه په تله کنډي غند رغښت

که کم عقل که کانا ئې که هوښيار ئې که دانا ئې
د ميرباز غنده ور زغله د خوشحال غند ترتيبت

تورِ سترګِ ستا دي اي زيبا نګارِ مستِ — تورنرګس شهلا دي اي زيبا نګارِ مستِ
تا چه بوسه را کړه زه پرِبي حساب مست شوم — شونډِ دِ صهبا دي اي زيبا نګارِ مستِ
ما چه ستا دا ښه کښلي بارخو په سترګو څيرکړ — ګل د لاله دا دي اي زيبا نګارِ مستِ
هر چه ستا له ظلم و نور چا وته فرياد کا — وارِه بي وفا دي اي زيبا نګارِ مستِ
خوب کاند بي غم يا ئې چرِ قراري شته — څوك چه بي له تا دي اي زيبا نګارِ مستِ
خوله به دِ آخلي چه پرِ ستا د خاطر مينه — ډير په تا شيدا دي اي زيبا نګارِ مستِ
چارِ په ما وُ کړي وائي چارِ خما نه دي — ستا نه دي د چا دي اي زيبا نګارِ مستِ

تا وِ اي خوشحالَ نورِ لا تر ما زيبا شته
څوك تر تا زيبا دي اي زيبا نګارِ مستِ

د شرابو مستي ژر شي نيست و هست — لايزال مستي به نه دورمي له مست
چه م نوم په جهان لاړ شه د رندئې — د رندئې کار به نه پريږدم له دست
که بادشاه ئې په زندان کا غم ئې نه وي — د آزادو آزادي ده له الست
نه ياري شته نه خپلوي شته غولول دي — چه خبر شوم د وګړي له بر بست
د ښادئې پاميد اوس پغم کښي خوښ يم — تل په شپه پسي را دورمي روڼ پيوست
د مقصود ګوهر پلوي درياب کښي پريوت — غواصان په کښي غوتي وهي په مرست
په ادراك له قعر نه ګوري ساحل ته — هغه کب چه ويرِه وُ ويني له شست
د عاشق د خاطر خيال لکه درياب دي — چه څپه ئې کله لوړه وي کله پست

د خوشحال له زړه د يار محبت نه ځي
لکه مينه د خپل بت له بت پرست

ساقيا آتش مزاج — له صفا مينا زجاج
د شرابو پياله را کړه — د همه زحمت علاج
نه يوه پياله د ميو — نه د درست جهان خراج
زه او مي اي محتسب — که مي خونه شي تاراج

در گدای د میکده شه | که شاهي غواړي له تاج
د رندانو بازار تود دي | د شرابو له رواج
صومعه ته تله له دیره | یاوه کار دي بي منهاج
د ساقي پیالهٔ را واخله | په کښي ډیر دي ابتهاج
ساقي هر کله دِ وینم | مه جبین مخ سراج
د بلورو پیاله پوره
د خوشحال د احتیاج

خدای را کړه پغیر کښي د ریبار منت را باند | سپینه خوله سري شونډي توري زلفي آویزاند
یار را سره یار دي د هر غم مي غمگسار دي | غم اندوه مي نشته چه رقیب را څي څه کاند
پریږده چه پر سوځي ستا د مخ بلا آخلي | عشق دِ لکه اور دي عاشقان دي لکه سپاند
دا څه بارخونه دي نه پریشاني توري زلفي | پروت دي په گلونو د سنبل د پاني تاند
زه ورپسي درومم د یوه نظر په طمع | بیارته نظر نه کا هسي درومي مخ په وړاند
بخت نه دي نور څه دي ته دا هونبره ډیره مینه
ژاړي رخه کړوني چه خوشحال ختك ته خاند

زوړ سړي چه د ځوانئي هوس کاند | ور ته وایه چه دا څه پرِ گیره خاند
چه پکال کښي ئي زړتوب وي هم ځواني وي | د سړیو ترکار نه دي کار د سپاند
کله هسي په خوان موړ شي چه ئي نه خوري | کله خوان ته سترگي آړوي نغلاند
په نیتونو په صوتونو په لاسونو | خلقي دي سره یو تر بله هړاند
اوس په سپینه ږیره څه له مرگ ترس کړم | یاران توري ږیري لاړل ترما وړاند
چه د مزکي مخ ئي لاند وه تر حکم | راشه وُ گوره هغه تر مزکي لاند
دا عالم ریگ روان دي که ئي گوري | خو هم هسي سره آوړي لاند باند
د قضا تنور ما وُ لیده په سترگو
ما خوشحال چه په کښي سیځي وچ تاند

دا چه وائي چه ډیر مهر په فلاني کړ | په یاري دِ رضا نه ده بهاني کړِ

ستا وصال په دعا غوارم نه ئي مومم   ما پهٔ ډیر ورتله راتله ستړي ستاني کړ
زړه د ستا په کوي کښي ؤ مرم شانهٔ سازه   ګند هډ مي تورو زلفو ته شاني کړ
زړه مي ستا د تیر تر ځښه دي قتال   پر به کله جوړ د غشیو پرخاني کړ
چه جمال و ته دِ کورم حیرانیږم   خداي په ما باندٔ یوسف د زماني کړ
سحر کړ په سحر توري اوبه پریږ کا   تا ښما اوښي په مخ داني کړ
زړه چه شونډي ستا په شونډو باند کیږدم   وایم نوشي مي د مېو پیماني کړ
د ما زړه لکهٔ مزري وه خاوند خداي   ستا د سترګو و هوسیو ته ژاني کړ

د خوشحال په دوړ به ستا په دربراته وي
چه په ښو ئي ستا د زلفو زولاني کړ

مخ ئي فکر د نسرین را څخه یووړ   خط ئي خیال د مشک چین را څخه یووړ
د ترسا زلفي زنار شو را تر غاړه   شکر شکر چه ئي دین را څخه یووړ
چه دعا ښما د صبر کا وکړي   عشق د دي دعا آمین را څخه یووړ
بي د یار د شونډو نوم چه یادوم ئي   مٔیني نور ذکر تلقین را څخه یووړ
هغه ورځ مي زړه له خپله ځان موړ شه   چه له لاس دل سنګین را څخه یووړ
درسته شپه ژړا ناله آه و فریاد کړم   بیا ئي خوب په څه آئین را څخه یووړ
دواړه سترګي ئي شاهین شهپر ئي زلفي   ښما د زړه کوتر شاهین را څخه یووړ
په راتله ئي درست آرام را لره راوړ   او په تله ئي درست تسکین را څخه یووړ
د چمن ګلونه کوز کوري دا وائي   چه دلبري هر تحسین را څخه یووړ

ما وِ زړه به ئي لا فکر د علاج کړم
ولي خوار خوشحال زړه خوږین را څخه یووړ

د دولت لمن نیوه نه شي په زور   روند که سترګي په سرمه کا لا پیغور
دولت څه دي په مثال ښایسته ناوي   د نا مرد کره ئي عمر دي په اور
د دولت په آس دِ هر ناسپور سپور نه شي   که سواري ور باند کاند خو شاه سور
د ګنده تټوي بد تټو پیدا شي   ښه آسونه د میدان راوړي ښه هور

چه په کور کښي مي اول تتوي راغلي — د ما بخت وه لا اول له خايه تور
تتوګي نازيکي دي مخ ئي ورك شه — همېشه کا په پايګاه کښي شر و شور
نه يو ښه لايق فرزند د پلار په خونه — نه د سرو د سپينو ګنج د ده په کور
ربَ دېر اولاد دِ راکړ منت داريم — د خوبئي رغ ئي بيائي پـه هر ښور
چه په ورونو کښي نفاق کا نا لايق دي — يا ئي ښه کړي يا ئي مه کړي زده څه نور

د خوشحال په دعا غور و ستړګي ور کړه
که بهرام عابد دي دواړه کر و کور

وقت د نو بهار دي زه جدا له خپله ياره — دريغ دريغ چه بي يارځي بهار
ژاړي غاړي غرونه په احوال د عاشقانو — سيل د واوره نه دي چه را درومي له کهسار
اور د خوړو زړو دي چه د غره په ونو بل شه — شني ددوزئي خيژي له نښترَ له چنار
غواړي چه احوال د فراق جنو در معلوم شي — ګوره هغه زاړي چه جدا شي له قطار
داسي معلوميږي چه جهان د ماتم ځاي دئ — شني جامي آغستي دي طوطيانو له چغار
نوري ناري نشته خو ناري د بيلتانه دي — راشه که ئي آروي د رباب له هره تار
رنځ مي نه کميږي په زمان زمان زياتيږي — زر راځه طبيب که نه مرم د خداي دپار
مرګ د رقيبانو بل ژوندون د حبيبانو — خداي رو پهنګام د وصل کيږي دا دوه کار
څه شه که لا دم وهي په شمار دي د ژوندیو — رنځ چه لا دوا شي طمع پري کړه له بيمار
پاتو سړي نه شول چه داګرزي دام و دد دي — څکه ويره نه شي د درد منو له آزار

هسي خوار و زار شوم زه خوشحال په عاشقي کښي
خپل دي که پردي دی را ته نه ګوري له عار

نه مي لاس رسي په يار — نه طاقت د انتظار
دا ستم په ما خپل يار کا — کـه ګردش د روزګار
په کښي ستا غمونه ځاي دي — که يو زړه دي که هزار
تر ويښته ضعيف وجود مي — ستا د زلفو دي ياد کار
غم د يار د بيلتانه دي — چه تر هر څه دي دشوار

خپلي اوبني مي دریاب شوِ — په کبني نه مومم کنار
چه مي تل په دیو زورِ — ستا په شونډو لرم کار
چه څوک سوځي هغه سوځي — هم پتنګ کوره هم نار
څما زړه څهِ آسان نه دي — چه ئي وړي نا ترس وار

د بوسي وعده دِ وُکړه
زه خوشحال لرم تلوار

چه په سپینه ږیره کا څواني نکارِ — په خپل څان باند به وُکا څیني چارِ
که په خوله د زاړه یار تر سر جاریږي — په زړه نه دي څوانِ هیڅ د زاړه یارِ
نیک و بد په دي جهان کښي پیدا کیږي — نیک و بد هم د زاړه نه دي ویزارِ
خو ښه څوان د څوانِ ښځي پغرض دي — که بادشاه دي د زاړه نه دي فرارِ
په کمذات په اصیل هیڅ نه دي راغلي — ښځي واړه د ښه کار دي طلبکارِ
زورِ دِ څوانه ښځه نه ګا که ئي کاندِ — فکر بویه چه له ښه خایه وي بارِ
له ښه خایه له ښه کوره ستر پوښي — په حیا په شرم ننګ دي خبر دارِ
چه په پلار نیکه د ننګ و ناموس نه وي — هغه ښځي قباحت ته دي طیارِ

اوس ښځپلو زړو خوښ اوسه خوشحالٓ
د دِ دورِ څوانِ مه کړه نا پکارِ

که په خوله را سره جنګ کا هغه یار — په زړه مهر رنګا رنګ کا هغه یار
چه له ما سره راځي غاړه غړي — چه مي لري له زړه زنګ کا هغه یار
هیڅ حاجت د توري نشته مالي ئبس دي — که مي مرګ و ته آهنګ کا هغه یار
چه مشال ئي د جمال را ته ښکاره کړ — بیا به ما باندِ پتنګ کا هغه یار
زه فقیر یم دي بادشاه دي باندِ ښائي — که څما له یارئي ننګ کا هغه یار
چه ملنګ وي مصلي غواړي خپل مځ ته — عاقبت مي به ملنګ کا هغه یار
له هر چا سره خندا په آرت زړه کا — خو په ما باند زړه تنګ کا هغه یار
مرصع پیزوان نور نه لري په پوزه — اکتفا په تور لونګ کا هغه یار

رقیبانو وته نرم شي تر مومَ
و خوشحال وته زړه سنګ کا هغه یار

لیوني لره به څه کړي نور تدبیر
لیوني لره زندان بویه زنځیر

د ما زړه ئې په حلقه د زلفو یوړ
لکه لوي ماهي په شست د ماهي ګیر

که خوښي ده په جهان د ښو دیدن دي
نه خوښي د بادشاهئ د سریر

که یوسف ئې د کنعان له چاه وُکیښ
په نیک بخت ستوري زوولي وُه بشیر

د شکرو په دوکان هندو بچه دي
که تور خال دي ستا پسرو شوندو جاګیر

د بهار په وخت په بیشه د سراي ګرزه
نه په بیشه د کابل او د کشمیر

د لنډئ اوبه هغه ګڼړه خوشحالَ
چه یادیږي په جنت کښي جوي د شیر

زه خو شرابي یم شیخ څه را سره جنګ کړِ
بخري ازلي دي کشکي ما دِ څان په رنګ کړِ

ښه وائي واعظه برکت شه ستا په ربه
ښه ئې په ویلو د دریاب اوبه که رنګ کړِ

وُ لاړل و جنت ته چه په پوهه خبر نه وو
وُ لاړل و دوزخ ته چه ئې لاف د فرهنګ کړِ

پند د محمد د ابو جهل په کار نه شه
څوك به ئې صیقل کا چه ئې خداي آئني زنګ کړِ

کښیني په خلوت کښي شیخ سوډ را ته وُ وایه
ولي پخپل څان دا هسي آرت جهان تنګ کړِ

زه خود زړه درد غواړم په هر یوه مذهب کښي
تا زده ستا خبرو چه نقلونه رنګا رنګ کړِ

رایشه مطربهَ د نو روز سرود آغاز کړه
ښي نغمي دل سوزي په رباب په نیو چنګ کړِ

هر لوري ته ګل دي شقایق نرګس سنبل دي
بي ګلذاره بد که و بل لوري ته آهنګ کړِ

چا ور پسي ډیري توښي واخستي طلب کا
څنو مصلیِ د ملنګئ ور پسي لنګ کړِ

کاش د دِ عمل تله درنه په قیامت شي
موم به رقیبانو په عاشق باند زړه سنګ کړِ

مرګ لره ئې واړه د دهلي لښکرِي راغلي
ته لا د خوشحال په مرګ څان روغ نه ګڼړي ننګ کړِ

واژګونه شو همګي د دنیا چارِ
چه لیدي مي هسي نه دي واړه لارِ

زوي پلار سره کارونه د غلیم کا
لونړه مور ته لکه بني دي طیارِ

پخپل کور کښي به دوه ورونه سره نه وي — چه په زرو کښي فتني نه لري هزار
چوهړي پلاو شولي خوري حلوا خوري — په سيد باند حلال دي مردار
باوري د بادشاهانو لکه چور شول — رهزنان ئي په دربار کا ځني چار
بلبلان طوطيان حيران په بيابان گرزي — په گلذار باند قارگان کاند چغار
په وښو د عراقيانو رواك ژوندون دي — راتبونه وهي زوي د حمار
نادانان بي غمه خوب په فراغت کا — په هوښيارو باند راشي صل دشوار
په ښځستنو باند حکم کا مريونه — تر ميرمنو نه کنيزي دي رويدار

په دوران د عالمگير بادشاه خوشحال
خانه زادي واړه بخري لري خوار

ځو بيړئ په دا سيند کښي دوبي ؤ لاړ — چه تخته مونده نه شي که ئي غوار
فراق هر چرته لنبي دي لگيدلي — لکه لوند لرگي په اور يښي ځو ژاړ
غم ښادي سره ترلي دي له ځايه — هغه هونبره به ؤ ژاړي ځو ؤ وياړ
چا ئي نوم را ته وا نه خست چه د چا دي — مناري مي ډيري ؤ ليدي ولاړ
په هزار رنگ غمونه د جهان شته — په هزار رنگ ناري د اوريو خراړ
لکه راي ځما د زړه هغه لا نور دي — خلق ځو خبري کاند غاري غاړ
دا طومار څه هسي نه دي چه تمام شي — غوړولي لتولي لولي نغاړ
دين دنيا لړه په کار خپله کرده ده — لوند دي حلق د هر سړي په خپلي لاړ
چه بي غم بي وبال ئي خوراك وي — د بادشاه تر خوان به گنم خنجاړ

غافلان په غور کانه دي نه ئي آروي
د خوشحال ختك د خولي خبري لواړ

هر ساعت چه په چا ځي هسي بي کار — تر هغه نه زه لا ښه گنم بيگار
رنځوران که کار و بار د دنيا نه کا — روغ سړي به ولي نه کا خپل روزگار
که هيڅ کار و بار د نه وي در ته وايم — هسي مه کښېنه بي کار و نا پکار
په هرڅه چه غم غلط شي واړه ذوق دي — که په نرد که په شطرنج وي که په ښکار

سړي هر ساعت هر وخت په بل بل حال شي   همیشه په یوه حال دي کرد ګار
ستا به نوم په جهان پاتو شي خوشحاله
یوه لویه مشغولا ده ستا د کار

که مي نوم په ژبه نه آخلي هیچرِ   په تش نوم به دِ هم سود کوم دلبرِ
د زاهد د سترګو آب هونبره په ځاي وي   چه ئي سترګي په تا نه دي برابرِ
د ښادئِ اووي په زړو ږدي تل تر تله   چه په زړه ئي ستا د غم ښیښي شي سرِ
زه به څه ځني مانه کړم یو زه نه یم   په غمزه ئي خلقي کړلي ډېرِ
د ښو سیوري ئي خار په پښو څرخیږي   له حیا چه کوز کوز ګوري ناز پرورِ
شونډي ستا لکه نبات هسي خوږي دي   تلخ ویل ځني نه ښائي لب شکرِ
وائي شته په چین ماچین کښي ښکلي ډیرِ   خداي دِ نه کا چه تر تا به وي بهترِ
بي خبر له ځانه ډیر دي ته پراته دي   ته ئي هم په حال خبر شه بي خبرِ
د خطا د ملک نافي واړه خجل شي   چه د تا زلفيْ ښکاره شي معنبرِ
که دِ چرِ دِ آشنا په لور ګذر شي
د صبا باده ځما سلام ئرِ ورِ

نه د ما د هنر شته څوک طلبګار   نه ځما دي د دي ملک هنر په کار
په یوه ژبه ویل سره پښتو کړو   ولي هیڅ رنګ وبله نه شوْ خبر دار
خپل ځانونه هښیاران ګني نادان دي   خداي ځما دِ هسي خلق کړ روزګار
چه د سوات په ملک کښي ما ننداره وُکړه   بل اولس تر یوسف زیو نشته خوار
زور زیاتي خود پسندي خصلت د واړو   هر سړي ئي طمع خواست و ته طیار
که په کوز کښي مال دولت لري سترګ وړي   ملکان ئي لا تر نورو دي مردار
خربوزه له خربوزي نه رنګ آخلي   عالمان شیخان ئي لا دي نا پکار
حقه چار به د غریب کاند ناحقه   که په بډي رشوت مومي یو دینار
چه مي وُلیده له نورو خبر نه یم   دا خو بي غوږ و لکي دي حمار
دا په هر دیار کښي سیل هم بد نه دي   چه خوشحال وته څرګند شوْ هر اسرار

چه د سوات و سمې خاورې خوشحال بوې کړي
يـو سـړي بـه پـه کښې نه وي وفـا دار

په هر لوري دي افغان دِ مرګ له لاسَ   په هر ځاي په هر مکان د مرګ له لاسَ
د آدم صورت ئي مرګ لره پيدا کړ   خرابي شوه په جهان د مرګ له لاسَ
همګي پيغمبران که اوليا وو   دوي په مزکه شول نهان د مرګ له لاسَ
عاقبت به شي بي شکه بي ګمانه   دا ودان کورونه وران د مرګ له لاسَ
راشه ته هم د توښې په سرانجام شه   کاروانونه شول روان د مرګ له لاسَ
اي خوشحاله که په تن شاه جهان شي
هم به درومي په ارمان د مرګ له لاسَ

زه هم چرِ فرزانه وم فرزانه يم لا تر اوسَ   تل بيخود ديوانه وم ديوانه يم لا تر اوسَ
جدائي نشته وصال دي ځني بعد وهم خيال دي   له هغه چه هم خانه وم هم خانه يم لا تر اوسَ
چه راغلي پجهان يم خبر شوئي پخپل ځان يم   د رازونو خزانه وم خزانه يم لا تر اوسَ
په عالم ځما خبري ؤ شوي کانه نژدې لري   په وګړي افسانه وم افسانه يم لا تر اوسَ
چه د شمع پلوئي وا شه يو مشال را ته نما شه   هغه دم پر پروانه وم پروانه يم لا تر اوسَ
ناوکي ئي د مژګان دي چه بلا ځما د ځان دي   ور ته عمر نښانه وم نښانه يم لا تر اوسَ
سچه ئي ځان سره آشنا کړم لهر چا ئي شا پشا کړم   له عالمه بيګانه وم بيګانه يم لا تر اوسَ
هغه بحر چه محيط دي په افراط په تفريط دي   د غه بحر دُردانه وم دُردانه يم لا تر اوسَ
هغه شان لـه خپله يارَ بي وکيلَ بي ريبارَ
زه خوشحال چه يګانه وم يګانه يم لا تر اوسَ

په درست کلي کښې مې يار دي هغه کس   چه په درست تومن اوځار دي هغه کس
که په شکل و شمايل سړي ليده شي   سر تر پايه پري وار دي هغه کس
ځکه زه ور باند هسي عندليب يم   چه په حسن يو ګلذار دي هغه کس
که هر څو را ته ښکنځل کا يا قهريږي   په خوله واړه شکر بار دي هغه کس
که ئي زلف که ئي کاکل که ئي ګيسو دي   همګي مشکِ تاتار دي هغه کس

چرنه چه په تولې کښې ئې غلط کړم   آهو چشم گل رخسار دي هغه کس
د جايفل په ځاي به سرورته پيښکښ کړم   که په سر مي مينه دار دي هغه کس
چه زه خوله ورځني غوارم نور ښکنځل کا   بي حسابه ستمگار دي هغه کس
سرتر پايه زر زري جامي آغستي   سرتر پايه زر نگار دي هغه کس
زړکي ځه لره په خپل رفتار غره ئي   لا ترتا نه خوش رفتار دي هغه کس
چه صورت سيرت ئې دواړه سره جوړ دي
د خوشحال د زړه په کار دي هغه کس

په لحد کښې به هوا نه وي هوس   درسره به خپل عمل درومي نوربس
بي طوطي نه قفس هيڅ نه دي باور کړه   روح په مثل د طوطي دي تن قفس
فهم وُکړه چه ضايع درځخه نه شي   لکه دُر بي بها دي دا نفس
چه دا دُر بي بها هسي تلف کا   د چارپايو په شماره دي هغه کس
د خانانو په خاکونو گذر وُکړه   زرغونه ئي په خاکونو خار و خس
هرچه شوي نه بدليږي دا په ځه کړيْ   هونبره ديري انديښني هونبره وسوس
نصيبه به له جهانه يوکفن وړي   هغه هم اته يا نه گزه يا لس
دا به واړه له تا پاتو شي اي ځانه   که ښي جونه که آسونه که اطلس
طياريږه وخت د کوچ راغي خوشحاله
په هر لوري ناري آروي د جرس

توراني خود جنجال دي د پرخاش   دروغژن سوگند خواره بهتان تراش
ايراني د آشنائي د وفائي دي   د خلقت د مروت دي د معاش
پښتانه د بد نيتي د خصومت دي   په حيا په شجاعت وُکړه شاباش
که بلوڅ که هزاره واړه چرکين دي   نه ئي دين نه ئي مذهب ستر ئي فاش
که هندي دي که سندي دي مخ ئي تور شه   نه حيا نه ئي وفا نه نان وُ آش
کشميري که نر که ښځي واړه غيه   د مردئي ور ځخه نشته هيڅ قماش
د آدم له نسل نه دي گوره ځه دي   دواړه ورک شه يو ازبک بل قزلباش

لمغاني بنګښ سواتي تيراهي واړه سوړ مطربو بيا به څه وي مهر باش
هر احوال ور ته ښکاره دي د وګړي
د خوشحال ختک په پوهه کړه شاباش

يار مي بيا د رقيب يار شه دريغ دريغ په خبرو د اغيار شه دريغ دريغ
يو څو ورځي ئې په زړه کښي مهر ځاي وه بيا بي مهر ستمګار شه دريغ دريغ
هغه ګل چه مي ساته د زړه په وينو مل د هر خس و هر خار شه دريغ دريغ
و قصدمنو ته کاته څما په قصد کا د کشتن مي روادار شه دريغ دريغ
بي له تا مي د څکر ويني خوراك شوِ تير مي عمر په دا کار شه دريغ دريغ
غه بهار چه تل بلبلو پرِ بلغاك کړ د خزان له لاسَ خوار شه دريغ دريغ
بيچاره خوشحال په طمع د وصال وه
د هجران په غم ګرفتار شه دريغ دريغ

را معلوم شه د اورنګ عدل و انصاف د ده ښه مسلماني ښه اعتکاف
سکه ورونه وار په وار په تيغ وژلي پلار په بند کښي آچولي په مصاف
که هزار ځله څوك سر وهي په مزکه يا په صوم تر شمځي ور ولي ناف
څو نيت د ښه عمل سره جوړ نه شي عبادت طاعت ئې واړه دي خلاف
چه د ژبي لار يوه د زړه ئې بله په چاړه ئې شه څکر شګاف شګاف
مار په تن دپاسه ښه ښايسته روغ دي ولي ننه اندرون لري نا صاف
د مردانو کرده ډير ويل ئې لږ وي د نامردو عمل لږ وي ډير ئې لاف
که دلي د خوشحال لاس په ظالم نشته
د قيامت په ورځ ئې خداي مه کړه معاف

خر د سرو زرو د زين نه دي لايق ښه څرڅي ور لره بويه موافق
بوالهوس چه عاشقي کا عاشق نه دي په خالي هوسَ ئې مه بوله عاشق
نفساني تاريکه شپه صادق هغه دي چه سحر غندِ سينه لري صادق
څو په علمٌ په تلقين سره نور نه شي چه راغلي له ازلَ دي فاسق

د سینا زوی له ځایَ شیخ ملا وه آراسته نه شه په درس په خوانق
په ادب به د ادیب فایق تر چا شي چه له ځایه په فطرت نه وي فایق
صالحان له ظالمانو نه پیدا شي له زاهدَ نه پیدا شي غل سارق
د بد خوي دعوي علاج ملك الموت کا نه په ډیر علاج خبر حکیم حاذق
هغه باغ هغه باغبان هغه ئې گل دي چه فرهاد بانده بلبل وه یا وامق
دل سوخته عاشقان ډیر دي په جهان کښي څه یواځي یو مجنون نه وه عاشق
که د زاغ غندِ ئې فهم وي خوشحالَ
هیڅ استاد به شین طوطیا نه کړي ناطق

مرد هغه چه همت ناك برکت ناك د عالم سره خوړِ په زیست و رِواك
مخ ئې مخ قول ئې قول عهد ئې عهد نه دروغ نه ئې فریب نه تش ناپاك
لږ گفتار ډیر ئې کردار په خاموشي کښي د غنچي غندِ خوله پوره سینه چاك
چه خبري د پستي د بلندي شي په لوئي لکه آسمان په پستي خاك
په تمکین کښي لکه سروه په سخا کښي په هر لور څانگي ځنگوري لکه تاك
لکه گل شگفته روي تازه په باغ کښي همیشه د ښو بلبلو پرِ بلغاك
چه دا هسي شان ویل کا زه حیران یم
چه خوشحال راوړ له کومَ دا ادراك

په شیوه شیوه رفتار کاندي غزال وائي ښي په مزکه نه کښیږدي له خیال
و غمزي وته ئې حکم دي چه وژنه هم هغه چه مینه کا ځما په خال
د زړه حال ئې امانت په کښي لیده شي چه ئې تن په صافي صاف دي تر زلال
له دوو سترگو خبر واخله چه مي وژني نور به څه پښتي ځما د زړه له حال
که شیرین آشنا وفا در سره نه کا
په جفا ئې هم خوشحال اوسه خوشحال

په دا باغ کښي به دِ پاني نه وي گلَ که خبر شي د خزان له تطاولَ
دا څو ورځي غنیمت گڼه په باغ کښي چه په تا بانده سینه وهي بلبلَ
مرتبه د هغه باغ څه پاتو نه وي چه خالي وي د بلبلو له غلغلَ

و هغي ښيښي تۀ نه غړيږي سترګي — د ساقي څڅه چه تشه شي له مل
په دا پول باند د خلق ګذر ګوره — څوك پريوزي څني پوري وزي ترِ بل
په درست عمر به ئي نه وُ وزي له يادو — چه ليدلي وي تارو د باز منګل
مقدر به په هيڅ رنګ مبدل نه شي — که په څان باند تل لولي څلور قل
عاشقان چه عاشقي کا غم به نه کا — د رقيبو د غمازو له چغل
څه کړم لاس و دست مي نشته قلندريم — کنره ما به دنيا وُ بازه له کل
هسي يار لرم ښايست ئي تر دا قياس کړه — چه د مشكُ بوي ئي هيڅ دي تر کاکل
په پالنګ بهِ خوب په څوکاند بي غمَ — چه خبر وي د فلك له تزلزل
د دلبرو په مانړي کښي هم مزه ښته
بي چارهِ خوشحال ئي مري له تغافل

آشفته دِ د جمال يم — هميشه دِ په خيال يم
نور و مينو ته مي ښا کړه — مَين ستا په زلفو خال يم
څه مي اوښئ په ګريوان څي — دا په تا پسي بيَ حال يم
څاي مي ته ئي په خاطر کښي — ته ريحان ئي زه سفال يم
نور مي هر څه فراموش دي — آرزومن دِ د وصال يم
لا د مهر ويل پريږده
په ښکنځلو دِ خوشحال يم

له عقلَ له هنر که څوك وُ وائي لرم — چه بخت مي ياري نه کا دا وَ چا تۀ يادوم
په جهان کښي د وفا هنر کيميا دي — زه ئي څه لره له چا طمع کوم
د وفا ميوه د دهر په باغ نشته — بيهوده ئي هره ونه لټوم
غه باران چه په درياب باند وريږي — په باران به ئي زه څه حسابوم
ناداني مي غلبه په هوښياري شوه — مرغلري په درياب کښي تويوم
له قسمتَ به نه کم نه به افزون شي — غه روزي چه د ما نه ده نه ئي خورم
چه د ما له رزقَ زيات د ما څڅه وي — امانت غند ئي بل لره ساتم

کوم مکان د زماني له مکرَ خلاص دي   چه هغه لوري ته تيښته ځني کړم
که په تيښته خلاصيدي ځني به خلاص شوم   د قضا له لاسَ کوم لوري ته ځم
زمانه مي د فتنو په کاڼيو ولي   زه ابله د ښيښي سپر په مخ کښي وړم
چه په راغله ئي ښادي را سره نه وه   په هجران به ئي زړه څه زهيروم
چا ويل چه صبر نخښه د ظفر دي
زه خوشحال په صبر څکه زړه تړم

که ګذر په خيرآباد وُکړي نسيمَ   يا دِګښت وُشي د سراي د سيند په سيمَ
په بار بار ځما سلام ور ته عرضه کړه   ور سره ځما د لوريه ځو تسليمَ
آبا سيند وته ناره وُکړه په زورَ شي   وُ لنډي ته وينا وُ وايه حليمَ
ګندِ وي چه بيا مي ستاسي جام نصيب   په ګنګا جمنا به نه ووُ تر قديمَ
که د هند له هوا زار کړم ځو به زار کړم   د اوبو بلا ئي لا بده عظيمَ
که د نهر اوبه ځښي کلمي پرِ باسي   هم د هر کوهي اوبه نه دي بي بيمَ
چه سړي اوبه د غره نشته په هند کښي   ترِ توبه که واړه ډک دي له نعيمَ
تل به هيڅوک نا اميد په جهان نه وي   په ګريابو کرم کيږي له کريمَ
د ويشتلي و صحت وته اميد شي   د پرهار چه څه کمي وُ شي له ريمَ
خدايه زړه مي په وصال د هغه خوش کړه   دا چه اوس ور ځني لري دي دوه نيمَ
عاقلان به هيڅ انکار ور باند نه کا   هر افعال چه صادر کيږي له حکيمَ
هميشه به په هند نه اوسي خوشحالَ
عاقبت به عاصي وُ وزي له جحيمَ

ښه به هغه وخت وي چه خپل يار له ور دروم   وايم چه به زه باغ و بهار له ور دروم
زلفي ئي ښکاره کړي مشك عنبرئي په ما توي کړه   اوس به له دي پس څه عطار له ور دروم
خداي پکور کښي را کړي هغه توري سترګي ترکي   اوس به ئي په مرسته څه فرخار له ور دروم
يار مي په ښايست کښي لکه ګل د نو بهار دي   سوذئي د جمال کړم چه ګلذار له ور دروم
زار د خوږو زړونو خوښ خورم زړونه آزار کا   غم اندوه مي دا دي چه خپل زار له ور دروم

هر چرته چه خاروي هغه ځاي مومي ګلونه څکه په دا طمع هر هر خار لره ور درومم
کوم سحر ئي وُکړ په ما خوار باند حيران يم مرګ وته مي ناست هغه خونخوار لره ور درومم
هم ئي په ما وُکړل څو څو رنګ ستمونَ بيا له نا چارئي ستمګار لره ور درومم
ښه شيرين ياران چه ما خوشحال ليدل په سترګو
اوس ئي په ژړا ژړا مزار لره ور درومم

مست يم مي پرست يم رندي کړم کړم واروه محتسبَ باده خورم خورم
نور شراب مي واړه وعالم وته بخښلي لام و بي ئي مَيَ دي پسي مرم مرم
موړ به څني نه شم زه د ميو مستسقي يم تل که هسي ډکي پيالي ښبنم ښبنم
لار د محبت ده تل به روغ سلامت نه وم زه چه په دا هسي لار تلم تلم
څه وائي و ما ته حال دِ څه وه په هجران کښي نور خبردار نه وم په زړه سوم سوم
خلق را ته وائي رنګ دِ بيا زيړ شه عاشق شوي هيڅ منکري نه کړم خلقَ شوم شوم
دود د عاشق دا دي چه په عشق کښي ملامت وړي
څکه زه خوشحال ملامت وړم وړم

په کاته شم و عالم وته حيرانَ چه د نفس د پاره څه کا دا سګان
هسي چاري ئي پيدا شي له وجود چه په فکر ذکر نه وي د شيطان
تل قرآن دوړاندِ يښي قرآن لولي ولي هيڅ عمل ئي نه وي په قرآن
په کوم لوري پسي څم چرته ئي غواړم د کيميا غند ناياب شول دانايان
ښه سړي لعل ياقوت دي موندل نه شي لکه نور کاني لړ نه دي نا کسان
د عفريت دي که د ديو دي که د دد دي د آدم له نسلَ نه ګڼم افغان
که هر څو ور ته د پند خبري وائي دُ پلار پند ئي هم ښه نه لګي په څان
هره چار د پښتانه تر مغل ښه ده اتفاق ور څخه نه شته ډير ارمان
د بهلول او د شيرشاه خبري آروم چه په هند کښي پښتانه ووُ بادشاهان
شپږ اوه پيړئي هسي بادشاهي وه چه په دوي پوري درست خلق وه حيران
يا هغه پښتانه نور ووُ دا څه نور شول يا د خداي دي اوس دا هسي شان فرمان

که توفیق د اتفاق پښتانه مومي
زور خوشحال به دوباره شي په دا څوان

خوږ ژوندون په سري تریخ کاند بیلتون   په سوزانو لنبو پاس کښیږدي لړمون
چه څه زور قوت د زړه وي په کوګل کښي   وار په وار ئي تردا سترګو کا بیرون
تر دا هسي عمر نه عمر بهتر دي   چه تیریږي ورځو شپو په جګر خون
په جګر جګر مي ولي صرفه نه کا   د غم لندی را ته وُ واهه زنګون
څما زړه تومار د مهر د وفا دي   . څیراوه شي چا ئي زده نه کړ مضمون
که کتان چه مهتاب څیري کا ګانده شي   سکه څما د زړه به هم وُ شي ګندون
کشکي څوك هسي پیدا شي زه راضي یم   چه مي زړه د یار له لوریه کا را ستون
په هجران کښي که امید د وصل نه وَي   د خیران عاشق به هم نه وه ژوندون
چه قدم په هغه لار کښیږدي سر دروُمي   زه همیش په هغه هسي لار کړم یون

یو د بل په ځای کښیني د دنیا دود دي
زه خوشحال قایم مقام یم د مجنون

نس مي افریدي دي چه غم نه لري د دین   ښه فکر ئي لړ دي ډیر و بدو وته شین
زه د درویزه غند ایمان ښیم و ده ته   دي د پیر روښان غند د کفر کا تلقین
دوه شپیته کالونه په حساب لرم خپل عمر   تور ویښته مي سپین شوه لا مي زړه نه دي هیڅ سپین
نشته هغه در د سرو یاقوتو په حقه کښي   نه هغه نرګس دي نه د باغ هغه نسرین
زه بي غمَ خوب کړم په پاسته بالین سریښي   پریواته په ګور کښي چه څما وُ هم بالین
ډوبي شوي بیړۍ د فنا په آب سیند کښي   ډیر په کښي لاهو شول چه څما وُ هم نشین
څه د غم پلو دي چه څما په سترګو پریووت   نه وینم په سترګو حقیقت واړه مبین
هونبره رنځ پخان کښي طبیبان پدا جهان کښي   مرم دارو خپل نهٔ کړم په دا هسئ کار نفرین

وُ لار ځاي ئي سقر دي مګر خداي پر کرم وُ کا
نفس و شیطان دواړه چه خوشحال لري قرین

ښځه بویه هوسناکه خنده رویه مهرجنَ   پاکیزه په زیست روزګار کښي په ښه نوم باند مینَ

د صحبت په رموز پوهه زړه ئي خلاص له مکر دروه　　کم خوراکه خوش پوشاکه همیشه ناسته دننَ
په وصال د یار خوشحاله یار ئي خوش له قیل و قالَ　　چه له یاره نه جدا شي هم غم جنه هم جړنَ
له نیکانو هم نشینه له بدانو په زړه خوړینه　　له موروالي ئي توبه کا که ئي مور وي دروغژنَ
د میلمه په کار حاضره په ښخوالي بهادره　　حق د چارِ په ځاي راوړي په رنځور باند پښتنَ
خوش صورته خوش سیرته خوش خِلقته خوش خُلقته　　په طاعت په عبادت کښي د وفا په لار تلنَ
پاکیزه ئي د کور صحن نه په غولي کښي نورلحن　　پرستاري ترِ خشنود شي د هر چا زړګي دننَ

که دا هسي کس پیدا شي د خوشحال په لاسو راشي
هیڅ تقصیر به ئي وُ نه کا د ښادئِي په پالنَ

څو خبر په قباحت نه شي اِنسان　　نیك وَ بد هوښیار نادان کڼړي یکسان
که یو کس په زر کښي بیا موځي هم ډیر دي　　په هر لوري صد هزار دي ناکسان
هونبره ترس څما له خرس و خوكَ نه شي　　څو په زړه یم له جاهل هراسان
دانایان په نا کامي کښي خوار حیران دي　　کامراني د جهان څوك کاند خسان
په خپل ښکار باند غوټي وهي بازونَ　　په مرداره باند ګرزي کرګسان
تفاوت ئي په کرده په فعل ګوره　　مچ مچي دي سره دواړه مګسان
چه په درست عمر کښي یو څله تیره شي　　نور اصیله توره نه غواړي پسان
چه هر دهور ئي و اودلو ته هوس کا　　د زر دوزو هنر چري دي آسان

که دِ زړه دي چه لذیذ شعر وُ وائي
د خوشحال غند پیدا کړه خپلِ لسان

که هر څو ښایسته ئي نه یوسف ئي د کنعان　　که هر څو ډیر هوښیار ئي نه مخي ئي د لقمان
که هر څو ډیر حشم لري بادشاه د مملکت ئي　　په زړه کښي فکر وُ کړه څه بادشاه وه سلیمان
څو ښه کښلي مخونه څو هوښیار څو بادشاهان وُ　　چه راغله هسي لاړل اوس ئي نوم دي په جهان
یو نوم دي پاتو کیږي نور به هیڅوك پاتو نه شي　　په بد بدان یادیږي په نیکي یاد دي نیکان
که نوم د حجاج آوري آوري نوم د نوشیروان　　په عدل کافر ښه شه ظلم بد کړ مسلمان
که ښه کړی ساعت دا دي چه په شمار ئي د ژوندیو　　نه سود نه به فایده وی که په ګور کښي کړي ارمان

کافر سړي هغه دي چه د نفس په هوا دروميمومن سړي هغه دي چه تل غم کا د ایمان
هیڅ شك په دا کښي نشته چه په مرګ به واړه وُ مريشك په دا کښي کیږي څوك به مومي ګورستان
سخ به د هغه وي چه ایمان سره ئي مرګ ويګور په عزت بیا مومي پسي لولي قرآن

وخت د څوانئ لاړ شه اوس پیري راغله خوشحاله
نور کاروانه پریږده خو د ګور کوه سامان

آدم خیلي آفریدئي دي سري و سپینِ په کښي شته دي ښایسته په رنګ رنګینِ
غټي سترګي لوي بانه فراخي وروځيشکر لبي ګل رخساري مه جبینِ
تنګه خوله لکه غنچه هموار غاښونهسر ئي ګرد په تورو زلفو عنبرینِ
په وجود کښي لکه ها له ویښتو خلاصيښي کمکئي غنډ پنډئي پهن سرینِ
ترنځي ګیډي سینه وري ملا باریکيقد ئي سم لکه الف په تن سیمینِ
که د باز غنډ مي ګښت په غرونو کیږيښکار مي هم شوي ښایسته زرکي ثمینِ
باز که چوړ وي که کرچ طلب د ښکار کالا تر چوړ وي د کرچ غوټي مهینِ
یا اوبه د لنډي سیند یا د باړي ديچه په خوله مي تر شربت لکي شیرینِ
د ما تري غاښي نیغ درومي آسمان تهپه خاته خاته ویلیږي باند سپینِ
آدم خیلو سره زه په تیراه راغلمنور رخصت ورکړي و خوږ په زړه خورینِ

مینه واړه کار د اورلري خوشحاله
که لنبه ئي پټوي لوګي ئي وینِ

که دِ زړه څخو ترس داروي څه به ښه وولږ دِ مهر په ما خاروي څه به ښه وو
زه چه ستا له غمه زار کړم ستا په در کښيکه دِ غور څما په زاروي څه به ښه وو
چه په ما باندِ پیغور کا ستا په عشق کښيستا له حسنه خبر داروي څه به ښه وو
هر چه نن د زهد لاف کا په جهان کښيپه دیدن دِ پرهیز ګار وي څه به ښه وو
پس له مرګه مي په هسي مکان ګور شويچه پرِ تل د ښکلیو لاروي څه به ښه وو
ستا په کوي کښي ډیر کوته تازي پراته ديزه هم کډ د دوي په شمار وي څه به ښه وو

ستا په غم به په دا لړ عمر موړ نه شي
د خوشحال عمر بسیار وي څه به ښه وو

ړا ته مه وایه په تا ړو   چه په تا نه ړو په چا ړو
ته ځما د سترګو تور ئي   په دا تورو سترګو ستا ړو
مخ دِ ورځ زلفي دِ شپه دي   په صبا ړو په مسا ړو
په جهان کښي مي ځان ته ئي   نه څه نور په تا جانا ړو
یاد مي ته ئي په خاطر کښي   هر زمان په خپل مولا ړو
ستا د ښو خاوري طوطیا دي   ځما ستا په خاکِ پا ړو
تمنا لرم ستا ډیره   په دا خپله تمنا ړو
تر خندا پوري دِ هیڅ دي   لال و در ستا په خندا ړو
یار خو ستا یم د چا نه یم
زه خوشحال ستا په لقا ړو

آفرین دِ په ول ول تورو سنبلو   چه ئي ځاي د ما سره و نیو په ګلو
ما چه ستا د شونډو مي سره مزه کړل   مستغني شوم د جهان له واړه ملو
که په اصل پښتنه د کوهستان ئي   دا د ظلم خوي دِ زده کړ له مغلو
مګر مور دِ د خطا د ملک هوسي وه   چه د مشکو بوي دِ دروومي له کاکلو
زه په هونبره تمنا کښي دا نه څه شي   چه ته هر کله په هونبره تغافلو
د هر ګل ثنا صفت کا په زر ژبه   په دا باغ کښي چه غوغا ده د بلبلو
د خوشحال په زړه ئي هسي چاړه و کړه
لکه باز چه زرکه یوسي په منګلو

د ښادمنو په خندا ړو   د غنچو په ژړا ړو
د رندانو په رندئي   د شیخانو په تقوا ړو
د وصال په سل خوښئي   د هجران په زر بلا ړو
د بهار په ښو ګلونو   د بلبلو په نوا ړو

چه تر سروِ ونې هيڅ دې — په هغه قد و بالا ږو
چه مکحولې دې له نازه — په هغو سترګو شهلا ږو
چه نرۍ تر ويښته ده — په هغه باريکه ملا ږو
چه عاشق ور پسې مرينه — په هغه جمال زيبا ږو
چه راځي د يار له لوريه — په هغه باد صبا ږو
چه پيغام راوړي د وصل — د هغه قاصد په پا ږو
چه دوېمَ په کښې نه شته — د ريښتينو په ريښتيا ږو
په دا هونبرهِ سوګندونه — صد هزار خله بيا بيا ږو
چه تر ځان په تا مَين يم
زه خوشحال ختك په تا ږو

سپينه ږيره د مردانو کډ خدائې ده — د غاښونو پريوتنه رسوائې ده
د سرې چه غاښ په ځاې وې ږيره سپينه — په دا هيڅ زړوالې نه دې برنائې ده
د خضاب ځوانې د چا ده د احمق ده — تر دا کله ږيره ښه په ښه نائې ده
زوړ سړې دِ د زړوالې اندوه نه کا — که په ځاې ئې د چشمانو بينائې ده
زاړه مرد لره ديدن د دلبر څه دې — په معنې د زړه د خوړو موميائې ده
شيخ به کله عاشقې له سره پريښوه — لاس و دست ئې نه رسيږي پارسائې ده
که خوشحال په عمر ؤ لاړ تر اويه تير شه
لا په زړه کښې ئې د ښکليو آشنائې ده

شيرازې که ښه خوراك ؤه واروه تير شه — ملوکې که ښه پوښاك ؤه واروه تير شه
که خپلوې د زن فرزند وه حال ئې دا دې — که له خلقَ زيست و ژواك ؤه واروه تير شه
که منصب ؤه که خانې که سردارې وَه — که په لاس مې ملك املاك ؤه واروه تير شه
فرش فروش نقش و نګار د محلونو — که بستر مې عطر ناك ؤه واروه تير شه
چه له ښکاره به په خيال راتلم و کورته — سور به تل ځما فتراك ؤه واروه تير شه
خپل پردې نيکان بدان له هره لوريه — په دربار مې په بلغاك ؤه واروه تير شه
تار په تار د اکوړ خيلو کډې ؤ لاړې — په دا غر مې ځان هلاك ؤه واروه تير شه

اوس ئې روغ د ملنګي و د دوهان دي
د خوشحال چه سراي اوتاك وُه واړه تير شه

توره چه تيريږي خو ګذار لړه كنه زلفي چه ول ول شي خو خپل يار لړه كنه
ولي را تهٔ وائي چه په كښليو نظر مه كړه ستركي چه پيدا شو خو ديدار لړه كنه
شيخ دِ نمونځ روژه كا رند دِ ډكي پيالي آخلي هر سړي پيدا دي خپل خپل كار لړه كنه
تا وي چه د ما د خولي بوسه لكه دارو ده غوارم دا دارو د زړه پرهار لړه كنه
ويني مي د زړه خوري مګر نور څه لړه نه دي زړه څما پيدا دي تا خونخوار لړه كنه
څه ژړا فرياد كړي د شهي له تورو زلفو تهٔ ور تلي پڅپله دي تور مار لړه كنه
خود به ستا ترمخ پور ګياه غند څرګندِ شي ګل و لاله راوړه خپل رخسار لړه كنه

مي شته چنګ و ني شته اوس خپل يار سره خوشحال
خپل بياض په لاس كښي څه ګلذار لړه كنه

نن په ستركو وروځيو له ما څوار زهد و تقوئ وُړه نازو غمز وُكړه عقل و صبر مي صبا وړه
شيخ ملا قاضي مفتي صوفي سره يو ځاي دي پاڅه شيوه وُكړه يو يو څيز له هر هر چا وړه
جور د اغزي وړي چه و ګل وتهٔ هوس كا يار كه ښايسته وي ته ئې هم جور و جفا وړه
دور د اورنګ دي د ريا زاهدان ډير دي پټه په لستوڼي د شرابو ډك مينا وړه
تل چه عاشقان دي پسي ډلي رقيبان دي ته چه عاشقي كړي د وګړي غوغا وړه
مال دي كه مي ملك دي څو لا مړ نه يم ژوندي يم هر څه ستا په خوا دي هغه واړه پخوا وړه
ډيري دي نګاري ښايسته پري رخساري نورو لره نور څه ته مي زړه په تنها وړه
شونډي دِ حلوا دي عاشقان د حلوا وږي وُ تښته له وږيو په پلو پټه حلوا وړه

تا ويل خوشحال يو كالي به له تا غوارم
زړه دي نور څه نه دي ښه دركړي و تا وړه

هر آفت چه په درست عمر را دو چار وُه چه مي څير كړ درست څما د زړبي كار وُه
څه وداني چاري وراني په ساعت كا چه مي وُ ليده په چارو كښي تلوار وُه
د هر چا ياري مي وُ ليده په ستركو هم هغه را ته بلا شه چه مي يار وُه

نا همواري به هرګز ور پیښې نه شي که په خپله اندېښنه سړي هموار وُه
صبر ناکو سره جور فلك نه کا د فلك جور له چا چه سبکسار وُه
په دا باغ کښې مي ډېر ګل تر نظر تیر دي د هر ګل تر څنګ ما وُلیده چه خار وُه
زړه چه طمع د وفا له بي وفا کړه په خپل ځان باندې پخپله ستمګار وُه
که هر څو باندې مرهم ږدي نه رغیږي
د خوشحال په زړه یو څه د غم پرهار وُه

چه ګټل خوړل ښخښل کا ځوان هغه چه توره لري د تورِ خان هغه
کان د لعل د یاقوت د ګوهر څه دي چه احسان ترِ پیدا کیږي کان هغه
چه ئې ته په ګېډه وُ خوري حبطه شي د مجلس سره چه خوړ شي خوان هغه
که د مال دي که د ملك دي د لښکر چه ئې توان د چا په کار شي توان هغه
په تمامه شپه و ورځ په مه وسال کښې چه د خداي په یاد وُ دروُمي آن هغه
چه دِ څوك دوړاند ورستو څي دا څه شي په تنها وجود مڅه شان دي شان هغه
و نور چا وته وړان مه وایه خوشحالَ
چه ئې قول و عهد وران شه وران هغه

نشته بانګ د مؤذن په درست تیراه مګر واوري بانګ د چرګ په سحرګاه
که ورکزي دي سراسر واړه ګمراه دي آفریدي دي تر ګمراه وُ لا ګمراه
د اسلام ارکان احکام حلال حرام شته آفریدي ورکزي نه دي پرِ آګاه
نه ئې نمونځ د جنازي نه ئې امام شته نه زکوات نه سرسایه نه د زړه تراه
نه هغه چه مستقیم په شریعت وي بد هغه دي چه په شرع کښې تباه
د دنیا چارِ همه واړه فاني دي که باقي دي څو یو نوم دي د الله
چه یك لحظه د دنیا په کار کښې غرق وي له هغه غافلَ زویه نه آه آه
په اوبه سره ګندګي له تنَ دروُمي په توبه په استغفار سره ګناه
موحد د تصوف او ترسا یو دي مسله د شریعت ګڼي ګناه
کله کله چرې وُ وائي دا هونبره څني څني لا اله الا الله

چه ګناه همیشه کا توبه ئي نه وي
له هغه قوم خوشحال غواړي پناه

لور په لور مي په هر لور ګريوان پاره شه   کور په کور مي د رندئي کار ښکاره شه
چه مي پته په لستوني کښي پوښله   د هغي پيالي عالم په نندارة شه
دا څه زړه نه دي چه اوس مهر په ماکا   را ته نرم هغه سخت سنګ خاره شه
چه د عمر مايه وه تر واړو تير شوم   د خوښئي ملك څما په اجاره شه
اوس به کوم ارمان کوم سوبه مي ؤشوه   چه رقيب د يار له دره آواره شه
د هغه قدر لرم تر به جاريږم   چه په غښم کي چاره جوي د بيچاره شه
اوده بخت وته مي ډيري ناري ؤکړي   ويښ له خوبه په ورستي نرئي ناره شه
جدائي ورڅني مرګ دي سري ؤمري   د بتانو وصل عمر دو باره شه
که خپل ځان هوښياروي هوښيار به نه شي
اوس خوشحال د ليونيو په شماره شه

ښخپل قسمت راضي شه تل د بل قسمت مه غواړه   فراغت دِ مبارك شه كه دِ ؤ نيوي دا دواړه
د ژوندون پيوند تړلي په يوه اومه ښپښي دي   د جهان غمونه پريږده نور به څه ژاړي ځان ژاړه
خپل دي که پردي دي قلم را څکوه په واړو   دور د فساد شه ښخپل زوي ورور مه وياړه
هر چرته چه ګرزم څني هسي چار وينم   کار مدار په نن شه د صبا انديښنه ؤ لاړه
ګوره کوم يو باد دي چه په درست جهان را والوت   زړه په چا ښه نه شي لباسي شه خلق واړه
ما وکلي ميشت دي چه په کلي باند راغلم   تش کندر پراته دي خالي مينه ده اوجاړه
هر چرته چه ګرزي په لا حول تر تيريږه   صل بلا په زړه کښي صل داني تسپي په غاړه
ډيره سودا ؤشوه صل دعوي د سود په طمع   وخت د نماز ديګر شه وله دا دکان ؤ نغاړه
تل وائي خوشحال چه دنيا وته به شا کړم
لا خو دا دنيا ده مخا مخ در تنه ولاړه

درخو خود په آدم خان باند شيدا وه   تر دا مينځ د ميروکي ژبه بلا وه
چه په مينځ کښي دلال نه وي وصال نه وي   په مجنون باند مينه که ليلا وه

په خپل يارپسي ژړا ننه په زړه کښي د عالم سره خما په زور خندا وه
چه غنچه ئي شگفته کړه په چمن کښي که دِ زده دا چارِ واړه د صبا وه
چه ئي گل د بهارستا و مخ ته وُ نيو ستا د مخ خوبي تر گلو لا زيبا وه
هونبره رنځ محنت آفت ځني پيدا شه خو خما د خوار خاطر مينه په تا وه
دا نن شپه چه په ما تيره شوه بي ياره ته به وائي په دوزخ کښي مي ماوا وه
نن خپل بخت را سره درسته مخا مخ کړه چه پرون راته يکلخته شا په شا وه
ما وِ زړه يم چه پياله لرم په لاس کښي ولي دا پياله په لاس کښي د هر چا وه

بس چه بيا ئي ستا جمال په نظر کښيوت
د خوشحال ختك د زړه خله هم دا وه

خداي را کړه و ما يار ښه شکر لب و شيرين کار ښه
تر سنبلو ښي ئي زلفي تر گلـونو ئي رخسار ښه
توري سترگي توري وروځي تور گيسو ئي تار په تار ښه
تنكه خوله ئي نيست و هسته لکه خوله هسي گفتار ښه
لکه در هسي غـابـونـه لا تر درو سپين هموار ښه
تر وينبته ئي ملا باريکه تن ئي لا تر سپين چوتار ښه
قد ئي ښه تر سروِ ونه لکه قد هسي رفتار ښه
چه هر ځاي و ته ئي گورم سر تر پايَ پري وار ښه
خدايَ ماتي هغه خولي کړه چه به وائي هندو بار ښه
هونبره کلي دير ښهرونه په کښي نشته يو نگار ښه
چه په کښي شيرين ياران دي پيښـور تـر هـر ديـار ښه
په موسم د ښو گلـونو تر هر ځه د ميري ښکار ښه
ښه په هند کښي چنبال گل دي تر دا گل د وطن خار ښه

د سراي قدر نور چا نه زده
په خوشحال دي تر فرخار ښه

د سپي غل د دروغژن په خوله کښي تل کړه   په رښتيا خبرو خوله د سړي کښل کړه
هر عمل چه سړي کا مضمر به نه ښي   در ته چا وچه لوګي مه کړه اوربل کړه
که پوهيږي چه د بل جهان حساب شته   ته په دا جهان نظر په خپل عمل کړه
ستا د خولي چشمه حنظل ده هم عسل ده   و هر چا ته تويونه د عسل کړه
چه د دين د دنيا کارو تاته پيښ شي   د دنيا تر کار کار د دين اول کړه
چه د مشکو د نافي شميم را خوري   را ښرګندي توري زلفي تور وربل کړه
ساقي وخت د نوبهار دي شراب راوړه   د شرابو سره نقل د خولي مل کړه
نن خلل د نيو مې مه کړه زاهدَ   چه موسم د بهار تير شي بيا خلل کړه
چه يو دم د عشق له اوره خالي نه ده   خدايه څه دِ د عاشق سينه منقل کړه
ستا د مخ په دور زه جهان ګير شاه يم   را ته کښينه کرشمي د نور محل کړه
ستا دا توري سترګي خود توري بلا دي   در ته چا وِ لا ئي توري په کجل کړه

که هزار خله شيخي کوي خوشحالَ
چه ښه کښلي در نيژدي شي نور ئي کښل کړه

که هوښيار دي که نادان که ښاد که غله   هيڅوك نه وينم د خپلي چارِ مله
يو په غم شريك يار نه وينم په ملك کښي   خلق تشي تسلي کاند په خوله
د ميړيو غندِ يون دي و دانو ته   چه وما و ته عالم کا تله را تله
چه امید د ميږي نه وي و دانو ته   و هغه لوري ته نه کاند هيڅ تله

خپل ويشتلي، غرځه مه پريږده خوشحالَ
ځاي په ځاي ويني توي دي په پله

غم آخر شه د ښادئ روزګار راغي   چه موسم شه د ګلونو ګلدار راغي
په تلوارئ تياري د سيل کانړئ   و بلبلو و ته وايه بهار راغي
په دا هسي خاصه وخت د ښو ګلونو   د مطرب د ساز آواز مي په کار راغي
دا ئي وارِه له خزانَ نه فرياد شي   چه ګلونو ته طوطي په چغار راغي
د هجران مشقت ډير وُه خداي آسان کړ   بيا مي سخ دي چه عشرت د ديدار راغي

که په نورُ باندې نور کله اختر دي　　په ما دا زمان اختر شه چه یار راغي

لوَن لوَن ګالي بیا پیري خواجه شهٔ
چه خوشحال د یار د مخ په بازار راغي

ستا وصال لکه دریاب دي زهٔ ماهي　　په هجران دِ هر زمان دي څما حي

په ژړا مي څني خواست د سپیني خولي کړ　　په خندا ئې وي چه څهٔ کا دا سړي

وِئې څوك ئې چه څما په کوڅه ګرزي　　نه حاضر جواب مي ورکړ چه ستا سپي

هم په څو رنګه ناله هم په تن نال شوم　　بیلتانه را باندې وُکړ کار د ني

د څوانئي بهار هغه شه دریغه دریغه　　دا بهار که همیشه په دنیا وي

ګل سنبل نسرین نرګس لاله غوټئي　　د مقدم سره دِ راوړ درست پسرلي

چه ئې وُ نسم په غیرِ کښي را ته ګوري　　لکه مست د مور په پیو کم کبلي

دا شیرین یاران به نه وینم چه وُ مرم　　خدایَ ما پهٔ جهان تل لرهٔ ژوندي

غم خو ستا د رسوائي کړم نه د سر کړم　　که مي دا اندیښنه نهٔ وي تا کتي

هسي ستا د بیلتانه په آتش سیځم　　لکه څوك په لنبه کښیږدي وچ لرګي

ډیر صفت د شا پیریو آرویده شي　　ولي ستا دِ مخ څوك نه وینم مخي

پښایست کښي هیڅ لقب درباند نه شه　　که دِ څخو د عاشق نمنځنه کړي

اورنګ زیب به د کابل د خلل غم کا　　ساقي وخت د نو بهار دي راوړه مي

چه زړه سوي دِ د خوشحال په فریاد نه شي
په سینه کښي دِ سندان دي که زړګي

لاله ګل ئې تر جمال پوري بد رنګ دي　　د زلفیو ئې د چین د مشکو ننګ دي

توري وروځي ئې لندي بانه ئې غشي　　د عاشق تر زړهٔ ئې تللي هر خدنګ دي

دواړه سترګي ئې په تن توري بلا شوِ　　همیشه ئې د عاشق له دلَ جنګ دي

نه به وائي حبشي شکري پیري　　هغه خال ئې چه د دوو شوندو تر څنګ دی

تجله ئې د جمال لکه مشعل شوه　　خوار عاشق په دا جمال باند پتنګ دي

چه له غوږو ئې مقصود مومي لښتي ده　　چه له پوزي ئې مراد مومي لونګ دي

په ښايست کښي ئي تقصير د صورت نه شته   خو دا عيب لري چه په زړه سنګ دي
د هر چا په خپل غرض پسي کوښښ دي
د خوشحال ئي په جمال پسي آهنګ دي

په زړه سخت بي مهره يار ئي   جفا کار ئي دل آزار ئي
که هر څو په کوکو ژاړم   ته لا خوش خما په کار ئي
تا ويشتلي يم فرياد کړم   که خبر په خپل ګذار ئي
زه مرهم کړم له تا طمع   ته مي مالګه د پرهار ئي
زه به تل ژاړم و تا ته   که ته خوش خما په زار ئي
زړه دِ وُ سپاري و غم ته   د هغو چه ته دلدار ئي
څوك به څه وائي و ما ته   چه يو څه رنګه نګار ئي
چه پخپله عاشق وژني   هم ئي وير کړِ په چغار ئي
کوم ګناه دي عاشق کړي   چه ئي خيره په ناتار ئي
ګله درد ګله دوا شي   ګله خار ګله ګلذار ئي
په خوشحال دِ غم نازل کړ
چه اغيار سره کنار ئي

د دني دنيا دا هسي قرار داد دي   چه ګهي ئي را نيول ګهي ئي داد دي
عاقبت به د دنيا په غم غمجن شي   هغه زړه چه د دنيا په ښادي ښاد دي
د دو شش ناري وهي دو خال پريوزي   دا دنيا په مثال نرد سړي نراد دي
له دنيا نه هيچا کام موندلي نه دئ   که شيرين وه که خسرو وُه که فرهاد دي
د دنيا مثال که وُ ګوري عاقل   په حساب لکه اوبه يا لکه باد دي
نه اوبه په يوه ځاي کښي قراري کا   نه د باد په يوه ځاي باند استاد دي
مبتلا ئي هميشه په زړه محزون دي   طلب کار ئي هر زمان په بلا ياد دي
تر وفا ئي د جفا خويونه ډير دي
څکه هسي د خوشحال څني فرياد دي

د عشق په ګزانه لار کښې ډیر خطر دي هر قدم چه په کښې آخلم دار د سر دي
که سینه مي سره چاك کړي وُ به وینې چه مي ستا له غمَ وینې درست جګر دي
ستا د مهر باران نه اوري چه شین شي ما په زړه کرلي ستا د مینې کر دي
ستا په راز به ژبه هم نه کړم خبره تل تر ژبې رسیدلي راز سمر دي
زه له عشقَ خبر نه یم چه عشق څه دي هونبره آروم چه له حسنَ ئي اثر دي
چه ئي عشق تر سرَ کړی هغه کم دي په دا کار کښې لاف وهلي یوه هر دي
عاشقي لا زه ته نه وُ چه پیدا وه نه چه ما و تا ګډه کړي دا هنر دي

د عشق غم له خلق پټ لره خوشحالَ
څه ئي پټ کړم چه جهان څني خبر دي

غم ښادي چه په چا ډیر شي لکه ډیر شي هسي تیر شي
سر رشته ئي مونده نه شي ګونا ګون د دور پیر شي
چه په خوا په خاطر نه وي هسي چاړ په تا دیر شي
په هجران کښې غم د یار دي چه همیش تر زړه چاپیر شي
هر چه وُ واته له سترګو عاقبت له دلَ وُ هیر شي

چه به سخه په خوشحالْ کا
ګنډِ ژر د ده په خیر شي

که په حسن د کشمیر خوبان اوخار دي یا د چین و د ماچین یا د تاتار دي
ښښتني جونة چه ما په سترګو څیر کړي هغه کل واړه خجل د دوي تر کار دي
په ښایست باند ئي ختمه دا وینا ده چه په اصل د یعقوب قوم و تبار دي
هیڅ حاجت نه شته د مشکو د ګلابو په پنځه وختَ نمانځه عطرِ عطار دي
که ټیکه که کتماله که نورسنګار دي دا همه تر تورو زلفو پوري خوار دي
که اوډنئي مقیش دوزي دي که سالو دي دا همه واړه تر سپین پروني جار دي
تر صورت ئي د سیرت خوبي افضل ده تر ظاهر ئي د باطن خواره بسیار دي
کل روزګار ئي سر تر پایه پرده پوښ دي نة ګریوان تر نامه څیري په بازار دي

له حیا په پورته غټ کتلي نه شي نه آموخته په ښکنځلو په پایزار دي
ما خوشحال له ډیرو لرِ دي څه ویلي
له دي حال ګوري مه ګوي ویل بي شمار دي

چه وربل دِ په سپین مخ آلفته کیږي په نماښام کښي رڼا ورځ نهفته کیږي
که د مخ ښایست ئي دا دي چه لیده شي لا به ما غند پرِ ډیر آشفته کیږي
په ښو ئي اوښي نه دي آویزاندي همګي در و ګوهر دي سفته کیږي
نوي رنګ نوي نکهت نوي ئي پاڼي په دا باغ کښي عجب ګل شګفته کیږي
په ژړا مي به پوهیږي خوب و نه کا هغه کس چه په ګیسو ئي خفته کیږي
د خوشحال د خولي خبري خوشي نه دي
دا همه له یوه حاله ګفته کیږي

بیهوده ئي د دستار په شملي خیال دي ، چه په وخت ئي د مردئ حال بل حال دي
مرتبي د هر چا نه دي سره سمي د خره بار د فیل په شا باند مثقال دي
څوک جرعه د میو نه لري په جام کښي د چا جام په صافو میو مالا مال دي
دا ګلشن دِ همیشه تر و تازه وي چه ئي خیز د ښو ګلونو په هر کال دي
په خوره میوه د وني قدر شناخت دي د سړي قدر د نیکو په خصال دي
په نا حق به ګرم مانه له هیچا نه کا د بدانو غلیم واړه خپل افعال دي
که جنت لره څوک بیائي یا دوزخ ته بله نه وینم په مینځ کښي خپل اعمال دي
کشکي پاتو شي تر تلو دا و تا ته په دنیا دِ د هر چا سره جنجال دي
چه د پلار او د نیکه هنر ئي نه وي هغه زوي پیدا شوي غیر سال دي
ته چه لافِ د مردانو د میدان کړې په میدان دِ کوم راوري استقلال دي
د شهباز تر ځایه کله ماشي رسي که راوري له ځایه پر و بال دي
که همه خلق ئي سر شي په غندنَ
بیچارهِ خوشحال په خپل هنر خوشحال دي

لکه زه په یار مَین یم بل به نه وي مَین هسي — لکه زه پسي غمجن یم بل به نه وي غمجن هسيّ
هم مي وُ وژني پخپله بیا په ما باند ژړا کا — څه ښه یار دي ښه ئي مینه کشتن هسي شیون هسي
مخ ئي درست سره ګلذار دي رنګارنګ لري ګلونه — تفرج د بهار وُ کړه په کښي نشته ګلشن هسي
زړه داغدار غرقه په وینو لاله ګل وته وُګوره — هیڅ شهید نه دي راوړي له ازلَ کفن هسي
تورو زلفو ته ئي ګوره ښایسته دواړه رخساره — د جهان په باغ کښي نشته سنبل هسي سمن هسي
که د ګل پاڼي خط کړي لا به هم باندِ څرخېږي — دا نازک بدن چه ستا دي د چا نه دي بدن هسي
لکه زه ئي نندارِه کړم ورځو شپه پخپله خونه — خوار مجنون نه وه لیدلي پدرست عمر دیدن هسي
که ئي رسم یا ئي دود دي هم وفا د هندوکئي — چه له یاره سره کښیني څوک به وُکا سوختن هسي
چه څوک تاپ د ر پسي وُکا سره تلک وهي لاسونه — دا ژوندون دي مردن نه دي که دِ وُشي مردن هسي
دا ارم آرام مي بیاموند ستا پغولي کښي خوشحال — خوښ له بختً له قسمتً چه ئي را کړ وطن هسي

چه خوشحال ختکً ئي وائي په پښتو ژبي خبري
په فارسي ژبه به نه وي ګه پوهیږي سخن هسي

دا سړي څو په ادب سره سړي دي — چه آداب ورځخه نه وي نور خاروي دي
چه وفا ورځخه نه وي سړي نشته — تر هغه نه په وفا کښي بهتر سپي دي
عادلان مي د جنت د ګلذار ګل دي — ستم ګر مي د دوزخ د اور لړګي دي
سپي چه چا سره آشنا شي څه پرِوُ خوري — و هغه ته ئي طم نه وي چه ژوندي دي
د انصاف د ځښتن غم د دوزخ نشته — د انصاف مي تر طاعتً لا پرځي دي
په ښه خوي د سړي قدر قیمت کیږي — په خصلت سړي یا دیو دي یا پیري دئي
چه ئي علم هنر نه وي ځني تښته — بي هنر سړي ګه وُ ګوري لا شي دي
چه په پند په نصیحت دِ بندي نه شه — نور زنځیر ور لړه بویه که مزري دي
په روا په نا روا د ملحد څه دي — په مذهب د ملحدانو کوکري وري دي
د راحت په وخت د یار تجربه نه شي — چه محنت د ر سره واخلي یار دِ دي دي

هر زاهد چه زهد واخلي بي مرشدً
د خوشحال ختک په پوهه تش پلي دي

هغه څه دي روغ صورت دي — چه بهتر تر سلطنت دي
د دنیا دولت که ښه دي — تر دولت نه ښه عزت دي
چه ډیر ښه دي تر توفیره — یو عفت بل صداقت دي
چه سړي له غمّ خلاص کا — هغه څه دي قناعت دي
په طاعت که ته لوئي کړي — حبطه هغه طاعت دي
چه فایده لري بي شمارَ — هغه څه دي مصلحت دي
په منت چه ور کول کا — هغه کله سخاوت دي
چه دوزخ دي په دنیا کښي — د نادان سړي صحبت دي

خپل نیت ښه لره خوشحالَ
که څه ښه دي خو ښه نیت دي

نن ځما په خیلخانه کښي څونبره غم دي، چه حیران ځموږ په کار پوري عالم دي
ناخلف زوي آغزي کړي خپل پلار ته — د خلف زوي ګلذار له عمرّ ښم دي
نا قابل فرزند دوزخ غند پیدا شي — ښه قابل د پلار په خونه کښي اِرم دي
ښه فرزند د پلار په خونه کښي ځراغ شي — بد فرزند د پلار په خونه کښي تورتم دي
په لوي والي کښي ئي خوي د دام ودد شي — اوس د زوي خوبي هونبره ده چه کم دي
نا لایق زوي ننګ نام د بابا ګم کا — که ولاړ ئي د نیکئي د نام علم دي
د قابل سره به غم د نام و ننګ وي — نا قابل په غم نیولي د شکم دي

چه دا هسي ړنګه سپي ځني پیدا شول
لا په شک یم چه خوشحال کله آدم دي.

ولاړم قلندر شوم دا مي حال دا مي احوال دي — مات کچکول په لاس کښي بل مي ګند د دنیا مال دي
وران وکړي ګوره په څو قلب کارونه کاندِ — واړه اقبال غواړي ولي لا بقا اقبال دي
زه تر هغه جارشم چه ئي دا کړه ترخان جاره — جار تر ما هغه شه چه جارشوي تر مثقال دي
هیڅ په مینځ کښي نشته په خالي دوکان غوغا ده — ما چه فهم وکړ واړه وهم خواب و خیال دي

یو په کورکښي ښځ کا بل په کورکښي نه کا فکر   درِ ورځِ ماتم دي څلورم ورځ بل حال دي
ما خولاس په غوږ کړل څني تښتم که خلاصیږم   خلق پرِ خواریږي خدایه دا یو څه جنجال دي
نورعالم به څه کړي د خپل ځان په خلاصي مت کړه
لاندِ ئي خوشحالَ دا یو څه د بلا جال دي

د ځوانئي په خوبئي کښي څه شك دي   د پیرئي عمر درست د عیب ډك دي
پرهارونه مي په زړه تازه تازه شي   پاشیده په هر پرهار باند نمك دي
که ښادي در باند رایشي خوش مه شه   په ښادیُ پوري هر کله غم لك دي
هیڅ فریاد د چا د ظلم جور مه کړه   په هر چا باند چه شنډي کا فلك دي
غم ئي بي حکمتَ نه دي پیدا کړي   د نامرد د مرد په مخ کښي غم محك دي
څو چه ډیر ډیر لذتونه ډیر غمونه   ښه هغه چه بس ئي کیډي ته کندك دي
توره چا و ته ترم چه زه ملنګ نشوم   ښه خو دا چه مي په غاړه یو کوتك دي
تفحص که ځوك د خوږو زړونو کانډ
د خپل قام له لاسه خوږ خوشحال ختك دي

دنیا بده بلا ده چه و ما و ته ښکاریږي . په دي لږ خپله پلارَ ځکه زوي ویزاریږي
چه ځوك وبله خپل دي ولي فهم فکر نه کا   چه مرګ شته په دنیا کښي سره ولي نه جاریږي
په هر لوري چه ګورم و عالم وته حیران شم   دنیا د هیڅا نه ده په دنیا سره خواریږي
و بل ته توره واخلي په دا کار کښي ډیر حیران شي   چه خپل دِ په بدي شي ستا و جنګ ته طیاریږي
دنیا د مست هاتي په خوي خصلت ده که ئي ګوري   چه یو مهاوت وُ مړ بل ئي شا ته طیاریږي
چه بخت را سره مل وه مار به ما ته خرمښکه شه   چه بخت و ما ته شا کړه خرمښکه را ته ماریږي
عالم عالم غمونه چه خوشحالویني له خپلو
غم خور ئي که پیدا شي خپل پردي نه په شماریږي

چه خون په غاړه کیږي له دي کاره څخو غم دي   یاران د ما په کورکښي زه په کورکښي یم ستم دي
چه هونبره ښه مخونه په دا خاورو کښي په ګوردي   چه دیو لږه دروم ګور و ما وته اِرم دي
پیري راغلهٔ زبون شوم که څه نورعلامت وُ شه   چه زه کړم هغه نه شي هغه ملك هغه عالم دي

کهٔ ښه وایم وچا ته هم ئي بد نسي په زړه کښي   یا بخت دي د مغلو یا د ما عقل څهٔ کم دي
نه بخت دي د مغلو نه زړه هیڅ په عقل کم یم   دا کل واړه پیري ده چه مي کار برهم درهم دي
مغلو ته چه ګورم هغه هسي مغل نشته   د تورو وار ئي تیر شه اوس ور پاتو یو قلم دي
پښتون په زرو نسي په فریب په تیتالونو   په ما ئي اثر نه شي لا په ما د خدای کرم دي
نه مچ یم نه قارګه یم چه په ګړو مړو ګرزم   یا بازیم یا شاهین یم پخپل ښکار مي زړه خورم دي
که ما غند نور هم وي پدا کار به ډیر خوشحال وم   چه ما غند څوک نشته څکه پروت را باندی غم دي

ایمل دریا خان دواړه په ښه رنګ تیر شول په ننګ کښي
د دواړو په فراق کښي د ما تل آه و ماتم دي

هر چرته چه کښیني هغه ځای د کلو باغ شي   چه دروي په چمن کښي د لاله سینه داغ داغ شي
چه باد ئي توري زلفي په سپین مخ کاندي پریشاني   د مشکو د عنبرو بوي پریشان په هر دماغ شي
په زلفو کښي دِ ورک د ما زړګي شه مخ څرګند کړه   د ورک کالي غښتنه تل په توره شپه په څراغ شي
چه ما مزه موندلي ستا د شونډو دروغ ژن یم   که دا مزه به هم مونده د میو په ایاغ شي
پیغام د ما اي باده تر شیدا بلبل ور وړه   لا شك چه په دا باغ کښي د کل بوي د کل سراغ شي

یو دم د خوار خوشحال سره ته هم فراغت کښینه
چه زړه ئي له دیو ډیرو اندیښنو څخه فراغ شي

چه د خلق نیك خواهي لري په زړه کښي   مبارك شه بادشاهي لري په زړه کښي
که ئي غوږ د دانشمند په نصیحت دي   څهٔ عجبه آګاهي لري په زړه کښي
د مردانو په معراج به ور تلي نه شي   که د سعي کوتاهي لري په زړه کښي
مختورن د دواړو کونو نه دي څهٔ دي   د هر چا سره سیاهي لري په زړه کښي
نیك کردار سره به فکر وي د امر   بد کردار به مناهي لري په زړه کښي
نیك بختان به اندیښنه کاند د نیکو   بد بختان به ګمراهي لري په زړه کښي
د ناصح په نصیحت به اصلاح نه شي   هر سړي چه تباهي لري په زړه کښي

په هغه هنر کښي تیبګ اوسه خوشحاله
هر هنر چه سپاهي لري په زړه کښي

رحمت په اکوړي شه چه نیوه ئې ځاي د سراي   چه ښه فهم مې ؤکړ که باورکړي ځاي دي ځاي
تورغرئې د هوډي دي تر تیراه پورې سم تللي   نیلاب لنډي دواړه عجب سر یښي په پاي
پرِ سازه لویه لار د هندوستان د خراسان ده   کذرئې د اټك دي چه تر ترس کا شاه کداي
هر فیض د جهان چه څه یادیږي را دروِمي   که ملك ئې باراني دي څه بهار لري هاي هاي
که سوات که اشنغر که پېښور دي د ملکونو   رجوع لري و ده ته فیض ور دروِمي د هر ځاي
په هر لورئې ښکار شته د شاهین د باز د هر څه   واه واه کاله پاني چه څه ښکار دي دلرباي
ځوانان ئې چاق تندرست چست چالاك پهرکارکښې   خوش چشم سپین و سره بلند بالا دي په نماي
که زوي که نمسي که خیلخانه ده که اولس دي   چه څوك پکښې میشته دي په امان اوسه د خداي

آسمان څني جدا کړ لاس د چا رسي آسمان ته
خوشحال له سرایه نه دي جدا شوي پخپل راي

قصیده د بهار

بیا له کومه را پیدا شه دا بهار   چه په هر لورِ ئې ملك کړیو ګلذار
ارغوان دي ضمیران سوسن ریحان دي   یاسمین دي نسترن نرګس ګلنار
د بهار ګلونه ډیر دي په هر رنګ شته   ولي سره لاله دي لا په کښې اوځار
جونه موتي موتي ګل ږدي په ګریوان کښې   د ځوانانو ګلدستي دي په دستار
مغني په چغانه لنډئې کښیږده   په نغمو په پردو غواړه هر هر تار
ساقي راشه ډکي ډکي پیالي را کړه   چه د میو په مستي کښې شم سرشار
پښتنو زلمیو بیا لاسونه سره کړه   لکه باز منګلي سري کا په خپل ښکار
سپینِ تورئې ګلګوني کړِ په وینو   په اهار کښې شګفته شه لاله زار
ایمل خان دریا خان دواړه مرګ ئې مه وه   هیڅ تقصیر دواړو ؤ نه کړ وار په وار
د خیبر دره ئې سره کړله په وینو   په کړپه ئې هم روان کړ دندوکار
تر کړپه تر باجوړه سمه غرونه   په لرزه په زلزله شول په بار بار
په هغه لوري چه کیږي پنځم کال دي   هره ورځ د سپینو تورو خرپهار

چه په دا لوري زه راغلم هبشه شوم   زه مردار یم که دا خلق دي مردار
په لښکر لښکر نارِ شوم ور ته ستړي   دا کانړه را ته نه مرګ وائي نه جار
چه احوال د یوسف‌زیو را معلوم شه   لواغر و ما ته ښه وه نه دمغار
د خټکو سپي بهتر تر یوسف‌زیو   که خټك دي هم په خوي ترسپي بي کار
درست پښتون تر قندهاره تر اټکه   سره یو د ننګ په کار پټو آشکار
ګوره څو جنګونه ؤ شول په هر لوري   ولي هیڅ د یوسف‌زیو نه شته عار
اول جنګ د لوريَ شا د تهترو وه   چه څلویښت زره مغل شول تار په تار
خویندِ لونه ئي په بند د پښتنو شوِ   آس اوښان هاتیان الچه قطار قطار
دویم جنګ د میرحسین په دوابه کښي   چه ئي ؤ تکیده سر لکه د مار
بیا له پس د نوښهر د کوټ جنګ وه   چه مي ؤ کیښ تر مغلو خپل خمار
بیا له پس جسونت سنګ شجاعت خان وؤ   چه ایمل ئي په ګنداب ؤ یوست دمار
شپږم جنګ مکرم خان شمشیرخان دوارهٔ*   چه ایمل کړل په خاپش کښي تار په تار
چه څما په یاد دي لوي جنګونه دا دي   دٔ هلکو په هر لوري نه شته شمار
همیشه فتح و نصرت دي لا تر اوسه   پس له دا ده بیا تکیه په کردګار
اورنګزیب را ته یو کال ؤشه چه پروت دي   په صورت حیران پریشان په زړه افکار
کال په کال امراګان دي چه پریوزي   چه طوفان ئي شوِ لښکرِ کوم ئي شمار
خزاني د هندوستان دي را خوري شوي   سره مهران دي ننوزي په کوهسار
دا د هیچا په اتلس فکره نه وؤ   چه به دا کارونه شي په دي دیار
د بادشاه د بد نیتي کمي نه شته   په بد نیت ئي آزار واخست د خپل پلار
څکه اوس د چا باور ور باند نه شي   هم بد نیت دي هم بد قول هم مکار
بله هیڅ لیدله نه شي په دا مینځ کښي   یا مغل د مینځه ورك یا پښتون خوار
که ګردش د آسمان دا دي چه لیده شي   که د خداي په دا رضا وي راغي وار
آسمان هرکله پیریك رنګ نه کا   ګاه په ګاه د ګل خار وزي ګاه د خار
په دا هسي وقت چه وقت د نام و ننګ دي   دا بي ننګ پښتانه کا څه رفتار

پښتانه چه نور څه فکر کا نابود دي — بې له توري خلاصي نه شته په بل کار
تر مغلو پښتانه په توره ښه دي — که په پوهه پښتانه وي څه هوښیار
السونه چه خپل سند وبله و کا — بادشاهان ور ته سجود کاند اختیار
که نفاق که اتفاق که جهل پوهه — د هر چا د خدای په لاس ده هره چار
افریدي مهمند شنواري گوره څه کا — د مغلو لښکر پروت په ننگرهار
زه تنها په کښې په غم د نام و ننگ یم — یوسفزي فراغت په کښت و کار
اوس چه هسې بې ننگي بې ناموسي کا — عاقبت به ور ښکاره شي خپله چار
مرگ ښتا په پوهه ښه تر دا ژوندون دي — د عزت سره چه نه وي زیست روزگار
همیشه به په جهان کښې ژوندي نه وي — د خوشحال ختك به پاتو شي یاد کار

د دریمې خور اول کال د غفو وه
ما چه و وي په برمول کښې دا اشعار

دُر و مرجان

دَ عبدالحمید مُهمند ماشوخیل

دُرِ و مرجان

آلهي د محبت سوز و ګداز را — په دا اورکښې د سهي سمندر ساز را
تن پرور بلبل دِ عيش کاندِ په ګلو — پروانه لره په اور ځما ګداز را
که مي نازکا يار په ويارد وروِ سترګو — دا د عشق په ميخانه کښې د مجاز را
چه نظر له ناتوانئي و چا ته نه کا — د هغو بيمارو سترګو ناز و نياز را
چه مي نه وي سرکوزي چا ته بي ښکليو — له دولتَ د عشق هسي کبر و ناز را
اضطراب مي د حرص وُکړه له زړه لري، — قناعت قوي لنګر د دِ جهاز را
که مي نه فاشوي سر زيد و عمرو ته — ځپل زانو لك نرګس محرمي راز را
ځو به ګورم د قيامت و ورځو ښپو ته — دا انجام په دم قدم کښ د آغاز را
د حَميد محمود زائيشه په مينه
کمېني لره کمال ځما اياز را .

اي مدام د نس په زيرمه مبتلا — ځان ته ولي وېښوي اودي بلا
دانايان د دښمنانُ صلاح نه کا ، — ته پخه کوي د نس شيطان صلا
له دي خپلي سپني رېري وُ ښرميرِه — ولي نه شي په روښانه ورځي غلا
د خپل دم و چليدو ته نظر وُ کړه — هر نفس د تلو آواز کا چل چلا
څه بلا لره دنيا شوه در ته تولو — چه مچي کښينه ډك کا شي جلا
وخپل خداي ته له سريو سري ښه ئي — نه و خلقو ته خود رو شيخو ملا
د زخمي چه زوه دروي آرام مومي — ته په تلـه د دِ دنيا کړي واويلا
زر به لاس د ناميدي په تشي کيږدی — چه په اهل د دنيا تري ځوك ملا

پرورش د نس په کار نه دي حمیده
له دښمنه سره څوك نه كا تولا

نه څما ده نه د ستا ده دا دنیا پاتو شوني له هر چا ده دا دنیا
د یوه په غیږ کښ پروته بل ته خاندي څه لـولـئي بي حـیـا ده دا دنیا
كه هرڅو ښكلي زیبا لیده شي څه شو په بـاطـن تـوره بـلا ده دا دنیا
چه مروت د آشنائي په كښي نشته كه آشنا ده نا آشنا ده دا دنیا
زر په زر خو به ئي ولي له كمره له هر چا چه خوا پخوا ده دا دنیا
تل په ځان پوري د خپلو طالبانو مسخري كا په خندا ده دا دنیا
په یوه ځاي ئي تیكاو هیچرته نشته لـك سیوري هغه دا ده دا دنیا
په رنړا ئي د چا كار نه پوره كیږي د آسمان برقو بریښنا ده دا دنیا
بیهوده ئي زړه تري په ډنگ ډنگ پوري د كـمړئي مـیلمـته ورا ده دا دنیا
له سودا ئي سودمند شوي هیڅوك نه دي جو فروش گـنـدم نما ده دا دنیا
مناسب نه دي ورتله د لويو خلقو د هلكو تماشا ده دا دنیا

چه حمید په كښي خندي كا ریشخندي كا
ځاي د غم و د ژړا ده دا دنـیـا

عاشقي ده واقعي سود و سودا څكه سر وركوي شمع په خندا
لاسُ پښي كړه زركي سره په قهقه خاندي چه ئي بیاموندده ښادي گوښه تنها
چه بازه شي سر و مال په عاشقي كښي دا سودا ده یوه سود لره پیدا
كه صورت د عاشق خوار لیده شي څه شو بادشاهي كا په خرقه كښ دا گدا
چرته سیر د صحرا چرته د كلیو چرته روغو جوړ سري چرته شیدا
زلیخا د بادشاهي منصب پریښو چه حاصله ئي په عشق شوه ابتدا
دا چه ژاړي عاشقان ظاهر له عشقه د ښادي ستر پوښي كاندي په دا
چه ادا كا ور ئه یاربي ویاره وصل ځان ته وائي عاشقان هاله ادا

چه په عشق دِ ابتدا وُ کړه حمیده
څکه شوه هسي په ما لږ ستا ادا

هسي خپل کړ دلبرانو دل څما — نه وُه هیچري ګویا کي خپل څما
آهو چشم وړي زړه که هر څو بولم — نه مني لك آهو بلل څما
که مي یار په یوه زخم ږدي بل زخم — په کار نه دي د طبیب تبل څما
چه مي خیال شته د ګلرخو په لیمو کښِ — ګل ته نه دي مناسب کتل څما
که مي سر بي سر درده شي د ښکلیو — مناسب دي هلته سر وهل څما
مرم که ږومه څما سر د ترکو در دي — نه شته ځاي بي دغه دره بل څما
که خوبان د درست جهان نسم پخواکښ — نه شي نشي د ستا سود په بل څما
نه به وي د هیڅ عاشق معشوق په میان کښ — دا ستم کول د ستا زغمل څما
که په نور وکړي ظلم د مغل دي — خداي غمونه کړه د ستا مغل څما

وُسه ډیر څله خپلْ ځان پروانهِ شمعِ
هیڅ ئي زده نه کړه حمیده سول څما

بد دِ نه مني کاته حبیب څما — دا دي قوتْ لایموت نصیب څما
هیڅ ادب مي بي ادب سترګي نه آخلي — که هر څو وچولي غوټه کا ادیب څما
که آخر شه د یار حسن غم ئي نه شته — د غریب په تکړه صبر کا غریب څما
د نو خطو درشتي څما آشتي ده — په آغزن بوټي آرام کا عندلیب څما
چه دِ وُ آرېه ما ته په ښکنځلو — څه په بد کښي نیکخواهي کاندِ رقیب څما
لا مي زیات آه و فریاد د غم لښکر کا — ځیږوي فوج په سر څما نقیب څما

چه لږ داد و ما حمید را که په عشق کښ
نه شته هسي یار آشنا قریب څما

تماشا د ګلشن څه کوم بي تا — یاسمین و سمن څه کوم بي تا
ته څما سترګي لیمه ئي چه ته نه ئي — نندارهْ د چمن څه کوم بي تا
چه هر لال شي سرِ سکروټي پکښي سوځم — مه ئي وینم یمن څه کوم بي تا

هیڅوك نه غواړي فردوس بي له دیداره کور و کلي وطن څه کوم بي تا
چه د ستا چاهِ زنخ ته نه رسیږي د کم عمر رسن څه کوم بي تا
ستا د در په دوهه پروت قلندر بنه یم بادشاهي د ختن څه کوم بي تا
چه مدام لکه کباب په اور نیوه شم زندهګي د کشتن څه کوم بي تا
ته چه څي له ما حمیده را ته وایه
زه په سترګو لیچن څه کوم بي تا

مه شه ډیر هوا پرست لکه حباب له دغي هوا به شي خانه خراب
مرتبه د سړي مه غواړه له خدایه چه مشغول ئي لکه ستور په خورد و خواب
ستور په یویه کښي په کیل برابر دروميي ولي ته له شرعي دروميي نا صواب
هر نفس چه بي د خداي له یادو نغري ګنړه نغري سري سکروټي په حساب
چه دِ بي خوراكه خوبه بل څه نه زده نور په کومه چار بهتر ئي تر دواب
د دوزخ په عذاب ولي په عذاب شوي چه د نس په زیرمه ګرزي په عذاب
په هوا پسي د نفس سر هوا مه څه خان به ورك کړي لکه برق پدا شتاب
که دلي تیرو بیر نه شي په حساب کښ هوري نه شته تیر و بیر حساب کتاب
په سبب د رزق غمګین مه شه حمیده
ولي شته هغه مسبب الاسباب

که مي نه شي پرده پوښ فضل د رب و هر چا وته ښکاره دي څما ډب
د بنده د عمل خونه سره لنبه شي چه پر و لګوي اور د خداي غضب
که د رب مهرباني رهبره نه شي بیا به نه مومي څوك ورکه د مطلب
چه څښتن ئي د خپل فضل په میز سپك کا ښي ښي زیري به شي سپکي لکه درب
لکه بي لاسه لستوني څه کړي نه شي هسي بي فضل بنده دي مضطرب
څه غلط دي پوهیدلي دروهیدلي دا غره تللي په اصل په نسب
هر سړي په خپل ښائیست بانده زیبا دي نه د مور په زیبائي نه د اَب
هر نفس د خداي په یادو اولي تردي بي اوبو زنده ګي کله شي د کب

چه څښتن ګڼړي حاضر بد کړي حمیده
نشته تا غندني بي شرم بي أدب

نـازولي څـوي نـه آخـلي ادب — او د سیوري نخل نه نیسي رطب
وُ نیو مه شه هغه څوي په خوا پوري — چه ئي نه نیولي درس وي نه مکتب
په غوجل کښ باري خر قچره ښه ده — نه په خونه کښ جاهل بلا طلب
چه پیدا شي یو ناکس په قبیله کښ — وراند ورستو حبطه کاند نسب
د پسر په نیکو بدو پلار یادیږي — دا خبر دي په جهان کښي مجرب
په سواره باند ئي ګوته شي ایبوده — چه ئي آس برابر نه څي په جلب
په زره مهر په خوله قهر څوي ته بویه — څه ښه وائي چرته دب هلته ادب
یوسف هاله شه لایق د بادشاهئ — چه ئي وُ خوره څپیره د غضب

هر ناکس لکه مکس باند بونیږي
چه حمید نرم کوئي که شکر لب

که تر سره مي کا خداي د صبر سوب — د ناکس له آشنائي توبه توب
ډیر مي خره خسي کول وُ کړه پوه نه شوم — ریش کنده جامه پاره له لیونتوب
بیهوده هندو رنځ کښ خداي تري نا رازه — په ناکس پسي عبث وتم له خوب
لکه طفل در ګوهر له کانړي ولي — هسي ما بي ځایه زره بایلو په لوب
چه د ستا په اوښیو نه ژاړي سري ویني — هي توبه شه د هغه یار له آشوب
که مي وُ څښي بي وفا د حیا بحر — لا ئي نه ده له شوخئ سینه خروب
هر نا اهل ته سرکوزي کړم تا ولي — اي څما بي صبر زړه څما سرکوب
دا کاني کیږي په ما د ستا له فعله — چه مي سترکي نه وچیږي له ذهوب

چه پلاس د د نا کس ور کړه حمید
توره ګیره د کړه سپکه تر جاروب

هسي تللي یم په فکر د جانان ډوب — لکه کانړي په تلي کښ د عمان ډوب
څکه ما څخه آرامو قرار ورک شه — چه مي اوښو که د صبر خانومان ډوب

نا خبر نه يې له حالَ شفق بولي   که د وینو په ژړلو کړم آسمان ډوب
په لباس د ښکلیو مه غلیږه دي تکو   خلقات کا په دا سحر په دا شان ډوب
هسي وژله کا د مهر په پرده کښي   لکَ خضر په چشمه شي د حیوان ډوب
هسي ما لري مهجور په وصالت کښي   لکَ تږي د یوه ګوټ په ارمان ډوب
د حیا د بحر در يې منده نه شي   که د صبر جهازونه کړم. چندان ډوب
هغه قبر لره یووړه بله شمعه   چه توبري يې په زړه یووړ د هجران ډوب

د حمید د کاغذي فکر کښتي
د حیرت په عظیم بحر کا جهان ډوب

زړه مي وُووت د دیدن د جنګ په هپَ   وَلي غشي د تظر په ښي په چپَ
په هوس را څخه زړه هسي لرزان شه   لکَ طفل کا د مور په غیږ کښي ترپَ
تسلي په لاس نیوه د مهجور نه شي   کله سود د سینه سَوي شي په لپَ
په ښادي څما د وصل کواکبو   په وهلو ګوټي وُ یستي له دپَ
هر زمان مي د آشنا د خال په خیال کښي   ما ته وله شي په سر د مشکو ګپَ
رستمان د صبر زهد لکَ وورکي   ننه وُوزي په خلوت د عشق له خرپَ
د وصال په چشمه مرمَ وچي شونډي   د هجران د اندیښني له تابُ تپَ

چه حمید غند سرکښ يې کړ سرکوزي
طمطراق د عاشقۍ نه دي بي خرپَ

چه نظر کړم د خوبانو و رخسارتَ   آئینه غندِ حیران ښم و دي کار تَ
صافه نه ده آئینه د هغو زړونو   چه حیران نه شي د ښکلیو و دیدارتَ
د اوریځ له اوبو ډیر کانړي ووریږي   څه امید دي د خوبانُ و ریبار تَ
که له غمه يې زړه دوه نیمه وُ چوي   نه نیسي د مهر سپر و ذوالفقار تَ
چه يې نه ویني وفا په رنګو بوي کښي   زړکه څکه مینه نه کا و ګلذار تَ
څو يې صبر زهد ګواښ ته وړاند نشي   لا يې حب د ښکلیو څان ګواښي ګذارتَ

پە لباس د ښکلیو مَه غلیږه حمیدە
بیش بها دستونە نە وُزي بازارتَ

آشنائي دە د دنیا د آشنا پوچَ د لالـه لە گلَ غواړي بـقا پوچَ
لكَ څوك چە کتوري غواړي لە زانړي هسي شان شوە د وفا تمنا پوچَ
چە سودمن پە آشنائي د آشنا نشي وُکړه مشە دا بي سودە سودا پوچَ
چە حاجت غواړي لە دَورە د دِ دهر وهي مندە د بریښنا پە رنړا پوچَ
پە کردە بە دي مردي صبا لیدە شي مە کړه نن پە لاف شافُ غوغا پوچَ
بي کردارە گفتار محض سر درد دي مندە نە شي د مَراد مغز پدا پوچَ
چە نا اهل تە يُ څوك لە خولي وُ باسي در دانە کاندِ د خپلِ وینا پوچَ
چە دا خپل څیري گریوان پرِنە تولیږي د شبنم پە ژړا گل کا خندا پوچَ

چە پتنگ پە اورکښي غږ نە کا حمیدە
عندلیب کـانـدِ پە گلو غـوغـا پوچَ

تل د اوښیو پە اوبو کښي لیدُ شي د گوهر مخ پە دغو اوبو کښي لرە تر مخ
د یوسف د مخ دیوە شوە هالە بلە چە يُ سور کړ پە څپیړو برادر مخ
لە میوي د سیوري ونە شا پښا وي څو يُ نە کړي برابر د دي د نمر مخ
و هر چا تە بە سرخرویه. لكَ گل شي کە پە وینو سرە وُ وینځي د څکر مخ
سیاه رويُ بە دِ د طمع لري نە شي . څو پري نە وینځي د صبر پە کوهر مخ
صابران د احتیاج سرە لە شرمە آئـیـنـي تە نـیـوي نـە شي برابر مخ
چە تنړاکي د محنت لري پە لاس کښي هغە نـە گوري پە څلە د کوهر مخ
عاقلانو لرە عیب هنر نمائي دە آئـینـە تـورە تـبـي کـا د جوهر مخ
کە د ښکلیو پە دربار مخ رونړي غواړي آئینە غوندِ کا تور پە خاکستر مخ

د حمید بل هوسي نا کسي نە دە
لتەوي پە خپلە ورکە پسي هر مخ

چە بالە شي کر و فر د دنیا هیڅ هیڅ سړي بە کاندِ فخر پە دا هیڅ

د نابودي دنیا بود برق و بریښنا ده   نه شي زیرمه د بریښنا په رڼا هیڅ
د دنیا هوا هوس د خوب لیده دي   چه خوب وړي شي را ویښ نه وي بیا هیڅ
هر سړي درومي تریخ حلق له دي جهانَ   خوږه کړي ئي خوا نه ده د چا هیڅ
که هر څو ئي جنګ جدل وبله وکه   څني یو نه وړه سکندر و دارا هیڅ
چه ئي څوك په تکي پوه دي هغه نکا   په بازار د دِ دنیا سود و سودا هیڅ
چه ساتلي نه شي پت د آشنائي   آشنائي ده د دنیا د آشنا هیڅ
دا نیمګړي هیڅا نه ده پوره کړي   تر بریښنا ئي زیاته نه ده بقا هیڅ

چه پروا په دنیا نه لري حمیده
هغه نه لري د خلقو پروا هیڅ

د فردوس په ښادو ؤ شه رهنما ګډ   چه ئي زه کړم په نسیمه د آشنا ګډ
د رقیب کینه مي خوا کهنوي هسي   لكَ مچ په آبو خور کیښي شي د چا ګډ
پري کولو ته سرتیت د ګلو ښاخ کا   چه د باغ په کناره شي دلربا ګډ
د تور خط لیکئي ئي ګډه په سپین مخ شوه   تور و سپین څما د سترګو شوه پدا ګډ
په ګډون مي ئي د زړه تسلي نه شي   څو مي یار را سره نه شي خوا په خوا ګډ
د وفا د طعام خوند به په ځاي نه وي   که نمك ور سره نه وي د جفا ګډ
بیلتانه د وصل خیال را څڅه خور که   په رمه باندې لیوه شه د موسي ګډ
محبت لكَ موزي د ماتي ؤ وزي   هسي دي د زړه په خونه شه څما ګډ

زنګوي هسي ماران د حمید فکر
لكَ باد کا په نڅا د ګلو ښاخ ګډ

له غمزي د تورو سترګو نظر ژغورَ   په ؤ ښکلیو تورو مه خیژه سر ژغورَ
عشق ته هیڅ نه دي پرهیز د سلوکالو   له هزار منه پنبي یو شرر ژغورَ
عاشقي ستا د بشر د خطر لار ده   د خطر په لار مه څه بشر ژغورَ
مینې ډیر ساده صوفیان دي رندان کړي   غرونه غروڼه یخ له مخَ د نمر ژغورَ
بل هنر به دِ پکار نه شي په عشق کښې   باري یو د بي خودۍ هنر ژغورَ

لكَ ځان ژغورې برمنډ له تيرو تورو — هسي خپسر له ښيرو د سحر ژغورَ
آهِ سرد نوي مين لره ښه نه دي — له تازه پرهاره باد د قوصر ژغورَ
عاشقي له خود رائي سره نه شي — په دا لارِ دم قدم د رهبر ژغورَ
كه په رو د يار د مخ و رغلي بادَ
د حميد د مراد د وركي خبر ژغورَ

چه په تورو ستركو تور رانجه شي پورِ — له يوي تورِ بلا پاخي سل نورِ
تورِ ستركي تورِ زلفي تورِ ورځي — دا همه تورِ بلا دي آدم خورِ
له يوي بلا ځوك ځان ساتلي نه شي — ما ته تولي سل بلا شوي پيبله پورِ
نه د مړيو په حساب نه د ژوندو يم — عاشقي تر دا ميانَ كرم پورِ وورِ
اوس ځما له نامُ ننګ سره څه دي — ولي وير كا ويره ژلي په سر تورِ
كه ته ځان ته افلاطون وائي ناصحه — ما ته عين ليوني د مجنون وروَرِ
اوس به كفر ته د تورو زلفو و ونم — كنزه مه كوه د پند خبري نورِ
عشق د ډيرو زور زوم كړي دي نادانه — څه غره ئي د ريا زهد په زورِ
كوم يو بت دِ ناست په زړه كښ دي حميده
چه مدام په پرستش ور ته نسكورِ

چه په مخ به د هرښكلي شه زير زير — خود به تله په محبت پيري د پير
چه له هري وني خوري يوه شي زهر — مجرب دي په جهان كښ دا نظير
مسخره كا محبت په يوه دم كښي — صد ساله پيري د پير ميري د مير
عشق ئي ځيري كريوان و باسي بازار ته — كه په سل خلوت ناست وي كوښه گير
عاشقي په مصلحت كولي نه شي — اورته ځان آچاوه نه شي په تدبير
زه رسا په زړه ادا كرم مراوو ستركو — كه په وله لكي د سستي لندي تير
يا د ښكليو د پايلو شرنګهار دي — يا د عشق د ليونيو دي ځنځير
كه كرميږي په آزار بازار د ښكليو — نه آر كيږي په آزار د پير فقير

دم قدم په سینه تیغ د بد دوعا ږدي
د یار هجر کړ حمید و مرګ ته خیر

که دِ سر په عشق کښي لاړ مه شه زهیر — دا نمرږي دَه وظیفه دِ دِ فقیر
ما ته طمعة د وصال ویره د هجر — په یوه غولي کړه پیښ سندر ویر
دل داده لره د عشق په طریقت کښي — لیونتوب دي واقعي پیري دستګیر
ما هم زده چه عاشقي توره بلا ده — ولي تیر له دِ تدبیره کړم تقدیر
چه په عشق کښي بي تدبیره حیران کښیني — نه شته به له دي تدبیره بل تدبیر
په هغو سترګو کښي خیال د ترکو بند شي — انتظار چه ئي حلقي کا د ځنځیر
ډیر ئي ویار ښما د کار کاوه ښه و شو — چه زاهد په زیل د زلفو شه اسیر
خدای دِ وُ ازمیه په ځان ښما ناصحَ — چه منډي په سترګو ګوتي د بصیر

د پرهیز په سترګو بد ښکه حمید شه
چه کاته ئي ساده رویو ته زیر زیر

د دی دهر د چمن د ګلو بوي لاړ — له خوبانو نه ئي هم د مهر دوي لاړ
نه له ما د میني خوي ځي د بتابو — نه د جور د جفا رسم له دوي لاړ
اوس به ځي له ما نه عشق ځرنګ ناصحه — چه مي نوکه ترکوتي موي په موي لاړ
جستُ جوي مي به روح ور کا و وتو ته — که له زړه مي د خوبانو جستُ جوي لاړ
په نو خطو پسي تللي زړه مُند نه شي — هغه ورک شي چه د شپي د اور په سوي لاړ
دغه سیند د اباسینه چه لیده کیږي — له دریابَ مي د اوښو نري جوي لاړ
یار په پند د رقیبانو لاړ پوهیږم — چه له ما ئي هغه عهد هغه دوي لاړ

په هیڅا باندِ ئي نیاو نه شي حمیده
چه د ترکو سترګو مړ کړ خونِ توي لاړ

ربَّ زړه د رقیب نرم په احسان کړ — دا هندو را باندِ ښو مسلمان کړ
ښما صبر تیره توره کړي په عشق کښي — رقیبان ور باندِ غوښ په خپل ګمان کړ
چه خاطر د آهو چشمو تر وحشت خوري — هغه واړه ودانی ښما دامان کړ

اور ښما د دین دنیا په کور کړي پوري   خو مي عذر په عزت د عشق مهمان کړ
چه روښان د یار د مخ په ډیوه نه وي   وران ښما د زندګۍ خان و مان کړ
یا زمان د یار د وصل کړي را نوي   یا مي عمر په هجران کښ یو زمان کړ
چه مدام په نغوته کارکا د اغیارو   له دغه کاره مي یار څخو پښیمان کړ
رقیبان مي د هجران په اور کښي ولي   د خلیل په دود مي ربّ په امان کړ

ګوره نن په زیر زیر مخ د یار حمیده
چه صبا ورپسي لاس مړي ارمان کړ

څان ته ښه وائي ښه نه کړ   هغه څه وائي دا څه کړ
له اوربشو غنم غواړي   ښه په هاله شي که ښه کړ
شپه و ورځ د نس د پاره   حسابونه د ویښته کړ
حق بیني ته لکَ سویه   غمي سترګي څان اوده کړ
که سولي ته خیژاوه شي   که کوهي ته پریواته کړ
هغه غوړ سترګي دِ نشته   چه پري آروي یا لیده کړ
چه پري ناست ئي هغه څانګه   پري کوي خوي د رانده کړ
کري خار په هغه لار کښي   چه په هره ساه پر تله کړ
که درپیښ د دنیا زیان شي   پسي ژاړي لیمه سره کړ
چه ایمان درڅخه درومي   هیڅ پروا ور باندِ نه کړ
د خوړي نمړۍ د پاره   سل قبول تاوده ساړه کړ
نه کا سپي د نس د پاره   هغه چاري چه ئي ته کړ
کله زور کله زاري کړي   ګاه ساړه ګهي غارمه کړ
دا یو څان د نس د پاره   کله سپي کله لیوه کړ
هغه دم په تا رڼا شي   چه د بل په کور تیاره کړ
په دریمه په لیتۍ کښي   په بل ویر وي ته واده کړ
که هرڅو نا پسنده چاروي   ته ئي پسنده پخپل زړه کړ

نه دِ شرم نه حيا شي ـ که هر څو د نه کړو کړه کړِ
کله شيخ کله ملا شي ـ ستړکي توري نمري شنه کړِ
کله دم لاس په سر کيږدي ـ ګاه سپاهي توره چاړه کړِ
ګاه آهونه ګاه ژړا کړي ـ ګاه ويل تاوده ساړه کړِ
دا همه د نس په زيرمه ـ تن پروره اور اوبه کړِ
که بندګي د هغه خداي ده ـ نه ئې دوي کا نه ئې ته کړِ
وايه نور په کوم چاري ـ ځان خوښي په غوايه خره کړِ
که له خدايه دِ بايده دي ـ له خودئي به نا بايده کړِ
په خپل نفس به قدم کيږدي ـ د بل ځاي به په ليمهٔ کړِ
قناعت به پلاس واخلي ـ نس شيطان به سره غله کړِ
دم قدم به د نيکانو ـ پيروي په خوله په زړه کړِ
په بد خوي به د چا څه کړي ـ په خپل ځان به شنډِ وُکړِ

خود په خود لويږي کوهي ته
لـه حميده څـه مانه کـړِ

که له غمَ په امان نه يم هرګز ـ زه د عشق په کار پښيمان نه يم هرګز
که مي مال تالا کاوه ګردن واهه شي ـ لـه مـهـرويو رو ګردان نه يم هرګز
يو خسري برد ميني په سودا کښي ـ آړ پهٔ دين و پـه ايمان نـه يم هرګز
که مي سر پوري کاوه که پريکاوه شي ـ خوښ دلګير په اين و آن نه يم هرګز
که بازمَ سر و مال په دلبرانو ـ ملامتَ پـر دِ جـهـان نـه يم هرګز
ليوني غند د عشق په کار و بارکښي ـ د خپل ځان په سود و زيان نه يم هرګز
هيڅ له صبره را ته مه وايه ناصحه ـ د دغي وينا نـغـوتـان نـه يم هرګز
هسي ښکلي په نظر راغلي نه دي ـ چه ئې مخ وتـه حيـران نه يم هرګز

څه به يار په ما حميد د بوسي داد کا
چه لائق د دي احسان نه يم هرګز

صبوري کاندي سړي آتش نفس — بد خواهان ئي شي د اور په لنبه خس
په بد خويو اور له خپل تن لکي — خپله ځاله کا په ځان تنور ققنس
د مظلوم د آزار غشي رسا لکي — هيڅ ګذار ئي خطا نه درومي عبس
په دنيا مين له ځرمي احمقان دي — لك وړکي و سره اور ته کا هوس
هر سړي چه له آزار بازار غواړي — د دارو په طمع زهر خوري نا کس
چه کمال غواړي په کبر احمقان دي — په پليتو اوبو نه کيږي اودس
نه به نس په ډيرو بدو کا څوك صبر — نه به اور د خس له سولو کا څوك بس
چه دِ يو احسان له زرو پرې زباد نه دي — تو په هسي بې حيا بي شرم نس
د غفلت په خوب اوده خلق ئي نه آوري
که حميد ناري وهي لکه جرس

د دنيا د مال په تللو زهير مه شې — مات آغزي دِ له پښو خيژي دلګير مه شې
نس هوا دي خداي اسير و تا درکړي — ته د خپلو اسيرانو اسير مه شې
ديندارې په خود رائي سره نه شي — په دا کار کښي بي مرشد بي پير مه شې
نه دي نس لره جلب د ورکولو — آموخته در باند غل و کاشير مه شې
چرته سوي د يوه داغ چرته د زرو — د دنيا د ډيرول په تدبير مه شې
وايه سپك ښه دي که دروند د سرپټ ويړي — فقيري در لره ښه ده امير مه شې
خداي درکړي شنوا غوږ دي بينا سترګي — دانسته تر کمر لويږند بصير مه شې
په خندا په ژړا وچولي د خلقو — جفاکش نښانه اوسه او تير مه شې
نور قيدونه واړه سهل دي حميده
خو په غاړه دِ د طمعي ځنځير مه شې

هسي يم په درد و غم کښ د دلبر خوښ — لك اوسي په سره اورکښ سمندر خوښ
لك ګل و خپه ځاي ته شي بوي زيات که — تر ښحلا مي هغه يار دي مرور خوښ
لك خاوري پسر خوښ يم زه په عشق کښ — بادشاهان به هسي نه وي په افسر خوښ
که ئي ځاي په کنجوغه پوري د يار شي — هيڅ مي نه دي په تنه پوري دا سر خوښ

آخر وُ که سر کوزي خما و یار ته   که د ځان نه هرڅودي شمس قمر خوښ
چه د عشق آبو ادب ښیم رقیب ته   د اسلام دردونه نه وي د کافر خوښ
لك تري وري باز په زرکو باند   هسي رنګ مي په ښه مخ لګي نظر خوښ
ترساده حسنَ نوخط بي ویارکوت شي   د لیچنو سترګو سوري دي ترنمر خوښ
زړه مي هسي په نوخطو ښکلیو پریوت   لك پریوزي و دوهي ته قلندر خوښ

خواه ناخواه به صبر خوښ مفلس حمید کا
چه خوبانو دِ وقت کړه سیم و زر خوښ

دا هم هیڅ زندګاني نه ده ګویا کښي   چه بي یاره ژوندي پایم په دنیا کښ
څه بلا سخته دانه یم نه پوهیږم   چه ګسیا نه شوم د هجر په آسیا کښ
توري زلفي سپین رخسار د نګار وینم   د جهان په هر سفید په هر سیا کښ
غږه‌وم لـه نا څاري هغه شان ژبه   په دروغ کښ موم یار که په رښتیا کښ
نورعالم که په کیمیا زرکوي خاوري   ما زر خاوري کړه د میني په کیمیا کښ
چرته عشق چرته د شرم و حیا ویره   نځیدل نه شي په شرم و په حیا کښ
په ورت ورت ورپسي ژاړه که یارغواړي   منده کیږي دغه در په دا دریا کښ
دم قدم د کس ناکس له دَره ژغوري   دا چه ګرزي لیوني تل په صحرا کښ

بت پرست وائي حمید و هغه کس ته
چه بندګي کوي د خداي په روي ریا کښ

په آشنا باند چه شي تللي آشنا پیښ   په معني کښي شي په مړي مسیحا پیښ
جدائي د یار بائي توره بلا ده   خداي دِ نه کا مسلمان په دا بلا پیښ
بیلتانه مي وارو پار هسي خطا کړ   لكَ شي په چا نا څاپه اژدها پیښ
له حیا ئي ښکلي مخ ته کتي نه شم   په لیچنو سترګو بریښ شه د بریښنا پیښ
نه به بیا مونده وعده شي د خوبانو   نه به شي د چا په لومه کښي عنقا پیښ
له مقصوده نا امید مه شه یک لخته   خداي په زمکه کا مرغونه د هوا پیښ
څو د عشق په غم آباد یم دیره شوي   را ته نه ده بي ژړا نوره خندا پیښ

د صبا د بیلتانه له ډیره غمَ　　په ګل رخ یم لکه شمع په ژړا پیښ

دغه نه پیښه په ستا هسي پوهېږم

وحمید ته کاند مرګ نن و صبا پیښ

دا يې غاښ پخوله کښ زيب کا که ژاله شوه پلاله کښ　　خط پمخ د صنم راغي که سپورمۍ شوه پهاله کښ

نه يې سيال پهند کښ شته دي نه ثاني پبنګاله کښ　　هسي رنګ سحرجادوکا په نظر د شهلا سترګو

هسي رنګ پريشانو زلفو ګبښيستم په کشاله کښ　　لکه وُ نبېلي مرغۍ په سست دام د سلولومو

هسي رنګ زيبُ زينت کا لکه مي پشنه پياله کښ　　دا خما له غمَ شين زړه پکښ خيال د يار د لبو

که مي کوت يو ګل اندام وه پروت پسبزه دوشاله کښ　　ماوي عين ګنړه ګل دي د غنچي په لمن نغښتي

لک پروت وي غزيدلي خرقه پوش په دوشاله کښ　　خال وُ خط پګلګون مخ کښي د دلبرو دا مثال کا

په جوار د سپيو نه وي هيڅ آرام په غزاله کښ　　ښکلي مخ يې ولي ناسته په مجلس د رقيبانو

څکه يم مدام دا هسي رنګ په آه و په ناله کښ　　سر تر پايه غم د هجر لك ني سوري سوري کړم

که يار غواړي همېره ژاړۀ څو چه درشي اي حميده

هم په دا چه درموندۀ شي په درياب نه په تاله کښ

اي مدام د نس په زيرمه کښ رنځ کښَ　　په دا رنځ کښ په آزار د خلقو خوښَ

و هيڅا ته له تا نفعة نه رسيږي　　بلك تل لك آغزي په نورو خښَ

يوه ورځ به بنديوان د باز په څير شي　　چه دِ شپه و ورځ خوراك شوه د قام غوښَ

د مظلوم د آه آزار و چا ته مه شه　　عالمونه يې ورکيږي له آرخښَ

د مظلوم آزار خالي نه څي حميده

د ويشتوني ګذار پاس لکي په نښَ

دا چه آخست شي تش نوم دي د اخلاص　　نن ساعت اصل معدوم دي د اخلاص

چه کتلي مي نجوم دي د اخلاص　　بي نفاقَ نور هيڅ نه را معلوميږي

چه عمل يې په رسوم دي د اخلاص　　يو سړي دِ څوك را وُ ښئي په ګوته

تش په تور هسي دم دوم دي د اخلاص　　لكَ څوك وائي سندري په مړي ناوي

رنګ و بوي پاتي نور کوم دي د اخلاص　　چه روزګار د پلار و زوي په لباس شَ

د جهان چه د خولي خوند په لباس وران شه   پري لذت زهر زقوم دي د اخلاص
د دنیا کوتي مانړۍ ګوره نظر کړه   په کښي چا ینبي یو چوم دي د اخلاص
مخلصان په جهان نه شته که پیدا شي
حمید خاص بنده محکوم دي د اخلاص

که په ما دي څه اثر کولي وعظ   تا ناصح را ته هاله ویلي وعظ
محبت تر ملخ شوخ کړه څما کسي   غړه وي په کښي نا حق خلي وعظ
زه به نه وم همسره ډوب پغم کښ تللي   که مي لږ و ډیرو زړه ته تللي وعظ
لك پاتي له علاج مرګ حال شي   هسي نه مني د عشق نتلي وعظ
په عشاقو به پسند کله شي ناصحه   دغه ستا شیخ زاهد پسندلي وعظ
څه صیحت په نصیحت د عاشق کیږي   څه کوي مار و لړم چیچلي وعظ
د رندانو د مجلس په شور و شر کښ   آوریده شي کله کله غلي وعظ
محبت ده څو چنده سزا را کړي   چه مي چري دي له چا منلي وعظ
نصیحت به د غوږ نه پاسم ناصحه
ما حمید دي په خپل بخت کړلي وعظ

چه سړي که له سړي د دنیا طمع   سړي توب ئي سپي توب شي په دا طمع
د هغو د حیا پښه مدام ښوئیږي   چه ئي واخسته د نس په هوا طمع
د داني په طمع بند آزاد مرغه شي   زر به ستا په څان بلا شي د ستا طمع
له هغو ترخه ویل شي د حق پاتي   چه ئي خوله کاند خوږه په حلوا طمع
زر ئي رنګ د آشنائي سره وران شي   چه پیدا شي د آشنا له آشنا طمع
دا یو څاڅکي اوبه در شي په سینه کښ   خو چه پري کاند صدف له دریا طمع
د شاهي د ګدائي تفاوت ورک شي   چه پوره نه کا بادشاه د ګدا طمع
پردي پریږده که په قطع مور و پلار وي   د هیچا و هیچا مه شه پیدا طمع
له دغي طمعي طاعون ښه دي حمیده
چه کوي د نفس د پاره له چا طمع

ؤ نیو مه شه په دوستي د دنیا خلق — دا بي شرمَ بي وفا بي حیا خلق
لك سپي چه په مرداره سره جنګ کا — هسي جنګ کا په دنیا بي حیا خلق
نه پوهېنته سره کا نه مخ کتنه — شا په شا سره تیریګي آشنا خلق
ستغ ستغ خلق بي مزي دي پاتو شوي — زماني تر ستوني تیر که حلوا خلق
په یوه به دِ هم سترګي خوري نه شي — که نظر کړي د دِ دور په ذا خلق
چه ئي لاس له خیره ؤ خاته یك لحته — څه به نوي آلوده په بلا خلق
لك قند هسي دروغ ور ته خواږه شو — لك زهر هسي تو کړه رېښتیا خلق

په پرده کښي به دِ پري نه ږدي حمیده
چه دِ لوي په زمانه شه رسوا خلق

په دوستي کښ سره وینم میرځمن خلق — څکه بایلو د راستئي وطن خلق
ما ته زهر په شکرو کښي ښکاریږي — دا تر شهدو تر شکرو مین خلق
په مجلس ور سره هیچري کي مه نئ — دا بي زیانه بي نقصانه غمجن خلق
روښنائي د حیا د مخ وي کله څوښه — د انصاف په توږو سترګو لیچن خلق
تر یوي رتئي حیا زار و قربان شه — د شوخئي د بي شرمئي من من خلق
نا پکار بي مغزَ پوست دي په معني کښ — په نسبت د واړاند خلقو اوسن خلق
په محنت سره تنراکي لاس یمن دي — څه په لعلو پسي مړي لاس پمن خلق
له نا اهلو د زړه راز ساتلي بویه — وچمن ته پرینبو نه شي چیځن خلق

روغو څه زړه د حمید د زړه له درده
د دردمن په حال پوهیږي دردمن خلق

چه شهره شه ستا په مخ باند څما عشق — مسخره شه د مجنون و د لیلي عشق
چه مجنون څني په قبر کښي هیبت خوړ — ګماړلي دي په ما هسي بلا عشق
که په هره ساه ئي سر څي لك شمع — خان دِ هیڅوك معذور نه ګنړي پدا عشق
ویره ژلو ته په لاس چنګ رباب کا — چه ئي کښینوي په غولي باند ورا عشق
اور په لوبو لګوي په رېښتیا لګي — ژړولي دي ډیر خلق د خندا عشق

دلالان د عقل پاتو شي بي دخله چه په سر ئي خود آغازه کا سودا عشق
لکه اور په وچ واښه باند ځوک بل کا هسي کار کاند په زهد په تقوا عشق
ځوک ناحق په خوله دعوي او ريښتيني کا دم قدم کله پټيږي د ريښتيا عشق
بيا ئي نه منده خندا د ګل رخانو
که شبنم غند حميد که په ژړا عشق

که شاهان و تخت و تاج ته لري شوق عاشقان تاخت و تاراج ته لري شوق
نه دي هسي زيان من رنځ د عاشقۍ چه رنځور ئي و علاج ته لري شوق
د يوسف په دود به پريوزي د غم چاه ته چه د عيش و معراج ته لري شوق
د هوس له کناري مي خاطر سوړ شه د غمونو و امواج ته لري شوق
ډوبوي پخپله ځان حاکم د عقل چه د عشق د ملك خراج ته لري شوق
څه کرم لري د ښکليو برندي سترګي چه د قتل احتياج ته لري شوق
خواه نا خواه به خوار حميد بار برداري کا
چه د ستا و تنګ مزاج ته لري شوق

چه لوړ و چا ته پورته کړي يا سوك مخسره کا ملوکي خپله ملوك
چه په سوك سره ځوك حق له چا وکاږي دا هم نه دي په معني کښي څه سلوك
د دنيا د سود دپاره بايده نه دي چه ګريوان کړي د عزت په چا شوك پوك
په محنت سره توك توك سړي پروت ښه دي نه ولاړ په درويزه د يوه توك
له دي هسي احمقۍ پناه وُ شه چه د نور په مال خوښي کا ته په دوك
چه په نام فلك زده دي وياړئي مه کړه که د چري لګيدلي دي تش نوك
د فلك غوړيکي نه دي تا خوړلي څکه ږدي هسي دستار په تندي هوك
هسي باد دي نفس شيطان درکښي پو کړي چه پړ ناحق بړوس ګرزي هوك پوك
هسي شان په لړ لوړ مبدل شي چه ګونګټ آخلي په طمعه د املوك
که انبار آبروي بايلي کسيره مومي په دا زيان د پروا نه کيږي يو چوك

بیا د کوم ناکس له لاسہ حمید ژاړي
چه په شان د ویره ژلي وهي کوک

هسي چري دي آسان د عشق پخساك چه به شي په كښي د چا خوراك پوښاك
هیڅ له شرمہ را ته مه وایه ناصحه د برمښو له اوبو څه اندیښنه باك
زه او صبر سره عشق زمكه آسمان كړو په آسمان د هیچا نه رسي ادراك
محبت را څخه زړه له واكه و یوست پري مي نه چلیږي هیڅ د صبر واك
په سرپوښ محل كښي نور د آفتاب نه وي ښه دي زړه په یوه غم سره چاك چاك
د هغه كله په تخت باند آرام شي چه ئي زړه وي په ښه مخ پسي هلاك
له اغیار سره گډون دي د یار هسي لكه څوك كا سره گډ پاكو ناپاك

حمید و رغوي څه رنگ له خوبانو
چه ئي خداي په دوي موقوف كا مرگ و ژواك

كه تاوده وائي كه كلك كه لوړ كړي كه كوتك
په دا پوچو به نادانه هیڅ و نه كړي د فلك
شدني در باند و شو كه د كك وه كه د لك
بل علاج نشته بي صبره دغه رنځ لره بي شك
چه په شوي كار څه وائي پوچ پوچ وائي وهي جك
په لړ تاو مه شه نادانه لك دول شهرت ته تیك
نه مدام په سړي غم وي نه ښادي په هر دمك
گاه سړي خوش و خورم وي گاه له غمہ وي هك پك
كله وري كلمي نښتي كله مور تر حلقه ډك
گاه مزري شي میدان نښي كله شي د سوري مرك
چرته ویر چرته سندري چرته خوار چرته اوزبك
كه ئي كار په یوه رنگ وي نه به وه فلك ابلك
نه په تا تنها ستم دي د دي دور یكا یك

په دا زور کښې ډېر خلق د ستا مله دي چك په چك
بلکه لا لري نظر کړه تر سما و تر سمك
په هرچا دي يو يو غشي د فلك له لاسه لك
دا وبا ده لګېدلي په هر کور په هر درك
مي بايد چه په دا دام کښې نه کا پرك مرغ زيرك
د حميد صبر سرور شه
په ستم د هر مردك

چه له غمه يې د وروځو خښوم په سينه نوك هر پرهار د نوك هلال شي په سينه ځما ملوك
هرچه خوب لك غنچه کا په طلب د ګل اندامو په پيغور د هغو سترګي شبنم وُ کاږي په توك
هر قدم چه ږدم بي ياره د چمن په خيابانونه لور د لوره شاخ د ګلو را ته ځان ګواښي په سوك
لکه ګل د يار له مخه پاڼري پاڼري تار په تار شي آه فرياد مي خاطر هسي پړوکي پړوکي که توك توك
لکه ګل ځو خپه کيږي بوي لا پسي زياتيږي هسي رنګ لا غلبه شي په زغمل د ميني دوك
ته چه ما وته ناصحه پند د صبر د سکون کړې ګله شي له ليونيو کار د عقل په سلوك
دا په خيال د سروي قدو په نارو سره حميد شه
که قمري په سر د سروي فريادونه کا په کوك

هر سردار چه د خپل قوم د بدو خيال کا آئينه دِ د خپل ځان حال د جمال کا
پريکوي تر خپلو پښو لاند ښاخونه چه بدي د عزيزانو په زړه نهال کا
عاقبت هغه سردار شي مردار پاتي چه يې نس د خپلو بدو ته ليوال کا
چه د بل و سر و مال وته هوس کا تر هغه پخوا به ورك خپل سر و مال کا
هم هغه به په کښې پريوزي دا متل دي چه وبل وته کوهي کني وبال کا
د هغو په خونه پيښ جنګ و قتال شي چه هوس د چا د جنګ و د قتال کا
چه له خپلو لاسو پښو شي بي مجاله له غليم سره به جنګ په کوم مجال کا
په پردو مړانه نه کيږي بي خپلو له لحده دا آواز جمال جلال کا
که بانه د باز ښکار په ډکه واخلي هيڅ وُ نه کا خوځان ستړي په کشال کا

له زرګونو بري نه شي وري سل ګونه　　مکر خواه ناخواه ئي فتح ذوالجلال کا
چه تر خپله حده پښه غزوي وړاندې　　زمانه به ئي جمال غند پایمال کا
چه په زور د بل جامه آغوندي ځان ته　　نا شسته به ئي د خپل زخم دستمال کا
پردي بخري هیڅ نه دي خپلي کړي　　بلک خپلي به پر بایلي چه دا خیال کا
د جمال په څیر به و سیزي پر خپسر　　چه پیره هر پروانه په دا مشال کا
نا لایق چه لایقت په هنده غواړي　　د بریښنا په رڼا ستن پیپي جنجال کا
هم دا هسي نتیجه په لاس ور دروهي　　چه د ښو په بدله کښي څوک ناخوال کا
نه نیکي په ناکسانو څرګندېږي　　نه په بت باند اثر آب ذولال کا
لک لوي کړي لیو بچه در باند ترپلي　　حال څموره د جمال هم دا مثال کا
لک ګرم چه په حسن حسین یزید وه　　هسي ګرم پموږ جمال وه که څوک سوال کا
دا چه سوي دي له هستي نا خارڅي　　لک سویه په سپي ترپلي انفعال کا
نا خبر له حاله هرچه وائي ښائي　　خبردار به ام په عذر قیل و قال کا
د هغو په سبب تل سوزي نور خلق　　چه د توري آسره ورکه په دیوال کا
خوبد نام په دا جمال خداي خدمرزي کړه　　کنره هره چار په خلق خپل اعمال کا
په ازل د سود و زیان سودا دي شوي　　ملامت څه لره خلق په دلال کا

دا دودونه د دِ دور دي حمیده
یو د بل په مرګ ملال کا بل خوشحال کا

څو له نس سره و نه دري په کلک　　په نرمي به کله خلاص شي له اوزبک
واقعي نه کانړي پوست نه غلیم دوست شي　　په بندګي د نس مه غلېږه مردک
لړلړ ښه هم مناسب له نسه نه دي　　غله میږمن کاند ځان موږ په څکه څک
څه به ځاي د خداي د یادو په کښي کیږي　　چه د ګیډه وي مدام په طعام ډک
که دِ زړه دي چه صورت مي نوراني شوي　　واخله پند د کوتي ګیډي له فلک
له فلک سوال د نس د پاره مه کړه　　در کوي په کچکول کښي اوړمک
چه ئي رږدي له کبره هوک په تندي باند　　دا دستار به د کوز پریوزي په غوړپک

ګوره کوز تر هر چا نس په کمینی کښي — که جنده غواړي د عرش د پاسه لګَ
چه له اهلَ د دنیا محبت نه کړي — هم دغه دَ امن لوري دي بي شکَ

له دي خپلي کمینئي عاجزئي
اي حمیده د خود بین د سترګو ککه

نه دي ګل د ستا د مخ مخي خوش رنګَ — ګل جلوه کا په یوه رنګ ته په سل رنګَ
چه ئي ستا د تنګي خولي تصور واخست — په دا فکر کښي غنچه شوه په زړه تنګَ
دغه ستا د راتلو رو ګوري دلبره — دا چه سروي هسکه هسکه کا غړنګَ
چه سیالي ور سره زرکي په یانه کړه — وَلي خان له دغه شرمه تر ګړنګَ
دا خما د آه لوګي په کښي لیده شي — ائینه دِ د مخ نه ده په خط ړنګَ
چه ئي تا غندي دلبر په خنګ کښي کښیني — د هغو دماغ بلند وي تـر اورنګَ
چه په سیند خما د اوښیو نه نرمیږي — طایفه ده د خوبانو پـه زړه سنګَ
زه د ستا شرم حیا کوز و کتو کړم — هم شوخ چشم هم بي شرمَ هم بي ننګَ
هسي رنګ د بڼو غشي رساولي — چه هیڅوک ئي سلامت نه ځي له جنګَ

پس له مرګه د حمید هسي ژړا شي
اي په اور د ښکلي مخ سوي پتنګَ

ستا د شونډو په خیر کله دي د ګل رنګ — دا جلوه کاند یو رنګ هغه بل بل رنګ
تا مي رنګ هسي له صبره سره وران که — لکه وران دي د پښتونو د مغل رنګ
لکه ته ګوري خپل رنګ په آئینه کښي — هسي رنګ خما له حاله پوښته خپل رنګ
یار د یار له دردَ غمَ دلګیر بویه — بد شي سم سره د ګلو د بلبل رنګ
نوي سر به لکه شمع ور ته نسم — که ښه کیږي خما ستا په قتلول رنګ
هسي زړه خما وُ کاږي له ګوګلَ — لک آخلي له نکریزو په منګل رنګ
که هر څو شه پیچ و تاب له ډیره رشکَ — ستا د زلفو په خیر نه شه د سنبل رنګ

دغه خپل خونخواره لب پوښته دلبره
چه تغیر دي د حمید په څه کښل رنګ

چه پیري مي ږیره سپینه کړه ملا بغرګَ بویه قد د سروي قد عصا تر تخرګَ
په راستي مي د خپل آه هسي باور دي چه همدم به یم له ښکلیو پس له مرګَ
عشق په زړه د تن پرورو کله لګي دا چه نه کا اور اثر په لونده ګرګَ
پریږده ما په عاشقي کښي وږي ترږي ته ناصحه ورځه په ډکه ګیډه ارګَ
زه د یار غمونو هسي هډ و پوست کړم لکه ونه په خزان کښي شي بي برګَ
که هاله وم یله اوښ په صورت څورب اوس غمونو د عشق ؤ یستم له ورګَ

په څواني د عشق غمونو حمید زوړ کړ
بي مودي ئي ږیره سپینه شوه ملا بغرګ

څه له کا د حسن لاف صاحب جمال خود به شي انګشت نماي لکَ هلال
که ئي سل څله څوک لعل لعل بولي په ستایل به لعل نه شي کوتي لال
چه د ترکو و جمال ته څوک هوس کا د میږي په څیر کا مرګ ته پر و بال
لک لوبي کا هلک په ختو خاورو هسي لوبي کا عاشق په سر و مال
خودي لري کړه له زړه که عاشقي کړي نشته بي دغه زوال دا کمال
دي مذهب د محبت سراسر حال دي دلته نشته هیڅ مجال د قیل و قال
دا په وچولي تور خال څما د یار دي که آزان لره ختلي دي بلال
د خوده بین سخي له ډیري پاسلوني خوله په لوړه چینګه ښه ده نه په سوال

د حمید د نیستي ویار مه کړه زرداره
در به نه کړم دا شړئي په دغه شال

څه یله یله وئیږي سر مغزنَ ولي نه غواړي له خدایه آمرزنَ
ډیر مدت له شرمه ننګه زهیریږي چه دِ کار شي د دنیا تر چا تزنَ
هیڅ پروا د دین په کار نه کړي که وران شي اي بي ننګَ بي فرهنګَ نه یرزنَ
لکه طفل در ګوهر په روټئي پلوري هسي ته کړي په دنیا د دین بازنَ
ته چه مینه په دنیا کوي دین غواړي تیروي عمر په تشه باد پیزنَ
د دنیا په مال نادان سړي هوس کا کاند طفل د درمو په آس تیزنَ

هیڅ خوارهٔ نهٔ دي حرام تر دي حلالو   باري خپله خوړ و لوړ وي ګرمیزنَ
هیڅ دِ نهٔ کړه د توبو په جارو صافه   د مرګ لار دِ هسي پرېښوه آغزنَ

چه له ښو ښو مړنو دِ میدان یوړ
شاباش شاباش د حمید فکره تورزنَ

که ور سر کړي ښه خوراك ښه آغستن   خلاص به نهٔ کړي د دوزخ له اوره تن
خو دِ تن په عبادت آراسته نهٔ شي   غره مه شه د صورت په آراستن
دا کاروانَ چه ئې ته نن په هوس کړي   وینم زه په کښي صبا د ستا کشتن
چه په مرګ لكَ مرداره شي خسا بویه   په ژوندوني آهو مه شه د ختن
نادانان دین ورکوي دنیا په آخلي   دانا نه که دا دادن دا ګرفتن
بي له تا چه ګور قیامت درڅخه هیر شؤ   ګنړه هر غریب تالاش کا د وطن
هرګز نهٔ دروي آواز له ډکه جامه   له نقصانه دِ پیدا شه شهرتن
چه دلي دِ کیږي ناسته له بدانو   هوري مه غواړه له نیکو ورخستن

دانایان به در ته غوږ باسي حمیدَ
نادان څه پوهیږي ستا په در سفتن

سر څما له سر درده د خوبانو   هسي شان شه لك ګنج د در مرجانو
په مجمرئي د مخ اور لوېږي له شوقَ   د سپند په طور کسي له چشمانو
ګفت وګوي به ئې بیا نهٔ مومنده وره خولّه   که چراغ ور ته بل نهٔ وي د لبانو
په خرپوڅو صبرُ زهد څني تښتي   چه په ګزت کا تیره غشي د مژګانو
په شانه ئې کړي خوري حلقي د زلفو   که زنځیر له غاړي وُ خوت د بندیانو
خال و خط ئې هسي چاري په مخ وُ کړي   لکه ګل شي تر پښو لاندِ د هتیانو
لك یو لیوني بل ته ملامت کا   په دا رنګ دي حال څما د دانایانو
چه شومي د زاهدانو بده نهٔ شوه   چرته بده سر بازي شوه د رندانو

چه حمید کا په میکونو شوندو مینه
زر به کښیني په حلقه کښي د مستانو

رب فهم کړي د يار را ته په ښو د رقيب له خرخښو مي ګرځي په ښو
هم په دا چه د عشق اور پري زړو لګي دا څما صورت کوډئي کړي د وښو
د آشنا د غم توبري څما زړګي شه کړي نه شم څکه حکم په وُکښو
هيڅ شفقت څما د يار په رقيب نشته محض مري پوري ځان څما په مښو
رغروي مي زمانه له محتاجئي لکه سپي د چوهاړي رقيب په پښو
په آشنا پسي مي روح د تن له سرايه د سفر په عزم لاس کيښو په پښو
ډيرو شولو د هجران خضر پښيمان کړ د حياتو د اوبو په بدو څښو
له خلوت و بازار ته را څکول شي زاهدان د عاشقئي په خرخښو

غم که زړه دِ حميد هسي خيري ويري
چه حيران ئي په ګنډل شم د ريښو

په خيرات چه يار د حسن لاس پاس وُنيو نمر سپوږمئي ور ته کچکول په لاس پاس وُنيو
مهتر خضر ئي په عمر خريدار شه چه ئي خال غلام د مخ په نخاس وُنيو
که څوك نسي خويو زړه په اخلاص نسي باري ښکليو درست جهان په لباس وُنيو
را که بخت مرغ ور يار څما په جوځ کښي ګنړه چا ليد کبوتر چه کرګاس وُنيو
شکوفي شکفتګي په شبنم را وړه که مي سترګو په ژړا کښي اماس وُنيو
چه مي يار په لور د مهر ګذر نه کا خداي زده نه پوهيږم بيا څه وسواس وُنيو
زر کا نور ثنا خواني د ترکو څه شو که يوه ناصح زبان د سپاس وُنيو
چه ئي تل سترګو کول په کښي خونونه د مخ سبز ئي د رېيري مواس وُنيو

چه نازل شه د عشق تندر له آسمانه
ما حميد د غم لايق ور ته لاس وُنيو

چه اقرلر په ناپوهي شه نه ئي پوهَ چه د پوهي لافو شاف کړي نه ئي پوهَ
چه دِ پوهَ په خپل عيب نه رسيږي ترو په عيب به د بل په څه ئي پوهَ
که دِ وُ بهاته خپل ځان د نس له مکره وايه ځان و ته هاله چه ته ئي پوهَ
چه د دين دانائي نه لري په زړه کښي بيهوده د ځان خوښي په خوله ئي پوهَ

ولي غل د خپل کنډر درنیو نه شي   چه د نورو غلا ښئي په غله ئي پوهٔ
اول خپل ویران ویجاړ کارونه جوړ کړه   که ښتیا د سازول په وله ئي پوهٔ
چه مي بي سوالٙ مطلب کوي دلبره
څه عجب څما حمید په زړه ئي پوهٔ

بیهوده مي ور ته زړه هوسیده   عاشقي ده څړه نول و پخسیده
بي له دي چه بنا مرادي ته ؤ رسیږي   ګنړه نشته دي و مراد ته رسیده
زړه مي میني د حلوا نمړئي ګنړله   باري اوس ؤ لمسیده چه بلوسیده
کافران به د کتار مسلمانان شي   که رقیب مي په ژړا ؤ ترسیده
عشق او صبر سره لري ذي ناصحٙ   کله اور کاند له خسٙ بسیده
دا د میني نتیجه ده چه ژاړېږي   چه لیمه مي په ژړا ؤ پړسیده
د عیسي تر دم کم نه دي اي حمیده
پټ په شونډو کښي ذ ښکلیو مسیده

په حرص که مخ د زمکي کړي پړه   را به نه وړي تر نصیب زیاته زره
په آخري پسي ډیرمه زغله هوښیار شه   په آخري آخري سړي شي مخسره
وړي ترړي پروت په خپلي پوزي ښه ئي   نه په تخت دپاسه ناست د بل کره
ته چه د بل عیب ظاهروي خپل به ظاهر کړي   هیڅ پروا دِ نشته خو خپل څان سنبال لره
د منت پلاو دِ زهر شه چه موږي   د محنت سوي سکرک له ساګ سره
د نمرود ماشي قصه کړه در په یاده   که هر څو ئي په خپل څان باند غره
کړه د مچ له بونړهاري که هوښیار ئي   د مزري د تنړهاري ترهره
هغه دم کبر دماغ د سواره درشي   چه دِ بر شي لاس په تانګ په خرخره
له دِ خپلي مغروري د سپي لګئي شوي   زه دِ خوان ته بولم څي ډېران لره
څکه شعر د حمید په ګوته ښو شي
چه ئي عشق په سر کښي کیښوه طره

چه ئي سپك کا عاشقي لك بنړه   هغه کس تر کوه قاف دروند ګنړه

چه ایري د بي قدرۍ شي پوري مښوي — آئینه د هغو زړونو وي رنړه
له دانا سره نادان کا اوچي پوچي — هیڅ به بت په ترپو مات نهٔ کا چنړه
له کیني په بینا سترګو شنوا غوړو — د عیسي په دم قدم ړنده کنړه
که څوك نه پټوي سترګي په حرامو — شي په ښو کښي پیژانده پردي پنړه

چه حمید اوړېدوي لاس د یار زنخ ته
کاشکي شاخ د ولي ؤ نسي منړه

څه حکمت دي چه مي نه چوي لا سینه — یارهٔ ستا دِ رقیبانو په کینه
چه دِ زهٔ او رقیب سم کوړو و مخ ته — دِ کرمونو کړه ورسته څما اینه
ستا په درکښي رقیبان را باندِ بلوسي — نه ګروهیږي په مکه په مدینه
لکه زهٔ چه ستا له غمَ څواني مرګ مرم — واخله هر څوك هسي فضل و مهینه
ته څما په ژړا نرم ګرم نه ئې — زهٔ شوم ستا په غم کښي وریت لکه نینهٔ
همنشین مې ستا د غم د آه په تاب کښي — آغوستي نه شي له ویري پشمینه
لکه توره د جلات تل خونریزي کا — څه به نه وي د ستا حسن رنګینه
ستا د درد سپیو قدر مي بیا نهٔ موند — که هرڅو مي ور ته څان کړ کمینه

چرته شیخ چرته تندي د عشق حمیده
چرته جنګ چرته بي دله ارتینه

بد دِ نه مني دلبرَ څما کاته — بلبلان په ګلو کاندِ آلواته
لایقت د وصل نه وینم په څان کښي — په کاته مي څکه کسي ؤ واته
عاقبت را څخه یووړ د ستا سترګو — که هرڅو مي زړه په صبر کښي ساته
ته خبر له خپله تاخته ئې که نه ئې — چه دِ کور څما د صبر ؤ ناته
په تندي مي له کیني کانړي ؤریږي — چه دِ وینم رقیبان په در پراته
د هغه در و دیوار خضر دربان شه — چه پرِ کیږي ستا واته ننواته
چه خندا دِ کندکوهي په زنخدان کښي — ما هاله په کښي لیده خپل پریواته
پتیلي په ما هاله دا بي دلي وه — چه د خیال په دلداري را ته راته

په تمام عالم قراره قراري ده
په حمید د غم مغل دي وُ خاته

چه مهتر کا له کهتر سره آړي   بدلوي لـه سادګۍ شال په شړۍ
چه بل بولي د سپي زوي هغه سپي دي   نه کا سپي سره نسبت زوي د سړۍ
له هغه چه وُلي سپي په کاڼړي لوټه   دا بهتر دي چه ور واچوي نمړۍ
هي توبه شه له دغه نام نښانه   چه دِ ودروي د بدو لکړۍ
په پیري کښي د ځوانۍ چاري نه شي   مه رِده اي زړي بوډي په سر دړۍ
هره چار له خپله وقتَ سره زیب کا   سپین ویښته نه دي د څڼړي د څړۍ
په دنیا تیریده څه په کار نه دي   څه ځما له دي بوډۍ غاړه غړۍ
د بهترو په ځاي مه کښینه کهتره   د ریښمو پـه نرخ مه پلوره وړۍ
چه دا هسي سپین سپیځلي نصیحت کا
مه کړه خداي د حمید ژبه تـتړۍ

که هرڅو په خار پاځي په خار کښیني   چه د بل په در کښیني په دار کښیني
دا خواري په خواري مه ګڼړه دولت دي   چه په خپله پوزي خوار و زار کښیني
ورك هغه ناست ولاړ شه که په تخت وي   چه مدام په ویار پاځي په ویار کښیني
سپك به پاځي د هغه مسند له سرة   چه په سر د غریبانو بار کښیني
دل جوئي د خلقو کړه د ځان په سولو   که د شمعي په څیر بر رویدار کښیني
ولي نه کړي د مظلوم له اوښو ویره   ولي مَخ ته د سیلاب قرار کښیني
چه نه وُخوري نه یُ ورکړي مه یُ ویني   که په ګنج باند په څیر د مار کښیني
دا دنیا د قرارۍ مقام نه ده   بیهوده د پول په سر قرار کښیني
سرخ روئي به دِ د لعلو شي حمیده
که په خاورو کښي له خوارو خوار کښیني

خواجه محمد بنگش

خواجه محمد بنګښ

په سپین لاس ئې پوړِ کړي دي حنا   که سره کړي دي په وینو د آشنا
د غمزي طاقت دِ نه لرم دلبره   زه هرګوره ډیر عاجز یم نا توانا
خماري سترګو دِ ډیر عالم آزار کړ   که ئې ته د ظلمَ منع کړي جانا
ښتا ویشتلي به روغ نه شي بي وصالَ   که دارو لره ئې رایشي سینا
تورِ زلفِ دِ اوریځِ د بهار دي   مخ دِ کاند لکه نور په کښي بریښنا
لیونيْ دِ پر حلقه د زلفو بند شو   ویساه نه کاند په دام مرغ دانا
د ښایست مخي دِ نشته په عالم کښي   زړه مي چوي ستا له ډیري استغنا

په احسان، سرهٔ مشهور په درست جهان ئې
ولي دِ خواجه محمدَ نه آوري وینا

یارَ ستا بیلتانه هسي کړم بيْ تابَ   خوشحالي را باندِ نشته بي عذابَ
سور خوناب مي په بارخو باندِ بهیږي   زړه مي درست پاره پاره سینه کبابَ
آبروي خما د مخ ستا په ژوندون دي   بي له تا نه سور په وینو شه بي آبَ
د دنیا له سود و زیان خبر نه وم   په دیدن سره دِ مست کړم بي شرابَ
که ئې غواړم په جهان کښ نه ئې مومم   ښایسته دیدن دِ شه پر ما نا یابَ
غوټي خورم کله ډوب کله څرګند شم   وته نه شم ستا د بحر له ګردابَ
بي له تا نه پر ما ملك توره تیاره شه   په همهٔو اَولیاوُ کښ آفتابَ
ته دریاب ئې پر موجونو بهیدلي   هیڅا وُ نه څکه یوه ګوټه له دریابَ
تسلي مي د خاطر په نور چا نه شي   بي له تا نه اوس خما قطب الاقطابَ

ما و تل به په دنیا سره ژوندي یو   خبر نه وم د مرګوتي له سیلابَ
د ښایست حساب دِ هیڅ نه وه دلبره   مخ دِ چا ته څرګند نه کړ له نقابَ
ته قبله وي د هر چا د حاجتونو   ستا دعا د خداي په در وه مستجابَ
هغه کار کړه چه هوري پرِ نیوه نه شي   هغه مه کړه چه عاجز شي له جواب
بي له خوبَ له خوراكَ نور څه نه کړيَ   راشه مه کړه وُ ویریږه له عذاب
لکه خس هسي به تا پر مخ کښي یوسي   خلاص به نه شي د مرګوتي له سیلابَ
ته د عشق په لذتونو خبر نه شوي   په سراب دِ ځان مشغول که له دریابَ

زه خوّاجه محمد تمام په ګناه ډوب یم
مګر وُ مي کاږي خدايَ له دي دریابَ

که دا ما غوندِ غریب پریوزي و اور تَ   ستا بسنګین خاطر به نه شي کښته پورتَ
د عاشق له آه سړده نه ویریږي   ته هرګوره ډیر غره ئي و خپل زور تَ
یا وفا دِ هیڅ زده کړي چړيَ نه ده   یا خو نه ګوري له کبره و سر نور تَ
ګوتي توري کړي پر ما ئي کړي را پوري   زه حیران یم ستا د سپینُ ګوتُ تور تَ
ستا پعشق کښي هسي چاري پما وُ شوي   چه له شرمَ کتي نه شم کلي کور تَ
نور عالم مي همګي لیوني بولي   دواړه غوږ مي دي نیولي و پیغور تَ

د اورنګ په بادشاهي کښ مي نیاو نه شي
زه خواجه محمد به وُ وزم و بل لور تَ

زه به در ته وایم د دلبرو کرامتَ   هیڅ ور خبر نه یم زړه مي یوسي له صورتَ
یار که ميَ جفا کاندِ هر څو زه به ئي وړم   خداي دِ په یاري کښ هیڅوك نه کاندِ بي پتَ
زه ئي که دوړاندِ خپسر پریکړم په خدمت کښ   هیڅ مجره مي نه شي لا په زړه شم ملامتَ
یخي اوبه نشته چه مي تنده شي پرِ ماته   زه به هسي ګرزم سینه سوِ تر قیامتَ
اوښي تویُوم دلسوزي ئي پر ما نه شي   خداي دِ د هیچا نه که مخدوم بي عنایتَ
عام و خاص به واړه په دا باندِ هم پوهیږي   کله څوك طبیب لره ور درومي بي علتَ
رنځ د رنځور زیات کا هیڅ صحت ئي موندہ نه شي   نشته دي حاذق طبیبان لاړ له ولایتَ

سخ د تندرستانٔ چه محتاج د دارو نه دي   هرچه رنځوران شو روغ به نه شي له زحمتٔ

نحنُ قسمنا ئي په قرآن کښ دي راغلي

څوك به ئي بدل کا د خواجه محمد قسمتٔ

زړه مي يوور مهرويانٔ الغياث   له دي هسي دلبرانٔ الغياث

بي موجبٔ ئي ستم را باندِ وُکړ   جادو ګرو ساحرانٔ الغياث

سرو لنبو لړه ئي وري په سيخ پيلي   کباب کړي قصابانٔ الغياث

د زړه ترسِ ئي په هيچا باندِ به نه شي   له دي هسي ظالمانٔ الغياث

هيڅوك نشته چه څما غور پر وُ شي   زه په چا وُ کړم يارانٔ الغياث

تر قيامت به نور څاي لره را نه شي   چه تاخت پر وُ شه د ترکانٔ الغياث

پر ناحق ورانوي ودان ښهرونه   تفحص نه کا د ورانٔ الغياث

چه حبيب مي په کشتن سره راضي شه   په چا کانړئ رنځورانٔ الغياث

د خلوت په سراي کښ ناسته بي پردي ده   تر چاپير د عاشقانٔ الغياث

په ميدان د سپين جبين باندِ ئي راغي   تور لښکر د حبشيانٔ الغياث

تر غوږونو ئي پر ما باندِ را کښلي   د کږو وروځو کمانٔ الغياث

پورِ وورِ مي ختلي تر څيګر دي   هزار تير د تور مژګانٔ الغياث

درست ئي وُ يستم له عقلٔ له شعوره   خماري سترګو مستانٔ الغياث

خلقي ئي د زنخ په چاه بندِ کړ   هرګز نه ووزي له زندانٔ الغياث

د غمزو په ناوکيو ئي غلبيل کړم   په کښ تللي تر پيکانٔ الغياث

تورِ زلفِ ئي پر مخ باندِ پرتِ دي   ګنج نيولي ښهمارانٔ الغياث

د خواجه محمد له حالٔ خبر نه آخلي   له دي هسي سنګ دلانٔ الغياث

زه خواجه محمد مرم علاج مي کانړئ

جګي جګي طبيبانٔ الغياث

که څښتن شي د دنيا د تخت و تاج   غره مه شه عاقبت به شي تاراج

پس له مرګٔ به همه سره يکسان شي   که ګداي که مهاجن وي که مهراج

چه آخر دِ ځاي دي تورو خاورو لاندِ   د دنيا په چارِ مه کړه ابتهاج
د اجل په سنګريزو سره به مات شي   که هرڅو ؤ ساتي لوښي د زجاج
که حاجت روا کوي د حاجت منځ   تا به نه کا خداي هرګز د چا محتاج
چه آشنا دربانِ پيښ شي لوي همت کړه   چه دِ جور دي دا پنځه ورځ مزاج
ښايسته کړه خپل ايمان په عمل باندِ   بي زيورَ ناوي نه لري رواج
دا سياهي به دِ همه له زړه بيرون شي   که دِ بل کړ اندرون د عشق سراج
هغه چارِ چه د عشق په جذبه کيږي   کله کيږي په لښکرو په افواج
که عاشق په صورت ووړ په زړه لوي دي   څه په کار دي بيهوده صورت د عاج
عشق رسوا کړ په دنيا او په عقبا کښ   يو مجنون دوهيم منصور بن حلاج
په ځنګل کښ ښکاري څه ځنِ خبروه   که په زور آواز ؤ نه کښلي دراج
له کسري د عدالت نامه شوه پاتِ   دا د ظلم داغ شه پورِ په حجاج
د دنيا د تنستي بوده نيمګړي   په هيڅ رنګ به ئي پوره نه کا نساج
که عاشق ئي له تهمتَ مه ويريږهٔ   د هر چا د پيغورونو شه آماج

د خواجه محمد ګناه و خداي ته څه دي
د کرم بحر ئي دروميي په امواج

څو به د دنيا په حب کښ ګرزي نامردَ   ؤ څکه د عشق مسته پياله شهد و شکردَ
غم د آخرت کوه طالبَ چه باقي دي   مينه پر فاني دنياٌ مه کړه که مزکه زردَ
پند د ناصحانُ هيڅ اثر در باندِ نه که   مينه د دنيا دِ په خاطر باندِ سنګردَ
سخ د عارفانُ چه د يار په ياد مشغول دي   عامه خلقه ئي له لذتَ نا خبردَ
ذکر د کامل د خولي صيقل دي که دانا ئي   راشه آئينه پرِ د زړه صافه کړه له ګردَ
ذوق د عاشقانُ چه د عشق له ميو ؤ څښي   خلاص له نورَ غمَ مشغولا ئي له دلبردَ

سر و مال پرِ دواړه ؤ ښنده خواجه محمدَ
ؤ غواړه يوه ذره د پير کامل له دردَ

غه مين آشنا مي نه ووزي له يادَ   څکه تل مي سريکار له آه فريادَ

اندرون ګوګل مي درست پاره پاره دي — له بي دردَ احوال پټ لرم زيادَ
دا مين آشنا څما کله وُ هيرېږي — چه د ده مينه څما په زړه بسيا دَ
رنځوران، په جهان نشته دي عالمَ — دا دارو کول طبيب ته مهيا دَ
رنځوران واړه خوارِه دارو ګنړينه — چه طبيب ئي ورکوي سقمونيا دَ
غافلان په زړه راندهٔ دي نه ئي ويني — لك نور په درست بدن د ده ضيا دَ
دنيا پريږده حقاني مينه وُ غواړه — ته دغه انديښنه مه کړه چه نسيا دَ
په کامل يقين ښکاري تر مطلب رسي — ته د صبر هنر زده کړه له صيادَ

اي خواجه محمدَ پير کامل وُ غواړه
تـوجـه د کامـلانُ کيـميا دَ

نن مي وُ ليدلِ ښايسته ستركي خمارِ زه په دواړه لاسَ ټندي وهم وهم تارِ
زړه مي سياهي لاندِ کا عالم وائي بلا ده زلفِ ئي پر مخ باندِ خورِ شوِ تار په تارِ
زه له ډيرهِ غمَ ليوني ور پسې شوم که مي ګريوان څيري تر لمنِ پار پارِ
زه ور پسِ ګرزم د يوه ديدن دپاره نه ګوري له کبرهِ هسِ دروميږي په تلوارِ
هيڅ پروا ئي نه کيږي که وُ مرم عالمَ ما غوندِ ئي څو په در پرتي خلقي خوارِ
چه قرار آرام ئي واړه له ما يووړ څکه مي پر مخ اوښي بهيږي لار لارِ

سل څله ئي بولي بيا ئي وُ شړي چه درومه
کا دِ د خواجه محمد په سردا هسي چارِ

مه کړه ډيري آشنائي وِ ته وروړ نه ويني هجران تاختونَ کاندِ لور د لورَ
تله دي تيريده دي دا جهان دِ مقام نه دي شاه دي که ګداي دي خو به ور يشي تر ګورَ
شيخ دي که ملا که په علم دانشمند دي هيڅوك به خلاص نه شي په هنر د مرګ له پورَ
هرچه عارفان دي مجازي مينه به نه کا نشته دي بهتره بي له يارهِ مينه نورَ
ته چه ډير هوس کړي د دنيا پر لوئي باندِ څه شو فکر وُ کړه مجلسي ياران وُ ګورَ
زه له خپله يارَ سره خوښ په خواب وده وم لاس تړلي بوتلم بيلتانه سورو لـه کورَ
وار په وار همه واړه مين له ما جدا شو درستَ مي په غم سرهِ د زړه تخته شوه تورَ

زړه خواجه محمد د بیلتانه په لنبو ؤ سوم
څکه مي تر خوله آه فریاد خیژي په زوړ

چه پیدا ئي ته دپاره د صواب کړ نه بنائیږي اي سړيَ چه عذاب کړ
شپه و ورځ ثنا صفت کړه له خالقَ چرِ نه وي په لحظه کښ ځان کریاب کړ
ته په تخت د قناعت کښینه بادشاه شه څه منت به د امیر و د ارباب کړ
د دنیا عمر خو لړ دي زر به تیر شي نن دِ واردي که به زیرمه د حساب کړ
تنعم د دنیا مه کوه هوښیار شه چرِ نه چه وران ودان سره خراب کړ
د مرګي سیلاب عالم سره لاهو کړه څه تیکاو به ته و ځځ ته د سیلاب کړ
عاقبت به د کوچمال په ناړو ویښ شي که هرڅو د بیچونړو د پاسَ خواب کړ
په هیڅ رنګ به خلاص نه شي له مرګيَ که چاپیر تر ځان اویا زرهٔ حجاب کړ
شیرین عمر لکه واوري ویلي کیږي لاِ تر کومَ به سرور په چنګ رباب کړ
کله خوید کله پخه غله روده شي څه امید به ته پر شیب و پر شباب کړ
اي خواجه محمدَ ژاړه ویر د ځان کړهٔ که هورِ دِ خداي پښتي څه به جواب کړ

د خواجه محمد امید ستا په کرم دي
د څواب طاقت نه لري که عتاب کړ

که نظر په نعمتونُ د ښهٔ خداي کړ ته به کله د یوهٔ شکر په څاي کړ
یو نعمت ئي د اسلام در لره درکا بیا ئي لاندِ تر سایه د لوي هماي کړ
همیشه لکه بلبل چه ترِ خاریږي چُرِ به وي په آخرپسي واي واي کړ
لاسّ و پښي به دِ عالم نسي پر مینه که ته ځان د فقیرانُ خاك پاي کړ
و مقصود وته به هله ؤ رسیږي سر و مال چه ور ته واړهٔ همه فداي کړ
هره ساه خپله ورستيِ کنړلِ بویه مرګي ډیري خلقي سره بي څاي کړ
خلقيِ وُر باندِ راغلي بیا ترِ لاړي ته به څه رنګ امید پر فاني سراي کړ

د دنیا له بادشاهيِ نه مي توبه ده
که خواجه محمد د یار د درګداي کړ

که دِ مینه محبت دي له عزیز   درست به وُ شلیږي له ورورَ له عزیزَ
د مجنون په دود به سر شي په څنګلو   ملاحظه به دِ هرګز نه شي له خریزَ
څو آخستي غوښي واړه توئي نه کړي   و مقصود وته به وُ نه رسي کریزَ
شپه او روځ د دي فاني په طلب شوي   و باقي وته دِ شا کړه بي تمیزَ
عاقبت به ئي په زور در څخه واخلي   دا جامه د عاریت که ده عزیزَ
حیوانات په څرکښ واړه بوټي نه خوري   ته مخ نه آړوي هرګز له یوه څیزَ
څوګداز د پیر کامل په بوته نه شي   دا چاندي به جدا نه کړي له ارزیزَ
که هرڅو ورته صفت د محبوبا کړي   ۀ مردئي صفت مه غواړه له هیزَ

زه خواجه محمد د غم په دریاب ګډ یم
که مي وُ کاري صاحبَ ته له دي نیزَ

زه و تا ته کړم وروره التماس   غلط مه شه د دنیا په تش لباس
په فریب ئي خلقي سره طوفاني کړ   ډک د زهرو ګرزوئ د زرو طاس
د فلك میچن د خلقُ په سر ګرځي   کوم زمان به دور راشي ستا په راس
نفس ته ایل کړه د فاقه په درنو ملونُ   په غیزه سره به تینګ نه کړي دا آس
له خوراكَ غرض قوت و لایموت دي   هرچه تا لره موجود شي څه اجناس
پټولِ د څان ضرور دي کړي بویه   که دوه در ګزه شړئي وي یا کرباس
هر نفس دِ بي بها در و مرجان دي   خبر دار اوسه کوه پاسِ انفاس
ګفتار واړه موافق کړه له کرداره   بیهوده خبري مه کړه کوز و پاس
څو قوت دِ د عذاب دي را ته وایه   ګناهونه هم کوه پر هغه قیاس
عاقبت به د پسرلي په باران لوند شي   چه جامي دِ وي آغوستي د قرطاس
و صراف ته ئي ظاهر باطن معلوم وي   که هرڅو په زرو وُ نغاړي نحاس
دا توبري به دِ وُ نه خیري له هڅَ   څو دِ غوښي غوځي نه شي په الماس
چه خبري ئي د کبرو د لوئي کړي   شیطان څکه له رحمتَ شه ایاس
سود و زیان واړه له خدایه دي بي شكَ   په ناحق ولِ کړي د زړه وسواس

لا په خوي د هلکانۀ ئې نا پوهٔ اوس چه تیر شوي تر څهل و تر پنځاس
کۀ یو ګوټ د محبت له جامَ ؤ څښي ؤ به نه مري لک خضر مهتر الیاس
زۀ خواجه محمد دِ پروت یم په دربار کښ میان صاحبَ که مې ؤ نه سي تر لاس
زۀ خواجه محمد هرګوره ډیر ویرېږم
لور په لورِ لار وهي وړاندِ مواس

د دنیا محبت هسي کړي بې هوشَ چه دِ کار د دین کړه وارهِ فراموشَ
د پیشو په دود همیش مراقبه ئې نور دِ هیڅوک په کار نه دي بې له موشَ
په ظاهر دِ د صلاح جامې آغوستي دغه بازَ ګندم نمایه جو فروشَ
بیا هله به ارمان کړي وار به دِ تیر وي چه و تا ته د اجل پیاله کا نوشَ
د خارج د مرګ نارِ پر غوږو آروي ستا د مرګ ناره به هم ورشي تر ګوشَ
آدم زاد ئې پیدا کړي دي نیکئِ له ته چارپاي نه ئې بدي مه کړه نیک خوشَ
چه د تن له سرایَ ووزي توښه واخله وذاني په هور ته نشته جګر ګوشَ
مسافرئې ته به درومي بې غم مه شه اسباب ؤ تړه په فکر کښ دِ تلوشَ
وړاندِ لار مواس وهي یواځي مه څه پاځه ؤ ګرزه په زیرمه د خپل ملوشَ
په کوښښ که څوک تر ځایه نه رسېږي هر سړي تر ځایه نه رسي بې کوشَ
هر صبا بیګاه زاري کوه و خداي ته اوښي ویني تویوه د زړه له خوشَ
غیر غیر محبت زهر قاتل دي د ساقي له جامَ ګوټ ؤ کړه په نوشَ
فریادِ هسي کړه چه څوک درخبر نه شي یار په زړه کښ یادوه شوندِ خاموشَ
دنیا تورهِ آخر مخ د شړي تور کا ته شراب د محبت ؤ څښه شرخ روشَ
اي خواجه محمدَ خوب بې غمَ مه کړه چه خبر شي د مرګي له پوشه پوشَ
زۀ خواجه محمد تمام له عیبَ ډک یم
امید وار یم له کریمَ عیبَ پوشَ

چه خبر نه ئې د خپل صورت له فرشَ په دروغ دعوا مه کوه له عرشَ
ګفتار وارهِ موافق کوه له حالَ زیات و کم خبرهِ مه کړه را شه درشَ

که هوس دِ د طلب دي اي طالبَ   په خدمت د پیر کامل تر دره ورشَ
کاملانُ څخه هسي رنګ کیمیا ده   ترِ قربان د کیمیا ګرو واړه زر شَ
دغه لار هرګوره ده باریکه سخته   که عاشق ئي ته د هرِ بلا سپرشَ
چه کامل و تا ته وائي هغه وُکړه   که بزرګ نه شوي بیا هله ته مرورشَ
که رڼرا ورځِ ته وائي چه دا شپه ده   ته انکار ور څخه مه کړه کور و کرشَ
دي خبر دي د سفر له منزلونُ   ته خبر نه ئي کوښښ وُکړه خبرشَ
ماضي عمر دِ همه په غفلت تیر کا   اوس چه پاتِ دي له دي نه بهره ورشَ

لا تر کومَ به د نفس په بندیخانه ئي
اي خواجه محمدَ پاڅه قلندر شَ

ته مي له هرَ بلا وُ ساته خدا خافظَ   چه بي له تا نه هیڅوک نشته دي ځما حافظَ
ما امور د دواړُ کونُ دي پر تا سپارلي   چه د هرِ چارِ ئي هم د دین هم د دنیا حافظَ
په هر لوري نفس شیطان را ته ولاړ دي   د خلاصیدُ لوري مي نشته بي له تا حافظَ
د دنیا له آفتونُ مي ویره نه شي   چه ته مي په سر ئي په هر لوري د بلا حافظَ
زه چه تا لره درځم ځما دوړاندِ ته شه   په دغه لارِ مي نور نشته آشنا حافظَ
په هر سحر در ته زاري کوم وصال غواړم   یو سحر قبوله کړه ځما د خولي دعا حافظَ

ګناه کار خواجه محمد له خپله مینه ورکړه
چه همیش وي ستا د ذکر د ثنا حافظَ

عاشقان به دِ په درکښ نارِ وُکئَ   که اثر دِ په خاطر کښ بارِ وُکئَ
طالبانُ دِ جندري د در وهلي   هیڅوک نه وي چه جواب د آرِ وُکئَ
غمازان که ئي هرڅو په غونډو ولي   چاپیره به ور ته سختِ بارِ وُکئَ
که ئي سر له تنَ دروميِ وا به نه وړي   مګر ښه ستا د دیدن نندارِ وُکئَ
ته که ځان له خلقَ پټ کړي په حجاب کښ   یارَ بیا د تورو سترګو چارِ وُکئَ
جګي جګي ور ته وُ وایه ریباره   چه په مهر را ته دوه ګفتارِ وُکئَ
د خواجه محمد پرحال ئي ترس نه شي   که پر مخ باندِ ئي اوښي لارِ وُکئَ

ظلم جور ئي همه سره ثواب دي
د خواجه محمد په سر چه یار ؤکَ

ولي نه کروهیږي اي ښما خاطرَ سنګَ　وار په وار مین یاران کمیږي درنګ تر درنګَ
تا چه هسي بارونه ؤ تړل روان شوي　څه رنګ به تیریږي ستا دورانده کوڅه تنګَ
ؤ سوزه ایره شه که مین پر محبوبا ئي　راشه اي طالبَ مینه زده کړه له پتنګَ
پریږده دا دنیا و غافلانٌ وته پریږده　صافه آئینه کړه د غفلت له تورَ زنګَ
ما په دواړه لاس د پیر کامل جاوجئي نیولي　کندِ بري بیا مومم د نفس شیطان له جنګَ
ستا دیدن دمه د رنځورانٌ د خاطر دي　زه به ترِ قربان شم د شها د در ملنګَ
سر و مال مي دواړه څار ترتا شه اي ریباره　ؤ ښیه و ما وته د یار بشره خوش رنګَ
ؤ خاته سیندونه اوبه شول لرِ ملکونه　زه له تندي مرم د عظیم دریاب له ښنګَ

مه کوه هرګوره ګریاني خواجه محمدَ
ؤ به کا کامل دِ خادمانٌ د در ننګَ

نن غه مسته محبوبا راغله پر سیل　چه حیران ئي مخلوقات شه پر طفیل
تر حجاب ئي مخ عاشق و ته څرګند کړ　په فریاد نارِ وهي نهار و لیل
خوشبوئي ئي د اثر پر ملک خورِ شو　دواړه زلفِ ئي لړلِ پر فلیل
بي له خدایه مین واړهِ بي وفا دي　پر امان تر دا دنیا تیر شه بي ښکیل
چه د شاه له محبتَ خبر نه شو　تبه ابده د هغو پر بخرو ویل
غافلان به ارمان کا وار به ئي تیر وي　د هر چا عمل به ؤ ګوري پر کیل
آخر تله دي له دنیا نه خواجه محمدَ　بي له خدایه و نور هیڅ ته مه کړه میل

د خواجه محمه مدد شه محمدَ
چه ئي لاس دي لګولي ستا پر ذیل

روغ عالم ته د زړه حال ویلي نه شم　که ئي نه وایم درد زغملي نه شم
په تمام خلق کښ هسي رنګ مطعون یم　که له خپلِ غم خاني ویلي نه شم
د تهمت له غمَ پروت یم سترګي پټي　زه له شرمَ چا ته غټ کتلي نه شم

حلق مي هسي د هجران پر پياله تريخ دي   چه د دِ دنيا خوارهٔ څکلي نه شم
يار ښما پر حال خبردار وم نه کا   د رقيب له ويري حال ويلي نه شم
زه به له ياره لري پر هواد شوم   په هيڅ رنګ د يارئي پټ شلولي نه شم
د فراق اوښي مي تل پر مخ بهيږي   پر ليمه کښ د يار خيال ساتلي نه شم
هميشه لك لاله ويني د زړه خورم   زه خواجه محمد ښرکند ژړلي نه شم

زه خواجه محمد هرګوره دروغ ژن يم
چه د يار پر مينه سرښندلي نه شم

فريادي يم فريادي يم له هجرانَ   چه ئي زه په ژړا بيل کړم له جانانَ
يار ښما روح اعظم زه ئي کالبود يم   د کالبود جدائي سخته ده له جانَ
اندرون ګوګل مي درست په لنبو وُ سه   جګي جګي هجران څه غواړي له ماَنَ
زه چه ډير آه و فرياد کوم ګرم نه يم   زړه مي درست پاره پاره سينه برياَنَ
که په نورو وداني ده زه ئي څه کړم   بي له تا نه دا دنيا شوه په ما ورانَ
دم په دم مي د زړه رنځ پسي زياتيږي   دَ دي پسَ نا اميد شوم له درمانَ
طبيبان ئي په ما خبردار وُ نه کا   په قيامت به ئي وُ نسم له ګريوانَ
اي خواجه محمدَ صبر وظيفه کړه   طمع مه کړه د وفا له دي جهانَ

چه هيچرته ښما په مراد را نه غلي
زه خواجه دِ څه ګناه لرم آسمانَ

د دنيا پر لوئي مه کړه هوسونَ   د مرګي په ناره ورا‌ن شو الوسونَ
ښايسته ياران ګلونه د بهار وو   د آهار په غرمو مړاوي شول وُ سونَ
اوس همه پر تورو خاورو کښ پراته دي   چه کړي پکړئي سواره وو پر آسونَ
چه ئي خوب پر بيچاونړو کا د خوبانُ   د هغو له مرګَ تير شو عرسونَ
هغه جونِ زلمي لاندِ شوِ تر خاورو   چه پاسته ئي تر بخملَ وو لاسونَ
فاضلان د زماني تر دنيا تير شو   چه پر تول د طالبانو وو درسونَ
طبيبان مي به په کوم پرهار ملهم ږدي   درست مجروح يم د هجران په الماسونَ

زه خواجه محمد چه ژاړم ګرم خو نه يم
چه را ياد شو د يارانو مجلسونه

چه را ياد شو مجلسي ياران د ميني — ګډي وډي مي پر مخ څي اوښي وينه
ښي ښي خولي ئي همه شولي توري خاوري — چه هله ئي پر خبري کړي شيرينه
چه کړي پکړيي ئي يښي و له خياله — اوس له خاورو سره خاوري شو کمينه
څما زړه ترکانړي سخت هيڅ و نه شوي — ښه ياران د رڅخه درومي ته ئي وينه
په هيڅ رنګ به خپسر خلاص نه کړي له مرګه — که ته کوټي ترخان چاپير کړه آهنينه
اوس همه په تورو خاورو کښ پراته دي — چه په ناز ئي و ساتلي بشري سپينه

په هر ساه ئي شکر کړه خواجه محمده
چه داخل د محمد نبي پر دينه

په ما غم دي واړه ستا د مين مينه — زړه مي درست پاره پاره شه وينه وينه
اندرون کوګل مي درست د وينو ډک شه — ظاهري جامي واغوستي سپينه سپينه
بيا د نوي پرهارونه په ما روغ کړه — لرغوني مي لا روغ نه دي څنه څنه
په ژوندون ئي څه احسان را سره نه کړ — څه په ګاردي که ئي کړي په مړينه مړينه
زه د درست له باغ و يستم دلبره — تورزاغان پکښ ميوي خوري خورينه خورينه
تورو زلفو د خوشبويه کړه ملکونه — دواړه کلوښتي دي د مښکو چينه چينه

خماري سترګي د دواړه شنه مزري دي
د خواجه محمد و مرګ ته ورينه ورينه

چه بادشاه ئي د جملهٔ ښايسته وو — خبر واخله د عاجزو خوار خسته وو
زړونه مه ماتوه لعل د بدخشان دي — بيا مشکل دي رغول د شکسته وو
زړه مي ستا پر محبت سره ترلي — نظر و کړه په دا خپلو دل بسته وو
د چمن ګلونه واړه پر تازه شو — شمال راغي ستا د مخ له ګل دسته وو
چه ئي قد و قامت ستا په سترګو و ليد — ملا شوه تيته د همهٔ آراسته وو
درست ئي و يستم له عقله له شعوره — ستا خوږو خوږو خبرو آهسته وو

څما سر به تر اوم آسمانَ تیر شي که مي کړي د خپل مجلس له نشستهوو
یارَستا په څیر نیک خويَ سړي نشته مګر تا زده کړ دا خوي له فرشتهوو
زړه ئي یووړ له خواجه محمد کلیمَ په فریب فریب فریب دهان بستهوو
سر و مال به همګي څنِ قربان کړم
زه خواجه محمد مرید د ښایستهوو

چه مین د زیړو ګلو د بوستان شو پوره وري د غمونُ بلبلان شو
په فریاد ناري وهي پسِ چیغار کا چه ګلونه واړه توئي پر خزان شو
چه هله پر خوشبوئي د ګلو مست وو د هجران غمونه واړه پر تاوان شو
مشغولا خندا ئي بیله شوه له خلقَ ور ته زهر لذتونه د جهان شو
لا میوي ئي د وصال څکلِ نه وي په ارمان څبله جدا مین یاران شو
یو څو ورځ ئي خوښي د وصال ؤ کړي اوس په بخره ئي ګلونُ د هجران شو
اوس که ښتي له نصیبَ نه خلاصیږي په ازل بخره چه غم د عاشقان شو
طبیبان د زماني که ډیر پوهیږي د خواجه محمد په رنځ ولِ ناداں شو
زه خواجهِ محمد به ډیر آه ؤ فریاد کړم
ساعتونه. د وصال څما ارمان شو

ډیر ځلمي جونه د تورو خاورو بندیان شو ښکولي بشري ئي څموږ د زړه ارمان شو
مه کانږئِ امید پر دا فاني استوګه نشته وار په وار به موږ همګي پسِ روان شو
خلق چه څښتن د ولایت د خزانو.وو اوس ئي له دنیا نه ورک نام و نښان شو
هرچه فقیران ور ته ولاړ لاس په نامه وو اوس پر د لحد کمر پریواته ویران شو
نوم ئي د جود و عدل شته دي لا تر اوسَ تیر له دا دنیا حاتم طائي نوشیروان شو
نشته دي په زور نه په زاري خلاصي له مرګَ سځ د عارفانُ چه مشغول پرجاودان شو
زړه مي په الماس د بیلتانه پاره پاره دي وار په وار همه جدا مین یاران شو
تله دي له دنیا نه خواجه محمد څه امید کا
لاندِ چه تر خاورو ښایسته پیغمبران شو

د دنیا عمر دِ تیر کړ بیهوده — که شپیته وه که اویا که زیاده
بخت ور له دنیا نه فایده یووړه — تا بي زیانَ هیڅ وُ نه کړه فایده
د مجلس یاران همه درڅخه لاړل — نظر نه کړي په رنړو سترګو اوده
پر سړي باندِ چه غم پریوزي جوب نه کا — ته چارپا ئي که سړي آدم زاده
پلار نیکونَ دِ همه له مرګَ تمام شو — خلاص به نه شي یك تنها علیحده
زنده سر به په دنیا کښ پاتي نه شي — چا آخستِ ده غافلّ ستا عهده
له پیرئي دِ ږیره سپینه شوه ملا تیته — لا تر کومَ به پائسړي جکك زده
ستا شپیته کلونه تیر شو او زوړ شوي — ته لا ځان ګڼړي د ده و چهارده
که عاقل ئي دنیا پریږده قلندر شه — فقیران په دواړه کون دي آزاده
د ګمان پرده دِ لري کړه له مخَ — رضا کیږده د صاحب په اراده
د مغان د میخاني د در خادم شه — چه د عشق له جامَ درکاندِ باده
هدایت و ماته وُکړي یوَ خدايَ — چه و تا ته ځم په سم لارِ سیده
که ما بد وُ کړ بنده یم بي ادبَ — ته بخشش کوه پر خپله قاعده
چه سړي و بل څه ورکه بیا ئي آخلي — ته خو خداي ئي بیرته نه آخلي داده
ګناه کار خواجه آزاد کړهِ غني خدایه — غنیان تل آزادوي زاړه برده
ته ستار د بنده‌ګانو ئي صاحبَ
ځیره مه کړه د خواجه محمد پرده

ستا تر مخ پورِ خجل باغ د ارم دي — بي له خالَ څوك محرم په دا حرم دي
د نهایست مخي دِ نشته پر جهان کښ — هر سړي چه صفت نه کاندِ کرم دي
چه صفت ئي ستا د حسن آرویدلي — نا دیده پر مین شوي لاجرم دي
هسِ خوښ په تخت د پاس خورم نه وي — چه عاشق ستا په در کښ خوښ خورم دي
چه ئي ستا د آستاني خاوري بوسه کړي — هغه کسَ په دواړو کونُ محترم دي
پر هغو د عاشقئي بوي حرام دي — هرچه حب ئي د دینارُ د درم دي
هیڅ عمل ئي د نیکئي دوړاند نشته
د خواجه محمد امید ستا په کرم دي

له دیوان د میرزا خان انصاري

میرزا خان انصاري

الف اول څرہ وحدت دي
نن راغلي پر کثرت دي

د ناسوت په کیل ئې زرہ ؤ
څرګند کړي ئې قدرت دي.

هستي ئې بې پایانه
په هرڅه کښ ئې صفت دي

پر سري باندِ ئې ېښي
دا خپل علم امانت دي

مجازي غلاف ئې کړي
په کښې ېښي حقیقت دي

پ یوه کښ دووم نشته
بیهوده ګمان غفلت دي

هرہ چار کاند پخپله
بهنه کړي ئې صورت دي

طالب ئې فو فنا که
له مطلوب ئې غیرت دي

له اوباله نه ویریږي
له ثواب فراغت دي

پهر کور کښ تجلا کا
عجب نور د معرفت دي

میرزا په پښتو کړي
د یوه مولي صفت دي

خ خودي دِ خپل ګمان دي
په ګمان کښ دِ ډېر زیان دي

په صورت غلطي مه کړہ
په بهار پسې خزان دي

په مقصود پسې منزل کړہ
څو په حکم دِ عنان دي

مولي نه دي له تا لري
در نږدي دِ ترخپل ځان دي

په زمکه په آسمان کښې
هم محیط تر دغه میان دي

په وحدت کښ یګانه شه
پر کثرت باندِ پریشان دي

له لاهوت ئې را کوچ کا
نن ئې سیل پر جهان دي

حد پایان ئې مونده نه شي — په سړي کښې ئې مکان دی
خود پخود کاندِ بازي — بهنه کړي ئې انسان دي
هرولي چه آغاز وُکا — څرګند شوي ئې برهان دي

د میرزا ګمان فاني شه
هرچه وائي میان روښان دي

ص صِرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ دي — او منزل ئې په ډیر بیم دي
د شیطان مکرونه ډیر دي — لا بتر دِ نوس غلیم دي
د هوا پسروي مه کړه — بد ئې حال بد ئې تعلیم دي
د اولاد لومه ئې کښیښوه — خال ئې رنګ په رنګ نعیم دي
یو حصار ئې نام و ننګ شه — بل ښایُست ئې زر و سیم دي
ګوښي څوي په ورو ك — هر چې نقش پر ګلیم دي
په دنیا به معمور نه شي — چه په نغوتَ د رجیم دي
که اقلیم ئې شي په حکم — زړه ئې بند په بل اقلیم دي
چه د نوس امرونه نغوړي — وَلَهُمْ عَذَابٌ اَلِيْم دي
چه تردا آزمیښت تیر شه — د کامل قلوب سلیم دي

پر میرزا ئې عنایت شه
هُوَ التَّوَّابُ الرَّحِيْم دي

ع عیب د بد ګمان دي — په ګمان عالم حیران دي
هغه زړه به جمع نه شي — چه په هیڅ پسي پریشان دي
د وحدت بهره ئې نشته — پد کثرت کښې ځان پځان دي
د پندار تابیه ئې ډیره — لک ابر بې باران دي
نه کمالَ به ور نه شي — چه نظر ئې پر نقصان دي
نا پوه ظلم پرِ ځان کاند — چه د امانت زمان دی
خود پرست په خودي لښلي — د آدم په دود حیران دي

روح یوسف شه په صورت کښې دا صورت خو ئي زندان دي
چه له دي زندانه خلاص شه د امین مقام امان دي
مست د عشق په بوراق سور شه خوښ وتلي پر چوگان دي
میرزا راشه ننداره کړه
دغه کوي دغه میدان دي

غ غیر خوي تغیر کړ روح بادشاه عقل وزیر کړ
نوس نادان دي مه ئي نغوره ته دانش په فهم څیر کړ
د شیطان مکرونه ډیر دي هر افسون د ده څنځیر کړ
ستا په کور کښې پنځه غله دي واړه ځاي پځاي اسیر کړ
بده طمع څني واخله توکل په زړه ځاي گیر کړ
و اخلاص وته نژدي شه آواره لباس تذویر کړ
په بیوره مي در ته وُ وِ درست عمل په دا تدبیر کړ
که په دا صفت موصوف شي نور صحبت له خپله پیر کړ
له خناس خاطر رغوره د خداي یاد بانډ تحریر کړ
مجاز خوب دي په دنیا کښې نن د حقیقت تعبیر کړ
د میرزا کلام دقیق دي
ته ئي فهم پر تفسیر کړ

اي په ځان له خپل ځان بي خبر ته معني له معني وُ غواړه بشر
د ایمان له روښنائي خبر زده کړه دا د کفر تیاره یوسه تر سحر
له گناه و طاعت وته روان شه دغه لار د بي اتڼوه بي خطر
دا خفي ذکر چراغ د حقیقت دي د کامل له لاس بله ډیوه دَر
که چراغ د محبت دِ په زړه بل شي د رندون لذت به مومي سر د سر
عارفان د دواړو کونو ننداره کړ شوپرک په تیاره گرزي بي نظر
نا بینا مي د ښائیسته له خال څه زده د آواز معني به څه غواړي له کر

یو په یو به د هر قام په ژبه پوه شي   که د زړه غوږ دِ شنوا کړي مبصرَ
د صفات په عددونه غلت مه شه   او د ذات اصل ته ذاتَ پورِ ورَ
فاصلان له خپله جودَ په عذاب دي   د فنا ویره په څه شي له ضررَ
هر واصل چه له فاني خوي فاني شه   د بقا معني ئي راوړه مقررَ
د کثرت په انبوهي کښ ئي سفر کا   د وحدت په دیدن راغي ته حضرَ
دا میوه چه پخپل ښاخ پوري پخه شوه   د کمال دعوه ئي وُ کړه مختصرَ
که هر څو دِ په لوئي نهایت نشته   په دا وجود کښي دِ تمام وینم شجرَ
له اولَ دِ بنیاد له ما زرغون شه   د مقصود چارِ دِ پر ما شوه موخرَ
د شجر له لوري هسي څواب وُ شه   چي تا رنګ و خوند له چا موندَ ثمرَ
له یوي میوي یوه ونه پیدا شي   او میوه ئي کال په کال شي مکررَ
ترو دلي وتَ څواب د وني به دي   که وینا د دي میوي ده معتبرَ
له بي مغزه هیڅ غله نه زرغونیږي   څوک د تخم غله نه کا مقشرَ
د نفر په خپل صاحب پور عزت دي   د صاحب صاحبي نه شي بي نفرَ

د میرزا خبري وُ غواړه په زړه کښ
که د زړه تخته دِ نه ده مکدرَ

ما چه وُ کوت په باطن د معني ولي   د وحدت په انګښ میشت د کثرت کلي
د لطیف د بیحدئي صفت به څو کړم   چي تمام کښیف ئي رش پرِ مخ نیولي
پر ابو بادِ د خاورو جهاز وینم   لور په لور د کانیو میخ ترِ وُ ختلي
په هوا ګردان په څو پر بل ګرزي   لوي حکیم په کوم حکمت پورِ تړلي
د عاقل د عقل قیاس رسیدي نشي   چه د کن فیکون لاس دي رسیدلي
دا ساده آسمان په نقش و په نګارشَ   د قدرت په الماسونو دي کندلي
آفتاب مهتاب چراغ پر باندِ بل شو   دغه خپل هنر ئي ته پریښود پوښلي
له اورو ئي ښه باران پزمکه کښي کا   ځاي په ځاي ئي نباتات باند کړلي
د بهار د خزان مخ پرِ ښائیسته شه   د غرمو د سرو رنګ پرِ پورِ وهلي

کل د بیرنګیٔ ئې رنګ دي څرګندېږي   رنګا رنګ د زمکې مخ پرې آځنلي
پهر لور چه نظر وُ کړم لون لون   د عظیم فراش بسات دي غوړولي
بي حسابَ مخلوقات چه څرګندېږي   د دي لوي شطرنج لښکر دي پسولولي
و هر چا وته خپل قسمت رسېږي   له ازل ئې سور سور دي پلي پلي
دا آدم په اصل واړه سره وصل   څني څني بادشاهي کا څوک نتلي
حیوانان که ژوندي ګرزي بي تکلیفً   کل د کړو د نه کړو بار پر سړي لښلي
هر سړي د خپلِ چارِ پسنده دي   تن په تن د حاکم حکم پر ویشلي
د الست رحم پر هرچا برابر دي   په اختیار څني منکر شوه چا منلي
مخلوقات د آدم زاد د پاره وُ شه   او سړي دي معرفت لره سازلي
چه په دا حیات خبر نشي له ذاتَ   هر حیوان څه انسان نه بویه بللي
چه د نفسِ اماره په نغوته کښیووتً   که ظاهر صورت حیات روح ئې وژلي
د مجاز په ړوندون څه لره نازېږي   بي طلب پر لار ولاړ دي لك څلي
تل په غتي سترګي خوب کا لك سویه   په څو ویښ د خوب بیولي په دود غلي
د خناس به نصیحت له لارِ وُ ووت   دِ ریا په ډېر مکرونه څان تکلي
خوارجاهل د دیو و ددو په حساب دي   لا بتر له خوشیو مړو سره شمېرلي
تنګ تاریك زړه ئې لحد روح ئې مردهٔ شه   آراسته صورت ئې ګور باندِ دربلي
او پرېشاني اندیښني مثال چنجي دي   ګور لحد ئې سلامت روح ئې خوړلي
هیڅ راحت پرِباندِ نه شته بي عذابَ   دم په دم په خواري خوار په خوي رټلي
د یوه صورت د وړو قوت ئې نه در   امانت ئې په سر واخست بي تللي
د قچر په دود ئې اصل بر طرف شَ   چه یو اصل په بل اصل ګډولي
د ظالم د جاهل هسي رنګ بایده وو   چه تیري نارِ ئې کړي سر ئې وهلي
هسي بارچه آسمان زمکي وړي نشي   بي قوت نادان په کوم فوت زغملي
پَ تلوار د کاملانو طلب بویه   چه دا بار شي و تښتن وته سپارلي
هردانا چه له دغه تاوانه خلاص شه   ترو سهي علم لدون پر ورغلي

د دي هسي علم قدر اولیا زده چه په ښـان ئي تر جهـانَ پلتلي
د ده امر پهر څه کښې روانیږي د اومو خاورو دیوال ئي دي تنډلي
مردکان ئي د ږوندیو په حساب کړل چي کامل په خپله دم په کښي دملي
تل ته تله به حیات وي مرګ ئي نشته چي حیات د حیات مزي ترِ وکښلي
کوم نیك بخت له بیګانګۍ پاکیزه شه چي ولي د ولایت پـه اوبو وللي
پر اوبو باندِ د ده چراغ بلیږي شرك ګمان پرِ باندِ سوزي لك خلي
په طلب ئي نحوست له ستوریو واخسټ په ښه خوي ئي هیڅ ساعت ندي کړلي
لك حق د اولیاؤ د صفت دي
اي میرزا له ډیرو لږ دي چا ویلي

محبوب نه ده له تا پټ اي د ښان دوږاندِ ښتَ
ته په خپل خپل حجاب شوي د ګمان په لار کښې هټَ
ته ښرګند شوي دا غایبَ ستا پر ښیر ده کټ وټَ
پاکیزه له شش جهتَ ښره مخ شوه بي له ښتَ
که دا وُ ویني نیکبخت ئي ښو دِ ښان ته ګوري رټَ
چه په زمکه تومن پریوزي یو ښل ورك شي ساپټَ
دانه چري زرغونیږي په خشکي کښې سخت غټَ
بورا سپك پرِ ګلو ګرزي تر بار لاندِ شو ګونګټَ
لنبه زر تر واښه پریوزي په زار سوزي پیرږه سټَ
زږه ژوندي په محبت دي چي چي ښودي بي لوهټَ
میرزا شرط د عشق بازي
پتنګ درست کا له ډیوټَ

د عشق درد دي بي پایانَ الغیاث بي علاجَ بي درمانَ الغیاث
ګل هرګز بي خاره نوی آشنائي ده له هجرانَ الغیاث
شاه له خپلَ ښانَ خوښَ بي پرواهَ دل ستانَ الغیاث

د عشق درد به هغه ویني چه خبر نه وي له څانَ الغیاث
د آشنا په یاد ږوندي یم زه به نه پایم بي جانَ الغیاث
د میرزا فریاد د دغه دي
چه مقصود ئي بي نښانَ الغیاث

څه عجب دي د عاشق د خاطر اوج چه و تخت وته ئي لار نه وَه د عوج
دا منزل ئي د صراط تر غاښي سخت وه ترو په سوُ پرِ باندِ وُ خوت د عشق فوج
محبت ئي یو بي حده لوي دریاب شه په ورمي اثر ئي لاندِ کا تر موج
د وحدت توره ئي واخست له میانهٔ پر کثرت ئي نامه کښیښوه د زوج
اي میرزا محیط و هر چا رسیدلي
او کنګا پر شمس آباد دي پر قنوج

په ژوندون که دِ رضا دي بي لالچ دغه صافه سینه خلاصه کړه له غچ
په غفلت دِ خاطر ښکلَ ځنګل شه شیطاني وسوسه شپږه ګنړه رچ
نکران زړکي دِ یو اندیښني ډیري د ږوندون وعده دِ لږ و ډیره هچ
روحاني میلمه عزیز دي ښه ئي کوره د ملوک لائیقت نه لري خمچ
بده طمه د سترګ خوږي په دود ښوري ښه توکل ئي خلاصه کړه له لچ
وو شریر کړیدل په کهتري کړي د غرور توره دِ کښیباسه په تچ
په مثال د نرمي لښتي شه ځمیزه نه پخپله رضا سخته ګرګه وچ
د پښخو کتو عجب سره واده ده چه په کهتري اقراره شوه کمچ
د صورت په کمیني کښي درجه ده د نسکین لائیقت ورغي ته خچ
په ظاهر کښ د باطن ننداره کړه د یقین په اصل لوي په ګمان کچ
اي میرزا د یکانګي لوئي کوره
چه شیرین عسل پیدا شي له مچ

ترخه شراب بایده دي چه تعریف ئي شي له زور مګر یو زمان په خشو شم د دنیا له شرا شورَ
د ساقي له میو نوش کړه زینت واره فراموش کړه چه سلیمان له تختَ پریوت څه بهرام څه ئي له کورَ

غه امید کړي پدا دهرنوش ئې نیش داروئې زهر — په طلب کښې ئې ډیرغم دي د بیلتون تلخي ئې نور
وڅ په روښ فرښتي سفرکا لور په لورِدا خبرکا — عمارت به کل خراب شي هرچه وُ زیږي له مور
رخو زړه پدنیا بند کړي عاقبت بخښي پندکړي — که په دا دِ باور نشي ستا ښخوا پیرئِ ګور
نیا ناوي زړه شوي په خون نه ده مړه شوي — مقتولان ئې څان کندن کا بیا ولاړه ده سر تورَ
غو ئې مړه پراته په غولي نوي نور عاشقان بولي — چه د زړه سترګي ئې نښتي پسي زغلي لورد لورَ
رسړي چه پرعاشق شه په ړوندون د غم لایق شه — په عمل ئې نه پوهیږي د هلك مینه له اورَ
ه دنیا پسي څو درومي قرارګاه به ئې نه مومي — که ته مخ په نمرؤ نسي در پسي به دروميسیورَ
نیکخواه پندونه نغوږه په مقصود پسي وُ کوږه — کم دلیل په غوږو کوږ دي زه وتا ته وایم وروَر

میرزا وخت دِ آخرین دي پرِ قسمت سفله کمین دي
د دي دوَر فتني ډیري لـه بدانو خپسر رغورَ

که یوڅل د خدّاي له عشقَ همخانه شِ — په یو بـه لـه عـالمَ بیګانه شِ
له هستِي به نیستي درلره درشي — په دا نیست به له کل هستَ یګانه شِ
دا کمال عقل واړه تا څخه دي — په نظر بـه د کم فهمو دیوانه شِ
د تهمت غشي به واړه پرتا ووري — ترو به ته د عام و خاص نشانه شِ
د زړه حال به له نا اهل خلق واخلي — همیشه به لکه ګنج په ویرانه شِ
دغه خپله ودانې به ویرانه کړِ — بیا به ته د کل ویرانو ودانه شِ
که دِ څان پردا سوزانَ لنبه کښېښو — په دا دود به څان ګداز د پروانه شِ
یو شراب حقیقي به دِ ترخله شي — قل به مست په دغه مست مستانه شِ
په هیڅ دود به د دوو کونو پروا نه کړي — که توانګر د قناعت په خزانه شِ
ترو باران به د رحمت پر عالم ووري — هم به تخم پر جهان دانه دانه شِ
دا د حال اهل به ستا له حالَ وائي — په رښتیا بـه د رښتنیو افسانه شِ
په ویل به د ویلو څواب ور کړي — ته به زیب د واړو چنګ و ترانه شِ

که ګویا د دِ ګویا په ثنا کښېوزي
دَ میرزا په دود به یاد پزمانه شِ

چه امید په دروغجن مکاره ك | په دا هیڅ هنر د هیڅو انکاره ك
د نادان د ناداني تر فهم و عقلَ | چه په سخت اهار د واورو مناره ك
وداني ئي مشقت په زهیریږي | ویراني ئي نوي غم پر دوباره ك
هر سړي چه له دنیا وفائي غواړي | بي وفا په ډیر غمونه اجاره ك
سعد و نحس په کرده پوري تړلي | کم دلیل د چار قیاس په ستاره ك
زه عجب و دغه هسي رنګ عالم ته | چه امید به د حباب په نواره ك
یوه ورځ به دریاب موج وهي پر بله | په تعجیل به د حباب جامه پاره ك
سالکان چه دا رواني اوبه ګوري | په دا تله کښي د خپل عمر نندارہ ك
دانایان د خپل مقصود په طلب ګرزي | حیوانان زیرمه د نماستو د چاره ك
ذاکران چه د غفلت له خوبَ ویښ شوُ | د نفس و چلیده ته نظاره ك
مسافر چه له خوارہ خوبَ بیدار شي | په سحر جرس د تلو په وقت ناره ك
د فقیر چوښي له سوزه له کتابه | امرا به ئي په توغ په نغاره ك
هغه ملك به له خلل نه خلاصیږي | چه لښکر ئي لوّامه او اماره ك
که آشنا د نا آشنا خبري نغوږي | آشنایان به خپلي چاري آواره ك

چه فرمان د زورور وربانده وُشي
د میرزا قوت له کومه څه چاره ك

زه به څه وایم چه څه یم | نیست و هست واړه په ده یم
هر چه نیست شي له هستيِ | د نیستيِ معني زه یم
که ذره د نمر په مخ کښِ | ګاهي غوټه پر اوبه یم
د وصال په هوا ورزم | د دي لا مکان مرغه یم
ځان د یخ په نامه بولم | جمع شوي په ساړه یم
یو ځلور عنصر مي واغوست | د آسمان پر مخ اوره یم
له وحدتَ پر کثرت شوم | هغه نه شته چه زه نه یم
حیاتي مي له حیاتو | او ګویا په هره خوله یم

زه شنوا په کل غوږونو | بینائي د هر لیمه یم
توانائي مي په هر چا کښې | دانائي د هر ژبه یم
ارادت مي دي له واړو | بیا راضي په دا خپل کړه یم
له بدانو مي بدي ده | له نیکانو سره ښه یم
د نیکبخت پر بخره شهد | د کم بخت په ځان لاشه یم
له هر چا یم په هر څه کښې | خیري نه لرم ناره یم

د میرزا په خوله وئیږم
یو روښان بي مثل زه یم

که جهان د حقیقت په نظر وینِ | زیان و سود مي د هر چا له خپلِ مینِ
که لاهوت ئي ښائسته په سادګي دي | دَ ناسوت جامي ئي روغ کړِ رنګینِ
دانایان په هر ظاهر کښې باطن ګوري | د جاهلو زړونه تور شوه سترګي سپینِ
یو اصل د اوبو دي یو د زمکي | او میوه څني ترخي شوي خوږ شیرینِ
د مشرک آرسئِي یوه مخونه دوه شوه | د عارف سترګي مي دوه نه دي دوبینِ
د حقیقي محبوبه څه رنګ صفت کړم | چه آخر بخري ئي راوړي اولینِ
نن مي ځان له سود و زیانَ فراغت کا | واړه عمر امر وینم له مسکینِ
یو زمان هستي نیستي نیستي هستي کا | د فرمان چارِ ئي واړه دي متینِ
سامعان ئي د رموز په معني پوه کړه | د واصل ذاتُ صفات دي له امینِ
سالکان ئي د سکونت په سر روان کړه | دَ اول چارِ ئي واړه کړي پسینِ

د میرزا مخ ئي و مخ ته ائینه کا
د بینا سترګو لیده د زړه یقینِ

هر سالك به د سلوك په لار کښې سم مري | چه د حقیقت د مینِ په صنم مري
دغه عقل چه پر عشق باندِ شیدا شه | د عرب په مینه ګوري چه عجم مري
حیاتي به تر ابدَ آرزو نه کا | عاشقان چه لهِ محبوبَ سره محرم مري
تر دغه ښادي به زیاتَ ښادي څه وي | چي په هسي محبت کښې دم پدم مري

معرفت ئي د عارف د زړه چراغ کا   د توحيد ډيوه چه بله شوه تور تم مري
بد گمان د نا بيناو رنځوري ده   چه صحت ور لړه ور يشي الم مري
ذوق و شوق ئي د اندوه پرغولي پري مشت   چه ښادي ئي په کمال شوه اوس ئي غم مري
عنايت د مسيحا ور سره مل شه   په افسون ئي گهي مار گهي لړم مري
واړه چارِ ئي په امر پوره کيږي   بد خواهان ئي له دښنو سره درهم مري
خداي جوئي د مخلصانو حياتي ده   لك كب چه يو زمان بيرون له يم مري
د الف د يكانكئي بزرگي گوره   چه دوئي ئي له عالمَ په رقم مري
مشركان دَ خان تر سيوري فراغت شوُ   چه دا يو يواځي وُ ويني دووم مري

ذات صفات ئي هميشه پر يوه حال دي
د فقير ميرزا خويونه زياتُ كم مري

د دي مستي شها زلفِ تار په تار دي   غوړولي لكَ سيوري په رخسار دي
هر ويښته ئي گوښي گوښي كمند روغ كه   خوري شوي د زخمي زړونو په ښكار دي
پر هغو زړنو به چرِ قراري وي   چه ځكولي ئي د ميني په مهار دي
چه له هسي خپله ځاي شوي بي ځايَ   د استوكي ملك ئي كوم دي چه قرار دي
چه د دي محبوب په مينه ديوانه شوُ   اوس وتلي له تسبيحَ هم له زنار دي
واړه چارِ په خپل مينه شوي دوراندِ   او بي ميني له جمله كارَ بيكار دي
په خلوت په ميخانه كښي ئي ځاي نشي   نه په مينه د مسلم نه د كفار دي
له دي هسي شها ځرنګ هتياتي كړمْ   چه كاته ئي و ويشتو وته طيار دي
ښائسته صورت ئي ونه د چندن كړه   دا گيسو ئي ترِ پريوتي لكَ مار دي
چه و هسي رنگ ديدن وته هوس كا   د جهان غمونه واړه پرِ انبار دي
هميشه د عاشق زړه باندِ ورتيږي   د محبوب كاته لښي ستركي انكار دي
نن ئي بيا د خپل جمال ډيوه كړه بله   عاشقان لكَ پتنګ ترِ زار و زار دي
عندليب او د عاشق نامه يوه ده   په ثنا ئي خير زړونه موسيقار دي
دغه ستركي ئي كنول كسي بورا شو   او كاته لك هوسي صاحب اختيار دي

دواړه وروځي ئې ليندي بانه ئې غشي — و آشنا ته ئې نيولي په گذار دي
مخلصان په دواړه کونَ آزادي که — د محبوب و ښه ديدن وته حصار دي
تردغه خوښي به زيات خوښي څه وي — چه هر دم ئې و نظر ته انتظار دي
دا کثرت ئې په وحدت باندِ ارهټ کا — او راتله ورتله د هرچا پخپل وار دي
و هرچا وته ئې خپلَ پوهه کښي ښوه — د هر چا ليده د فهم په مقدار دي

اي ميرزا ته دا ملالي سترگي وينه
چه مدام د يار له ميني په خمار دي

د عاشق له حالَ څه پوښتي وکړي — د بي حدي لارِ قياس نه دي چا کړي
په دا هسي غم به ولي مبتلا وم — که خاطر مي د نظر له نغوتي ژغړي
پر هغو باند به څرنگ قراري وي — هرچه زړه ئې د محبوب کرشمي وړي
محبت ئې د خراب خاطر خنځير کا — د ديدن په زور ئې را ځکاوه دا پړي
يو عجب د ميني حال پرِ برابر شي — بي ديدنَ نا قرار په طلب سترِي
بي اختيارَ د اختيار تلاش لرينَ — لدي مرگَ د روندون هوس کا مړي
چه ميوه په کماليت له وني پريوزي — په خوښي له زمکي سر پورته که زړي
دا حباب له اوبو روغ پر اوبو مات شه — د سيلاب له مخَ تښتي نيازه وړي
کم دليل له خپلَ بختَ مشوش دي — دا هوا ئې تښتوي لك خسړي
د معني په معني يو يو پوهيدلي — پر ځړه لارِ سفر کا ځړه وړي

اي مِيرزا و آئينه ته نظر وُ کا
د پولاد په ميان کښ نشته اوسپين خړي

له دیوان د محمد کاظم خان شیدا تخلص

ځوي د محمد افضل خان ختک

محمد کاظم خان شيدا

بسم الله الرحمن الرحيم

آلهي د محبت درد و فغان را   په معصوم کنار د نور غنه جانان را
چه مژگان مي د جوهر حکم پيدا کا   هر نفس لکه مرآت حيران چشمان را
ما له درده د غنچي په شان اوده کړه   و پهلو ته مي بستر د خارستان را
چه خپل برگ په آب د چرخ نه کړم سرسبز   د همت علو پشان د کهکشان را
چه مدام وي په چشمه د آفتاب وللي   د سحر پشان درست عمر سپين دامان را
چه کباب ئي په گرمي څما جگر شي   د لاله غند په جام مَي جوشان را
چه خالي نوي يو دم له جوشِ خون   زخمي زړه لکه غنچه په تيز پيکان را

ما شيدا کړه د يثرب له جاروب کښو
و تدفين وته مي خاک د پاک آستان را

مرده دل ئي د جمال تماشا څه کا   د مجنون تصوير ادا د ليلا څه کا
چه آشنا لکه غزال د هيچا نه وي   په هغو سترگو اثر د وفا څه کا
د سرور اسباب په کار د مهجور نه شه   د دستار غنچه مقدم د صبا څه کا
چه پاره ئي گريبان لکه سحر وي   تستر د حال دا هسي رسوا څه کا
هرگز نه لري بهره له دشت و پايه   د سمک عالم به رنگ د حنا څه کا
سپک په شان کړي د حباب تنک ظرفي   و تمکين ته دِ جوشش د دريا څه کا
د وفا طمع ئي مه کړه سکندره   ور ته وه گوره دوران په دارا څه کا
په ستم ئي د تاختن تمام خراب کړ   د محمل ناقه ئي نور په صحرا څه کا

که پرواز لکه شهبازؤه کا هاله شي
ګیرائي د هغه دام په شیدا څه کا

که ساقي تلخه باده درياي شورکا — د فلك په جام به مست کله مې خورکا
آراسته وي تل محفل د خندهٔ رویو — زمانه به د ګل جام څه رنګ نسکورکا
چه په لاس کښې ئي تل چوب لکه شانه وي — بې افسونَ به نیول د تور منګور کا
دل تنګي کړم لکه ګل په خندا ورکه — که مې بل د صبا باد په خونه اور کا
چه په سرئي سبزآسمان زري دستاروي — عاقبت ئي لکه شمع بیا سر تور کا
لکه ګل کړي ګران بارتر دامني — باد دِ څه لکه غبار په کتف سور کا
چه امید په خپل صورت د وفا نه شته
شیدا څوك د ځان آشنا یا ئي خمسورکا

ستا ګلګون به ولي عزم د میدان کا — په دیده مې دِ ګردش لکه مژګان کا
پس له مرګَ وي ناله د سینه چاکو — بې نفسَ د جرس غندِ فغان کا
و اصلاح ته ئي نمك ګرزي په خیال کښې — هر خاطر چه د کباب غندِ بریان کا
تیر ماري دَ هغو زلفو لوي آفت دي — چه حلقه ئي و عالم ته په کمان کا
چه نفس ځما د آه کا سر کښې — فلك لاندِ خپله شمع تر دامان کا
د حباب په شان ئي زړه نمایان نه شي — چه سینه له درده چاکه بیدلان کا
و صحبت وته ضرور مناسبت دي — سنبل څکه په سرو ګلو پریشان کا
هرمضمون ئي مبتذل په شان د ني دي — ګویائي چه د معني تهي دستان کا
که نرګس غندِ عصا د پیرئي واخلي — عاشقان به کله بند وري چشمان کا
دَ نمراورئي په سربل به فریاد غرونه — دا سنګدل مګرستم په درست جهان کا
تل په خپله ښیښه مست لکه غنچه یم
څه به یاد په ما شیدا پیر مغان کا

حلاوت شه په عالم کښې بس عجب — په شکر باندِ شي لید مګس عجب
ګرمي هسي د صحبت ولاړه له خلقَ — چه له اورسره ښکاره شي خس عجب

سر بالا کړه لکه ګرد تر ګرد غافلَ — نن فریاد کا په دا لار جرس عجب
بلندي ئي د حباب په شان یو دم ده — څه آماس لري د سر نا کس عجب
له تیزيِ ئي هیڅ غبار د جولان نه شته — لکه چرخ لريَ کبود فرس عجب
د مسب له پردي ؤ زه شیدا ګوره
بي حائلَ د ګرداب قفس عجب

څه حاصل د ممسکانو له دولتَ — د اشعار بحر وي تل بي تراوتَ
خود بیني کله شیوه د صاف طینت ده — سترګي نه دي هیڅ آګاه له دِ رویتَ
سرګردان کاند ګرداب خلاف د بحر — پیروي ده د کلان بي مضرتَ
د زوال علاج هرګز نه شي په زرو — آفتاب وه ګوره چه پریووت له رفعتَ
د مرآت غند جوهر په ایرو ور کا — کله فعل د صاف دل وي بي حکمتَ
چرِنه چه دار محروم په میدان پرېږدي — که یو سر په تن لري بلند همتَ
په ذلت کېږي مي عزت د ارتفاع دي — که مي څوك لکه غبار وهي په لتَ
همیشه وي نرم چوب غذا د کرم
شیدا مشه مرد خالي له سیاستَ

ایوان څه کوي په دا سپنج عبث — دردِ سر وارِه ضائع دي رنج عبث
د دنیا قحبه همیش مردارِه ګرزي — فریفته ئي شوي په ناز و غنج عبث
نه ئي خوري نه ئي خوروي خاورِ ئي قوت شي — څوك چه جمع لکه مار کا ګنج عبث
څو به جورِ وي دریِ مشکین خالونه — یا لباسِ زعفراني د جنج عبث
عاقبت به د دِ نردِ بازي باخته شي — چار و دو لري تل شش و پنج عبث
تک و تاز بویه شیدا په لویه دشتَ
شاطري کوي په دا شطرنج عبث

چه مدام لمستيِ پروت ئي نه کړِ هیڅ اندیښني نورِ — شه ساحل د محیط بحر یعني ؤ خښه اوبه شورِ
شتِ پردِ عندلیبَ د ګلریزِ خس و خاشاك کړه — تل د عشق په نو بهار کښي تر پتنګ پورِ کوزکورِ
نارِه لکه شفق څي سره لمن هسکه نیولي — په آسمان کړه خپله خونه بیا آخته د خون پتورِ

چه بنا ئي هرګز نه شوه دل بسته په مسکن پور   لاب کښي مي کور څکه د حباب پشان معمور دي
د حباب پيالي که بحر تل پلاس کښي وري نسکور   قسمت څني وګړي په هزار شان حاصل کړ
زه په دا افتاده ګي کښي ترګريز کوم د سيور   ريم را باند راشي لکه نمر په زر ريزي کښي

له سائي سره ئي نه وي شيدا سم د شهباز اصل
چه قانع لکه هماي شي د دِ خوان په لقمي سپور

په دا بزم کښي به لوي تر جمشيد نام کړ   د فلك پشان که خپله ښيښه جام کړ
چه ئي لري کړ نقاب له زيبا مخه   د صبا قاصدَ فكر د مقام کړ
ناز به نه کوي هرګز په نو حظئي   انديشه که په آغاز کښي د انجام کړ
مشي بوي د دِ تنك چشمي غنچي ګلَ   ازاله که له دماغ د سر سام کړ
ډير به ستا په سبب خواب د راحت وُکا   که د مهد په شان ورك د څان آرام کړ
رنګ دِ څه وُکا پرواز د غنچي مثلَ   خپل صورت دِ څان دانه کړ هم ګلدام کړ
څني ګوي د هند سبزان يوسي په سترګو   آراسته که په هر باغ شاخ د بادام کړ
د تنور شعله په آب د فواري شي   سرد جوشي که ور ته ياده د ايام کړ

شيدا زده کړه د آفتاب ګرم روئي
لار به طي د خپل مقصد په يوه ګام کړ

په سپين مخ ئي تور زلفِ تار په تار کړ   د عالم خوني ئي وراني وار په وار کړ
څوك دِ زوغ نه دي پريښي پدا ملك کښي   د غمزي توره په لاس په چا ګذار کړ
چه آفتاب دِ د جمال شه بي نقابَ   ښيا به ګرم په عالم د عشق بازار کړ
مسخر دِ ولايت کړ په خوبيو   غلامان به تول خوبان د هندوبار کړ
هيڅ به کم څما جنون نه شي حکيمَ   خپل ګلداغ به را ته عين نو بهار کړ
چه د زړه په هدف تل لکه سم لګي   د کږو بڼو له تيره به څو زار کړ

خپل ناکام به ديوانه شيدا در بيائي
که دامن په کانيو ډك لکه کهسار کړ

بوي په زلفو کښي څما ګلبدن راوړ   که په دام کښي ئي آهو د ختن راوړ

خاصیت لري د ګل غنچه دهانَ   پس له کاله دِ څو ورځي دیدن راوړ
قطرات د اوښیو تل په دامن جمع   په نصیب مي لکه چرخ ګریستن راوړ
چه ځما په آتشین آه نرم نه شه   زړه دِ سخت را ته ترسنګ و آهن راوړ
شمع ځان ترمرګ پخوا زاري عالمَ   د فانوس په بهانه ئي کفن راوړ
سر زنش به بیا د کوم شوریده کاندِ   د صحرا په دود ئي سنګ په دامن راوړ
د ماتم لباس مي سپین په بدن نه شه   ما د خاورو په شان تور پیرهن راوړ

نن شیدا له ځانَ سیر دي لکه شمع
ستا محفل ته ئي بي سرهٔ ګردن راوړ

راغلي بیا په قصد د ګلو ګل فروشَ   چه هیڅ مرغ د چمن نه دي بي خروشَ
هرجرس ئي دي حباب د همواربحر   قافلهٔ په دا صحرا درومي خموشَ
په طلب کښي ئي شه رنګ د ځان په وینو   لا ئي نه رسي یاقوت تر بنا ګوشَ
که افتاب لکه پروین کهي خیزان څي   ستا له بزم روان شوي څو مد هوشَ
ما لباس ورپسي رنګ د ګل په شان کړ   لکه بوي هسي مي وُه ووت له آغوشَ
راشه ګوره د کاکل سیه مستي   یو قدم په لارِ تلي نه شي بي دوشَ

د آسیا غند به زړه د ګرداب وُه چوي
زمانه شوه د شیدا هسي سرد جوشَ

چه غیرت ئي پیچ و تاب په هرموکښیښ   شاني ولي لاس د تا په ګیسو کښیښ
ندي سترګي د آهو ښه ورته څیره شه   ستا د سترګو شوخئي داغ په آهو کښیښ
ګویا بوي د یوه خار په چمن نه شته   تا د ګل په بستر هسي پهلو کښیښ
څو به نازکوي فلک شب هلال   چه له خیالَ ئي کلاه په آبرو کښیښ
چه اثر ئي په بیمارو سترګو کاندِ   په شرابو ئي لقب د دارو کښیښ
پیچ و تاب ئي د حسرت دي جوهرندي   تا چه مخ وته مرآت رو برو کښیښ

هغهٔ لاندِ کړ شیدا جهان په فکر
چه ئي سر لکه آسمان په زانو کښیښ

اي خما تنها خاطره کم فراغ — چا صحبت در سره گرم کړ بي داغ
گل مي هسي په قفص د غنچي بند شه — چه ئي رنگ چړ پرواز نکا له باغ
په باده کښي ئي بهار دي جنون ينبي — را کړه ما ته ښاخ د گلو څو اياغ
در کښي نه شته د چراغ گرم روئي — پروانه دِ څکه ورك دي شب چراغ
تواضع د بلندئي پايداري ده — لکه سر د کوه قاف شه بي دماغ
تل په هيڅ وي سيه مست سفله وگړي — جام جم کله راغلي دي تر زاغ

چه ئي سترگي دي په کنج د زندان سپړدي
د شيدا وحشت خبر نه شه له راغ

بيا دِ راوړي په رخسار تار په تار زلفِ — که پريشاني کړي سنبل په بهار زلفِ
گستاخي وه د شاني شوخي د باد هم — بي څه نه دي آشفته د نگار زلفِ
ور ته وُه گوره عجب دورِ قمر دي — پيچيده د هغه شوخ په رخسار زلفِ
راغله نن نوي فتنه له جولان گاهه — چه ئي راوړي په رخسار د غبار زلفِ
د شاني په دود پيدا کړه رسا فکر — باريکي لري خما د اشعار زلفِ
چه ورځي له درازئي تر زمينه — قدم سم نه ږدي له نازه په لار زلفِ

له کمنده ئي شيدا څه رنگ رها شي
چه شيران د دشتي بند کا په تار زلفِ

چه ناله کړه عندليب د نو بهار گل — خوله چه پريشوه د غنچي پخپل رخسار گل
هرگز نه شه په احسان د پسرلي مني — له صورت کړ پيدا د شمع تار گل
سر سبزي ئي د بهار له ابرَ نه ده — په خپل زخم مرهم کښيښه د زنگار گل
ستا له باغ خزان هسي دور تر اوسه — چه شي بوټي د چکن ستا په دستار گل
شکسته شي لکه رنگ له نازکئي — که بستر کا ور ته جوړ د خپل کنار گل
غلغله ئي په سودا وُ که بلبلي — رخت چه واکا يو نفس په خپل بازار گل
چه په شان د بوي روان شه له چمنَ — معطل نه کړ په لار کښي د پا خار گل

په تدفین به تورِ خاورِ د صحرا وو
ښه چه زرکړه شیدا خرڅ د خپل سرکار گل

چه لبریز لکه لاله په مې ساغر کړم مهیا کباب د خپل سوخته جگر کړم
ملك و مال دي تل باخته د آزادهٔ دا بازي لکه گوي څکه په خپل سر کړم
د فانوس په پرده بند لکه شعله شي زړه که برق د یار په لوري نامه بر کړم
په صورت مي شي خولي له حیا ماتِ که و نان ته د آفتاب څخو نظر کړم
ایمني مي غنچه شان وي له گلچینَ پوشیده چه لکه عیب خپل هنر کړم
کله لوست شعاعي خط شي په کورانو که آسمان مزکه د حرف زیر و زبر کړم
نور به څه په بل دښمن وُ باسم توره په خپل تیغ د څان خونریز لکه سحر کړم
شیدا نه موم گرمي له هم صحبتَ
که خپل څان په سرو لنبو کښي سمندر کړم

هسي رنگ له دِ عالم تنها خوښ یم چه مدام لکه وحشي په صحرا خوښ یم
ترهغه چه خشك طینت د ساحل وینم لکه موج آواره په دریا خوښ یم
چه شاړهٔ ئي له لقمي وریږه مگس شي کله زړه د هغه خوان په صلا خوښ یم
چه په شان د آفتاب نه ده گرم رویه ستا په سرکه په سایه د هما خوښ یم
چه په قید ئي د قفص کړم لکه زرکه تر دا هسي خندا زړه په ژړا خوښ یم
که بیدار لکه تصویر له خوابَ نه شه
په دا حال له خپلَ بختَ شیدا خوښ یم

چه له خپله سرهٔ تیرد کِلك په شان یم په طلب هاله د دِ کښلي جانان یم
دا گرمي ستا د چشمانو د نگاه ده چه سوخته لکه د تا سیه مژگان یم
چه خاطر مي شه مسکن د دِ سبزانو را ته وُړه گوره یو نوي هندوستان یم
د شانې په صد پارهٔ جگر قسم کړم چه په غم کښي دِ تر زلفو پریشان یم
د خزان له ترسَ گل ته کتي نه شم په دا باغ کښي لکه بید هسي لرزان یم
که پرواز مي په هوا دي رها نه شوم مطوق د هغه سروِ خرامان یم

د غبار په شان ئي یوورم پروا نه کا دامن گیر د هسي شوخ گرم جولان یم
په هندي ادا ئي وُه کړ په ما چارِ
زه شیدا په زړه ساده د روه افغان یم

چه مین په کجلي سترگو شهلا یم مبتلا په یوه څه توره بلا یم
یو قدم په مزکه نه لگي نې سنگ سرگردان په هسي لار لکه آسیا یم
له احوال مي غافل تیر و تفنگ دي چه ممنون د تنهائي لکه عنقا یم
چه مي نه شي قراري په یوه دشت نه پوهیږم شوریده د کوم صحرا یم
د گداز موج مي دم په دم زیاتیږي له ساحل مي ځان وُه ساته دریا یم
حواله مي په تیشه د فرهاد ښه ده تر هغه چه نا هموار لکه خارا یم
تر هغه چه سرد جوشي د حنا وینم خوښ په طور د سمك بي دست و پا یم
آمیزش مي لکه آب د گوهر نه شته
شیدا کله له ساحل سره آشنا یم

چه جرس ئي خالي نه شه له فغان قافله ده په دا دشت سر گردان
په خیره نظر جلوه د حسن څه کا آئینه و ډ عالم ته ده حیران
اختلاط ئي په وحشت د سترگو نه شي د هوسیو رمه رم که له شبان
مگر وُه ژاړه فرهاد سیل د زرکو چه په سرو سترگو راځي له کوهستان
د صبا په شان ئي طرز د خرام وینم بیا په عزم د خونریز ده خرامان
چه مشغول په تماشا د نو بهار شوم هیڅ حاصل مي په کښي نه وه بي ارمان
په هر ښاخ ئي د گلبن و یو څو چیغي دریده وُو په ماتم کښي څو گریوان
لکه موج په هر دم زیر و زبر دي د وفا طمع به څه کړي له جهان
په هر لور لکه حباب خانه بر دوش ځي
که شیدا شه آواره له خان و مان

د اشفاق طمع به څه کړي له اخوان نتیجه ئي ورکیده دي له کنعان
آخر وُ ژاړي په شام د غریبانو که هر څو د وطن صبح ده خندان

زمانه په رعایت د ګاو و خر ده   پرورش د علف زار بویه باغبانَ
د کوږې نیل دِ پوري په دیده کړ   بصارت د تمیز نه لري آسمانَ
د غبار تد پېر دِ څه په خاطر ګرزي   اي د ناز په مقتضي دامن افشانَ
هغه دم شي نیشکر له شیرینۍ   ته چه لب کښېږدي په ني څما جانانَ
په لیمه کښي ئې د خس په شان غړیږي   تا به سبز کا سپهر کهکشانَ

خسته زړه ئې غورزوي پتورو خاورو
اي په رغم دِ شیدا کاکل افشانَ

د شبنم دانه که تخم شي د ګلو   زړه به سور په دیدن نه شي د بلبلو
چه ئې نه شته لکه ګل ښه رخسارونه   څوك به څه کا توري زلفي د سنبلو
حال د سوي طالع څه بیان کړم چا ته   لکه نمر څما جبین دي د داغلو
معطل په عارضه د شام غریب کړي   که مي زړه په حلقه بند شه د کاکلو
د آسمان په شان ئې تیز د فتنو تیغ کړ   صبح و شام ګرزي ښکاره په سرو منګلو

د دریاب له سرد جوشۍ د حباب زړه چوي
شیدا قطع د امید بویه له خپلو

کاشانه د دِ دنیا وُه ګوره درومه   آشیانه لکه عنقا وُه ګوره درومه
کهن سال لکه اطفال کوي بازي   دا عجبه تماشا وُه ګوره درومه
که مي نمرَ په تندي وُه دري همایه   په دا حال مي استغنا وُه ګوره درومه
په مشعل د خپل خاطر په دا ظلمت کښي   لار د تللو برق آسا وُه ګوره درومه
سمك نه لري بهره له دست و پایه   په دریاب کښي ئې شنا وُه ګوره درومه
په محفل کښي د مینا یوه کړۍ   په دا ډکه خوله خندا وُه ګوره درومه

دم د مهر هره ورځ وهي شیدا ته
د فلك مهر و وفا وُه ګوره درومه

روغ به نه شم بي وصالَ راشه کښینه   شه خبر څما له حال راشه کښینه
آخر کړي دي قرار رم سرشتانو   د وحشت په خوي غزالَ راشه کښینه

په مراد د عندلیب بي وفا ګلَ جلوه ګر شوي پس له کالَ راشه کښینه
زه آرام لکه بسمل په پرهار موم له تا نه غوارم دسمالَ راشه کښینه
تل په دا خمنه ابرو په شهلا سترګو د خپل یار شام و هلالَ راشه کښینه
چه ایام کړو سره یاد د بي غمئي یو ساعت خما همسالَ راشه کښینه
نازکي د یار د طبع کړه منظومه
اي شیدا نازك خیالَ راشه کښینه

په انزوروي بلبل وُه کړه چیغارونه کښیده ئي تازه ګل ستني خارونه
په رخسار ئي عرق وینم توري زلفي که د ګل په شبنم میل کا مارونه
په یوه قدم عصا خي تر تا وړاندِ مستعد په لړ اسباب کا ډیر کارونه
و چشمانو ته ئي خم دواړه ابرو دي صیادان د غزالانو کا ښکارونه
که ئي وُه لګي نظر د تا په حسن د ګلاب په شان به بند شي آبشارونه
پس له شامَ ګوره رنګ د شعله رویو په شپه ګرم وي د شمعو بازارونه
د هغو د سر کلاه کله پریوزي چه ئي ترك لکه آسمان کړه دستارونه
چه روزي ئي استغنا په شان د آب شي بي مرهمَ ئي رغیږي پرهارونه
د شیدا د طبعِ ښه بلبل ګویا دي
راشه نن د خیالات په ګلزارونه

په نرمي د هیڅ دښمن اعتبار مه کړه له دریاب سره بي غمه روزګار مه کړه
آخر نه ویني آرام د بسملانو د مرهم فکر فکاره زنهار مه کړه
لاس دِ پر لکه مرآت پخپل جوهر دي هیڅ منت د معادن و مدرار مه کړه
خلاص به نه شي سرکشان له ګوشمالئي چه فلك په جهان شته دي تلوار مه کړه
سکونت دِ په اختیار نه دي تمثاله آرایش په آئینو د دیوار مه کړه
زر افشان لکه آفتاب شه بي طلبَ
شیدا سوال ته د سائل انتظار مه کړه

څه افسون دِ په ما وُه کړ پریزاده چه یو دم نه یم خالي د تا له یاده

زړه مې ډك لكه سپند دي شعله بویه   چه د زړه په مراد ؤه كړم څو فریاده
بهانه دِ د غرض مكر شانه كړه   ته ئي لاس وروړي و زلفو ته شمشاده
چه آواز دِ د تیشي په كهسارنه شته   د شیریني په طلب لاړي فرهاده .
پاسباب كښي مي زړه بند پاسباب نه دي   د چمن په قید سروه ده آزاده
نتیجه ئي د دیدن عظیم آفت دي   لكه برق شعله په لاس وزي بیداده
مهیا ورته قفص د شاخِ گل كړه   كه څه رحم په بلبل كوي صیاده
په سختي كله امساك د دولت كیږي   جوهر نشي په هیڅ وقت كښي له فولاده
چه په هر منزل كښي سرخوري لكه شمع   د هغه رهرو څه نفع ده له زاده
همیشه ئي پیچ و تاب لكه جوهر وي
چه شیدا راغي تر دِ حیرت آباده

كړي چا په خپل هنر خود نوازي ده   په محمود باند موقوفه ایازي ده
د دنیا نعمت ذلیل كړي لكه زړي   په خروج دِ له میوي سر فرازي ده
زه په صل مرگه یم مړ په ژوندانه كښي   هر نفس مي لكه شمع سربازي ده
د هدف په شان مي آه ترخولي ؤنه خوت   كه زده كړي دِ په ما تیر اندازي ده
په ژوندون به لكه شمع دل سرد نه شم   چه تر مرگ پورِ څما جان گدازي ده
د پتنگ غند ئي تل په ما غضب دي   چا مي كړي شعله خوته غمازي ده
راست گویان لكه مرآت شیدا حیران دي
په هر لور د زماني سخن سازي ده

نو بهار له باغ و راغ سره آشنا شه   په سرو ستركو ئي ژړل څني جدا شه
د غنچي د رباط در په وا كیده دي   قافله د رنگ و بو درومي صبا شه
د سوخته جهان لوخړي فلك بولي   ستا خطا فكر ته څه وایم خطا شه
آبادي ئي مستلزمه د زندان دي   هر خاطر چه آزاده لكه صحرا شه
چه تر اوسه دي حیران په جهان پاتي   د مجنون اسم څما په تماشا شه
چه په تله ئي خبر نه شوِ په افكارهم   ستا له صاف شستَ تیرهسي رها شه

ابادي ئي بيا محاله ده نادانَ
د شيدا خاطر لوي ښهر وُه تالا شه

اعتماد نه شته په کار د آسمان څکه چه له دِ اوجَ ئي نمر وُه ويشت په مزکه
و هلال ته ئي ورکړي په لاس لوردي د درو کارونه غواړي له نازکه
د دنيا آرايش هيڅ دي و دانا ته په خپل حسن به نادان غلوي نيزکه
ته به څه په دا ميدان چوګان بازي کړي عراقي په نيستان نه شته هلکه
د سحر دولت کامل بدر حاصل کړ لکه مياشت د خپل نقصان له لاسَ ورکه
د ذري په احوال تل د نمر نظر وي لوي به نه ګوري واړه په سترګه سپکه
که دِ جام لکه حباب وه نه نيو سيند ته
آفرين دِ په همت شيدا خټکه

لوي راحت دي ستا د جور ګزندونه لکه نيش هسي دِ نوش لري خوندونه
څما زړه ئي کله را نيو ستا له زلفو که هر څو ئي شاني تاو کړه مړوندونه
د آسمان ګردن ئي خم کړ انسان څه کړِ په ادا کښي لري هسي کمندونه
د صورت له دامَ خلاص سبکروحان دي نه وي بند د زرکو سيل په بندونه
د راستي په سپينه لار سنګ و خار نشته په ليمه لکه حباب کوم پندونه
تعلق نکا اثر په صافو زړونو سره لري دي ښيښه و پيوندونه
چه پيدا کاند شيدا راستي د ژبي
څوك ترِ آخلي لکه سروه سوګندونه

په خلاف د خپل تاثير سرمه سائي شوه چه د سترګو ئي لا زياته ګويائي شوه
همېشه د زړه کلام آروي بي صوتَ چه نصيب ئي لکه کلك شنوائي شوه
آئينه ورته آفتاب نسي د صبح بيا شيوه د ګلستان خود آرائي شوه
له آسمانَ ئي کم نه دي بام د خوني د فتني په کار ئي ختمه رسائي شوه
تهيه د زندان بويه اي صيادَ طائفه د بلبلانو سودائي شوه
زه د خپل فلاخن سنګ په ډير هراس کړم چه پياله مي لکه چرخ مينائي شوه

استعداد ورکړ فلك و کج نهادو   په ناخن چه د کره کار کشائي شوه

تر انسان شیدا راضي په اژدها یم
چه د کنج په شان مي خوښه تنهائي شوه

آماده په هسي شان یم و سوختن ته   چه شي برق د صورت بریښ ځما خرمن ته
کار په خپله تر دستي لکه حباب کړه   چه محتاج د خیاط نه شي پیرهن ته
حوصله مي خوشه واروي تل لبریزه   که پرواز نه کړم هرگز دانه چیدن ته
زبان دان د هر زبان په هسي شان دي   چه جواب په ظرافت کا و سوسن ته
نامور به په جهان شي تر شیریني   که تیشه ورکړي یو دم و خپل کوهکن ته
په گلگون سرشك مي رنگ لکه غنچه کړ   هاله جوړ شوم د گریوان و دریدن ته
د صبا په سعي گل د مالکي څه شي   کله جوړ دي ترش جبین و شگفتن ته

خو په بهره ئي ژړا لکه شبنم وي
چه شیدا ور شي بي تا چر گلشن ته

څه آرام کاند حاصل په دا جهان زړه   چه مدام ریږدي له بیم د آسمان زړه
په فراق د رفته آب غافل خلق   قوي کړئي لکه گرداب په خپل دامان زړه
هرگز مه شه دل بستة په دا باغ پورِ   چه آخر تر غنچه لاړه پریشان زړه
راشه وُه گوره د درد ژړا په وینو   د مینا په شان مي راوړ خون فشان زړه
په دریاب نه شوه رخنه د گرداب رفع   سیاست ته راوړ سخت لکه سندان زړه

بال و پر به دِ شیدا د طیران وُه شي
که ته صاف لکه بیضه کړي په آشیان زړه

هر قاصد چه روان شوي په تور تم دي   پریوتلي هغة دم لکه شبنم دي
د لیلي په رگ نشتر قیس مجروح شه   که ئي نه وي دا صفت کله همدم دي
په معني کښي ئي لیده کښلي صورت شي   که مبني په دا دیوان بیت الصنم دي
چه جرعة ئي په ساغر نه شتة د میو   په قطره ئي قادر نه بولم که یم دي
نوي خط ئي شه نژدي و لب شکر ته   که په لاس کښي ئي تعلیم شیرین قلم دي

رغیده ئې لکه برق معاً فوراً دي تا چه ‌یښي په هر زخم خپل مرهم دی
لکه نمرچه سوزان داغ د شپې په داغ شي خما داغ په داغ دا هسي بي اهم دي
چه سایه کاند مدام په سر د سترېو
شیدا شام د غریبۍ عجب عالم دي

په دیدن د زیبا مخ سترګي مرېږي د آفتاب په چشمه خوا د چا سړېږي
لا علاج لکه سیلاب صحرا ته درومم چه په سرمي هر دیوار د کور نړېږي
نوبت مه غوارۍ د کارتهي دستابو د حباب دانه د چا په آس وړېږي
مکدر ئې په کلام شي تمام بزم پهر دم چه د قلیان په شان کړېږي
په مرهم د زنګار روغ نه شه زیاتي کا د هلال په دود مي زخم څو زړېږي
له نظره دِ ئې بیم کا خوب و زښت هم
څو چه سترګي د آسمان شیدا غړېږي

د راحت آسباب مي نه شته په مخیم کښي چه خیمه لکه حباب لرم په یم کښي
که مالك د یوه خس نه ئې غم مه کړه قریه سوز آتش به مري ستا په حرم کښي
په عرق دِ رخسار تر شه ستا په سر رو ما فروغ د ګلریز ؤه لید په شبنم کښي
د عزلت په حجاب کله پوشیده شوي د عنقا غند څرګند ئې په عالم کښي
التفات ئې سترګي هونبره را ته نه کا لکه شوخ آهو چه ؤه ګوري په رم کښي
هیڅ علاج مه کړه خما د رسا زخم د بسمل صحت به څه وي په مرهم کښي
صبح و شام سیه لباس او ګریبان څیري زماني غند مي زیست دي په ماتم کښي
خوش خطي ئې د رخسار په عجب شان ده نه شته کار د هیڅ قلم په دا رقم کښي
همیشه به شیدا خان په څه شان ژغوري
چه مدام د زلفو مار وي په تورتم کښي

له دیوانه دَ اشرف خان ختک متخلص په هجري

ځوي دَ خوشحال خان ختک

اشرف خان ختک

د بوسي وعده همیش یار په فردا کا — زړه ځما کله باور په دا وینا کا
چه هوس کا نن د ګاندو په کارونو — عاقلان په هغه کس پوري خندا کا
یار آګه نه دي د دهر له نیرنګ — لا ربښتیا په زړه کښې نه لري دغا کا
هونبره ناز د زیبا مخ په حسن مه کړه — خزان ګوره ځښکل هیڅ د ګل صفا کا
ته له کبره چه له ما سره دروغ کړي — زمانه به د عمل جزا در بیا کا
د وصال په ملك اسباب د عیش ډیر وي — ولي زر ئي د هجران لښکر تالا کا
د ګل مخ ته هرګز مه ګوره بلبل — جدائي به دِ تازه زخمونه لا کا
په صلاح به بلبل ګل کله رخصت کړ — د خزان باد ئي په زور ځبله جدا کا
د صبا په امید ډیر په ارمان لاړل — نن به څوك باور د عمر په وفا کا
چه په طمع د ژوندون ترِ فراغت کړي — شین سپهر فرصت کله د بقا کا
نن نوبت د یوه کار په جهان وینم — ګانده بله چار ځرګنده په دنیا کا

بیجاپور هجري په خوب لیدلي نه وه
آخر پیښ شي هغه کار چه ئي قضا کا

چه زلفینِ پر ښه مخ باندِ مرغول کا — هر زیبا مرغول ئي وژله لکه غول کا
هر چه مخ ئي برهنه په چشمو وُه لیده — په ژړا لکه مجنون خانه په چول کا
په چارګل ئي ملك همه زیر و زبر کا — لا به څه شي چه په غاړه همه پسول کا
هیڅ اثر ئي په زړه نه شي له نخوت — که شیدا په ناله تشه ناله قول کا
هغه کار چه یو نظر د جونو کاندِ — هسي کار نهٔ هراول نه د شه غول کا

شهي مه ږده په کټ پښه چرِبه خوږشي　　څو گلونه د بستر خادمه تول کا
هر شيدا چه ئي په ديد د حسن ورشي　　تش بدن ئي رهيده خاطر ئي اول کا
عشق يوڅه سنگ محك دي په دنيا کښِ　　هر چه شك د غش لري نما ئي پول کا
د خوږو څنيو بها په جهان نه شته　　د دنيا په مال ئي بيع مکر گول کا

هجري قدر د طرو تر هر څه ډير دي
که عزت ئي څوك د عشق په تله تول کا

چه اوربل د مخ دپاسه لکه سپر کا　　د سرو گلو ئي خاصيت همه د نمر کا
د ياقوت مثل ئي سکورنته آتش ده　　سور بلاق دِ څنګه جوږ لکه شرر کا
څمکلي ئي څکه سره د يار په وينو　　چه خلش ته ئي هر دان لکه نشتر کا
ابروانِ جوږ ليندي بانه ئي غشي　　پيرايه د حسن توره څوك خنجر کا
هغه دم چه سنگارؤه که روانيږي　　يو نظر ئي صد ساله صوفي ابتر کا
ژوليده زلفي چه خم کا په رخسارو　　خرابئي ته اجازت زنگي لښکر کا
توري سترگي ئي لا توري په رنجوکړي　　هر بانه به د آشنا په وينو تر کا
نرمي نرمي قصي کا واړه فريب دي　　په بهانه بهانه په زړه د سحر گر کا
اور ارم ئي و عاشق ته مهيا دي　　د وصال خوارهِ بهښت هجر سقر کا
د عشق سيوري مشخص سنگ پارس دي　　په هرچا باندِ چه وه مسي تن ئي زر کا
په مذهب د سربازانو کشتني دي　　چه د عشق په لارِ څي له غاوه ډر کا
غښت دِ نه گوري هرگز د يارو مخ ته　　چه مايل وي په حيات ويرهِ د سر کا
هر چه وه کړه د هجري په زړه دلبرو　　هغه تاخت په سر د مغل کله خيبر کا

له جفا به هجري شا نه کا و يار ته
که لت پت ئي تن په وينو کښِ احمر کا

د ارمان په داغ به زړه خپل مبتلا کا　　چه باور څوك په کارونو د دنيا کا
په الطاف ئي غرور مه کړه فريبي ده　　گمان مه کړه چه دا مهر په رښتيا کا
چه له تيرو ئي وفا تر سره نه کړه　　هرچه نن څني وفا غواړي خطا کا

د هر کار بنیاد ئي یښي پر جفا دي — مه وفا غواړه له دوړه نه وفا کا
په یاري د هغه یار بډائي مه کړه — چه په یو نفس هزار ځاي خندا کا
زه د یو ساعت باور په عمر نه کړم — هغه اوم دي چه امید ډیر د بقا کا
دا زیبا مانړۍ چه ته په جهان وینې — نهایت به ئي گردون همه صحرا کا

یو زمان به هجري تیر په دکن نه کړ
دوران ګله په وینا خپله رضا کا

چه ئي زلفي پر خپل مخ کړي پېچوتاب — ځما زار په مخ ئي پرانت د غم باب
غم د یار له همه ما کړه میلمه شه — ما حضر مي ور ته پیش کړ زړه کباب
محبت ځه هسي زه مالیده نه کړم — چه به خوښ شم په صل جامه د شراب
زه په تیغ د هجر غوښ بهار به ځه کړم — زیري روغ خلق ته کار کا د رباب
لا د عشق لنبي و ما وته جنت شوي — یا ماهیو ته بهښت وینم دریاب
په نرمۍ د زړو تسخیر کا غلط مه شه — دام طاير ته صیاد پټ کا په تراب
چه په خم د زلفو بند شو تپش مه کړه — مرغه لا په جال آخته کا اضطراب
نن به ځه موم رها د عشق له چنګه — که هرځو مي وریتوي د عشق په تاب
هغه دم مي ئي د زړه زرکه شکون کړه — په ازل چه ښکار کاوه د ده عقاب
د ذقن په چاه کښې بند رها مي نه شي — مګر را کا له دوو زلفو یو طناب
شپه د هجر طولاني ده تر حسابه — ځو به ورځ د وصال ګورم زه خراب

ما هجري چه د باور په چشمو وه لیده
د وصال عمر ډیر کم دي تر حباب

خسته زړه مي تازه نه شي په شراب — خشکه ونه باران نه کاندې په آب
شورش مه کړه د ګردون له کش مکشه — لومه کلکه که مرغي په اضطراب
له هر چا طمع په قدر د هنر کړه — په منګل به ور طوطا شي د عقاب
هر صنم و خپل مین ته حمیده وي — ماهي خوښ په بحر نه وي تر تالاب
توئيول د شهاب ځه عدد ئي ځوك کا — زه اوبه کړم د هجران په شپه عذاب

د حاسد په طعنه غاو نه کا رښتيني   په سنګيني زمکه شور لري سيلاب
نه به جال د مکر بند شي د رندانو   نه به جل شي د نهنګ په منځ ګرداب
يك رنګان دِ فکر نه کا له دو رنګو   سم سوري د منګور کج شي په طناب
په زحمت به مي ګردون ترحّم وه کا   که په مړه دلسوزي کړي وې قصاب
عندليب ختك ئې بند په هسي ملك کړ
چه طوطا ئې ژبه وائي د غراب

د هجران له دوکه څه وايم و چاتَ   پرِ ئې نه يښ د فرياد طاقت و ماتَ
هر ستم چه په ما کا همه روا دي   خو يو ځل دِ مسته وه دري منځ راتَ
سره کندن ئې په مړوند عجب نماي کا   هرګز مه شه په آفت د ګردون ماتَ
دلسوزي مي په حال تل کوي طبيبَ   وائي خلاص به په علاج شي له آفاتَ
د بدن رنځوري پيژني بي شکَ   د زړه درد برهنه کله دي و تا تَ
زه ختك هرګز رضا په پرديس نه يم   د يار ميني کړم جدا له قراباتَ
د هجري غم به بدل په خرمي شي
که څوك راوړي کړي مي له خراباتَ

لکه توره د يار هجر کړه په ما ورځ   په چا ور مه شه هرګز هسي سيا ورځ
ته څما په هجران خوښ مه شه رقيبَ   نهايت به شي دا هسي توره ستا ورځ
که وفا د وصال وار د هيڅا نه کا   آخر شپه د هجر هم شي مجلا ورځ
د شباب د بهار ورځ تر ګلو ښه وه   ولې نه وه چندان هسي با وفا ورځ
ياره راشه په ديدن مي مشرف کړه   حق پيدا په جهان نه کړه د بقا ورځ
ته چه تل وعده د وصل په فردا کړِ   ګوره کوم منځ تولد کاندِ صبا ورځ
ورځ د عيش لکه باد هسي آجر شوه   خو د ما سره کينه کا د عنا ورځ
خو آخر به لکه باد هسي ماضي شي   دا چه وينم د فرقت بي سر و پا ورځ
غم ښادي د ګردون تل په قرار نه وي
خو به تيره شي هجري دا د جفا ورځ

په دنیا کښِ پیدا نه کا هیڅ گلدار مخ　　چه خزان ئې زخمي نه کا د سینگار مخ
کوم وصال د کوم دولت چه میسر شه　　چه ئې خال د جدائي نه کا اظهار مخ
چا خیره د پاسه کړ په سر کښېښوه　　چه فلك ئې نسکور نه کا د دستار مخ
چه معیوب په خط و خال د فنا نه وي　　ما وه نه لید په دنیا هسي هموار مخ
باقي گل په باغ د دهر منده نه شي　　څکه تل په اوښیو تر وي د هزار مخ
دا گردش د زمان هسي بازیگر دي　　چه هر دم کا برهنه د نوي کار مخ
چه ثابت په یوه لوروي جنبش نه کا　　هرگز نه شته په جهان هسي قرار مخ
د نن کار طمع هرگز له صبا مه کړه　　صبا گوره هویدا شي د کوم کار مخ
را شه زړه د ختك وه گوره مین　　چه هر لوري ئې لري د غم پرهار مخ
هیڅ باور په رفاقت د عمر نه شته
هجري هر نفس په خیر گوره د یار مخ

غم ښادي د جهان باد گڼړه یا گرد　　په دا نه لري پروا آزاده مرد
آمد شد ئې تر صبا هم گرځندي دي　　تجربه مي کړه د دور گرم و سرد
هیڅ هوس د زماني و خوان ته مه کړه　　یوه لقمه بي غمَ نه لري د خورد
په څو رنگ نقش پیدا په یوه دم کا　　د فلك دورونه تاس گڼړه د نرد
چا چه ناز د زماني په دور وه کړ　　په خندا کښِ زخم ورکاندِ پر درد
غم ښادي که ئې د هوښ په نظر گوري　　د بقا عمر ئې زیات نه دي ترورد
هجري بد عمل تر شا مخ په صفا کړه
چه په ورځ د محشر نه شي گونه زرد

هرگز مه شه ستا له حبه زړه څما سرد　　لکه نه شه جورونو خاطر ستا سرد
ما به کله څوك ربښتني عاشق بولي　　که مي زړه شي ستا په غم کښِ له وفا سرد
نه څما خاطر هرگز له وفا سور شه　　نه ستا خوي شه په دنیا کښِ له جفا سرد
نل په هونبره جفا شا نه کړه دمن ته　　نن به ښبکله له تا شي زړه د چا سرد
څو غوغا پرِ همیشه کړه روغ وکړي　　عشق هرگز نه شه د قیس له لیلي سرد

د سود پند ور ته همیش کړ واعظانو وامق پند دِ هیچا نه کا له عذرا سرد
نه دنیا هرګز وفا له تیزو وه کړه نه خاطر شه د حریصو له دنیا سرد
ستا په دید مې سوي زړه هسې تازه شه څو ریحان کاندِ وهلي د ګرما سرد
د وصال امید مې، تاو د هجران سوړ کا او تبجن همېش خوله کا د شفا سرد

محبت به ستا په مرګ هجري پرِ نه ږدي
لباسي دي که يې زړه شي په احیا سرد

لکه ما ته کا نصیب همه جهان اور هرګز مه شه په هیچا هسې زمان اور
په هغه جهان کافر په آتش سوځي هجر بل کا په دنیا ځما په ځان اور
بیلتانه هسې آتش را باندِ بل کا لکه بل کا د بلبل په زړه خزان اور
په انداز ځما د سوز کله پوهیږي چا چه نه دي آزمیلي د هجران اور
که د یار د هجر غم را باندِ نه وي را ته سهل وه سړیو د زندان اور
جور هونبره طغیان وه کړ د سیرانو چه يې وریت کړ د دکن خلق وداڼ اور

لا تاثیر پر ظالم نه کا سبب څه دي
د هجري په هر سحر لوني دهان اور

اي چه فخر په کثرت کړِ د متاع د نیکونو حال دِ نه کا امتناع
د نمود عمر يې لږ دي تر ګلونو باور مه کړه د جهان په اختراع
مخ د زمکي که فراخ دي ستا پرڅه دي ستا نصیب د دي په نس کښِ دري ذراع
چه دِ کور تر زمکه لاندِ مقرر دي بیهوده کړِ د مانیو ارتفاع
خورمي عشرت قسمت د نا خبرو غم اندوه واړه نصیب د اطلاع
طالبان د دنیا واړه جفاکر دي له هیچا مې وفا نه کړه استماع
لږ حیا د سړي توب له اسمه نه کا یو په بل خوله لګوي لکه سباع
که ظاهر سره بیور د محبت کا زړه د هر سړي مملو دي په نزاع
دا فریب چه نن ابنا د زماني کا روباه نه کا هسې مکر و اختداع
که سختي ویني له دهره ژړا مه کړه باقي نه وي د فاني دنیا اوجاع

ای هجري محبت ښه دي له یك رنګو
د دو رنګو یاري نه کا انتفاع

همیشه دِ یار څما وي په دنیا روغ   چه ئې تل نه وي له دردَ زړه څما روغ
پوه به درد د عشق بدل په دوا نه کا   هرګز مه شه له دي غم زړه د چا روغ
ته د خوږو زړو له حالَ څه خبر ئې   زه د عشق له غمَ زړه ګنړم د تا روغ
بل فګار ئې تورو زلفو په سرکښیښو   زړه مي نه وه له یوه زخم صفا روغ
ښائسته که جفا کا څه ملامت دي   چه خالق ئې کور د زړه کا له جفا روغ
په ازل چه ئې جفا و کښلیو ورکړه   بیا ئې زړه کا د دردمنو له وفا روغ

نن ئې زړه په عنایت د بوسي خوش کړه
په وعده به هجري نه شي د فردا روغ

چه امید مي ستا د وصل نن صبا لکَ   شیرین عمر مي عبث په دا سودا لکَ
نن ئې غوارم په زاریو منده نه شي   وقت د عیش مي د فرقت لښکر قضا لکَ
د مقصودٗ ثمر د بخت وني را نه کړ   په نا حق مي صورت سترږي په ژړا لکَ
په ازل چه د یارئِ ونه خلقت شوه   خاصیت ئې د هجران ثمر پیدا لکَ
ما به خوړ ثمر د هجر بي ګمانه   چه په باغ مي د یارئِ نهال بنا لکَ
هیڅ ګناه د هجر نه وینم یارانو   زړه روا که دا فساد چه ئې آشنا لکَ
نهایت ئې د هجرت په توره غوڅ کا   د چا زړه چه ئې په ښه مخ مبتلا لکَ
هغه دم ئې د فرقت لوبه توده کړه   چه د عشق بازار ئې ګرم په دنیا لکَ

هجري راز چا ته بیان نه کا د میني
په کوڅه ئې د آشنا خلق رسوا لکَ

په قدرت چه ئې پیدا اول قلم لکَ   په زبان ئې د هر چا نصیب رقم لکَ
نن هغه بخري نفس په نفس رسي   په قسمت د چا ښادي د چا ئې غم لکَ
په جدل به نن هرګز د چا لوي نه شي   په رتبه چه ازلي رقم څوك کم لکَ
کوږ به نه شي په حسد د حاسدانو   له ازلَ چه ئې کار د هغو سم لکَ

مرګ بي واړ لمن کله د چا نسي ولي نه پائي يو دم چه رزق ئي تم ګ
د قضا رضا خارج کا له بهبت په ګناه ئي بيا لازم غريب آدم ګ
هجري آه د زماني له زخمه مه کړه
رب فګار وته پيدا عجب مرهم ګ
هر چه اوسي په دا خونه د وبال و هر چا ته کشال شته په قدر حال
يو طرف د امن غواړم ليده نه شي جهان هونبره لبالب دي په کشال
که هزار عيش در وه بخښي سپهر په يوه غم کا هغه واړه پايمال
نه ئي ښه زمان قابل د خورمئي دي نه ئي بد ساعت لايق د استمال
په اندوه ئي ملال مه شه باقي نه دي په هوس ئي هم هرګز مه شه خوشحال
که وصال د ښکلي مخ زمانه درکا زر دِ زړه په نيش د هجر کا غربال
اقبال نه ورځي هرګز د چا په غولي څو همراه ور سره نه کاندِ زوال
دي پخپله ويل کا چه لا بقا يم که معکوس کړ ته حرفونه د اقبال
د حيات کوتره کوزه کا له دوره د قضا شهند چه وا کا جوړه بال
اژدها له غاړه وه باسي بي غدره ماهي وه کاري له سيندِه بي مجال
په بقا د عمر ځاي د غرور نه شته لکه باد هسي ګذر کا ماه و سال
اي هجري لکه نادان بنده ئي مه شه
غم ښادي د جهان خوب دي لا خيال
هغه څوک چه په فاني نعمت خاربه شول عاقبت چمچي د خاورو پر ماړه شول
هم هغه غتان چه حال ئي کتاب وائي وار په وار ذبح د موت په چاړه شول
مال و ملك مانئي ئي وه سپارل په نورو ځان په ځان د ګور په خونه کښېِ اوده شول
د دنيا په تش لباس عجب مغرور وو نهايت ئي ارمان وه کا چه په تله شول
چه له تيرو هيڅ وفا دنيا وه نه کړه نن پرِولي پس مانده هسي تاوده شول
دنيا ناوي بي وفا ده شوهر وژني عاقلان ئي له دوستئي ځکه ساړه شول
د هر فصل ګل چه وه زوول په باغ کښېِ بيا هم هسي د خزان په وار خواره شول

اي په تش هوس غره سامان کوچ کړه   خپل همزولي در ته ستړي په کاته شول
هدیرو ته نظر کړه ریاض به څه کړي   مجلسي یاران دِ وه گوره چه څه شول
ناوي جونه ښه ځلمي مشاهده کړه   گوښي گوښي په گورونو کښې وراسته شول

اي هجري بهښت په ښه عمل موندہ شي
هرگز خوي د هغو مه کړه چه کاره شول

د ارواح د کوچ نیلي په زړه کښې زین شول   چه په زني مي ویښته د شباب سپین شول
د ځوانۍ بهار چه وه لیښ له بدنَ   د پیرۍ په خزان تور ویښته زرین شول
د هجران اندوه چه نه دي سکاره کړي   دا هډونه مي د تن مکر روئین شول
لا مي بخت په خوب اوده شه مدت نه کا   یا د دور حاکمان په زړه سنگین شول
چه توبري ئې هیڅ اثر په صورت نه کا   د آه غشي مکرمات په چار آئین شول
هسي ویني مي غم توي کړي تر سترگو   چه نه ري مي د صورت همه رنگین شول
حال ځمې وه گوره د کسیو له هجرانَ   په گلذار کښې د سرو گلو په آئین شول
د غم تخم په زړه پروت نه وي زرغون شي   چه په هل ئې د هجران پټي سادین شول

اي هجرۍ کشکي هجران په دوران نه وي
له تاختونو ئې په ځاي اهل زمین شول

هغه ورځ د هجر غم لره سزا شوم   چه له یارَ په ژړا ژړا جدا شوم
ما هله ماتم د ځان وه کړ په وینو   چه اتک وته مي شا کړه په ژړا شوم
اوس به څه د وطن کاني بوټي ژاړم   د رخصت سلام مي کړي ترِ بدا شوم
یو ناوک مي په دل لك راوړ له روهَ   ځار و جار مي د باغ وه نه کړ خطا شوم
په محنت مي یو ریاض جوړ کا په دهر   لا مي گل بوي کړي نه خیني سوا شوم
شینِ فلك په خندا سور شه له هوسَ   چه هوډي جبل په مځ زه ورته شا شوم
یو پاړو په دکن نه شته چه مي دم کا   گرفتار په کنج و کاو د اژدها شوم
د هوسۍ په ښکر برات د وصل وه شه   چه را پوري په نذۍ د نربدا شوم
د وصال دول مي کنج پرِ نازیدلم   تار و نار همه د هجر په وغا شوم

نن به څة له هجرَ زارکوم و چا ته　　ما پخپله غم خريد کا چه آشنا شوم
بس غبار د هجر بخت را څخه کم کا　　په بلل بلل ئې ستړي په صدا شوم

زه ختک د يار طلب کړم مونده نه شي
له نا کامَ ئې له غم سره مليا شوم

ياره راشه په يوه وطن ماوا کړو　　له خاطرَ مبرا اوريده رجا کړو
لاس په لاس به سره کرزو غنيمت دي　　صلاح نه ده چه د نن طمع صبا کړو
له ازلَ شين سپهر جفا کار دي　　خطائي ده که نن موږ طمع وفا کړو
څو ياران لکه رمه هسي غنچه وو　　د هجران ليوه په زور سره جدا کړو
مجلسي يارانو کوچ وه کا له دهره　　موږ به څو حيات آخر په دا فنا کړو
څوک به څبکله اميد د عيش کاندِ　　په دا دارِ ئي همه غم لره پيدا کړو

ياره ته به هجري پرِ نه ښوي په روغه
په ستم سره بيلِ جور د بادشاه کړو

هجرَ څحو فرصت را زره مي پاره شة　　سرِ ئي لاندِ ستا د جور تر اره شه
د يارانو جدائي مثال چاړه ده　　د زړه سر مي پرِ قلم لکه تره شه
د وصال دولت به څوک سلامت يوسي　　بيلتون سل زره لښکر پسي پره شه
را شه يو خل ختک گوره په دکن کښِ　　چه له هجره ډير نا څيز لکه ذره شه
د ياريادمي قامت هسي پيچ و تاب کا　　په دا کار مثال د زلفو پة طره شه
د هجران خمار ئي ژر په سر کښِ کښيني　　چه شراب د وصال نوش کاندِ غره شه

هر ساعت ئې په ستم د داړو نسي
د يار ياد لکه ليوه هجري بره شه

جدائي له ياره يو نفس ماتم دي　　چه فرقت شي په کالونو خو ستم دي
د وصال په طمع باد غوندِ چليري　　گنړه لرِ هجرِ له قرنه سره سم دي
بي وطنَ تنها پروت يم په غربت کښِ　　نن له ما سره همدم د صنم غم دي
د هواد آشنا په ستړگو نه ليده شي　　که په خوب را ته حاضر شي بس کرم دي

طولاني امل مي ډير کا خبر نه وم — چه له يارَ سره عمر تر ګلَ کم دي
هيڅ حاصل مي بي دريغه څيني نه شته — ګذشته چه يادوم سود ئي الم دي
قاصدان له روهٔ نه راځي مدت شه — سلام باد را رسوي منت ئي تم دي
که بهښت له ښايسته مخ خالي وي — عاشقانو به ياد کله کا قسم دي
زړه عجب را څخه ګم شه نه ئي مومم — بي ګمانه به هوري وي چه صنم دي
بي وسئي له غښتو پاتو د مين کړم — سيه مارمي په دوو پښوکښ خم به خم دي

د هجري دارو په تا نه شي طبيبٌ
د فرقت آس ئي په زړه يښي قدم دي

دانا څکه د جهان له کارَ سرد وي — چه الم ئي لکه باد خوښي ئي ګرد وي
آه و سوز مي باطل مه ګڼره درويشٌ — سترګي هله کا ژړا چه زړه په درد وي
تخت و تاج ته به سرکوز د همت نه کا — چه په داد د دهر پوه آزاده مرد وي
هغه مرد چه په دغل سود و سودا کا — په مجلس چه د حق ورشي مخ ئي زرد وي
په حساب د فرزانه ترګاو بتر دي — هرچه تل په فکر ډوب د آب وخورد وي
ګردنده ګردون چکئي سړي دانه شه — لا په زمکه قرار نه بدن ئي ارد وي

دا محال دي چه شاعر به په پښتو کښ
بل هجري غندِ په فن د شعر فرد وي

سراسر واړه له خرمي کاذبان دي — چه توړل شوي د فاني دنيا په خوان دي
دا جهان مثال دکان دي د نباتو — طالبان ئي بل څه مه شماره مچان دي
مچان هونبره مينه کا په هغه لوري — څو نبات تاوده په نس کښ د دکان دي
هيڅ باورئي په اظهار د اخلاص مه کړه — په دروغ تيتال کوي د شي ياران دي
تل په ورځ د ښادئي لاف د وفا کاندِ — چه يوه ذره سختي شي ګريزان دي
د زړه سترګي په مطلب ظاهر لباس کا — په سوګند ئي غرور مه کوه تکان دي
که دِ ښه آشنا له درده خبردار وي — په زبان وائي هي هي په زړه ښادان دي
د صادق آشنا خواهش په جهان مه کړه — پسران د زمان واړه دو رنګان دي

نه یاري نه آشنائي نه محبت شته   په هنر ئي حصول کا بنده د نان دی
دنیوي سود ئي مقصود پسي ئي غواړي   نه په لار د دین ثابت نه کافران دي
لکه دوي کا ځبله قصد د ځان په وینو   یو په بل کله آخته هسي لیوان دي
د قیامت ورځ لا په سترګو لیده نه شي   نن مي وه لید هغه کار همه د ځان دي
ما هرګز راستي له چا لیدلي نه ده   برادر که یار و خویش که عزیزان دي
زه هجري چه په اسرار د کار خبر شوم
په دنیا ارتیني ډیري لږ مردان دي

یوسف و زلیخا

تصنیف دَ عبدالقادر خان ختک ترجمه دَ کتاب دَ جامي

یوسف و زلیخا

شرح کول د یوسف علیه السلام د خپلو ورونړو د وهلو او د زحمت د کوهي او د هغې ورځي چه په زلیخا باندِ سختي وه

د قصص روایت کړوني　　دا رنګ دي حکایت کړوني
چه پخوا تر وصالتَ　　زلیخا کړه غم لت پتَ
یوه ورځ اندوه پرِ ډیر شه　　غم د دي تر زړه چاپیر شه
شوه بي صبرهِ بي قرارهِ　　ډیرهِ شوه په زړه بیمارهِ
وِ صحرا ته شوه روانه　　که غم لري کا له خانه
کور له غمَ باند ګور شه　　صحرا لا ور باند اور شه
ګاه بیرون ګاه به درون شوه　　سر تر پایه غرق په خون شوه
نا قرارهِ ګرزیدله　　په سرو وینو ژړیدله
په ژړلو ئي مخ سور شه　　زړه کباب تن ئي تنور شه
ځني وُ کړ دائي سوال　　را ته وُ وایه خپل حال
نن دي ولي خاطر ملال دي　　نه پوهیږم څه احوال دي
پرون خوښه وِ خورم　　نن ئي ولي پر الم
بیا کوم غم در باندِ زور شه　　چه سپین مخ دِ لکه سکور شه
نا قرارهِ ځبله ښوري　　نام و ننګ و ته نه ګوري
چه ښکارهِ کړې فریادونه　　غږ دي ځي په هوادونه
دي وِ زه هم په فکرت یم　　و دي حال ته په حیرت یم
چه دا هسي خور په زړه یم　　دا له چا یم دا پرخه یم

چه دا هسي په ماتم يم — دا په چا پسي په غم يم
درد لرم کوره٠د چا دي — نن خما په زړه پيدا دي
چه آرام ئي له ما يووړ — نه پوهيږم چه چا يووړ
چه يوسف ئي هم نشين شه — زليخا سره قرين شه
يو شپه ناست له زليخا ؤه — په بيان د ماجرا ؤه
تقريباً ئي له ناګاه — حقيقت ؤ وِ له ښاه
زليخا هرګوره زار شوه — پيچا پيچه لکه مار شوه
هغه درد ئي زړه ور ياد کړ — چه ئي درستَ ورځ فرياد کړ
ورځي شپي چه ئي په شمار کړي — نه ئي کمي نه بسيار کړي
هغه غم ئي چه جانکاه ؤه — هغه ورځ يوسف په چاه ؤه
انکار مکړه پدا چاري — زړه و زړه ته لري لاري
اَلْقُلُوْبُ مَعَ الْقُلُوْب — د محبوب د نا محبوب
دي تحقيق تشهدا — هرګز شک نشته په دا
خصوصاً چه عاشقان وي — په خپل عشق کښې صادقان وي
په ظاهر که دوه نمود وي — په باطن کښې يو وجود وي
که په پښه د معشوق خار شي — د عاشق خاطر افکار شي
که په مخ ئي غبار پريوزي — په عاشق باند بار پريوزي
چه ئي باد زلفي خوري کا — د ده زړه پاري پاري کا
يوه ورځ ليلي مکر — قصد د فصد کړ په نشتر
له ليلي چه روان خون شه — سپين مړوند ئي پرګل ګون شه
د مجنون له لاسَ داري — په بيابان لاړي څو واري
محبت ئي چه کمال وي — د عاشق معشوق يو حال وي
په ظاهر باطن يو کس شي — غم ئي غم هوس هوس شي
اوراوبه چه ښبله ور شي — جدائي ښني بدر شي

لکه نورچه په پرتو شي دوه وجود ویځ ئي یو شي
هسي رنګ آفتاب د میني دوه یو کاند که ئي وینی

زاري کول د زلیخا و دائي ته چه په هرحیله چه شي د یوسف په وصال
مي مشرف کړه

زلیخا پر تاسفَ بي نیازي ئي لـه یوسفَ
ولیده په غم شوه پوره نـا امیـده شوه رنځوره
یوه شپه ئي په خلوت کښي چه شوه ډیره په زحمت کښي
و دائي ته ئي زاري کړه چه مي سهله دشواري کړه
زه خسته ته مي مرهم ئي زه قالب یم ته مي دم ئي
که باور کړي به ګروهیږي ته مي روح ئي که پوهیږي
که هرڅو بدر منیر یم پرورده د تا په شیر یم
ته مي مور ئي دائي نه ئي لا تر مور را تیره ته ئي
بیا پر ما مهرباني کړه ترکه ته تن آساني کړه
ته ښکاره دانش وري کړه عملي کړه نظري کړه
که څه سحر کړي که دم کړي بویه اوس چه د ما غم کړي
نور کارونه کل تر شا کړه محا مخ یوسف له ما کړه
ګنړه اوس له تنه ځان ځي نفس بي جانانه ګران ځي
په ګفتار کښي مي زیب نشته نور مي توان د شکیب نشته
که څما له خونه ډار کړي ته به سعي په دا کار کړي
شوم په هجر کښي رنځوره زه بـه څو اوسم صبوره
یارچه هسي بي ګانه وي څه فائده که هم خانه وي
که په کټ وي چه یار ښت کا یار په سرو لنبو کښي پټ کا
چه په زړه له ما نفور دي یار نژدي مه ګنړه دور دي
دي څواب په دا شان ورکړ پري ئي وا د څواب ورکړ

حسن ستا هرګوره ډیر ښته کله څوک د تا په خیر ښته
که په چین کښې نقاشان دي نقش کړوني په شان شان دي
ستا په خیر به صورت نه کا که هرڅو نقشونه ښه کا
که هوسي د خطا دي چه ئي څوک ستائي خطا دي
دوي که ستا سترګي وګوري په حیرت به څبله ښوري
بند به ستا د عشق په دام شي ستا و سترګو ته به رام شي
که په غره د سیل وشي ستا له عشقه به اوبه شي
ستا په لور به په سر درومي که دي چري وصل مومي
په صحرا که دي ګذر شي وچ ګیاه به تازه تر شي
که په باغ قدم دروڼ کړي سرو بید چنار مجنون کړي
چه دا هسي حسن ستا دي غم اندوه په څه د تا دي
په مخ زلفي خم په خم کړه د زاهد روزګار برهم کړه
عنبرین کاکل پیچ پیچ کړه ور ته زهد تقوي هیڅ کړه
له دي نازه له مکیزه پرهیزګار کړه بي پرهیزه
که هرڅو ئي پرهیز ډیر وي په لیده به ئي ستا هیر وي
ورښکاره که خپل جمال کړي د ده زهد به پائمال کړي
که هرڅو وي تقوي ډیره هغه دم به ئي شي هیره
تر به لاړ صبر قرار شي شیر به ستا د آهو ښکار شي
ستا په مخ به مبتلا شي سر به دي په واویلا شي
ستا د وصل به طالب شي ستا محبوب به ستا محب شي
څو چه وي په ده ستا مینه تر به لا که په تا مینه
دي و ستا ویل معقول دي همکي څما قبول دي
کار په دا څما مشکل دي زار په دا څما د دل دي
زه که هرڅو آراسته یم په خوبیو ښائسته یم

په سپین مخ یم منوره — په مخ یوسم نور له نوره
جوړه شم په خوځو شانه — په زري نمرئي رخشانه
په گوښه د سترګو ما ته — نه ګوري ګوري بل چا ته
ځان که زه د فلك ماه کړم — نګاه نه کا څکه آه کړم
که ځان پست کړم لکه زمکه — هم کوي له ما نه کرکه
قدم نه کیږدي را بانده — هونبره کبر لوئي کانده
یا په خپل حسن مغرور دي — یا بي عشق یا صبور دي
یا لري کبر و مني — ځان مني بل نه مني
یا په شرع کښي د ده دي — چه حرام ما ته کاته دي
څکه هسي سترګي ژغوري — هرګز ما و ته نه ګوري
په نرمي دا ئي جواب کړ — ښه خواب ئي با صواب کړ
چه یو فکر را نماي شي — موافق که ستا د راي شي
لغه پس به پر کار کړو — جوړ به ستا پر کار و بار کړو
زلیخا ؤ و چه وایه — هغه فکر را ؤ نمایه
تل په دا خما یقین وي — چه به ستا فکر مبین وي
له هر څه ئي خبر داره — آزموده تجربه کاره
دي و دا رنګ زه وایم — د زړه راي و تا ته نمایم
له زړه لري دا وسواس کړه — خزانه خما په لاس کړه
زه به روغ یو عمارت کړم — پر په خرڅ د تا دولت کړم
ځاي په ځاي د ستا صورت کښي — په ښه زیب و په زینت کښي
د یوسف څهره خوش رنګ — هم په کښي د تا تر څنګ
چرته لاس تر لاس نیولي — د چمن په لوري تللي
چرته لب په لب پراته وي — څبله ینبي خله په خله وي
چرته کلك یوسف اوده وي — ینبي سر ستا په ورانه وي

چړ ته ئې په کنار کښې پرته ستړګې په خمار کښې
دي به راولو ډې کور ته چه نظر وُ که هر لور ته
په نظر به ئې دا کښېوزي د ده زړه به په تا پرېوزي
ستا د وصل به جویان شي پر به ستا مشکل آسان شي
زړه چه مومي آفتونه د نظر دي شامتونه
نظر غشي زهر آلود دي ځوچه بند دي هونبري سود دي
زلیخا وِکه له مالَ بهره مومه له وِصالَ
مال څه سر به تر قربان کړم ځان به جار تر خپل جانان کړم
خزانه واړه لګیا کړه خو یوسف له ما آشنا کړه

عمارت کول د هغه کور چه په کښِ صورتونه ځاي په ځاي د یوسف او د زلیخا تصویر کول

چه اختیار ئې و دِ ور کړ پرِ ئې وا د مخزن ور کړ
که د چین وو که د روم وو اوستادان چه د ملك سلوم وو
چه په چین کښې نقاشان وو صورت کړوني هر هر شان وو
چه تصویر به ئې صورت کړ دوي به عقل په حیرت کړ
چه په روم کښې صیقلي وو د جلا پـه کار جلي وو
د صیقل په کار و بار کښې عیان وو پخپل دیار کښې
زر ئې ډیر وو ورستولي دوي ئې مصر تـه بللي
په راتلو ئې اکرام ور کړ هر یوه تـه انعام ور کړ
رضا مند ئې هر استاد کړ په ډیر څه ئې خاطر شاد کړ
عمارت ئې لوي آغاز کړ پـه اوه دَرَ ئې سـاز کړ
فرش ئې فرش وُه د مرمرو په کښې کار کړي د زرو
دیوالونَ ئې مرمر وو په کښې یښې در کوهر وو
اوم کور ئې لا صفا کړ تـر مـرآت لا جـلا کړ

چه به ځوک ورته ناظر شه | خپل احوال به ورظاهر شه
ښي وګینړ کوز پاس هرځاي | مصفا وه رخ نماي
نقاشونه په کښي وني | لوئي کمي نرئي پلني
نقش کړي رنګارنګ وي | نه چه لري ځنګ پخنګ وي
که تاؤس ووکه طوطیان وو | نور مرغونه بل بل شان وو
پاس په ونو کښي تصویر وو | چه په حسن بي نظیر وو
په حیرت به ئي کړ عقل | چه دا اصل دي که نقل
هسي رنګ په کښي د ګلو | بوټي ساز وو د سنبلو
په هر شاخ بلبلي سازي | اما واړه بي آوازي
له هغه پس ئي مثال وه | هم په تخت هم په دیوال وه
د یوسف صورت وه کښلي | هم د دي زیبا وه کښلي
لکه ښه معشوق عاشق وي | ځبله دواړه موافق وي
ناست به چرته دوش په دوش وو | چرته چرته هم آغوش وو
خوا په خوا سره پراته | چه ځاي مه شه د وینښته
سره یښي لب په لب وو | په هزار رنګ طرب وو
په دا شان ئي عمارت کړ | ښه ئي ساز په لږ مدت کړ

بلل د زلیخا چه یوسف ئي هغه کور لره ؤ باله او طلب ئي ور ځني د خپل مقصود ؤ کړ

په دا رنګ چه مي بیان کړ | ښه ئي ساز هغه مکان کړ
ښه فرشونه ئي دیبا وو | فرش ئي کړه په کښي زیبا وو
ځاي په ځاي مسندونه | بالندِ یښي بالښتونه
په جهان کښي چه څه ښه وو | بي یوسفَ نور هر څه وو
بي جانانَ که بهشت وي | د عاشق تر فهم زشت وي
ځاي که هر څو دیر عالي وه | له یوسفَ چه خالي وه

زلیخا ته کور د غم وُه   د دي مرګ په کښي هردم وُه
شوه په فکر روز و شب   یوسف څه رنګ کړم طلب
چه به دي په عمارت کښي   له ما کښیني په خلوت کښي
دي به څه رنګ دلته کام ړدي   چه به کام څما په کام ړدي
له اولَ ئي جوړ ځان کړ   آراسته ئي په څو شان کړ
تورکاکل ئي مشك آفشان کړ   په ښه شان ئي را پریشان کړ
پر آبرو ئي وسمه پوري   کړه لا شوِ تر اول توري
چه ئي سترګي په رنجو کړي   منفعلي ئي آهو کړي
هم ئي زلفي معنبري   کجك کړي په عطرو تري
خال ئي کیښو عنبرین   په صفا کښلي جبین
لاس ئي دواړه په حنا کړه   هم ئي پیوري پڅپل پا کړه
له هغه پس ئي زیور وُه   چه د زرو د ګوهر وُه
هر یو در قیمت بها وُه   لا تر ستوریو پر بها وُه
هم په غوړ کړه هم په غاړه   پرِ ئي جوړ کړ صورت واړه
بیا ئي ښي جامي مهیني   چه اودلي وي زریني
واغوستي سره درست زر شوه   منوره لکه نمر شوه
نور څه وایم له دِ حالَ   چه ئي غوره وُه له مالَ
هغه ورځ ئي را برسیر کړ   آراسته ئي ځان پرِ دیر کړ
دا وینا ده هم مشهوره   سړي نور زینت دوه نوره
دا خود وَه په حسن میره   په زینت شوه بي نظیره
نور ئي ښه دانا دلال وُه   په ویل سحر مقال وُه
د یوسف په لور روان کړ   امید وار ئي په ښه شان کړ
چه ته ور شه هنر وره   تر یوسف مي څواب وره
چه دا ځاي مي نوي ساز دي   جوړ په نقش و په طرازدي

ځاي كه هرڅو دلكشا دي / په كښي تنګه يم بي تا دي
په فلك ځما تارك كړه / په قدم ئي مبارك كړه
كه قدم په دا ځاي كيږدي / بركت به بانده پريږدي
يو دم ځان له ما همراز كړه / دا مكان مي په اعزاز كړه
يو ځل راشه غم زدايه / كښلي مخ را ته ؤ نمايه
چه پټ حال درته عيان كړم / مو په مو ئي دربيان كړم
كام نا كام يوسف روان شه / پر روشن هغه مكان شه
هغه ځاي پر منور شه / برج د شمس و د قمر شه
لاس ئي ؤ نيو زليخا / دا وينا ئي كړه ادا
ستا له لاسَ شوم خرابَ / په رنګ بده تر ترابَ
پاكي خداي ته ده لائقَ / چه ئي كړم په تا عاشقَ
هر وينښته ئي ستا كمند كړ / پر ځما خاطر ئي بند كړ
د تا مخ ئي لكَ ماه كړ / ځما بخت ئي پر سياه كړ
لب د تا لعل و شراب شه / تر ځما نصيب سراب شه
ستا صورت ئي درست ګلزار كړ / په قسمت ئي ځما خار كړ
په دا رنګ ئي پر افسون كړ / تر اول ذر ئي درون كړ
هغه ذر ئي استوار كړ / په دويم وره ئي ساز وار كړ
و يوسف ته ئي خبري / بيا آغازي كړي نادري
تا په خوب كښي مخ عيان كړ / بل د اور ځما په ځان كړ
لا هلكَ وم خورد سالَ / شوم په تا پسي بد حالَ
زړه پر درد ستركي بي خوبَ / شوم د تا له مين توبَ
ستا په مينه ديوانه شوم / له عالمَ بيګانه شوم
خپل وطن م لاړ له دستَ / په بل ملك شوم ستا په مرستَ
ستا له غمَ بي چاره شوم / هم له خپلو آواره شوم

په دا هونبره مي زړه ښه کړه   چه خبري له ما ته کړه
یوسف وُ وِ خذمتګار یم   و خذمت وته طیار یم
په سپین مخ که تابنده یم   بیا آخر د تا بنده یم
چه له تا سره همراز شم   په عالم به بد آواز شم
عنایت وُ کړه را باندي   چه زه زر وُ وزم دباندي
تنها ناست له تا ښه نه یم   نفس لرم که هر څو ښه یم
دا ناست بد دي که پوهیږي   ما رخصت کړه که ګروهیږي
اور پنبه نژدی ښه نه دي   څو چه لري هنبره ښه دي
په معني کښي شهوت اور دي   پر د دیرو سوي کور دي
زلیخا ئي په خبرو   چه خوري وِ تر شکرو
التفات هرګز دي نه کړ   خو مراد ئي د خپل زړه کړ
تر دوم دَر ئي درون کړ   فریفته ئي په افسون کړ
ور ئي بند په ده محکم کړ   په دا شان ئي مکر دم کړ
اووم کور چه منقش وُه   هر صورت په کښي دلکش وُه
تر مرآت مصفا وُه   دلکشا راحت افزا وُه
په هغه کور ئي داخل کړ   مشوش ئي د ده دل کړ

ننیستل د زلیخا چه یوسف ئي په اووم کور ننیوست او طلب ئي ور څني
د خپل مراد وُ کړ او د ده تښتیدل او پاتوکیدل په خواري کښي

په دا شان سخن پرداز   اظهار کا د دِ پټ راز
چه داخل په اووم کور شه   د یوسف په زړه ګډ شور شه
چه په دام ئي کښیوتلم   په کوهي کښي پریوتلم
مګر فضل د حق وُ شي   په نجات مي خاطر ښه شي
زلیخا شوه نا قراره   محبت کړه بي اختیاره
آه ئي وُ کړ په ژړا شوه   له هغه پس ور ګویا شوه

چه په تا پېښي شوم خواره   شپه او ورځ شوم دل افکاره
یو ساعت له ما همدم شه   لږ غم خوار خما د غم شه
را سره نماستي په تخت کړه   په نماستي مي بیدار بخت کړه
له برقي نه مخ بدر کړه   خما اوښیو ته نظر کړه
چه په مخ مي را بهیږي   یو زمان نه ؤ دریږي
نور مي مه پسنده په غم کښي   یم د هجر په تور تم کښي
په ښادي مي غم بدل کړه   چراغ د وصل را ته بل کړه
چه یو ځله ترِ قربان شم   لغه پس پرِ بریان شم
یوسف کوز په فرش نظر کړ   چه نظر ئي په بستر کړ
دوه صورت مصور وو   نماست په مینه په بستر وو
زړئي سترګي کړي ترِ پورته   مخ ئي واړاوه بل لور ته
په بل لور ئي خپل صورت ؤه   په تمام زیب و زینت ؤه
چه ئي کښلي پر دیوار ؤه   زلیخا سره کنار ؤه
له هغه ئي هسک نظر کړ   و بل ځاي ته ئي لر بر کړ
هورته هم په هسي شان ؤه   نقش شوي دوه جانان ؤه
که ئي سقف ته کتل ؤه   هم ئي هورته دا لیدل ؤه
امید واره زلیخا شوه   تمنا ئي د زړه دا شوه
چه یوسف په تماشو شه   شاید میل ئي را پیدا شه
په فریاد او په ژړا شوه   ور ګویا په دا وینا شوه
په خپل خداي دِ قسم ستا وي   چه هر سِر پرِ هویدا وي
حال مي زار په زړه خسته یم   ستا تر زلفو شکسته یم
په حرمت د خپل معبود   کړه حاصل خما مقصود
چه یو دم له ما همدم شه   زړه مي خوږ ته مي مرهم شه
توان د هجر نه لرم   خو به دا لنبي زغمم

ستا له هجرَیم بي تابَ — بي خوراکَ شوم بي خوابَ
ته اوبه ئي د ژوندون — زه تشنه سوي لړمون
د رحمت دریاب په جوش کړه — د ژوندون اوبه را نوش کړه
ستا په خپلو سترګو تورو — څه بخښي رنړا و کورو
ستا په خپلو ابروانو — چه هلال دي* د خوبانو
ستا په خپلو وروځو کښلیو — د قدرت په قلم کښلیو
ستا سوګند په خپل جبین دي — چه تر میاشتي لا مبین دي
ستا سوګند په خپل صورت دي — چه ساز شوي په قدرت دي
چه څما په راي روان شه — په مراد مي یو زمان شه
د خاطر غنچه مي وا کړه — په نماستي مي سره خوا کړه
ستا له هجرَیم نا توانَ — را کړه قوت څما له ځانَ
یوسف وِ که صبر وُ کړي — په وصال مي به زړه ښه کړي
په هجران پسي وصال شي — آخر خوش زړونه ملال شي
صبا کیږي له تور تمَ — خوشحالي زیږي له غمَ
نن ورځ زور را باندِ مکړه — نور چه ستا رضا هغه کړه
که قبول مي نصیحت کړي — نن مي ورځِ رخصت کړي
زر به ستا حاصل مراد شي — غمجن زړه به دِ ډیر شاد شي
د زړه کام به له ما مومي — که دا ځل مي په کام دزومي
جورِ کارونَ تعجیل وران کا — تاني ئي آبادان کا
تاني چه آزموده ده — په هر کار کښي ستوده ده
که نن ورځ له تا آزار شم — نور به تل له تا ویزار شم
څما زړه به له تا تور شي — د غم سنګ به دي په کور شي
زلیخا وِ زه تشنه یم — د مدت سوي سینه یم
صبر څه رنګ له اوبو کړم — په زړه سوزم صبر څو کړم

د صبا کار به صبا کړو   راشه نن به سره خوا کړو
نه پوهیږم سبب څه دي   چه دِ سوړله ما نه زړه دي
چه لري مي په آزار کښي   څه مانع دي په کار کښي
ده وِ یو په دین څما   سخت گناه دي د زنا
زناکار چه قیامت شي   شرمنده او فضیحت شي
هر سړي چه زناکار شي   تر آزار پروردگار شي
مفتا به ده دا وینا   اَلزِّنَا خَرابُ البِنَا
تل بي برگ زناه کاروي   څواني مرگ هم زنا کار وي
تل وي خوار په دین دنیا   لَا غِنَا مَعَ الزِّنَا
دویم دا چه له عزیزه   بهره مند یم له هر څیزه
پرورده ئي د نمك يم   له نعمت د ده ډك يم
دا چه څوك فلك زده دي   واړه دوي نمك زده دي
مرتکب چه د دِ کار شم   په عالم به شرمسار شم
په دنیا به په نفرین شم   په قیامت به په سجین شم
بل عزیز که را خبر شي   څما سر ته به خطر شي
هم له قهره هم له ننگ   ما به پر نه ږدي تر درنگ
په دنیا کښي مي دا خال دي   په عقبا کښي مي وبال دي
چه په دین په دنیا بد وي   هغه کار چه کاند رد وي
دي وِ ما ته د عزیز   کار هر گوره دي نا څیز
په شراب کښي به زهر   ورکړم خلاص به کړم تر دهر
د اجل پیاله به نوش کا   ما او تا به فراموش کا
په خپل کار به گرفتار شي   هم آغوش به د کردار شي
د عقبي اندوه هم مه کړه   چه دِ زړه غواړي هغه کړه
وائي ته چه خداي رحیم دي   کرم ډیر لري کریم دي

که بنده ئي ګناه ګار شي ‏ چه توبه کا شرمسار شي
پرده پوښ ئي په رحمت شي ‏ ور ته عفو معصیت شي
ګناه ؤ کړه توبه کار شه ‏ د رحمت ئي امیدوار شه
هم مي ډیر مال و دولت دي ‏ په انواع انواع نعمت دي
ور کوه خیر و خیرات کړه ‏ په فقراؤ صدقات کړه
تر بدي کړه نیکي زیاتَ ‏ حسنات تر سیآتَ
چه دِ زیات تر حسنات شي ‏ نور به ستا څنِ نجات شي
ده وِ کله به زه دا کړم ‏ چه نا حق کشتن د چا کړم
په ناحق چه څوك خون کا ‏ په دوزخ به ئي درون کا
زه به کله هسي کار کړم ‏ چه عزیز خاطر آزار کړم
دي څما ولي نعمت دي ‏ حق ئي ډیر بي نهایت دي
که مي خداي کریم رحیم دي ‏ عذاب هم د ده الیم دي
هم غفاردي هم قهاردي ‏ منتقم آمرز ګار دي
په امید چه د رحمت کا ‏ کا ګناه څان به په زحمت
دا ئي واړه حماقت وي ‏ شرمنده به په قیامت وي
د تریاقو له ګمانه ‏ زهر مه نوشه نادانه
که دولت د تا ډیر زور دي ‏ رب مي کله رشوت خور دي
زلیخا وي بهني ډیري ‏ تل راوړي تر حساب تیري
له دِ پس بهني پریږده ‏ سر څما په څنګل کیږده
خوا په خوا څمله را څخه ‏ چه خوا کړم در بانده یخه
خواه نخواه څما زړه غواړه ‏ شه له ما غاړه په غاړه
ژبه بند کړه له ګفتاره ‏ بس که ډیر دِ کړم خواره
دا کوم عدل کوم انصاف دي ‏ بیهوده دي د دین لاف دي
زه د غم په لنبو سوځم ‏ نا قراره وبله خوځم

ته مي رحم په حال نه کړي / فراغت اوبه خوارۀ کړي
چه ئي پسند په خپل ځان کړي / بیا ئي پسند په بل ځان کړي
له هغه پس به دیندار شي / تر هر ځا به نیکو کار شي
یوسف بل بهنه راوړه / چه له ما زلیخا واوړه
په ما هیڅ نه شته ستا مینه / مینه کله هسي وینه
چه خپل عشق اظهارۀ وي / بیا مي زړه آزارۀ وي
دي وِ مه کړه شمار نوري / که به ځان له خونَ ژغوري
زر مقصود خما روا کړه / بي هوده ویل رها کړه
کنړه اوس به کړم تر درنګَ / بیچاونړه په وینو رنګَ
پټ تر ملا ئي یو خنجر وُه / تر الماس لا تیز تر وُه
هغه دم ئي را برسیر کړ / په حیرت ئي یوسف ډیر کړ
چه به اوس له دِ خنجره / مړ کړم ځان زر تر زره
چه عزیز په دا آګاه شي / د تا مرګ به خواه نخواه شي
دریم نشته په دا میان کښي / چه به پریوزي په ګمان کښي
تا به دي خما قاتل کا / ستا په مرګ به زړه مائل کا
سر به ستا له تنَ بیل کا / تا به ما سره دي مل کا
په دنیا کښي که محرومه / ستا له وصلَ شوم زۀ شومه
پس له مرګَ به واصله / له تا شم تر دا کامله
همیشه تر خاورو لاندي / عشق بازي رښتیني کاندي
نورِ زر خنجر په حلقَ / کښېښ دي شه حلق دلق
ده وِ هي د خداي دپاره / لاس کوتاه کړه له دي کاره
ځان به مړ ما به رسوا کړي / شرمنده به عزیز لا کړي
لاس ئي تاو د زلیخا کړ / هغه تیغ ئي ترِ جدا کړ
زلیخا خوښه په زړه شوه / چه ئي مینه په ما وُ شوه

چه دا هسي دل سوزي کا   خپل وصال مي به روزي کا
شوه په خپل گمان خوشحاله   آرزو منده له وصاله
غالب شه په زړه ئي شوق   لاس ئي کړ د گردن طوق
په پالنګ باندِ ئي پرېوست   په منګلو کښې ئي کښېوست
که په زور ؤه که په کيد   اوس آهو شه ځما صيد
که هوس کړي که تښتېږي   ته به نه له ما خلاصيږي
وم د کالو آرزومنَ   تل په تا پسي غمجنَ
اوس جامي له تنَ دور کړه   برهنه ځمله سرور کړه
چه په کټ احباب ځملي   د قميص حجاب آخلي
يوسف کړ له نفسَ جنګ   په آهنګ په نه آهنګ
نفس ورؤست زړه ته وسواس   ده له حقَ کړ هراس
حق ښکاره ور ته برهان کړ   خپل عصمت ئي نګاه بان کړ
په بهنه ئي تېز خلاص ځان کړ   ترِغوررزنګ ئي په ښه شان کړ
دي هم ځو ور پسي ؤ کړ   ځو ئي ډير په سوي زړه کړ
دا دورستَ دي دوړانډِ   سره زغاستل مخ د باندِ
يوسف ؤ وِ ځما خدايه   را ته بند ورونه ؤ کشايه
يَا مُفَتِّحَ الأَبْوَابَ   خلاص کړه ما له هره بابَ
مناجات د ده کليد شه   فتح باب ور ته پديد شه
بند که هر ځو ډير محکم ؤه   ور ته وا په هغه دم ؤه
له هر وره نه دي بدر شه   ور ته پاتَ خو يو ور شه
په دا مينځ کښې زليخا   کيښو لاس د ده په شا
قميص ؤ رغي دي خلاص شه   په عفت د عام و خاص شه
په ژړلو زليخا شوه   په فرياد په واويلا شوه
آه ځما نا سازه بخت   بيا دِ پرېيستم له تخت

خلاص شه باز څما له دامَ ‌ ‌ پریوت قند څما له کامَ
جام مي ډک په زاري زور کړ ‌ ‌ بیا بد بخت له ما نسکور کړ
که مي تل دا هسي بخت وي ‌ ‌ ورځ په ورځ به مي کار سخت وي
په خپل بخت شوم خبر داره ‌ ‌ تر دا حال به شم لا خواره

وتل د یوسف له کوره او عزیز په مخه ورتله او پتول د هغه حال چه د ده او زلیخا تر مینځ واقع شوي وُه او ښرګندول د زلیخا د هغه حال و عزیز ته

چه یوسف له وره بدر شه ‌ ‌ له عزیزه برابر شه
په خوا وُ رغي ناګاه ‌ ‌ را ته کور ته له بادشاه
په یوسف ئي آواز وُ کړ ‌ ‌ ترِ پرسش ئي د راز وُ کړ
دا څه حال دي څه احوال دي ‌ ‌ ستا له چا سره جنجال دي
مشوش چه هسي ته ئي ‌ ‌ دا له چا ئي دا په څه ئي
یوسف پاتو ډیر حیران شه ‌ ‌ دي خوله پته یو زمان شه
چه جواب ئي په څه شان کړم ‌ ‌ چه ئي ورك د زره ګمان کړم
که خپل حال په ریښتیا وایم ‌ ‌ حقیقت ور ته وُ نمایم
دا چغلي کیږي له ما نه ‌ ‌ چغل سم دي له شیطانه
مرد ته بویه چه ستار شي ‌ ‌ که هرڅو په خواري خوار شي
ښه جواب چه په ادب وُه ‌ ‌ و ریښتیا و ته اقرب وُه
و عزیز ته ئي آغاز کړ ‌ ‌ پوشیده ئي هغه راز کړ
عزیز لاس د ده پلاس کړ ‌ ‌ تر ئي دفع کل هراس کړ
دلاسه ئي ډیره وُ کړه ‌ ‌ چه هراس لري له زړه کړه
ته مي زوي زه د پدر یم ‌ ‌ لا په تا مهربان تر یم
نور ئي ور وُست هغه کور ته ‌ ‌ زلیخا کړ سر ور پورته
چه ئي وُ لیدل دوي دواړه ‌ ‌ دا شوه زر ور ته ولاړه
درست یقین ئي د زړه وُ شه ‌ ‌ هیڅ ګمان ئي پاتو نه شه

چه یوسف دي راز ویلي عزیز دي قهر نیولي
ما به مړه کاندي بي درنګه یا له تیغ یا له سنګه
یا به ما عزیز رها کا په عالم به مي رسوا کا
یا به ؤ وهي ما ډیره ما به کا له دله وهیره
زر ئي مکر ور بنیاد کړ په فریاد ئي طلب داد کړ
له عزیزه داد طلب شوه په ژړا او په شغب شوه
چه دا کوم عدل انصاف دي ستا عبث د مردۍ لاف دي
زه تنها په تخت پرته وم فراغت په خواب اوده وم
چه ناګاه دي غلام نا سپاس نمک حرام
کښېښو لاس ځما په ځان لب ځما په زنخدان
بیا ئي ورو ځما په بند ګټي کینبوي بد پسند
زه ناګاه شوم بیداره په حیرت شوم له دي کاره
ده نور زر له ما فرار کړ ما هم ده پسي اختیار کړ
چه نژدي ؤ رسیدلم ناګاه وه ورغیدلم
دي شه خلاص زه پریوتلم په دا ځاي چه دِ لیدلم
که د ده علاج ؤ نه کړي تا به څه کړم ما به څه کړي
اور به پوري ستا په کور کړم ځان به خپل ژوندي پکور کړم
اوس بایده دي چه دي بند کړي په بد پسندي بد پسند کړي
چه له بدو سره ښه شي د عالم روزګار به څه شي
چه بد خوي او بد کردار وي د بدۍ سزا وار وي
چه دِ بد بدي تر پښو شي په معني بدي له ښو شي
یا ئي سر له تنه دور کړه په مردي ځان مشهور کړه
چه عبرت د کل عالم شي بند و بست به دِ محکم شي
چه بد کار و بد اندیش وي زیان د خلق وهم د خویش وي

عـزیـز وُ کړ ده ته قهر — هم ترخـه ویـل تر زهر
چه ما ته لکه فرزند کړي — په دولت مي ارجمند کړي
په خپل کور کښي مي امین کړي — په آسمان مي له زمین کړي
تمامي اختیار مي در کړ — تاج مي خپل د تا په سر کړ
غلامان مي صد هزار کړه — ستا خذمت ته مي تیار کړه
لکه ما دي له تا کړي — کله چا دي له چا کړي
کښیښو تا نا حق شناس — بیا خما په ناموس لاس
رسوا تا نمک حرام کړم — په وګړي دي ید نام کړم
که خبر په دا عالم شي — نام و ننګ به مي برهم شي
پیدا شوي چه انسان دي — په احسان د ده احسان دي
په نمک مي پرورده شوي — بیا مي مالکه په دیده شوي
چه یوسف دا هونبري قهر — له عـزیـزَ وُ لید په جهر
وِ ئي مه خوښه له ښایه — تجاوز مه کړه له رایه
اول وُ کړه فکر غور — بیا هاله کړه هونبرهٔ جور
که تحقیق د کار وُ نه کړي — کرم به شي که قهر وُ کړي
چه په عقل پوه سپک وي — په خبرو پسي ورک وي
په سرکار کښي که تمیز کړي — ته به هاله ښان عزیز کړي
زلیخا چه ښه ویل کا — د خپل جرم پټول کا
ویل کاندي په دروغ — دروغ تل دي بي فروغ
ښځي تولي خرخښي دي — کله دوي په کور کښښي دي
ګناه وُ کاندي په خپله — بیا ئي وُ تړي له بلـه
چه داخل د تا په کور یم — په معني ژوندي په ګور یم
دي دا کور په ما سور اور کړ — خما زړه ئي پرِ نسکور کړ
دا مي نه پریږدي و کار ته — وخپل کار وخپل روزګار ته

خپل ځان جوړکا په څو شانه
اختلاط غواړي له ما نه

گه په څنګ کښي دوړاندِ
را ته کښيني جلوه کاندِ

په بهنه ئي نن دي کور ته
را وستم پريوتم اور ته

فريفته ئي پر افسون کړم
په اوه در ئي درون کړم

نور ئي زر تر لاس نيولم
پاس په تخت ئي خېژولم

چه پر تخت له ما سرور کړه
زړه له زهده تقوي دور کړه

پاس په تخت له ما څمله
د زړه کام له ما آخله

په بهنه مي ترِ خلاص ځان کړ
حق پټ فضل را عيان کړ

زر د وره په لور دوان شوم
يا فتاح يا فتاح خوان شوم

دي هم دَو را پسي وُ کړ
دَو ئي دير په سوي زړه کړ

په دَو دَو را پسي تلله
عاقبت وُ رسيدله

څيري دي قميص څما کړ
خداي مي تن څني رها کړ

چه قميص مي څيري پس دي
کس ته دا اشارة بس دي

هيڅ شک نشته بي گناه يم
زه نيولي په اکراه يم

په خپل فضل څبښتن خاص کړم
چه له دِ بلا ئي خلاص کړم

هر محنت په ما آسان دي
بي عصيانَ عصيان گران دي

ما وِ زه به ستاري کړم
د دِ راز به رازداري کړم

اما دي چه راز افشان کړ
لوي ئي بار په ما بهتان کړ

له ضروره مي بيان کړ
پټ احوال مي درعيان کړ

اوس دِ تا په لاس انصاف دي
څما زړه درسره صاف دي

که د عدل په لار درومي
تلافي به ئي بيا مومي

که څه ظلم يا ستم کړي
ځان به ته ترهرچا گرم کړي

زليخا وي دروغ وائي
بند زدن کشتن ته بنائي

په هغه څما سوگند دي
چه هرپټ په ده څرگند دي

چه له دِ گناه يم پاکه — نه بد کاره يم بي باکه
په هغه بادشاه سوگند کړم — پټ ئي نهٔ کوم ښکاره کړم
چه شاهان دِ جهان واړه — ږدي د ده فرمان ته غاړه
چه زه څهٔ څو مي تبار دي — نه بد خوي نه زناه کار دي
قبلوي ډيري خواري — اما نه زناه کاري
هم سوگند د تا په سړ کړم — په ليدهٔ ئي چه تل سخ کړم
ډير ذليل پر عزت کيږي — چه پر ستا مرحمت کيږي
چه هرګز په زړه څما — گذر نه شي د زنا
چه زولي يم له موره — په امان يم له دِ توره
چه زنا وُ شي له چا نه — ور ته پاته شم حيرانه
چه زنا وُ کاندِ ښځه — سر ئي پري کړي پر ترخځه
چه دا هونبره سوگندونه — بند په بند په پيوندونه
زليخا وُ کړه څو شانَ — شوه عزيز ته پاك دامانَ
نور ئي زر حاضر کوتوال کړ — پر ئي حکم دم در حال کړ
وِ ئي بوزه يوسف بند کړه — د روند ښځير ور ته پسند کړه
تر هغه چه کار ښکند شي — بهتر دا دي چه دي بند شي

له دیوانَ د عبدالقادر خان

ځوي د خوشحال خان خټک

عبدالقادر خان ختک

ساقي پاڅه پياله را کړه پاړي ريد کا　　د بهار د راتلو باغ و ته نويد کا
ستا په ميوکښ نشا د يك رنګي ده　　چه ترفهم مي يکرنګ سيه سفيد کا
د غماز خاطر به ويلي لکه يخ شي　　که يارمخ را ته ښکاره لکه خورشيد کا
سياه چشمو څخه بوي د وفا نه شته　　له دي باب به څوك څه ورته اميد کا
چه په عشق سره ژوندي وي هغه نه مري　　خداي توانيږي که څما عمر جاويد کا
زړه يې درست له ما نه يووړ لا يې ګوزه　　چه لا څو سحر دمونه مکر و شيد کا

دا څل ډير عبدالقادر څني سود مند شه
چه به بيا په ښائسته دا اعتميد کا

په تهمت کښ کا خپل يار پسندلي ما　　د عالم تهمت په سر منلي ما
ډير به نه وي هجران ګران که يې له غمه　　په وصال که يې هميش ژړلي ما
ما به تل لکه بورا په ګل سينه مښه　　کا په کښ د وفا بوي موندلي ما
چه بي سوال ور کړه کا منت نه ږدي　　سخاوت دي د هغو پسندلي ما
حريص څکه هسي در په در جاروزي　　چه دي ډي له خپل در رټلي ما

سرمدي ژوندون حاصل عبدالقادر کا
د غمزي په تيغ چه دي وژلي ما

ګوره ډيره ناداني بورا بلبل کا　　چه خزان ور پسي شته مينه په ګل کا
دا څراغ به بل تر کومه وي په باغ کښي　　يوه ورځ به يې صرصر د قضا ګل کا
په صبا يې په زشتي بدل ښائست شي　　شب څراغ چه په شپه هونبره تجمل کا

خفي شرک لکه جلي ور څرګندیږي عارفان کله نظر په جز و کل کا
له شبنم سره د ګل غوټئي غوړیږي د بخیل غوټه لا سخته نو د مل کا
نندارچیانو به ئي شرح د مخ وه کړه تحیر ور ته آواز د لا تقل کا
ستا قلم عبدالقادر مشک افشان شه
چه دِ ډیر صفت د زلفو د کاکل کا

که خاني که ملکي که سلطاني دَ که ئي ګوري بیهوده سرګرداني دَ
مرګ و ژوند بي ښکلي واړه برابر دي ښائسته وته په کار زندګاني دَ
په نصیب څما د زړه د یار د زلفو له ازله بخره شوي پریشاني دَ
له مستئي نه ښیښه پریوته په زمکه ساقي قهر غصه مه کړه څواني دَ
د هوښیار په غلطي قهر و عتاب شي معذرت د نادانو ناداني دَ
یا به سیځي د چا خونه یا به خون کړي چه آغوستي دِ جامه ارغواني دَ
د عشق اور به ئي د ګور له خاورو دروي د هرچا چه د خپل یار مینه جاني دَ
خرابات لره به ځم له صومعي نه چه په کښِ د دواړو کونو آماني دَ
تر نګین د قناعت لاندِ جهان دي که راکښي ئي کړي په ګته سلیماني دَ
سري سري اوښي دِ په مخ عبدالقادرَ
و خپل یار ته د یاقوتو مهماني دَ

چه مي وه لیده له یار سره اغیار ګډ په فریاد شوم په نارو شوم په چیغار ګډ
آئینه د زړه صفا په خاکساري شي هم په دا له تورو خاورو شه خاکسار ګډ
عندلیب د زړه له تاوه ناري وه کړي چه ئي وه لیده له ګلّ سره خار ګډ
هر یو ګل مي په زړه خار غندِ څرخیږي چه بي تا شم کله زه په لاله زار ګډ
ستا په زلفو کښِ مي زړه هرګور پریشان شه مسلمان دِ نه کا خداي په هندو بار ګډ
ناداني نادان همیش لري په عیش کښِ هوښیاري د غم په سیند کاندِ هوښیار ګډ
چه آخر څني واته په ډیر ارمان دي
نه به شي عبدالقادر په دا بهار ګډ

بر بر راشه اي څما د سترګو تورَ — خداي مي مه کړه د زړه مینه له تا تورَ
څما ستا له مینې ډیر عالم خبر شه — څه به ویره کړم له شره له پیغورَ
عاشقان له تهمتونو نه خلاصیږي — همیشه باندِ غوغا وي لور د لورَ
سپي که هر څو غپا ډیرهِ کا مزري ته — مزري هیڅ نه کا پروا د دوي له شورَ
که نمجن ویل دِ نه کیږي و ما ته — کـلـه کـلـه را ته کړه خبره سپورَ
چه رقیب وته ښکنځل کوي زه سوزم — جګي جګي بي له ما نه بل مه زورَ
زور قوت د زورورو د زړه کم کړي — یوه څه بده بلا ئي د عشق زورَ
مستغني دِ د جهان له بادشاهۍ کړم — د همای تر سوري بهه ده ستا سورَ

څو دِ توري سترګي توري خاوري نه دي
تل پر مخ عبدالقادرَ د یار ګورَ

که ترخه وي هم د قهر شراب نغرَ — ظلم و جورَ په چا مه کړه څیګر ورَ
بازچه وینې د څیګر خوري مرګ ئي ژروي — له دي وینو څان ساته څما څیګرَ
هیڅ حاجت د بند زندان ورلره نه شته — بند زندان دي د دانا د خولي خبرَ
د دوران د حادثاتو غشي نه خوري — هر حلیم چه آغوندي دِ حلم زغرَ
چه د زړه له کمره پریوزي ریز مریز شي — خداي دِ پري نه باسي څوک له دي کمرَ
که سري په اصل یو دي فرق ئي ډیر دي — یو په یو دي یو په سله یو په زرَ
مرغلري سل آخستي په دینار شي — هم په سل دینار آخست شي مرغلرَ

که بادشاه که امرا څان به ئي سیال کړي
چه امید نه کړي له چا عبدالقادرَ

که هر څو لعل آبدار لري دلبر — نه شه هیڅ کله پرِ یخ څما څیګر
د هغو شهلاَ نرګسو له فراقَ — همیشه مي تر نرګسو څي ګوهر
هر یو ګل ئي د ښائیست د باغ منظور دي — ولي. لا ئي په سمن لګي نظر
راشه وه ګوره څما زیبا صنم ته — که به ګوري په یو څاي هلال قمر
سروي سر د خجالت په زمکه کیښود — چه سر هسک کړ په بوستان د یار عرعر

د ژوندون چینه یادیږي په تیاره کښې   ما له خدایي را کړه چینه په خنګ د نمر
چه سنبل به باد پریشان په نسترن کا   په غروب شي د عاشق د بخت اختر
چه غنچه ئي شګفته په تبسم شي   له ګوهره ئي جهان شي منور
که له ډیره رشك ؤ چوي حد ئي څه دي   چه له ملا سره ئي مو وهي کمر
که ئي نوش عبدالقادر د شکر مې کړ
پرِ به شي د مرګ تلخي شهد و شکر

زه که په رنګ بد یم ښکلي ولي عار له ما کړِ   چارِ د قسمت دي زه ئي زشت ته ئي زیبا کړِ
اي د صبا بادَ چه بیا نغښتي غنچي وا کړِ   یو څله بیا راشه په ګلونو نظر ؤ کړه
سروي له فراقَ لاله سترګي په ژړا کړِ   ګل دِ په هجران کښِ صد پاره خپله سینه کړه
ولي له شیدا بلبل مخ جارباسي اي ګله   ته په دا خوبیو هم د ده نارو رسوا کړِ
لا خشبوئي ورکا عود چه واچوي و اور ته   زه به وفا زیاته کړم که ته زیاته جفا کړِ
ته د حسن نمر ئي دا نور ښکلي واړه ستوري   ګلُ به کالعدم شي که ښکاره خپله لقا کړِ
تل لباسي وائي دروغژن عبدالقادر ته
کشکي بل تر ده نه مخلص یار چرته پیدا کړِ

زړه مدام را ته ویل کاندِ چه ژاړَ   په ژړا ژړا بیل شوي مین غواړَ
په طلب ئي د دنیا ودانی پریږده   لیونیو غندِ سر شه په ویجاړَ
مصلي د بي ننګئي ورپسي لنګ کړه   د ناموس بیچاونړه تاو کړه ؤ ئي نغاړَ
یار څما د سترګو تور دي پرِ ګرزیدم   په هجران کښِ مي د سترګو رنړا لاړَ
ښائیسته که د کشمیر که د بل ملك دي   تر یوه بانړه مي زار شه د یار واړَ
د مکي زنځیر دِ نور نسي په لاس کښي   ما نیولي دي د یار زلفي هر دواړَ
که رضا دِ ده څما په سر لوئي کړه   په خندا خندا راځه په لکه غاړَ
تل د یار په سترګو مست عبدالقادر دي
که نور مست وي له شرابو یا له تاړَ

له همه عالمَ واړه صلح کل شَ   و هرځه ته خوشبوئي ورکوه ګل شَ

تعلق په تیریدوني هوس مه کړه — په بهار کښِ په نارو لکه بلبل شې
د سبب توانګري عین نیستي ده — توانګر په خزانو د توکل شې
اضطراب به دِ خلاص نه کا له تقدیرَ — مستقل ور ته په صبر و تحمل شې
ځان د عشق په اورلوګي لکه سپند کړه — هم په دا بهنه ئې ځار تر شنه کاکل شې
په تاخیر کښِ پیدا کیږي آفتونه — معطل مه کړه ساقي په داد د مل شې
سترګي مه وچوه یو زمانَ له نمَ — تل په زړه تازه تازه لکه سنبل شې

خو خپل نیت عبدالقادر یار ته سم کړه
بې پروا له بد ګوئي د چغل شې

مرغلرِه وه لیده شوه په پیزوان کښِ — که غوټئي وه د شبنم په ارغوان کښِ
د خطا د ملك کبلي دي دواړه سترګي — چه تل ځر کا په سنبل و په ریحان کښِ
ستا د ورځیو تشبیه نه موم په دَور — لړ و ډیرمي دي منډلي په آسمان کښِ
څه نسبت د یار د غاښو په ګوهرو — دا په نس کښِ د صدف غاښ په دهان کښِ
چه له شونډو ئې نسبت کړ سخن دانو — شرمنده شه لعل ننوت په کان کښِ
د لذت بیان ئې ځوك کولي نه شي — د جنت د خوږو خوند ستا په لبان کښِ
ستا رخسار وته حیران د خداي و کړه ته — چه ئې ته ساتي له اوره په امان کښِ
تماشي مي د جهان د ګلو وه کړي — نه شته تا غندي یو ګل په ګلستان کښِ
په دا شکر چه اوږدي زلفي ئې در کړي — پړ وه کاږه ډوب په چاه د زنخدان کښِ
حاضران دِ له غیرتَ په خوله لال دئ — غایبان دِ تمثیل راوړي په بیان کښِ

سترګي ښي عبدالقادر له واړو بند کړه
پس ته واړه جهان ؤ وینه په ځان کښِ

په آخر به څني درومي سینه داغ — بیهوده باغبان نازیږي په دا باغ
چه داخل وي د دنیا په خرابات کښِ — په وار وار به واړه څښي د مرګ اياغ
تش ساتي نصیب د نورو به ئې یوسي — په دنیا دنیا دار ولي کا دماغ
د بلبلو غندِ ګښت په ګلو نه کا — په مردارو باندِ ناست وي لکه زاغ

په طلب ئې بادشاه ګرزي ګداي بیا موند — که آرام که آسایش دي که فراغ
په لحد کښې به د شمعې رڼا نه وي — مګر یوسي ور سره د آه څراغ
سري سري اوښي د مجنون دي یهیدلي — غوړیدلي لاله ګل نه دي په راغ
د نیستۍ په لار څه عبدالقادره
ګندِ بیا مومې د یار د در سراغ

چه قانع په یوه څاڅکي شه صدف — قیمتي ګوهر ئې څي په هر طرف
که عزت غواړې قانع پخپل قسمت شه — ورکړه کړه که بزرګي غواړې شرف
بندول د دنیا بندِ جهنم دي — آزادهٔو څکه کیښوده په کف
د دنیا خلق مې وه لیده په سترګو — یوئې جمع په ډیر حرص کا بل تلف
چه ژوندون همیشه نشته په دا څه شو — په حشمت که سلیمان شي که آصف
د سړي ښائیست په علم و په حکمت دي — د چارپایو څربیدل دي په علف
که څوان مردِ ئې بل آزار مه کړه هیڅکله — څان د ښو بدو و تیر ته کړه هدف
تل له خدایَ ترس کوه عبدالقادره
حق خائف ته دي ویلي لَا تَخَفْ

ما هرګز په درست جهان کښې توري سترګې — لکه ستا نه دي لیدلي توري سترګې
بیهوده په غزالهٔو پسي زغلي — څما یار لره راځه که ګوري سترګې
چه فائده ئې د ښه مخ لیدلي نه وي — د هغو سړیو څه دي کوري سترګې
نه دِ شرمِ شي له پیره نه له میره — ستا په دود به د چا نه وي سپوري سترګې
ثوابت ئې تر نظره سیاره شي — چه ئې سر وي ګرزیدلي توري سترګې
چه جهان مې پرِ لیده په سترګو لاړ شه — نور مې خداي کړي له عالمَ پوري سترګې
په دي سترګو به ئې خیر عبدالقادره
نه کړي نوري په خپل مخ کړه پوري سترګې

سحر دا آواز مې غوږ یوست له بلبل — ستا خندا په ژړا کیښتمَ ګلَ
تر مستي ئې لا لذت د خمار ډیر دي — ستا د سترګو مستي بهه ده تر ملَ

ښائسته د زماني دنیا پرست دي   په کوڅه کښِ ئي پل مه ږده بي پلَ
په چغلي مي ستا په یار مینه زیاتیږي   چه دِ زړه هوسېږه چغلي کوه چغلَ
په پریشانو اندیښنو خاطر پریشان شي   جمعیت مومي خاطر له توکلَ
چه ستا مخ ورته ښکاره وي گل به گوري   هغه سترګي دِ خداي نه کاندِ بي گلَ
د مجلس روښنائي ته ئي چه ته ناست ئي   کوم نقصان دي که صبا کا ډیوه گلَ
ساقي مَي چه راکوي په قهقه خانده   زده کړه دا د صراحئي له قلقلَ
د لیدوني په نظر کښِ تفاوت دي   او که نه وي جز جدا نه دي له کلَ

دا دنیا په مثال پول د آخرت دي
تیر شه زر عبدالقادره له دي پلَ

په دنیا کښِ کمال نه شته بي زوالَ   د زوال اندوه کوه صاحب کمالَ
د هجران له غم تریخ لکه هجران وه   ما هرګز لذت بیا نه موند له وصالَ
نمر له تا نه منور شه دا له نمره   څوک به میاشت کا ستا له مخ سره سیالَ
ستا په تللو مي ارواح دروسي له تنَ   یو زمان را ځني مه ځه د یار خیالَ
چه په هجر ئي مړ نه شوم په وصال کښِ   یار ته غټ نه شم کتل له انفعالَ
هغه چا چه ییښي داغ ځما په زړه دي   هم هغه ور باندِ کیښوه دسمالَ
که گذر ځما د یار په کوڅه وه کړي   دا پیغام ور باندِ وه وایه شمالَ
زه که یو ساعت بي تا نه یم بي غمَ   تا دِ خداي همیشه خوښ لري خوشحالَ
ډیر مین په ډیر ارمان ځبله بیل شول   خداي دِ را مه وله بیا د غواص کالَ

تر هر حرف ئي بوي د مشکو د عنبر ځي
چه ثنا عبدالقادر کا ستا له خالَ

شګفته په باغ و راغ شه د بهار گل   هم په بام هم په کوڅه هم په دیوار گل
کانړي بوټي خار و خس په گلو پټ کړل   د همه وارو عیبونو شه ستار گل
څو د سترګو نظر لګي واړه گل دي   وړاندِ گل او ورستو گل یمین یسار گل
هیڅ یو ځاي خالي له گلَ پاتو نه شه   په بازار گل په صحرا گل په کهسار گل

عندلیب ناري وهي چه سیل کانړيي بهار دروميي رژیده کا وار په وار گل
د بهار په سیل جونه زلميي ږدینه په اوربل گل په گریوان گل په دستار گل
د دلبر صورت تمام له گلَ روغ دي ښيي ئي گل لاسونه گل څړه رخسار گل
ميَ گلگون ساغر گلگون ښیښه گلگونه ساقي گل حریفان گل واړه نګار گل
چه گلونه بويوي احتیاطي بويه چه په شونډو ئي وه نه کاندِ پرهار گل
خاص و عام ئي بهرهٔ مند په ننداره کا منتونه په هر چا باندِ کړه بار گل
که هزار رنگَ گلونه شګفته شول وُ لید نه شه یو په شان څما د یار گل
چه دا هسي شان په ډکه خوله خندا کا مکر نه دي له خزانَ خبردار گل
چه نیسان د خپل آشنا په کښِ لیده شي
څکه یاد عبدالقادر کا په تکرار گل

عجب خوښ په خوب اوده وم د عدم نه مي غم وه د ښادئي نه د غم
یا وحوش ويَ یا طیور یا نور آشیا ويَ کشکي زه نه وَي پیدا بني آدم
یا مي مرگَ پهلك والي ويَ چه خلاص ويَ وه مني نه لیدي دا هونبرهٔ ډیر الم
نه اول شوم نه دوهیم شوم نه دریم شوم څلورم بويه د رب فضل و کرم
چه مخلوق ئي کړ آدم له ماء و طینه روح ئي کړ له خپلَ فضلَ په کښِ دم
له اولَ ئي مسجود د فرښتو کړ په تکریم د کرّمنا شه مکرّم
و جنت ته ئي روان په ډیر اعزاز کړ پرِ پریوان ئي کړ انواع انواع نعم
بیا شیطان وسوسه ور وسته و زړه ته په ویل ئي د حوا وه خوږ غنم
له جنتَ ئي بیرون په درد و دوک کړ د عاصي آدم ندا شوه په عالم
چه نسبت ئي کړم وتا وته ویریږم خو هم ما وه کړ په څان باندِ ستم
څه شیطان څه نس څه زړه څه څموږ فعل ولي نه شي زور ور ته ویل سم
هیڅ حجت له زورورو سره نه شي
کرم ئي ته عبدالقادرَ یار نا کرم

چه تل هسي په هوس په بي غمي یم اقرار شوي د خپل عقل په کمي یم

آدمیت که په سیرت وه له ما لاړ شه　آدمیت که په صورت دي آدمي یم
که په فضل مي کار وه سپاري غم نشته　که په عدل مي سپاري جهنمي یم
د هجران په لنبو سوي یم فریاد کړم　ما معذور لرئي عالمَ المي یم
اهرمن چه لاس ور وړي ګوتي ئي سوځي　بادشاه شوي زه د فقر په غمي یم
د معنو په ملك فارسي عربي نه شته　کوم نقصان که عرب نه یم عجمي یم
کله زه عبدالقادر شعر لاف کړم
مرثیي د تللو وایم ماتمي یم

موږ ته نر نا حق عالم وائي پندونَ　په خپل عقل هر سړي کا آنندونَ
د نور چا په موږ څه کار چه امتناع کا　که د یار په مینه سر و مال ښندونَ
محبت لکه دریاب په زړه را وه خوت　د دریاب په منځ کښ ځوک تړي بندونَ
د پیوند په پري کولو فقیري شي　نه په دا چه ځبله کیږدي پیوندونَ
بي اختیاره ورکاوه شي زړه و ښکلیو؛　نه دا کار په مصلحت شي په ځیزونَ
بهایم په خوراك شخوند کا د سړیو　د خبرو په معنو بویه شخوندونَ
ځو وایه شي ستا بیان عبدالقادره
په رنګ رنګ تر پیدا کیږي نور خوندونَ

ناز پروره چه په غاړه کا هارونَ　په سینه د ګلو وه شي پرهارونَ
ته به وائي چه په ګلو شبنم پریوت　چه له قهره ئي خولي شي رخسارونَ
که یو ځل چرِ غلط شم توبه‌وي مي　په ورځ صل غلطي کا نه ئي شمارونَ
ما به تل د یار تلي کیښول پر سترګو　که مي نه وي دا بانړه لکه خارونَ
په لیدل د ښائسته غزل انشا کړم　عندلیب په ګلو کاندِ چیغارونَ
د لبانو جړئي هم ورڅخه شته دي　که ئي دواړه توري زلفي دي مارونَ
په هیڅ ځاي باندِ ګوتي ایښوي نه شي　دغه دوه سترګي دِ لا دي کتارونَ
راغي وار دِ تا د تلو عبدالقادرَ
په وار وار یارانو تیر کا خپل وارونَ

که دِ نه ده د خپل مخ څهره چرګینَ — آینه څما د زړه نه ده زنګینَ
چه و تورو ته نژدي شي هغه تور شي — په ستنه را څیني ګرزه تکه سپینَ
چه ئي زړه د محبت په لنبو وه سه — د دوزخ له اوره څه پروا لرینَ
توره شپه به په عاشق بانډِ سپوږمئي کا — که پلو له مخَ واخلي مه جبینَ
وار په وار مي له زړه واړه څني لاړه — بي له ښکلیو چه هرګز څني نه څینَ
د بلبلو له آوازَ ئي اثر دي — دا غنچه چه خپل ګریوان پاره کوینَ

غیرِ حق میني همه واړه حجاب دي
مه کړه نور عبدالقادره غیره مینَ

غره مه شه د دولت په بام ختو — هر زمان ویره کوه د پریوتو
دیرئي هسك کړه بیا ئي وه ویشته له زمکي — هسکول د چرخ په نیت دي د ویشتو
له اوله پرِ پیدا د محبت کړه — که آسمان ته نیت لري د آلوتو
چه ئي مینه د ښه مخ په زړکي نه وِي — د هغو مخونه نه دي د کتو
ما وِ څان د درله سپیو سره مل کړم — یوه ورڅ ئي را ته نه ویل چه تو
چه ړندي نه شوي د یار په جدائي کښِ — خوښ یم اوس د دواړو سترګو په وتو
توانګري په قناعت شي نه په زرو — سفیدي بویه د زړه نه د ویښتو

تا خوږه کړه تر فارسي عبدالقادره
که ښخوا وه ترخه ژبه د پښتو

چه آخر څني شلاوه شي په ارمان زړه — څوك به څلره تړي په دا جهان زړه
د دي باغ له ګلو بوي د وفا نه څي — نر نا حقَ پرِ بایلي دا بلبلان زړه
چه خیالِ د یار د زلفو پریشان دي — جمعه مه شه تل مي اوسه پریشان زړه
سخت بي رحمَ بي پروا لکه چه ستا دي — په جهان کښِ به بل نه وِي په دا شان زړه
په هر څاي چه ئي دلبروي هم هوري وِي — په ګوګل کښِ ساتي کله بي دلان زړه
خدايَ څه دِ په نادان ښکلي مَین کړم — چه بي جرمَ بدهوي په هر زمان زړه
قرب و بعد وصال هجران به ورته یو شي — چه ئي بیا مونده مکان په لامکان زړه

د دوزخ آتش مي صل ځله قبول دي   خدايَ مه کړه د هجران په اوربريان زړه
بنګ شراب سرود کوه عبدالقادره
خو يو مه کړه آزرده د مسلمان زړه

ساقي هسي پياله را کړه رندانه   چه په شکل ئي لا يعقل شم ديوانه
سر زده له خلقَ تبستم و صحرا ته   د مجنون غندِ خپل ځاي کړم ويرانه
د مقصود ميوه به هاله څني وُ خوري   چه په خاوروکښ ځان نيست کاندِ دانه
چه په کښ دَ ښائيستهوُ د مخ خيال دي   دا ځما خاطر د چين نګار خانه
له غيرتَ مي ګوګل پاره پاره شه   چه ئي ګوتي په ويښتو وهي شانه
د بهار په وقت محتاج د مطرب نه يم   را ته بس دي د بلبلو ترانه
هره شپه هنګامه ګرمه کړم په کوي کښ   ګندِ راشي دلربا په دا بانه
چه هوا ئي و بايلو وته د سر شي   غواص غواړي په صدف کښ دردانه
سر به صل ځلهٔ ترِ جار عبدالقادر کا
که د سر په ښندل مومي جانانه

محبت په ښکليو کا تمام وګړي   چا دا اوردي ښکاره کړي چا دي نغړي
ثمره ئي خواه مجازخواه حقيقت وي   په انسان ئي دي کرلي د عشق زړي
ځما داغ عارضي نه دي چه به ورک شي   د لاله غندِ مي داغ له ځا راوړي
ګل ګريبان په نغمه څيري د بلبل کړ   دا نسيم نه دي ګريوان د غنچي سپړي
را به وه وزي عاقبت د غم له ځاهه   چه نيولي ئي په لاس د ميني پړي
چه څوک نه کاندِ آزار له چا نه آخلي   ترکسرا تر حاطم ځان هغه تير کړي
که سفله څښتن د جاه شي په دا څه شو   په معني بړبوکي پورته کا خسړي
زه ختک د يأر په غم تازه تازه شم
غوريه خيل رحمان که شه ورځيني ستړي

له دیوانه د احمد شاه ابدالي

شاه درِ دران

احمد شاه ابدالي

هسي گرزي په زړه مینه د لیلي | چه ثنا وائي مجنون تـل د لیلي
وا ئي نه خست بل سبق په دا دنیا کښې | سبق بي لـه خالِ و خط د لیلي
ده ته خوب د بیغمئي تل دغه دي | چه په خیال په شپه و ورځ وي د لیلي
ځانکند که ئي د غم په توره کیږي | ارمان نه که چه حضور وي د لیلي
عاشقان چه تل لیلي کا واویلا کا | ځان فنا بـقـا په نام کا د لیلي
غم له ډیرَ غمَ غواړي نه ئي مومي | آشناي تل په غم کښې خوش وي د لیلي
د عشق درد ئي واړه وه سوځي یکبارَ | چه وصال ئي سرانجام شي د لیلي

را شه زده کړه احمد شاهَ له مجنونَ
چه مجنون په عشق موصوف دي دِ لیلي

لاس و ما وته په ورو راوړه طبیبَ | مهر وه کړه حال مي وه گوره حبیبَ
وسکه زړه ځما هرگوره ډیر خوریږي | له قسمتَ آشناي نهویني قریبَ
دا په حسن ډیره ډیره ښائسته ده | زړه مي ځکه ځله کاندِ بي ترتیبَ
محبوبا که په خوله ډیر کوي دادونه | ولي هر څوک بخره مومي له نصیبَ
که هرڅو ورته کوم ډیري زاريِ | را ته وائي مهٔ کړه غم ستا یم غریبَ
چه صباح ورلړه راشم ځما جانه . | وائي څوک دي ذلته څه کا بي ادیبَ
که زه زړه ورځني پریکړم نه پریکیږي | چه دا ډیره ده په اصل کښې نجیبَ
توري زلفي پرسپین مخ باندِ ځریږي | په ښائست ده شوخ وشنگه خوش ترکیبَ
چه دلبروته خداي حسن د گل ورکړ | ترو به ولي چغار نه کا عندلیبَ

احمد شاه ارواح طوطي کا چغارونه
د آشنا له ملکَ راغي بيا نصيبَ

خداي دِ ورک کړه دِ ناسوت مېځَ — خوله به پاته نه وي ستا له مېځَ
په هر زخم چه ستا مقام شي — تل ته تله په غم گرفتار وي ستا له رځَ
درست جهان دِ سره گنگ کړ — ستا لا خوله نه شي له بده آوازه وځَ
درست جهان په تا مردار دي — له ارمانَ لا دوه لاس مړي له غېځَ
غافلَ د مېځ خويونه مه کړه — دا بينا سترگي خلاصي کړه له لېځَ
ته بنده ئي خداي وه غواړه — بي له خدايَ ژوندون کم گڼړه ترپېځَ
يقين باور در سره واخله — د گمان تياره خونه به سپينه کړي له گېځَ
کميني او عاجزي دِ تا کمال دهٔ — د نفس تند خويونهٔ مه واخله له مرځَ
خپل اصل به ته بيا مومي — چه د کبر گردن وه باسي له خرځَ
احمد شاهَ د همت تورهٔ در واخله
نفس شيطان هندو وه باسه لهٔ کېځَ

هي توبه د بيلتانه بده کرکنډَ — چه همېش کا پر مينو زړونو منډَ
ښه ياران خبله تار په تار جدا کا — د هجران شپي دِ تل خداي لري لنډَ
چه دا هسي بي ارمانَ غشي ولي — د آشناي خونه خالي دري گور هنډَ
بي ژړا ئي بل راحت د زړگي نه وي — نوند گريوان آهونه کاڼي لکه کنډَ
د يار غم ئي د ادب گريوان پاره کړه — نيوز د اوښيو کا د سترگو واله ژغنډَ
زړه به خړنگ غوښي ويني ژړا نه کا — د فراق اوښي پر سترگو تړي ډنډَ
فراق هونبرهٔ و عاشق ته وار ور نه کړي — د زړه ويني ئي تر سترگو ځي کنډ کنډَ
و هيڅ خوا ته ئي اميد نه وي چه گوري — خپل صورت شي پرده باندِ د غم پنډَ
که غم زور در باندِ وه کړي احمد شاهَ
له اخلاصَ ته و خداي ته وه کړه منډَ

د بلبلو پر ځاي مه واي زاغان گډ — په بوستان د گلو تل واي ياران گډ

گل چه بي د يار له مخه ليده کيږي — جوړ د سترگو نظر وي په خارستان گډ
گلستان د يار له مخه سره زيب کا — بي له ياره مه کړي زړه په گلستان گډ
هغه اوره چه د کرم اوبه ئي نه وي — هغه اوره مه کړي په مخ د دي آسمان گډ
تار د زلفو چه ئي پريوزي — بي له سره نه وينم بل تاوان گډ
چه د مخ خال ئي په ورانيږي — پر مخ دِ نه شي د اوښيو تل باران گډ
د يار مخ لکه گل خزان په مه کړي — دا گل دِ تل تازه وي په بوستان گډ
باد د خزان چه گل پريشان کا — کاشکي دا باد کړي په نارستان گډ

احمد شاه د بيلتانه غمونو سوي
يوار ئي بيا کړي په تولئي د ياران گډ

وريځ راغله د بهار — پر جهان به کا گلذار
زړه مي هوسيږي — بيا به گل کا د زړه خار
چه ښاخ د خار کا سره گلونه — دا ښه قدرت د کرد گار
د قدرت اوبه ئي ور کړي — له وچ سخره ثمروه کا اشجار
هيڅ نشان دِ ثمر نه وي — په څو شان بيرون کا مزه دار
خونده و رنگ و بوي به ئي نه وي — له وچي وني څو رنگه شي اظهار
له قدرت ئي نازيږم — بي اوبو د غره شجر کا ميوه دار

احمد شاه شپه و ورځ ثنا کړه
عقل د چا رسي په دا کار

څما زړه گوره چا يووړ — په دوو زلفو ليلي يووړ
څکه دي شه بي آرامه — چه د زلفو بلا يووړ
دا د زلفو بلا نه شته — بي بلا محبوبا يووړ
مخ ئي نمر را ته تاويږي — زړه ذره نمر گويا يووړ
که مي زړه ته نصيحت کړ — درد بي پنده له ما يووړ
د جهان پر مخ دي مخ کړ — مخ ئي مخ د دنيا يووړ

چه په خپل قوت غره وم — زړه قوت په تالا یووړ
دا کتاب خما د سترګو — سیلابو د ژړا یووړ
څه بازار چه مي د زړه وه — نن ستا حسن په غلا یووړ
حسن باج و ځا ورنه کړ — ده جهان په یغما یووړ
ما ویل چه مینه نه کړم — زړه بي واكَ شها یووړ
مینه نه وي چه آرام وي — خما د زړه آرام تا یووړ
قراري د زړه مي نه شته — بي قرارَ زلفو ستا یووړ
دلاور د یار په مخ وم — زړه حیا بي حیا یووړ

دا تمام عالم ښادي کا
احمد غم د آشنا یووړ

دلبره ستا په رنګ به نه وي په جهان کښې — پلو واخله یار به مړ شي په ارمان کښې
همیشه سوي سینه در پسي ګرځم — ستا ځاي نه دي په زمکه په آسمان کښې
قلندر یا به ملنګ په جهان ګرځم — یا به اوښي تویوم په خپل ګریوان کښې
د سحر بادَ خوش نسیمَ خبر راوړه — د زړه ګل مي خندان کا په بوستان کښې
چه ناري کوم یا ژاړم مراد مي دا دي — چه زړه بلبل وي ستا د مخ په ګلستان کښې
ستا د حسن له تاراجَ زړه ژړا کا — لکه بلبل د زړه ژړا کا په خزان کښې
په جهان به زړه خلاص نه وي له تاراجَ — زړونه سوځي عجب اوردي په پیزوان کښې
د خلق هیڅ ملامت پرخان نه ږدي — په نارو عاشق ولاړ په دا میدان کښې

په جور و په جفا ئي لاس وا نه خلم
زه احمد شاه که جوړ وم په سامان کښې

شیرین عمر چه تیریږي دریغَ دریغَ — لکه اوبه هسي بهیږي دریغَ دریغَ
ولي زړه په خبر نه دي له رفتنَ — چه دا هسي زر تیریږي دریغَ دریغَ
ولي هسي شوي له غمَ خما دلَ — عمر بادِ غندِ چلیږي دریغَ دریغَ
که هر څو په ډیر ناز جوړ کړ مانړئي — په ارمان ځني پاتیږي دریغَ دریغَ

دریغ دریغ آخر دریغ ځما دله چه مین ځبله بیلیږي دریغ دریغ
دا یاران لکه ګلونه د بهاردي د خزان په تاو رژیږي دریغ دریغ
دا هجران مثال دوزخ بیلتون ډبري د عاشق په سر لګیږي دریغ دریغ
د دنیا دلي پریښو دي بي وفا ده سود ئي نه وي چه وره کیږي دریغ دریغ
که پیدا نه واي دیدن بیلتون به مړ وه له دیدن خون بهیږي دریغ دریغ
که مقصود د آشنائي ده بیلتون خپل کړه ستا له لاسَ در رسیږي دریغ دریغ
آشنائي په مثال ګل حاصل ئي خاردي خارشي سخت هاله څرخیږي دریغ دریغ

احمد شاه به څه غم کا وقت د هوس دي
د وصال نوبت رغیږي دریغ دریغ

کاشکي مه واي په دنیا غم د فراق چه ډوب نه واي زړه په دا یم د فراق
یار په مهر و په وفا نتلي مه شه که نتلي دي عاشق غم د فراق
د عاشق زړګي به ولي زخمي نه وي تیري توري خوري په هر دم د فراق
اندیښني لکه مارونه تر چاپیر شي چه سیلاب ئي شي پر زړه سم د فراق
قافلي له دي دنیا قطار قطار څي جهان خونه ورانه کړه یم د فراق
په دا تاو سره به غرونه هم اوبه شي که په راشي آتش ګون دم د فراق

سرو قده سرنګون شه شاه احمده
مشه ستا قامت په بار خم د فراق

نن ته بیا ولي ژړا کړي ځما دله همیشه آه و غوغا کړي ځما دله
لکه خپل کبلي چه ورک کاند هوسئي هسي شان الا بلا کړي ځما دله
ګوره بیا په نصیحت د صبر نه شي ګریوان چاك په واویلا کړي ځما دله
لکه اور ته نا قراره څي ستئي شیرین عمر وته شا کړي ځما دله
په دا ډیر ډیر شورا شور د نه پوهیږم هسي نرم زړګي چا کړي ځما دله
بیا هله به ته د غم له درده خلاص شي چه د زړه ترکه هوا کړي ځما دله
د شها د انګنړ سیل به ته وه کړي که تسلیم خپله رضا کړي ځما دله

دلبراني شوخ و شنګي دی طراري ښو به ته آهِ و کوکار کړي ښما دلَ
دَ پسرلي ګلونه ډير دي په جهان کښ که بلبل غندِ چغار کړي ښما دلَ
توره شپه به رڼرا روڼ شي په تا باندِ لکه پتنګ چه ښان نثار کړي ښما دلَ
غنچه ګل به له هوسَ پرِ تازه کړي که يقين ابرِ بهار کړي ښما دلَ
دَ خزان شپه به هيڅکله پاتو نه شي که اخلاص ته پر دا لار کړي ښما دلَ
همېشه به ته د يار په ديدن موړئي چه تاريک خاطر ښکار کړي ښما دلَ
احمد شاه بله دعا نه زده عالمَ
په ديدن مي وزګار کړي ښما دلَ

که پر زړه کړم ستا زلفي خالونَ پر مخ به جوړ شي د اوښيو حصارونَ
جدائي د يار توره بلا ده خداي دِ نه کا مبتلا د هيچا زړونَ
که يو دم زړه بي غمَ کوم بي غمَ نه شي انديښني ئي لکه مار کا ګذارونَ
زړه مي زوړ شه ښوان به نه شي د آشنا له غمَ يوور لوي باروَنَ
هر ګوره زړه نادان ور خبر نه وه بي ښافَ بيلتون کښيبوست په تالونَ
خداي که يو نظر کا په سوي زړونه کنړه بي خدايَ مي په ښا نه رسي لاسونَ
پريشان خاطر مي زړه پريشان کړ کله به ښکاره کړي سترګي ګلونَ
د بهار ګل چه مخ ښکاره کا فراق وهلي بلبل ښو کا هوسونَ
بادَ که د يار خبر دِ راوړ له زړه به واخلي د هجران سوي داغونَ
که مي يار وه ليده چه دا دي زړه به بهار شي په زيړ ګلونَ
که ژوند دي ژوند له يارَ سرهَ ښه دي خداي دِ نه کا تر ميان د بيلتون غرونَ
احمد شاهَ بيا په غم پسي ښادي ده
د خزان مزکه به بيا شي بوستانونَ

يو ښه عجب ساعت وُ ښما ستا سره خلوت وُ
د مخ زيب لکه ګلونه زړه بلبل په کښ رخصت وُ
د ديدن په مينه مست وُ له رقيبَ فراغت وُ

د هجران له ډیرَ سوخته — نن دیدن پر ده جنت وُ
چه همای ئي پر سر راغي — دا ساعت د سعادت وُ
زړه به ولې هوس نه کا — چه پرِتل د غم هیبت وُ
پرَهغه چه یار نظر کړي — درست جهان په فراحت وُ
دیدن دادِ آلهي ډِي — هیسي نه چه یو جهت وُ
په یوه نظر و یار ته — فراموش له ما جنت وُ
یو بيِ‌مثلَ یارَ ځما وه — زیات تر ګلو ئي زینت وُ
ډیري سزوي د چمن دي — ځما یار ترِ خوش قامت وُ
د دیدن مي کړه سیلونه — شیرین یار لکه شربت وُ
چه و حسن ته ئي ګورم — شمس قمر څه ئي قدرت وُ

احمد شاه به ئي تعریف څو کا
درست عالم ئي په صفت وُ

زه زاري کوم آلهَ — شرمنده یم پر ګناهَ
نا امید ستا له رحمتَ — تللي نه دي له درګاهَ
دِ تا فضل وکرم ډیر دي — له عملَ یم رو سیاهَ
په عمل مي باور نه شته — کلیمه به کړم پناهَ
چه و خپل عمل ته ګورم — وایم کشکي واي ګیاهَ
نفس و شیطان را سره مله دي — نه شي یو کار عند اللهَ
که تلاش کړم نه خلاصیږم — د شیطان له بدَ چاهَ
که د زړه ساتنه وه شي — سترګي څه رنګ شي نګاهَ

ته یاري غواړي احمدَ
له ښه خدايَ نه له جاهَ

که وه وایم له یاره وایم څه — خپل نصیب دي له روزګارَ وایم څه
که معشوقي دي په زړه نرمي — د فلك له کبج رفتارَ وایم څه

له تورو زلفو گیله نه کړم — سترگي ئي خون ریزي له کشتار وایم څه
د مخ د دیدن هوس مي ډیر ؤ — زړه وژني له رخسار وایم څه
چه یاري نه کا خود اغیار دي — یار دِ یار وي له اغیار وایم څه
نسیم د سحر چه گل خندان کا — خود نسیم دي له سحار وایم څه
خار چه د گل وي هم گل وي — چه د گل دي له خار وایم څه
د معشوقي ویل که بار دي هم په کار دي — عاشقان چه منت بار دي له بار وایم څه
گل که د زړه باغ د بلبل زړه چراغ — د بلبل د زړه چراغ دي له چغار وایم څه
تار کوکار کا زړونه تار په تار کا — تللي مین یاد کا له تار وایم څه

احمد شاه که دار دي هم گلدار دي
دار د یار گلدار دي له دار وایم څه

بیلتانه مي زړه سوري کړ پوري ووري — چه طاقت مي نه په نمرشي نه په سیوري
د دنیا قیامت دغه دي که پوهیږي — چه آشنا له تا بیلیږي ور ته گوري
سخت زړه کانړي په هیڅ رنگ نه نرمیږي — چه بیلتون ئي کړي دا سپیني لاړ توري
بیلتانه په زړگي هیڅ اثر نه کیږي — په ژړا که د زړه چوي سترگي گوري
بي له صبر ئي علاج په نور څه نه شي — که بیلتون کا د غم سکروټي پوري
هم په صبر علاج چري شي نادان — چه یادیږي د آشنا زلفیني توري

احمد شاه د بیلتانه خبري پریږده
کړه خبري د وصال نادري نوري

زړه څما ولي پریشان دي — کنړه یار پسي کشان دي
زه په خپل زړه نه پوهیږم — چه تر حد ډیر نادان دي
آشناي چر کا پوښتنه — چه مي یار ولي گریان دي
څما زړه پسي خوریږي — په ژړا څما خندان دي
یار دِ تل اوسي خندان — خاموشي د یار خزان دي
که مي یار په سر خوښیږي — تر قربان مي شیرین ځان دي

ځما د یار رضا په کار ده — چه رضا د یار ایمان دي
که هر څو کړم زه فکرونه — یار باقي عمر چلان دي
ارمان نه کړم زه د عمر — ځما د یار بشره ارمان دي
که د زړه په مدعا شي — ځما قبول یار ترجنان دي
یار یه ولي قبول نه وي — ښایسته ګل د بوستان دي
په اختیار به ئې ځپلیږي — که شها نمر د آسمان دي
په دیدن ګښې ئي شك نه شته — نا دیدن ځمور ګمان دي
د خودئي حجاب له مځه — له هر چا ګنړه ګویان دي
که هوري وي که دلي وي — دي د هر خاطر جویان دي
ته خپل زړه ساته احمده
یار په هر زړګي پوهان دي

د بهار وریځ ووریږي — مین بلبل په هوسیږي
د زمکې سر په تازه کا — زړه ئي ګل په زرغونیږي
د ګل و مخ ته ګوري — زخمي زړه به جوړیږي
هغه مړ بلبل ژوندي شه — چه د ګل بوي پر لګیږي
د آشنا دیده ئي مرهم دي — بي مرهم کوم پرهار رغیږي
دیدن ګل د نو بهار دي — د بلبل زړه پر نازیږي
ګــل پیـالـه د مـیـو — بلبل ځکه په مستیږي
بـادَ د یــار لــه لــوري
که راشي احمد شاه پر تازه کیږي

وقت د نو بهار دي — بلبل په څو چیغار دي
د بلبل پر زړه غمونه — ګل مست په خپل خمار دي
د پسرلي په زیر ګلونو — را وتلي شرین یار دي
و زلفینو وته ګوري — عاشق تر میان کنار دي

په ښو ښېر ګوري ګاته کا — ګوره و چا ته ئې ګذار دی
که له کبر ګذار کا — عاشق ئې انبساط دی
جدای د یار نه کا ملال — په ملالي ئې مین خوار دی
جدائي د یار بلا ده — په سر وهلو منت بار دی
دا به چا ویلي نه وي — چه په جدائي زړګي قرار دی
که دیدن که جدائي ده — په دې دواړو د زړه کوکار دی

سر په عشق پرې کړي بویه
بې عشق سر احمد څه په کار دی

تم تمام شه

تاریخ مرصع

تصنیف دَ افضل خان بن اشرف خان بن خوشحال خان خټک

تاریخ مرصّع

دفتر پنځم په بیان د غري و خښي کړلاڼړي راتلل له قندهار د کابل و صوبي ته او دا ملك د پېښاور و غیره نیول په دا وخت چه څه واقعات د نیك تدبیر شوي دي او بعضي تواریخ د خپل اُلس احوال او د خانانو د هغو او خپل سرگذشت بیانول

نقل دي چه آخوند درویزه په خپل کتاب کښي چه تذکرة الابرار باله شي لیکلي دي چه شیربون نومیده د قندهار په لوري پښتون وه د ده دوه زوي وو یو کند یو زمند نومیده له کښده نه دوه زوي پیدا شول یو خښي دویم غري د غري څلور زوي وو یو دولت یار چه مهمند او داودزي د ده له نسل دي دویم خلیل دریم زیران څلورم جمکني وائي چه څلورو وارو ورونو یو مړ حلال کړي وه پوخ کړي وه یو تر بله ئي و ویشه دا یو ورور چه جمکني نومیده دا ئي د ښوروا له ویشه هیر کړ ښوروا ئي د ده بخره ور نه کړه دي آزرده شه د دري وارو ورونو له مینځه جدا شه تر اوس پوري څني جدا دي متفرق په هر ځاي میشت دي زیراني هم له ورونو جدا شوي دي د ننگهار په تاجیك ماجیك کښي میشت دي اکثر خلق چه تر خبر نه دي ور ته وائي چه تاجیك دي اما دوي ښه خلق دي د خښي دري زوي وو یو مندي دویم مك دریم ترك وائي چه د خښي آرتینه وه مرجانه نومیده چه مندي او مك د دي د نسه دي او د مرجانه خوروه بسو نومیده بي دیانته وه هغه

هم د خشي كړه ننه وته لكه د پښتنو دستور دي ور پسي متيزه شوه په هغه آوان چه دين داري په كښي كمه وه له هغي نه ترك پيدا شه ترك لانړي د هغي اولاد دي تر اوسه پوري په دوي كښي متيزي ډيري كيږي اما نور ديندارِي خو اوس لږي د مك يوه لور وه كالي نوميده خپل شپانه ته ئي واده كړه بزركي يا زيركي نوميده ګګياني له هغي پيدا شه د مك نور اولاد وُ نه شه ګګياني ئي بولي او د مند دوه زوي ووُ يو عمر يو يوسف دا عمر ډير مرد با ديانت وه ښهرونو ته لاړ يوه ښځه ئي د هغي زماني د ساداتو په نكاح كړه يو زوي څني پيدا شه مندر نوميده دي هم په هغه ملك كښي وفات شه پس له يوه مدت يوسف د ده ورور په طلب د ده د اهل و عيال وُ رغي چه را ئي ولي اما هغي ارتيني د ده سره تلل قبول نه كړه ور ته ئي وِ چه ستاسي رسم دي چه د ورور ارتينه او مال چه له وروره پاتو شي په زور ئي غصب كوئي د ما رضا ده چه په بوه نكاح باند بل نكاح په ما ثابت نه شي لكه په حديث كښي راغلي دي چه هره ښځه چه په اول نكاح باند اكتفا وُكا ثابته پاتو شي فرداي قيامت به د نورو ښځو شفاعت كا اما ډير عهد سوګند ئي ور سره وُ كړ را روانه ئي كړه او د يوسف پنځه زوي ووُ يو په كښي اريا نوميده از بس چه ډير متكبر او مغرور وه بادي به ئي باله اوس ئي هم اولاد ته بادي خيل وائي دويم عيسي ذريم موسي چه د الياس پلار وه څلورم ملي پنځم اكو نقل دي چه په هغه آوان په پښتنو كښي دا رسم هم وه چه زهمن به ئي په حد د بلاغت وُ رسيدل د پلار د مور مال به ئي يو تر بله قسمت كړ و پلار مور ته به ئي هم بخره برابره ور كړه القصه د يوسف زهمنو چه مال سره ويشه مور ئي ور ته وُ ويل چه د ما بخره هم بيله كانړئي هغه نور ورونړه ئي.لا خاموش ووُ هغه بادي كم بخت و اندام نهاني ته اشارت وُ كړ چه دا واخله مور ئي ور ته بدعا وُ كړه چه ستا اولاد تر دپارلسو كسو زيات مه شه تر اوسه پوري اولاد تر ديرلسو كسو نه

زیاتیږي یو څوک په چغرزیو کښې شته دي د الیاس څلور زوي وو اول نسو بیا تاجي پلار د گدائي دریم سالار څلورم ممي ښښتن د عایشي چه اوس ئي عاشي‌زي بولي د اکو شپږ زوي وو څلور له یوي ارتیني وو چه گوهره نومیده اول خواجو دویم بازید دریم ابا څلورم شاوك او دوه ئي له بلي ارتیني وو اول حلیم دویم اتمان د مولي څلور زوي وو دوه د یوي ارتیني چه وتیٔ نومیده اول دولت دویم چغر دوه ئي له بلي ارتیني وو چه نورئي نومیده یو ابا دویم ایسوري او د عیسي یوولس زوي وو یوه ورځ د آسونو گله د مندر مغلو په تاراج بوته عیسي له نو زویو سره پسي سوور شه تر اولس وراند پسي ورغي واړه د مغلو د لاسه شهید شول مسله ده چه په خپل مال پسي و مري شهید شي له هغو جمله‌وو دوه زوي د ده پاتو شول یو حسن دویم یعقوب چه عیسي مړ ارتینه ئي حامله پاتو وه زوي و شه نوم ئي اکا کښې یښ د مندر څلور زوي وو اول ماموا دویم خدر دریم رجړ څلورم مندو القصه پښتنو ملك د قندهار یو تر بله قسمت کړي وه حصه د ترینو په منځ کښې د کند او د زمند واقع شوي وه یو تر بله د دواړو ورونو حمایت نه رسیده په استوگه خشي ترغري و ترین ته نژدي وه چه بخره ئي د ارغسان واله وه او هغه واله نژدي و ترینو ته وه د ترین او د خشي تر مینځ عداوت پیدا شه ترین پر غالب شه بعضي خشي ئي مړه کړه بعضي ئي بي ځایه کړه هیڅ زمند او غري په حمایت د دوي و نه رسیده آخر رجوع ئي و غري ته و کړه یوه زمکه ئي ور کړه چه نابوده وه بود ئي هیڅ نه وه وائي چه د قندهار په زمکه چه وخت د بهار شي بارانونه ووري انواع سبزه زار او علف زار پر باند و شي چه گرمي د اهاړ پر ښکاره شي هغه سابه وابښه په زمکه و رژیږي ته کال پوري هغه گیا په زمکه ریژیدلي مال مویش خوري ساعت پر تیره وي او که په دا میان کښې د پشکال باران پر و شي هغه گیا واړه سیلاب یوسي و مال مویشي ته ئي سختي پیښه شي قضا هغه کال باران د پشکال و شه د غري مال ته سختي پیښه

شوه هغه زمکه چه ئي و خشي ورکړي وه په زور په جنګ په جدل ئي له خشي را نيوه خشي له هغه ځايه بي ځايه شه بيوه بل ته راغلل اتمان خيل د تک د ګومل د لوريه د خشي سره يوځاي راغي او هميشه به د خشي سره په حمايت په مدد مل وه تر اوس پوري او مهمندزي له زمندو نه دي په سبب له خپلو ورونو آزرده شه له خشي سره روان شه تر اوسه پوري روزګار ئي د خشي سره دي اما خشيْ د ده سره نيکي نه کا

راتلل د خشي و پېښاور ته له کابل په حادثات

نقل دي چه څوکال خشي په فراغت په کابل تير کړه دولت مند شول مال ئي ډير شه اولاد ئي ډير شه دا دستور دي چه په ښه ملك دولت حاصليږي وائي چه په هغه آوان کابل د ميرزا الغ بيګ په تصرف کښي وه چه دِ ميرزا امير تيمور له اولادَ وه په سنه اته سو يوولس شاه رخ سلطان چه د امير تيمور زوي وه په هرات کښي د خراسان بادشاهي کوله ميرزا خليل نمسي د امير تيمور په ځايَ د ميران شاه چه زوي د امير تيمور وه په سمرقند کښي د ماورالنهر بادشاهي کوله د خپلو امرايانو دِ لاسه په سمرقند کښيْ په قيد شه هرګاه چه شاه رخ سلطان په هرات کښي دا واوريده لښکر ئي وُ کړ په سمرقند داخل شه ميرزا خليل چه د امرايانو دِ لاسه په قلعه شاه رخيه کښيِ په قيد وه له سختيِ دا غزل شاه رخ سلطان ته وُکويښ چه سرئي دا دي "يَا وَاهِبُ الْعَطِيهّ يَا مُقْضِيُ الْمُرَادَ ـ ما طاقت فراق نه داريم زين زياد" شاه رخ سلطان چه د ده تره وه له حبس ئي خلاص کړ ور سره ئي هرات ته بوت ډيره مهرباني پر وُ کړه او سلطنت او حکومت ئي د تخت سمرقند په خلف الصدق د اميرزاده الغ بيګ وُ سپاره روان شه چه په جيحون پوري ووت خدا داد جسته بردي بيګ چه ميرزا خليل ئي په قيد کړي وه له سمرقند فراري شول شاه رخ سلطان ميرزا چه سمرقند د ده په تصرف کښي کړي وه آخوند درويزه نوم

د هغه شاه زاده علي قلي کښلي دي شايد زوي د ميرزا الغ دي دا مقدمه پخوا د بابر بادشاه د راتلو له ولايت فرغانه نه وه چه بابر بادشاه کابل له ذوالنون ارغون له زويه چه مقيم ارغون نوميده واخست او په خپل تصرف ئي راوړ پښتانه دا ملك د پيښاور واړه نيولي وه ځاي په ځاي پري ميشت وه هرکله چه درست خشي و کابل ته راغي يو مدت ئي په کابل تير شه مال مويشي دولت فراغت ئي روزي شه او په دولت په فراغت سره اولاد ډيريږي خصوصاً يوسفزي او مندر ډير شه فساد ئي آغاز کړ د کابل عالم به ئي ډير ډير آزاراوه مالونه به ئي زا نيول نامناسب کارونه به ئي کول نور پښتانه به ئي په نظر کښي نه راوړل او له شاه زاده مرزا علي قلي بيگ به ئي ويره نه کړه هيڅ حجاب به ئي ځني نه کاوه بلکه د ده سړي به ئي هم آزارول د ده په ديوان خانه کښي به کښيناستيدل نالايقي خبري به ئي کړي از راه ضرورئي مرزا په دا پله ډرا ووست چه د دوي سره جنگ و جدل او دښمني وُکا يو څو ئي ځني مړه کړل بعضي ئي ځني تاخت کړه القصه چه پښتانه فرار شول د کابل د غرونو به درو ننوتل په هغه آوان د پښتنو دري شيخان نامدار وو دوه ورونه وو يو مداد دويم مدد دا دواړه د عيسي زي د قبيله نه وو بل شيخ عثمان مولي زي وه دا درست اُلس مداد او مدد ته تول شه چه تاسي موږ له علم غيب خبر کانړئي چه د اُلس به څه حال شي او تاسو له دي واقعي چه تيره شوه ولي موږ خبر نه کړو چه فکر او سرانجام مه د خپل کار کړي وي چه موږ ته دا هونبره زيان پيښ مه وي دوي دواړو ور ته وُويل چه اول تاسو شيخ عثمان مولي زي مړ کانړئي پس له هغه به موږ جواب وُ کړو چه هميشه ئي له اُلس انعام او اکرام مونده ولي اُلس ئي له دي واقعي نه خبراوه يا دا اُلس نذر نياز ده ته ور وانئي يا موږ ته آخر د شيخ عثمان په مرگ خير شول شيخ عثمان ور ته وُ وي چه پخوا هم له دي واقعي آگاه وم اما لاس مي د خداي په کړه نه رسيده اوس

له دي به هم تاسو خبر کړم که ما نه وژنئي چه له مرګ ئي خلاصي بیاموندہ ورته ئي وُ ویل چه ستاسو به له میرزا سره عظیم جنګ وُ شي اما فتح به ستاسو وي مداد او مدد هم دا رنګ ورته وُ وي اما د پیادہوو سردار دِ له موږه نه یو وي پس د جنګ په ورځ د پیادہوو سردار هم له دوي وه هم هغه هسي وُ شول پس له هغه به پښتانه له هغه غره راتلل رعایا به ئي تاخت تاراج کول مرزا بله چاره بي له صلح وُ نه لیده سړي ئي تر میان کړه را وُ ئي بلل طعامونه او سرو پایونه ئي ورکړه ورته ئي وُ ویل چه د ما کور هم ستاسو خپل دي پښتانه چه په عقل کښي سازوار دِي څکه ډیر نفساني دِي په لږ سود مقصود ډیر بهبود تر شا کوي ورځ په ورځ به کدخدایانو د اُلس مرزا ته آمد و رفت کاوه یوه ورځ اته صو کس وُ رغلل همګي بي وصلي یو محمود د محمد چغرزي زوي یوه چړوکئي په خپل ازار کښي وړي وه چه ور ننوتل د میرزا بد نیتي ئي وُ لیده هغه دي نورو و ته وُ وي چه که وائي زه به مرزا مړ کړم هغو نورو منع کړ چه حق نمك ساتلي بویه شاید د موږ سره بد نه کا دا چغلي جنګا ګکیاني کړي وه چه دا هونبره ډیر به یو ځاي بیا نه موږ مي او له دوي نه به په نیکي خلاص نه شي دا وخت غنیمت وُ ګڼه او وارِه قتل کړه وارِه ئي وُ تړل یو یو ئي وژي په هغه وخت د دوي دِ لویو ملکانو سلطان شاه وه د مرزا په خدمت ئي عرض وُ کړ چه دوه التماس آرزو لرم که قبول شي مرزا وُ وي چه قبول دي اول ئي دا وُ وي چه وراره خما ملك احمد له دي قید خلاص شي بادشاه ئي خون معاف کا بل دِ د الس بند د اطفال وُ نه شي بلك پریږدي هر لور ته چه دروِمي مرزا قبول کړه مرزا ور ته وُ وي چه خما ګمان دا وه چه ته به خپل سر غواړي میا به صل دوه صو کس څوانان نور غواړي ده ورته وُ وي چه تر دي وارو اول زه ښه یم او چه دا هونبرِه عزیزان مي مري زه به خپل سر په څو خلاصوم لکه ګمان په ملك احمد باند وه هسي کارونه د ده د لاسه وُ شول القصه پس له هغه باقي

ماندہ اُلس د یوسفزیو به معهٔ توابع و لواحق و ننګهار ته راغي تپه د
ترک لانيُ په لمغان کښي متوطنه شوه یو مدت په دا تیر شه د یوسفزیو د
محمدزیو تر میانَ عداوت پیدا شه په موضع حصارك ئي یو تر بله عظیم
جنګ وُکړ آخر الامر فتح د یوسفزیو شوه آخر پس له یوه مدتَ یوسفزي
له ننګهارَ کوچ وُکړ ننګهار ئي و محمدزیو ته پرېښ اوْ تپه د ګګیاني په
باسول کښي پاتو شوه یوسفزي بعضي عالم وائي چه باجوړ لره راغلل یو حد
دوي د باجوړ وُ نیو لږ ډیر جنګ ئي د باجوړ د عالم سره وُ کړ یا ئي باجوړ
خوښ نه شه یا ئي توان نه لیده څني وُ جاروتل ملکان ئي راغلل د دلازاکو
سره ئي په سفید سنګ جرګه وُ کړه زمکه ئي څني وُ غوښته دلازاکو زمکه ور
کړه پس له یوه مدتَ د یوسفزیو د دلازاکو سره عداوت وُ شه لکه پخوا
ئي بیان شوي دي اما په قول د آخوند درویزه یو شان روایت دا دي
چه له دلازاکو سره ئي جنګ وُ کړ ډېر یوسفزي وُ مړل له هغه نه د
یوسفزیو اُلس د تحترو او د شلمانیو په غره راغلل له هغه نه ئي د دلازاکو
سره صلح وُ کړه په حدود د پښاور ننوتل دلازاکو د دوي سره ډیر لطف او
احسان وُ کړ بعضي عالم وائي چه د خیبر په لار پښاور ته را ننوتل جوي
بربري له شلمانیو وُ غوښت شلمانیو د دلازاکو په قوت منع کړه چه د دلازاکو
الفت او برادري د شلمانیو سره وه پخوا ئي پښاور نیولي وه لکه ذکر ئي شوي
دي بیا د شلمانیو او اُلس د یوسفزیو سره عداوت وُ شه سره ئي جنګ وُ کړ
فتح یوسفزیو وُ کړه کوچ ئي وُ کړ دوآبي ته راغي له دلازاکو نه جدا شه
بعضي دلازاکو د یوسفزیو سره عداوت واخست په هغه سبب طاقت ئي د
پښاور د استوګي نه وه پس د یوه مدتَ ئي د اشنغر د شلمانیو سره عداوت وُ
شه سره ئي جنګ وُ کړ فتح یوسفزیو بیامونده خلو نام شلماني چه سردار
د شلمانیو وه هغه ئي مړ کړ باقي الس ئي له اشنغره وُ شاړه و سواد ته لاړل
د سواد سلطان دوي لره ځاي ور کړ په الله ډند باند ئي واچول نقل دي له

آخوند درویزه چه له یوه چغرزي نه ئې نقل کړي دي چه د خلو شلماني په مرګ زه حاضر وم چه سر ئې د ده پر کړ هونبره ډیره بوزه ئې څنبلي وه چه د مري تر وینو نه ئې بوزه ډیره را تویه شوه "نَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ ذَالِكَ" یو مدت الس د یوسفزیو په اشنغر کښي متوطن شه

راتلل د غوریه خیلُ له قندهاره

نقل کا چه په یوه سبب یا د هزاره وو له میرځي تنګ شول یا د مغلُ له بدئي د قندهار له ملكَ متفرقه تپه تپه را رواني وي په کابل په ننګهار ئې مکان وُ نیوه چه جمعیت ئې وُ شه خانه کوچ پښاور لره راغله په پښاور باند دلازاك وه مناقشه ئې سره. وُ شوه د سلطان پوري په کلي چه اوس ئې هم عالم د جنګ وري بولي جنګ سره وُ کړ دلازاکو شکست بیاموند څه په تیغ مړه شه بعضي ډیر عالم د هزار خاني نالي غرق کړ چه تیزندي کنده ئې بولي د جنګ په وخت یو پرچه د اورو را ښکاره شوه باران په سر حد د نالي وه شه ناله راغله اوکنه خپل قوت د اوبو د هغي نالي نشته هسي نقل کا چه هغه زمان باران په هیڅ ځاي نه وه مګر په سر حد د هغي نالي سُبْحَانَ اللّٰهِ

بیت

چو در لشکر دشمن آري رحیل به مرغان کشي فیل اصحاب فیل

فتح له جانبَ د ده وه مدد له طرفَ د ده ویلي دي حق تعالي "وَ مَارَمَيْتَ اِذْ رَمَيْتَ وَ لٰكِنَّ اللّٰهَ رَمٰي" دلازاك له پښاوره بي پایه شه بیا د یوسفزیو تر سیند پورِ شه په لنګرکوټ په سمه په کلپاني ئې واړول یو مدت په دا تیر شه بیا د یوسفزیو د دلازاکو سره میرځي شوه یوسفزي په درست خشي وُ ګرزیده ور سره ئې مل کړ د دلازاکو سره ډیر جنګونه وُ شول له کلپاني ئې دلازاك بي پایه کړ نقل دي له آخوند درویزه چه دلازاك په هغه آوان په میره د لنګر کوټ استوګه وَه د یوسفزیو په اشنغر وَه او په دا سبب چه

دلازاکو د لښکر کوټ ګرد نواحي میره نیولي وه چه به د یوسفزیو مال مویشي و میري ته په چراګاه ؤ رغي تاخت و تاراج به ئي کړ که څوک به ئي په سود په سودا ؤ رغي هم به ئي آزاره‌وه همیشه به د دلازاکو دِ لاسه په تنګ وه ملک احمد مصلحت ؤ کړ چه بویه رجوع و خشي ته ؤ کړوُ اګرچه که د مهمندزیو سره یو تر بله ئي وژلي ووُ اما چه دا ننواتي ؤ رغلل شرط ئي د برادرئي د ملکیرئي ور سره په ځاي راوړ اما ګکیانیو ؤ ویل چه ملك د دوآبي څما مهمندزیو ؤ ویل چه ملك د اشنغر څما یو ترکلاني ور سره ملکیري ؤ نه کړه ولي اتمان خیل ور سره ووُ دلازاك سره په دا جنګونو ښه تردد ؤ کړ واِئي چه اتمان خیلو د غواؤ میښو څرمني سازي کړي وي د جنګ په وخت به ئي په مخ کښي وړي چه غشیو به پرِ کار نه کاوه تمام خشي د کډو سره را ؤ لیږل د ګدر په رود ئي واړول بله ورځ دلازاك د لښکر کوټ له لورِ په قصد د جنګ را ؤ وتل جنګ ئي سره یو تر بله ؤ کړ د دلازاکو د لوریه به ډیر د غشیو ګذارونَ کیدل ډیر خشي ؤ مړ آخر په جنګ د تورو سره ؤ رغلل اول څوك چه د ګدر په رود پورِ شه زوي د زنګي دلازاك مړ کړ بشیر زوي د غلي اسمعیل‌زي وه پس د هغه د یوسفزیو قصد د سوات د آخستو ؤ شه پس د یوه مدتَ ملك احمد او شیخ ملي مصلحت دا ؤ کړ چه د سوات په لورِخانه کوچ کوچ کړي یوبه واړو په اتفاق سره کوچ ؤ کړ د شاه کوټ د غاښي په خوا کښي واړول یو څو ورځي هغه ځاي تیرِ کړي سواتیو به شب و روز د هغه غاښي چوکئي درله او له نورو غافل شول یوه شپه یوسفزیو سره مصلحت ؤ کړ ښځو ته ئي ؤ ویل چه سندري آغازي کړئي او په سندرو کښي به ئي د خپلو مردانو صفت کاوه او د سواتیو به ئي ذم کاوه په دا مضمون چه سواتیو خبردار شئي صبا به در سره جنګ وي سواتي ؤ پوهیدل چه صبا به دوي هم په دا غاښي جنګ راوړي اما بقیه لښکر چه ئي څه وه هغه ئي هم و شاه کوټ غاښي ته جمع کړ یوسفزیو په شپه یلغر ؤ کړ د مله‌کند په غاښي و

سوات ته واوښتل هره ورځ به ئي په سوات کښي جنګ کاوه په مخ کښي ملک به ئي لاند کاوه تلل تمام په دولس کال کښي درست سوات ؤ نیو د تالاش د باجوړ په جنګ و جدل مشغول شول تر هغه ملک ئي هم ؤ نیو نقل دي چه د تالاش په جنګ د کاټ کلي په کلي برمزید نومیده مندړ وه آس په دښمن ؤ زغلاوه دولس نیم ګزه ئي تر کنده توپ ؤ کړ دښمن ئي په نیزه ؤ واهه مړ ئي کړ پس له هغه ښه ملکونه د یوسف‌زیو په لاس کښیوتل په فراغت په آرام ئي ساعت په کښي تیراوه اګرچه عالمان په کښي کم وؤ په هر حال په متابعت نبوي کښي ګذران کاوه دوي هم الله تعالي ښه ساتل او بل ملکان سرداران د دوي د بادشاهانو د دیوان خاني منع نه وؤ آمد و رفت به ئي کاوه لکه ملک احمد به اکثر له سوات و کابل ته ؤ رغي هره خدمت ګاري به ئي د بادشاه په خاي راوړه تر هغه پوري چه نوبت د خانئي په خان کجو راغي بیا د یوسف‌زیو د غوریه خیلو سره په شیخ پټور باند عظیم جنګ واقع شه نقل دي چه دولس زره سواره د غوریه خیلو په هغه آوان کښي وؤ تیر صو سواره ابلق سوار یو د خلیلو په تپه کښي وؤ په دا جنګ کښي اکثر پریوتل نقل دي له آخوند درویزه چه د یوه سواره د آس په زیر بند باند په هغه جنګ کښي دوه لس غشیه لګ وؤ د خلیلو تپه په غوریه خیلو کښي له هغه ورځي کم قوت پاتو شوه وائي چه اکثر ؤ مړل او بعضي کورونه هسي خالي شول چه ښځو ئي مړیو ته په سر ؤ نیول یو نیم چه څوک د غوریه خیلو ژوندي د یوسف‌زیو په لاس کښیووت یوسف‌زیو د نامه د پاره په برغولي خرڅ کړ پس له هغه غرور او نخوت د یوسف‌زیو ډیر شه دینونه مذهبونه مخالف په کښي پیدا شول څوک د ملکانو سره عیسي ئي شول څوک په مذهب د پیر روښان شول چه پیر تاریک ئي بولي

ذکر مشتمل په احوال د پیر روښان او د ده د اولاد چه په دا ملك د کابل د صوبي څه نیك و بد د ده او د ده د اولاد په سبب واقع شوي دي

نقل دي د آخوند درویزه نه چه په مخزن کښي کښلي دي چه عبدالله نومیده اورمړ وه د کانړي کرم په اورمړو کښي علم او صلاحیت ئي ډیر وه او له اولادَ د صالحانو وه زوي ئي پیدا شه نوم ئي بازید کښي یښ په علم ئي کښیناوه تحصیل ئي وُکړ او په طاعت په عبادت ئي جد و جهد وُ کړ اما پس له هغه ئي چه څه نقد په لاس راغلل سمرقند ته په سوداګري د آسونو روان شه دوه آسونه ئي واخستل هندوستان ته روان شه په موضع د کلنجر وُ رغي هور ته ئي اتفاق د صحبت د ملا سلیمان سره پیښ شه له هغه نه ئي علم تناسخ وارویده عقیده ئي تناسخي شوه چه بازید له کلنجره را روان شه و کانړي کرم ته راغې فساد ئي آغاز کړ اما پلار د ده چه عبدالله وهٔ ډیر دیندار با دیانت وه بازید ئي په سبب د فساد په چړي وُ واهه زخمي ئي کړ نور بازید له هغه ځایه و ننګهار ته راغي په مهمندو کښي د ملك سلطان احمد کره ئي مسکن وُ نیو یو مدت ئي هور ته تیر کړ اما ننګهاري تابع د عالمانو وُ اطاعت او پیروي ئي د ده قبوله نه کړه له هغه ځایه بازید را روان شه پښاور ته راغي په غوریه خیلُ کښي قرار وُ نیو هرګاه چه په پښتنو کښي په هغه وخت علم کم وه اکثر تابع د ده شول او ده خپل شهرت په پیري او په پیشوائي کړي وه او عوام الناس ته به ئي وي چه بي پیره کاملَ و خداي ته لار نشته راځئ زه پیر کامل یم چه هدایت او رهنمائي در ته وُکړم پښتانهٔ ئي په سبب د کم علمئي په دا فریفته کړه په دا خبر نه وُ چه په تفسیر بیضاوي و غیره کښي ئي راوري دي چه لویه وسیله و خداي ته قرآن کړه په دا خبر نه وُ چه د معرفت اختیارول او طاعت او عبادت او ترك د عصیان او د ګناه بي له استقامت د شریعت غرا او ملت بیضا و خداي ته لار نشته

بیت

محال ست سعدي که راه صفا توان رفت جز در پي مصطفی

القصه څو رسالي ده په هغه وخت تصنیف کړي وي آیت او احادیث دواړه ئي خپل سندونه کړي وو اما په هغه وخت علما نه وو چه د ده سره ئي مباحثۀ علمي کړي وي چه آیت او حدیث په موقع دي یا غیر موقع هرچه ده ویل مریدانو ئي هغه کړل آخرالامر تپه د خلیلُ ډیر د ده مریدان شول بیا مهمندزي د اشنغر و رغلل دي ئي و اشنغر ته را و ونست هرچه په پښتانه کښي جاهل تر هغه د ده معتقد تر د اشنغر په کله ډیر کښي ځاي ورکړ په هر لوري د هغه وخت و علماؤ ته ئي جواب واستاوه چه راځئ زه پیر کامل یم تاسو به په مراتب اعلي رسوم ځان ئي په پیر روښان ملقب کړ شاید په هغه وخت آخوند درویزه چه په هغه وخت لوي ملا هم دي وه راغي مباحثه ئي ور سره و کړه اما په هغه وخت غلبه د حکامُ هم په دا ملك نه وه معامله ئي سره فیصل نه شوه دا دستور دي چه په هغه ملك کښي د حاکم زور نه وي هیڅ معامله انفصال ته نه رسي

قطعه

چه عزت د عالمانو په کښي نه وي هغه ملك فسق و فساد شي
چه حرمت د درویشانو په کښي نه وي هغه ملك په بلا یاد شي
چه خالي شي د حاکم له سیاست په "غه ملك پیدا عناد شي
چه خلل د خیل خاني په مخ کښي پاځي که دولت ئي د بادشاه وي هم برباد شي

لس شل جاهلان په یوه پسي شل په بل پسي شي نه دا د هغه دفع کوي نه هغه د ده دفع کوي دنیا کارخانۀ الهي ده هر سړي چه ئي یوه کار ته ملا و تړي له مددگارو به خالي نه شي اما تقویت او استحکام د هر کار په زور موقوف دي لکه چه اول آیت "لَکُمْ دِیْنُ کُمْ وَلِيَ دِیْنٌ" راغلي وه بیا د

"اُقْتُلُوالْمُشْرِکِیْنَ کَافَّةً" راغي القصه دا حقیقت په سمع د محسن خان چه د کابل صوبه‌دار وه او په کابل کښي د اکبر بادشاه د لوريه وه وُ رسيده له کابل ئي يلغر وُ کړ دست بسته ئي له اشغر و کابل ته بوت ځو مدت په قيد وه بيا خلاص شه چه له کابل راغي و اشغر ته ياران او مريدان ئي خپل جمع کړه د توتي په غره ننووت بيا له توتي و تيراه ته راغي افريدي ورکزي دا عالم ئي هم مريد شوُ داعيه ئي د مغل سره د بدئي وُ شوه ويل به ئي چه مغل ظلم پيشه دي په دا پښتنو باند ظلم تر حد زيات کا په هغه آوان په تيراه کښي وه اتمان خيل هم په ځنګ د ځت ور ته ميشته ووُ اول دي په چوره راغي په هغه وخت وصله په هغه عالم کښي کمه وه د چوره درمي په سختي مشهوري دي مريدانو ته ئي وُ ويل چه دا درمي پري کوئي سرونه ئي تيره‌وئي جنګ ئيْ وُ کړ د مغلو سره نقل کا چه هغو درمو به د نيزو کار کاوه تيراهي عالم شايد ظاهر د ده سره وه او باطن ئي د مغل سره رويه درسته وه هغو ته ئي وُ ويل چه تاسو په باطن د مغل سره ياستئي ځما له طريقي مردود طريقه شوئي اوس بويه چه واړه لاسونه پخپل وُ تړئي رايشئي چه ستاسو توبه هم دغه ده هغو يا له اعتقادَ چه په ده وه يا له ويري تير صو کسُ لاسونه وُ تړل ور لره راغلل تير صو واړه ئي جدا جدا مړه کړه يو د بله خبر نه شول هغه باقي ئي تاراج کړه تيراه له تيراهي خالي کړ افريدي ورکزي وُ نيو بيا اتمان خيل د افريديو سره دښمني وُ کړه اتمان خيل کم زوري شه تيراه ئي پريښ و افريدي ته ارهنګ برهنګ ته د باجوړ لاړ شه هور ئي ځاي وُ نيو پير روښان هغه خلق افريدي ورکزي تمام مريد کړ کتاب ئي خپل خير البيان کړي دي دْ ده په مريدانو کښي شهرت لري په تبرک ئي ساتي القصه افريدي ورکزي تمام مطيع او فرمان بردار ئي شه بيا ئي لښکر جمع کړ په ننګهار وُ رغي ډير کلي ئي تاخت تاراج کړ په هغه غره کښي ئي استقامت وُ نيوه محسن خان له جلال‌آباد شبيخون پر وُ کړ سره ئي جنګ وُ کړ په قول د آخوند درويزه د

پیر روښان عالمو شکست بیامونده څه ئې تري مړه کړه څه تري په غره ؤ ختل له هغه نه بیا و اشنغر ته راغي بیمار شه ؤ مړ په اشنغر کښې ئې کښي یښ د ده پنځه زوي وو یو شیخ عمر دویم نورالدین دریم خیرالدین څلورم کمال‌الدین پنځم جلال‌الدین شیخ عمر د ده په مصله کښېناست هرچه د ده مریدان او یاران وو په اعتقاد خاص په شیخ عمر باند جمع شول پس له یوه مدتَ د یوسف‌زیو سره ئې څه مخالفت پیدا شه یوسف‌زي پر جمع شول د آبَ سند په غاړه شیخ عمر ئې د څو یارانو سره مړ کړ دوه تنَ ئې په اور کښې ؤ سه او خیرالدین د ده ورور ئې هم مړ کړ او نورالدین له هغه را ؤ تښ په اشنغر کښې ګجرو مړ کړ او جلال‌الدین د یوسف‌زیو په بند کښېووت پس له هغه اکبر بادشاه خبر شه جلال‌الدین او درسته خیل خانه ئې د دوي د یوسف‌زیو د بنده خلاصه کړه پس له یوه مدتْ دِ اکبر بادشاه نه لاړ وفا ئې ؤ نه کړه په تیراه ننووت رهزني اختیاره کړه بیا کمال الدین د اکبر بادشاه په بند کښېووت څو په بند کښې مړ شه بیا جلال‌الدین د هزاره‌وؤ له لاس په غزني کښې مړ شه هزاره‌وؤ د ده سر و اکبر بادشاه ته ور ستاوه بیا احداد چه د پیر روښان نمسي وه د شیخ عمر زوي په ځاي د هغو کښېناست په یوسف‌زیو کښې دینونه مذهبونه هم مختلف ګډ شول ډیري ناهمواریي ئې په لاس واخستي رهزني مردم آزاري ئې کړي

بیت

تا دل خلق خدا ناید به درد هیچ قومي را خدا رسوا نه کرد

نقل دي له آخوند درویزه چه اکبر باذشاه له هندوستانَ کشمیر ته را روان شه د یوسف‌زیو ملاحظه په خاطر کښې وه په دا وخت کښې میان عیسي و سردارانو ته د یوسف‌زیو ؤ کښل چه که صراح کتاب د ملا شاه خاني سواتي له کتاب خاني ما لره راستوئي دا ملك د تاسو د اکبر بادشاه نه خلاص کړم یوسف‌زیو هغه کتاب په زور نه ډیر اکراه له ملا فیض الله واخست ور

ئي ستأوه آخوند درویزه وائي چه ما ورته ؤ وي چه دا کتاب په تاسو کښې
برکت وه دا مه ډیر بد ؤ کړل چه له دي عالمّ مه غصب کړ ور مه ستاوه په
دا شومي به تاسو خراب شئي آخرالامر الله تعالي قحط په دوي نازل کړ په
غضب ئي د بادشاه گرفتار کړل تر هسي حدّ قحط پر نازل شه چه سمه
بونیر دواړه خني خالي شول واړه و سوات ته تول شول نقل دي له آخوند
درویزه نه چه په سوات کښې به هره ورځ هونبره مړدگان له کلیو وتل چه
چا ښخول او مرداړه چه به ئي بیاموندده لکه حلاله هسي به ئي خوړه بلك
غښي به ئي د مړدگانو خوري دا به ئي نه موندلِ نور مرد ښځي ئي سره جدا
شول لوي هلك ئي سره بیل شول یو تر بله به ئي سره له لوږي هلکان پټ
کړل بل ځاي به ئي خرخول مالونه به ئي سره پټول خوړل به ئي تر هسي
حده چه تمام ملك د دوي له دست ؤ ووت په طبقات اکبري کښې راوړي
دي په ورځ د شنبي شپږم د جمادالثاني سن ذ هجرت زر وه خبر و اکبر
بادشاه ته ؤ رسیده چه جلال‌الدین چه په تیښته و عبدالله خان ازبك ته
لاړ وه بیا راغي بنیاد ئي د فساد او د فتني آغاز کړ راه‌زني او قطاع طریقي کا
په ورځ د نو روز ئي جعفر بیگ چه بخشي وه رخصت کړ چه په اتفاق د
محمد قاسم خان چه حاکم د کابل وه مهم د جلال‌الدین ؤ کا او په آخرِ
د شعبان په سن مذکور زین خان کوکه ئي په آباداني د سوات او باجوړ او
په استیصال او تنبیه د پښتنو او په وهل د جلال الدین رخصت کړ زین
خان د کنبر په لارِ د هندوراج په غاښي باجوړ لره ؤ رغي تهانه ئي په باجوړ
کښې پریښوه نور و سوات ته د تري په لارِ روان شه یوسف‌زیو تري ور ته ؤ
نیوه یو څو مدت په دا تیر شه چا ور ته ؤ ویل چه د اختر په ورځ به دوي
کور ته لاړ شي یورش ؤ کړه تیر شه د اختر په ورځ یوسف‌زي اکثر کور ته
لاړ زین خان فرصت غنیمت ؤ گانه هله ئي پر ؤ کړه و سوات ته تیر شه
سوات ئي ؤ نیوه ډیر بند زندان تاراج د یوسف‌زیو په کښې ؤ شه مغلو قلعه

د دمغار سازه کړه هر لور ته به ئي په یوسف‌زیو تاختونه کړه بند بند ئي را ووست او بردهٔ کول به ئي نقل دي له آخوند درویزه نه چه زه هم د یوسف‌زیو سره په سردرو د سوات لاړم په هغه ځاي را باند په شپه هسي رلي او باران ؤ وریده چه تر صباح پور مُه امید د زندګانئي نه وه آخرالامر پس د دِ بدي سختي او هلاکت مغل ته ئي رجوع راوړه مغل یکبارګي و اشنغر و پښاور ته را کوز کړل په ګګیاني په مهمندزي په غوریه خیل ئي ځاي په ځاي متفرق کړه هسي حال ور پیښ شه چه خداي تعالي دِ دا حال و مسلمان ته پیښ نه کا اما محمد خان د پاره د جمعیت د اُلس سره د هندوراج په غره مخ ؤ نیو پنجکوري د سیند په غاړه چه کفار وؤ هغه لور به ئي خالي کاوه وړاند به ته مطلب ئي دا وه چه که و قاشقار ته واوړم هغه هم د کفارو دِ لاسه شهید شه بیا هغه اُلس غازي خان مولي‌زي په خپل سر بادشاه ئي ؤ نیوه هغه هم د کفارو دِ لاسه شهید شه هغه عالم هم د زین خان په لاس کښیووت خانه کوچ ئي و پښاور ته را وستل یوه واله ئي د پښاور په والوکښي دوي ته ور کړه د کر وکیلي طاقت ئي هم نه وه او نه ئي طاقت د قلبي وه اولس هم ور ځخه تفرقه وه معلوم شول چه د بد افعالانو او د بدانو د صحبتونو دا نتیجه ور ؤ رسیده آخرالامر د خپلو افعالونو تایب شول د مغلُ په صلاح سره ئي ملك د سمي ؤ نیو ورځ په ورځ ئي اولس جمع کیده یو مدت ئي په آرام په سمه کښي زیست کاوه مال واجبي به ئي د بادشاه ور کاوه په هغه آوان کښي زر روپي واجبي د یوسف‌زیو وي پنځه توري شپږ توري به د کاله په سرَ یا د قلبي په سر په موافق د قسمت به په دوي ور تلي او ملك د سوات د بنیر په دا کش مکش کښي په زور د مغلُ د متفرق عالم په لاس کښیووت لکه سمه چه د آب سند په غاړه ده دلازاکو ؤ نیوه سوات سواتي بنیر بنیروال چمله چمله وال ؤ نیوه او باجوړ ننګ نهاریو ؤ نیو زین خان چه د سوات له بند و بسته خاطر جمع کړ ځاي په ځاي تهاني

کښېنولي دي په حضور د اکبر بادشاه ؤ رغي نقل دي د آخوند درويزه نه چه دا وارړه په هغه آوان په اعتقاد سنيه کښي نه وؤ علماوو چه به چا ته نصيحت کاوه بد به ئي منل بعضي علما تابع د دوي شول بعضي خاموش شول بي يوه ما چه نصيحت مي به و هر چا ته کاوه يوه ورځ مي د يوه سواتي سره بحث ؤ شه را ته ئي ؤ وئ چه سوات مي در ځني رانيوه ما ور ته ؤ وي له ما ډِ نه دي آخستيَ له يوسفزيو ډِ واخست په هغه وخت چه يوسفزي فرمان بردار او تابع د دين محمدي وؤ بابر غند بادشاه په دوي راغي بي يوه د شاه منصور لور چه دا ئي يوورړه نور ئي هيڅ ځني يو نه ورړه چه ستاسو په لاړ شول دا حال ور پيښ شه زر دي چه تاسو هم خراب شئ

په هغه وخت چه بابر بادشاه په سوات راغلي وه ورځ د ذوشنبي غره د محرم سن د هجرت اتصو پنځه ويشت وه ځور لسم کال د بابر د کابل د فتح وه په تسخير د باجوړ راغي چه په نچول راغي نيمه کړئ عظيمه زلزله واقع شوه ضبا ئي کوچ ؤ کړ چه قلعه د باجوړ فتح کا نيژدي قلعي ته واړول او سرداران ئي د دلازاکو باجوړ ته واستول چه و سردار ته د باجوړيو ؤ وائي چه اطاعت د بابر قبول کا او قلعه د ده په عالم ؤ سپارئ هرکاه چه ملکان د دلازاکو ؤ رغلل حقيقت ئي ور ته ظاهر کړ دوي اطاعت د بابر قبول نه کړ سخت ځوابونه ئي ور ته راستول بابر حکم ؤ کړ چه لښکر ډِ متوجه په آخستل د قلعي شي په ورځ د پنځ شنبي ځلورم د محرم په سن مذکور لښکر باعث په جنګ شه کم و بيش دوه صو پياده له قلعي جنګ ته را ؤ وتل جنګ ئي په قدر د خپل استعداد ؤ کړ اما تاب ئي را نه وړ هغه ورځ شپيته اويا کس باجوړي په توپك ؤ مړل شپه شوه د بابر لښکر ځاي په ځاي قرار ؤ نيوه صبا د وخته په ورځ د جمعي پنځم د محرم حکم ئي ؤ کړ نغاره ئي ؤ کړه لښکر متوجه په قلعه شه جنګ ئي آغاز کړ رفته رفته قلعي ته ؤ رغلل قلعه ئي ماته کړه په دا مينځ کښي ډيره ژوبله قتل کشتن ؤ شه

آخر ئې قلعه ماته کړه فتح ئې ؤ کړه باجوړي ډير ؤ مړل قتل عام ؤ شه اهل او عيال ئې مغلو بند کړه تخميناً تر دریو کسو زيات ؤ مړل پس له فتح قلعه په خواجه کلان ؤ سپارله خواجه کلان شايد د ده يار وفادار مصاحب وه کمک ئې هم ؤ خواجه کلان ته پريښې صبا ئې کوچ ؤ کړ په باباقرا واړول څو بنديان باجوړي چه ور سره وو په سفارش ئې د خواجه کلان له اهل عيال سره آزاد کړه بعضي سرداران چه سر کښې وو په لاس ئې راغلي وو مړه ئې کړه سرونه ئې د دوي او خبر د فتح و کابل او قندهار او بدخشان ته واستول او فتح نامې ئې هم د سرونو سره واستولي په دا ورځو کښې شاه منصور يوسفزي له يوسفزيو ور ته راغلي وه په دا قتل عام کښې حاضر وه سر و پا ئې ور کړ فرمانونه ئې د سياست و يوسفزيو ته ؤ کښل شاه منصور ته ئې ور کړه رخصت ئې کړ له مهم ئې د باجوړ خاطر جمع کړ په ورځ د سه شنبې اتم د محرم په سن مذکوړ پښوا کښې د تري په يوه بلند ځاي کله منار ساز کړ په ورځ د چهارشنبې په لسم د محرم په طريق د سير سور شه و قلعې ته د باجوړ راغې د خواجه کلان کره مجلس د شرابو ترتيب شه کافرانو د باجوړ د نواحي څو څنګ شراب راوړي وو شراب او ميوه باجوړ ته اکثر له کافرستان راځي شپه ئې هور ته تيره کړه صبا ئې کوچ ؤ کړ په رود ئې د چندول واړول حکم ئې ؤ کړ هرڅه کمک تعينات د باجوړ دي رخصت دِ شي په ورځ د يک شنبې څلورم د محرم خواجه کلان ته ئې طغ عنايت کړ ؤ باجوړ ته ئې رخصت کړ پس له دوه دري ورځو ئې دا قطعه و خواجه کلان ته ؤ کښه

"قرار و عهد به ياراين چنين نه‌بود مرا ‌ که زير هجر مرا کرد بي قرار آخر ·
به عشوه‌هاي زمانه چه چاره سازد کس ‌ به جور کرد جدا يار را ز يار آخر"

په ورځ د چهارشنبې اوولسم د محرم سلطان علاؤ الدين سواتي چه مدعي او معارض د سلطان ويس سواتي وه راغې ملاذمت ئې د بابړ ؤ کړ

په ورځ د پنځ شنبي اته‌لسم د محرم په ښکار روان شه پنجکوړي څخه ئي
واړول په دا منزل اتفاقاً ډيري واوري پري وُ وريدي په اتفاق د سلطان ويس
سواتي د کهراج په عالم ئي څلور زره خرواره شولي مقرر کړي په تحصيل ئي
د دي غلي سلطان ويس سواتي تعين کړ عالم روستائي کوهي وه دا کار ور ته
دشوار ښکاره شه ځايونه ئي پريښول ويراني ئي وُ کړه تار پتار شول په ورځ د
سه شنبي درويشتم د محرم لښکر ئي تعين کړ چه تاخت په پنجکوره وُکا
عالم د پنجکوړي وُ تښتيده مال مويشي غله ئي تار پتار شوه په دا ميان کښي
شاه منصور زوي د ملك سليمان يوسفزي په طريق د دولت خواهي ور ته
راغي از راه مصلحت او بند و بست د يوسفزيو لور د شاه منصور بابر ځان
ته وُ غوښته په اته‌ويشتم د محرم له دري د کهراج را وُ ووت په دا ميان
کښي ورور د شاه منصور هم ور ته راغي او بهسوت ئي هم په استحکام د
باجوړ د قلعي خانه کوچ باجوړ ته روان کړه په ورځ د جمعي په دريم د
صفر په هغه ځاي چه سيند د باجوړ او د پنجکوړي جمع کيږي واړول له
دي منزل بيا باجوړ ته روان شه په ورځ د سه شنبي په اووم د صفر خيل
امراکان او سرداران د دلازاکو مصلحت ته وُ بلل قرار داد په دا وُ شه چه
اوس وخت د فصل تير شه سال آينده به په هسي وخت رايشوُ چه فصل
ئي لاند کړوُ چه فکر بر اصل ئي وُ شي نور ئي د شاه منصور تره تر خپل را
جاروتو چه سال آينده ئي قرار داد کړي وه په باجوړ کښي پري ښو صبا ئي
کوچ وُ کړ تر خواجه خضر تير شه بيا ئي کوچ وُ کړ تر بنير را تير شه نماز ديگر
ئي په بانه پالي واړول له هغه نه کاتلنګ ته راغي له هغه نه په شهباز کړه
راغي قبر د شهباز قلندر په بلند ځاي وه چا ور ته وُ وي چه دا قبر د ملحد
دي لکه زمکه هسي هموار کړ ديرش کال پخوا شاه باز قلندر مړ وه صبا
ئي کوچ وُ کړ په مقام ئي ديره وُ نيوه القصه بابر له باجوړ په قصد د هندوستان
د يورش را وُ جاروت او دا يورش د ده مدام په خاطر وه اما په سبب د

بعضي موانع ور ته نه میسر کیده په مقام باند چه دیره شه بعضي دولت
خواهانو ور ته وُ وي چه بعضي لښکر په کابل بعضي په باجوړ څه په لمغان
پاتو شه نن ورځ دا یورش مناسب نه دي لیکن بابر په دا خبرو اګرچه
مصلحت پزیر ئي وي نظر وُ نه کړ کوچ ئي په طرف د آبسند وُ کړ په ګدر
د نیلاب راغي پوري شه کوچ په کوچ بهره ته لاړ عمل ئي په بهره په خوشاب
په دغه نواحي جاري کړ نور ئي بیا په لور د کابل کوچ وُکړ د نیلاب تر ګدر ئي
کوز واړول کشتي ئي د نیلاب لاهوکړي را پوري شه د آبسند دِ غاړي نه چه
ئي کوچ وُکړ ناګاه مزري پیدا شه آواز ئي وُ کړ زلزله په آسونه ګډه شوه لور
د لوره ئي په غشیو په تورو په نیزو وُ واهه بابر خود هم یو غشي وُ ویشت په
سینه ګډ شه له سینده ئي را وُ کیښ له هغه نه ئي کوچ وُ کړ بګرام یعني
پښاور ته راغي د ګورکتړي ننداره ئي وُ کړه شپږ کسَ سرداران د دلازاکو ور
سره وُ هر یوه ته ئي صل صل مثقال سپین زر یوه یوه مینه چه سوغات د
هندوستان وه ور کړه چه په علي مسجد وُ رغي معروف نومیده دلازاك وه
یعقوب خیل وه لس مړونه لس خرواره وریژي اته اوښان د بابر تر نظر تیر
کړه الغرض په کابل داخل شه په دا آوان شاه منصور یوسفـزي د بابر
خسر له سوات د پنځو شپږو کتخدایانو سره د یوسفـزیو وُ رغي بابر ئي په
کابل وُ لیده واړو ته ئي خلعتونه ورکړه شاه منصور ته ئي تکمه داره جامه
ورکړه نورُ ته بي تکمه دا ئي ور سره مقرر کړه چه تر ابوهي د پاسه په سواد
دخل مه کانئي او هرچه تر ابوهي را کوز دي ملك اختیار ستاسي بل رعایا
له میانَ را وُ باسئي بل هرچه پښتانه ګرد نواحي د باجوړ استوګه لري او ملك
د باجوړ کري شپږ زره خرواره شولي دِ په سرکار بادشاهي داخلوي سن اتصو
اته وه بابر د دُ لسو کالو وه ولایت ئي د فرغانه واخست بیا سن اتصو لس وه
چه کابل ئي د مقیم ارغون نه چه زوي دِ ذالنون ارغون وه رانیو ذالنون
ارغون په قندهار مقیم ارغون په کابل دواړه له طرفَ د سلطان حسین چه

بادشاه خراسان وه ناست ووُ بیا سن اته صو پنځه ویشت وه چه قلعه د باجوړ فتح کړه بیا سن اته صو دو دیرش وه چه بادشاهي د هندوستان له سلطان ابراهیم نه رانیوه یو ویشت کال بابر په کابل تیر کړه ډیر کش مکش ئي د پښتنو سره تیر کړي دي اما غرض تمامه قصه نه وه مختصره وُ کښبه شوه پښتانه تر بابر پخوا په دا ملك ووُ

القصه پس له هغه یوسف‌زیو په دلازاکو لښکر وُ کړ تر سیند ئي پوري کړل بیا د کټرُ د یوسف‌زیو سره میرڅي شوه د اکبر بادشاه په وخت د کټرو ډیر زور وه نیلاب ئي ښهر وه چه یو لك کورونه ئي په نیلاب کښي ووُ ګدر هم دغه وه لار هم په خوړه په سونیاله و پښاور ته چلیده د کټرو عالم په هغه آوان کښي مغضوب سلطاني شوي ووُ د اکبر د لوریه هم پسي مهم وه یوسف‌زیو ډیر په تنګ وُ رسول هسي چه یوسف‌زیو لښکر وُ کړ وُ رغلل د سیند په غاړه چه فتح پور ئي بولي جنګ ئي سره وُ کړ یوسف‌زي را مات کړل تر شیر والي پوري چه مفاصله اته یا نه کروه لري شکست ئي وُ شه ډیر عالم د یوسف‌زیو مړ شه

نقل دي په هغه آوان چه اکبر بادشاه په مهم د مرزا حکیم له هندوستان په اټک راغي قلعه ئي د اټک سازه کړه او مرزا سلیم ئي په اټك له لښکره سره پرېښ اکبر بادشاه خود جریده وُ کابل ته لاړ کابل ئي بیا په مرزا حکیم وُ سپاره بیا را وُ جارووت دلازاك ئي له هزاري خانه کوچ کړه و هندوستان ته واستول په دا آوان په دلازاکو هسي خواري راغله چه بیان ئي نه شي

نقل دي په هغه آوان اکبر بادشاه له کابل و هندوستان ته وُ جارووت مان سنګه راجا ئي په اټك پرېښ پس له هغه په سوات کښي د لغمانیو له باجوړیو او له سواتیو سره خصومت پیدا شه یوسف‌زیو وخت غنیمت وُ ګانه طرف داري د لغمانیو وُ کړه لښکر کشي پس وُ کړه سواتي ئي خاك سیاه کړه د باجوړ عالم ئي هم خراب کړ په دا وخت یوسف‌زیو علي اصغر خپل سردار

نیولي وه څو ئي بيخ او بنياد د سواتيو وُکيښ بند او تاراج او قتل ئي کړه القصه هيڅ يو سردار له دي الس علي اصغرغند فتح کړي نه وه چه له ابتدا د ملك احمد او د خان کجو تراوس پوري هيڅا ملك د تونول آخستي نه دي اما علي اصغرجد و جهد وُکړ په اتفاق د ملك هندال اکوزي او ملك ياما ملي زي او ملك متة خان او ملا ابراهيم الياس زي او ملك ترکي مندر اوغيره دا ملك په خپل تصرف راوړ

په طبقات اکبري کښي راوړي دي چه په شپږ ويشتم کال د اکبر د جلوس په ورځ د يك شنبي په پنځه لسم د صفر سن د هجرت نه صو نوي وه خبر راغي چه مرزا محمد حکيم په عرضداشت د معصوم کابلي او معصوم فرنخودي چه د هرات وه او په اغوا د فريدون چه نوي د مرزا محمد حکيم وه له کابل په عزيمت د هندوستان د تسخير را روان شه او شادمان چه د ده نوکر وه په طريق د هراولي په نيلاب را پوري شه کنور مان سنگه مقابله شه جنگ ئي وُکړ مړ شه شادمان او مرزا محمد حکيم په نيلاب را پوري شه په پرگني د سيد پور ئي واړول بادشاه په دا شورش له هندوستان را روان شه پس له هغه خبر راغي چه مرزا محمد حکيم د بادشاه د راتلو په طرف د پنجاب وارويدل د لاهور په سيند په ستنه پوري شه په لور د کابل روان شه بادشاه کوچ په کوچ راته نيلاب ته راغي په سن مذکور ئي قلعه د اتك سازه کړه مسمي په اتك بنارس کړه نور متوجه په طرف د کابل شه يوه هفته ئي په کابل تيره کړه بيا متوجه په طرف د هندوستان شه

په طبقات اکبري کښي راوړي دي چه په ديرشم کال د اکبر د جلوس په ورځ د جمعي اته ويشتم د ربيع الاول سن د هجرت نه صو څلور نوي وه عرضداشت د کنور مان سنگه او د خواجه شمس الدين محمد له اتکه راغي چه مرزا محمد حکيم سخت بيمار دي او فريدون په بدرقه د کاروان له

پېښوره متوجه د کابل وه په خيبر کښې د پښتنو سره جنګ وُکړ شکست ئي بيا موند پسته پېښور ته راغئ اتفاقاً اور دننه په قلعهٔ کښې وُ لګيده زر بارونه د اوښانو وُ-سول فريدون چه له دي واقعي نجات بيامونده په بله ته روان شه په لار کښې اويه کسٔ تترتر وُ مړل هم په دا ورځو کښې خبر د مرزا حکيم د فوت راغي مرزا حکيم اګرچه که د ده سکه ورور نه وه اما ده ته تر سکه ورور ډېر تيروه ډېر ځله مرزا حکيم بي ارائي او بي ادبئي وُ کړ اما ده نظر په صله رحمي تقصيرات ئي د ده در ګذر کړه لکه حق د وروڼي وي هغه رنګ وروري او مهرباني به ئي پر وُ کړه او څو ځله ئي لوي امراکان په کمک د ده تعين کړه کابل ئي بي خاره خنده ده ته تفويض کړ پس د مرزا حکيم دِ مرګٔ اکبر بادشاه ته فکر د کابل او د غزني د محافظت وُ لاړ شه مرضي ئي په دا وَه چه په دستور سابق کابل و فرزندانو ته د مرزا حکيم تفويض شي اما وزيرانو دا کار صلاح دولت او مطابق د فرزندانو د ده دا مضمون نه ليده

بيت

"رعيت نوازي و سر لشکري نه کاريست بازيچه و سر سري"

او عبدالله خان ازبک بدخشان واخست کابل ته په پښو ناست دي په دا سبب اکبر مخ په پنجاب را روان شه هرګاه په دهلي راغي زيارت ئي د پلار او د نورو بزرګانو وُ کړ فقيران او مسکينان ئي په خير او په خيرات ممنون کړه او هم په دهلي کښې د اختر مياشت وُ ليده صبا ورځ د پنځ شنبي وَه د اختر نمونځ ئي وُ کذاره له دهلي نه ئي کوچ وُ کړ په نولسمٔ د شوال و غاړي ته د آب ستلج راغي په دي مقام خبر راغي چه کنور مان سنګه خپل عالم په نيلاب پور کړ پېښور ته ئي وا ستاوه او شه بيک نوکر د مرزا محمد حکيم په آرويدل د دي خبر فرار وُ کړ کابل ته لاړ په ورځ د چهار شنبي ديارلسمٔ د ذوالقعده و غاړي ته د چناب راغي او په اته ويشتمٔ د ذوالقعده و غاړي ته د آب بهست راغي را پوري شه په دا منزل عرضداشت د کنور مان سنګه

مشتمل په اخلاص او په اطاعت د کابل د خلقُ او فتح د دي شاه ته راغي هرګاه چه کنور مان سنګه په کابل داخل شه فریدون او فرزندان د مرزا محمد حکیم له خانَ سره و کنور مان سنګه ته راغي ملاقات ئي وُکړ کنور مان سنګه واړه په عنایت او التفات د بادشاه امیدوار کړه خپل زوي د خواجه شمس‌الدین سره په کابل پریښ او خود متوجه له فرزندانو سره د مرزا محمد حکیم په ملازمت د اکبر شه په پنځه ویشتم تاریخ د ذوالحجه په قصبه د راول پنډي چه په میان د رهتاس او د اټک واقع ده کنور مان سنګه فرزندان د مرزا محمد حکیم په شرف د ملازمت مشرف کړه بادشاه ډیره مهرباني مبذوله کړه هر یوَ ته ئي لایق منصب او جاګیر ورکړ هرګاه چه بادشاه په نواحي د اټک راغي زین خان کوکه ئي له ښه جمعیتً سره په تسخیر د سوات او د باجوړ او استیصال د مفسدانو تعین کړ او بادشاه په ورځ د پنج شنبي په پنځه لسم د محرم په سن نه صو پنځه نوي په اټک بنارس داخل شه

په طبقات اکبري کښي راوړي دي چه جلال‌الدین په هغه وخت چه عمر ئي د څورلسو کالو وه په سن د نه صو اته اتیا چه اکبر له کابلَ را وُ جاروت په ملازمت د بادشاه راغي مهرباني ئي ډیره پر وُ کړه پس له څو ورځو ترِ وُ تش پښتنو ته راغي فساد ئي آغاز کړ لار ئي د کابل د هندوستان بنده کړه

مثنوي

"درختي که تلخست ویرا سرشت گرش بر نشاني به باغ بهشت
ور از جوي خلدش به هنګام آب به بیخ انګبین ریزي و شهد ناب
سرانجام ګوهر به بار نه آورد همان میوهٔ تلخ بار آورد"

مثنوي

"په ښوره کښي چه څوک کر کا سود ئي نشته خپل ضرر کا
چه نیکي شي له نا اهلَ دا خبره ده له جهل

چه یاري دِ وي له مارَ — خاي مړ شومه کړه طیاره
چه په اصل بد سرشت دي — رنج پرِمه کوه چه زشت دي
ستا محنت به واړه باد کا — غم بـه تـا سره بنیـاد کـا"

اکبر په رفع په دفع د دوي کنورمان سنګه تعین کړ او کابل ئي د ده په جاګیر کښي ورکړ هرګاه چه خبر را ؤ رسیده چه زین خان کوکه د پښتنو سره په جنګ په جدل ګرفتار دي په دویم د صفر سن مذکور سعید خان ګکهر او راجه بیربر او شیخ فیضي او فتح الله خان شیرازي او تاش بیګ او صالح عاقل او نور ډیر لښکر په کمك او په مدد د زین خان کوکه رخصت کړ او پس له څو ورځو ئي حیکم ابوالفتح له نوره جماعت سره هم په کمك د زین خان روان کړ هرګاه چه زین خان ته دا امراګان ؤ رسیدل لاس ئي په تاخت او په تاراج د پښتنو دراز کړ هرګاه چه د کراکر په غاښي ؤ رغلل یوه سړي و راجه بیربر ته ؤ وي چه پښتانه نن شپه قصد د شبخون لري او دا غاښي درِ څلور کروه دي که راجا کوچ ؤ کا ترِ تیرشِي دوي به بي دست و پایه شي راجا بیربر بي له اتفاقَ د زین خان کوچ ؤ کړ نماز دیګر د بلندري په غاښي راغي پښتانه پرِ راغلل په غشیو په ټوپکو په کانیو ئي ویشتل لار باریکه شپه تاریکه مغل نا بومه لار ئي غلطه کړه په هلاکت ؤ رسیدل عظیم شکست ئي بیا موند او وه اته زره خلق ډوب شه راجا بیربر ؤ مړ او راجا نني او راجا دهرم چند او خواجه عرب چه بخشي د هغه لښکر وه او ملا شیرین شاعر نور ښه نامدار خلق په هغه شپه هلاك شول او زین خان کوکه او حکیم ابوالفتح په پنځم د ربیع الاول په سن مذکور په بد حال په ډیر محنت و اتك ته را ؤ رسیدل دا واقعه د اکبر په خاطر ډیره ګرانه شوه دوي له سلامَ منع کړه پس له هغه ئي راجا تودرمل له عظیمَ لښکره سره په تلافي او تدارك د دي واقعي تعین کړ راجا تودرمل راغي څو قلعي ئي بنیادي کړي یوسفـزي ئي تاخت او تاراج کړه ملك ئي پرِ تنګ کړ هم په دا ورځو کښي خبر و اکبر ته

وُ رسیده چه میر قریش ایلچي د عبدالله خان بادشاه د ماوراالنهر له ډیره سوغات سره راغي او نظر بیګ ازبک چه له لویو امراکانو د عبدالله خان وه له فرزندانو سره آزرده خاطر راغي اکبر شیخ فرید بخشي او احمد بیګ کابلي په استقبال و مخي ته ور رخصت کړه چه له خیبر نه ئي را تیر کا دا لښکر چه وُ رغي جلال‌الدین لار د خیبر ور ته نیولي وَه ډیر جنګ وُ شه فتح د بادشاهي لښکر وُ شوه دوي ډیر وُ مړل میر قریش ایلچي او نظر بیګ ازبک تر خیبرَ را تیر شول

په طبقات اکبري کښي راوړي دي چه هرګاه چه راجا مان سنګه په حکومت د کابل بادشاه سرفراز کړ له امراکانو د کابل څو تنه ئي په رکاب ظفر انتساب کښي وُ ساتل باقي امراکان ئي د کابل په کمک د راجا مان سنګه سره رخصت کړه هرګاه چه په پیښور داخل شه حقیقت د جلال‌الدین ور ته معلوم شه چه په تیراه کښي جماعه د قطاع الطریق ور سره ده راجا مان سنګه ته دا فکر صواب ښکاره شه چه اول دفع د دي فساد کړي بویه پس له هغه په جمع خاطر کابل ته تلل بویه په دا فکر کښي وه چه خبر د نظر بیګ او د قنبر بیګ او د شادي بیګ او د میر قریش او پاینده رعنا چه په طریق د رسالتِ له عبدالله خان راغلي ووُ را وُ رسیده په سبب د سنګ راه پښتنو په لور د خیبر روان شه پس له ډیرَ جنګَ و جدلَ نظر بیګ او غیره تر خیبر را تیر شول په دا دوه دري ورځي کښي اراده د مان سنګه په طرف دُ تیراه وَه لیکن فرمان د بادشاه په لاس د خواجه دولت راغي چه زین خان پښتنو مات کړ بایده دي چه بي توقفَ په شرف د ملاذمت مشرف شي چه رفع او دفع د دوي ته په وجه احسن وُ کړي پس له مطالعي د فرمان حضور ته روان شه په ورځ د نو روزئي شرف د ملاذمت حاصل کړ هم هغه زمان حکم پرِ صادر شه چه له هغه فوج سره چه کابل ته روان وي

متوجه په دفع رفع د پښتنو د سوات د باجوړ شه هرګاه چه مان سنګه په حدود د پښتنو راغي زلزله پرِ ګډه شوه راجا مان سنګه اووه اته میاشتي د کجو په تهانه تیري کړي ډیر جنګ او جدل او تاخت او تاراج لوټل وهل بندول د نر د ښځو ئې وُکړه په دا میان کښي له طرفه د ماوراالنهر پریشان خبرونه و اکبر ته را وُ رسیدل په محافظت د کابل راجا بهګونت داس تعین کړ راجا بهګونت داس طاقت د دي خدمت نه لیده او چه راجا مان سنګه له تهانه د کجو په خدمت د بهګونت داس چه د ده پلار وه اټک ته را روان شه خو چه حقیقت ئې د کار او بواعث د بادشاه ظاهر کړ جمدهر ئې دوراِندِ پروت وه ځان پر وُ واهه وُ ئې وي چه زه ځوك كابل ځوك ځو وُ نه مرم ستا له فضولیو به خلاص نه شم مړل ځما بهتر دي

په طبقات اکبري کښي راوړي دي چه په وَرځ د نو روز چه دو دیرشم کال د اکبر د جلوس او سن دهجرت نه صو شپږ نوي وه خبر را وُ رسیده چه جلال‌الدین تاب د مان سنګه را نه وړ په طرف د بنګښ لاړ شه عبدالمطلب خان چه لوي امرا د اکبر وه او محمد قلي بیګ افشار او حمزه بیګ افشار چه له قوم اوغترا د قلي بیګ د قزلباشو وُ نور دا رنګ ځو امراګان په استیصال د جلال‌الدین و بنګښ ته تعین کړِ هرګاه چه دا لښکر بنګښ ته وُ رغي جلال‌الدین د ډیرو سورو او پیادو سره جنګ ته راغي شدید جنګ وُ ښه پښتانه مغل طرفین ډیر وُ مړل اما فتح د مغل وُ شوه هرګاه چه جلال‌الدین د پیر روښان زوي په غزني تاخت وُ کړ هزاره وو پرِ غلبه وُ کړه جلال‌الدین ئې مړ کړ سر ئې اکبر بادشاه ته راستوه پس له هغه احداد د ده وراره د شیخ عمر زوي په ځاي د ده کښیناست هغه پښتانه وغیره چه د پیر روښان مریدان وُ وارِه زیات تر پیر روښان په ده وُ ګروهیدل دِ ابتدا په تیراه کښي وه په هغه آوان چه احداد په تیراه کښي وه دولت دمغان د ده د استوګي وه

او بوچرخئي چه د لنبکرزي په میان کښې دي بل ستوره چه د دولت زي سر حد دي د لوي مهابت خان په صوبداري کښې تیر صو کسه دولت‌زي له احداده په طمع توقع په قول په امیدواري ځني را ؤ بلل په هغه آوان د دولت‌زیو ملک ملک اصغر وه د ملک تور تره ملک اصغر خپل زهمن چه شمسي او رسول نومیدل ور سره کړه مهابت خان لره راغله مهابت خان ته بعضي غوریه خیلو او بنکښو ؤ ویل چه که دا تیر صو کسه دولت‌زي چه راغلي دي قتل عام شي او په احداد پسي مهم ؤ شي احداد به بي پایه شي دا معرکه ئي سره پخه کړه تقریباً یوه ورځ مهابت خان مجلس آراسته کړي وه ملک تور ئي هم ؤ باله چه مهابت خان مست شه په مستي کښې ئي تر خولي ؤ وتل چه که دا عالم قتل کړم تیراه به مسخر شي ملک توز ؤ وي چه نواب بهتر پوهیږي ملک تور چه رخصت شه کور ته راغي صبا چه مهابت خان صوفي شه دا خبره ور یاده شوه یساول ئي ور ستاوه ملک تور ئي ؤ باله ور ته ئي ؤ وي چه برایه مه څه مصلحت سره کاوه ملک تور انکار راور چه زه له خان له جهانه هیڅ خبر نه وم اوس هم بي هوښ یم یساول په زور راوستم د مهابت خان خاطر تسلي ؤ شوه چه دي په هغه خبره پوهیدلي نه دي نور ملک تور رخصت شه چه دوه ورځي تیر شو حیله حواله ئي ؤ کړه چه کورمه مي له پاسه راځي زه د رخصت شم چه مخي ته ئي ورشم مهابت خان ور ته ؤ وي ته څه لره ځي زه به پالکۍ انباڼي ور ستوم ده ور ته ؤ وي چه پښتني په دا نه پوهیږي زه به ئي مخي ته ورشم را به ئي ؤ لم په هر صورت ئي خان تر رخصت کړ بلا توقف ئي وروڼه تر لاسه ؤ نیول روان شه چه تر نبهره ؤ ووت سړي ملک شمسي او رسول چه د ده تربورونه وو ور ته ئي راستاوه ؤئي وِ چه ما خان په بهانه له مهابت خانه رخصت کړ ده د مور د مرګ مصلحت کړي دي که را ؤ وتئي خلاص شوئي که نه وتئي مړه شوئي دوي په ګفته د ده عمل ؤ نه کړ هرګاه چه ملک تور تیراه ته ؤ رغي تره ته ئي ؤ وي

چه مهابت خان دا رنګ مصلحت کړي دي ما دِ زهمن خبر کړه دوي د ما په ويل عمل وُ نه کړ سړي ور ته په تلوار واستوه که نن صبا را وُ وتل بهتر کَه نه مړه شول تره ئي هم په ويل عمل وُ نه کړ چه تربور ئي دي له غرضة وائي ځو ورځي چه تر ميان شوي مهابت خان ضيافت وُ کړ هغه عالم ئي واړه وُ باله پس له طعامَ ئي وصلي د خلعت په بهانه ترِ واخستی تير صو کسه ئي جدا جدا يو يو مړ کړ يو د بل دِ حالَ خبر نه شه نور د غيرت خان سره دوه ويشت امرايان په مهم د تيراه په لار د کوهاټ تعين شول د اسمعيل زيو په وطن چه واغوز و سم ئي لوي د سنګ پاڼه تر غاشي لاند دي هورِ ته ئي واړول دولت زي د ملك تور سره روښاني د احداد سره د غاښي سر ئي ور ته وُ نيوه په صبا مغل سواري وُ کړه جنګ ته روان شه مغل هسك وُ کړ غيرت خان د ملك تور و مورچي ته وُ رسيده او راجپوت مورچه ته د روښانيو وُ رسيده جنګ ئي سره آغاز کړ چه مغل د غاښي په سر وُ رغي غيرت خان وړاندِ شه پنځو نوميده دولت زي وه په خيل کښي فروز خان خيل وه ور سره غاړه غړي شه دواړه يو د بله پرِ وتل پنځو ناري کړي چه ما هم ور سره وهي ځو دي وُ لاړ نه شي دواړه ئي وبله باند وُ وژلل نور مغل مات شه بي حسابَ وُ مړل سوا تر نورَ لوته پنځه زره آس په الجه کښيوتل نور مغل تاب را نه وړ لوي مهابت خان تغير شه چه ملك شمسي او رسول مړه شول ملك اصغر پخپل ځاي ملکي په ملك تور وُ سپارله په دا سبب چه فرزند ئي پاتو نه شه پس له يوه مدتَ په تيراه کښي په زمکه د مستوري يو ځبله دعوه د ورکړي وُ شوه د احداد طرفداري ديو نورو وُ کړه ملك تور عبدالعزيز خيل چه نيکه د مؤلف وه له موره لاسته له احدادَ آزرده شه ور ته وُ ويل چه زه نوردِ هر امر منم اما يو د کاله بل د پټي واك نه درکوم احداد هم ور سره دښمني واخسته دي راغي مغلي شه لښکر ئي د مغل په تيراه روان کړ دي دوړاندِ شه احداد ئي له تيراه وُ يوست په چبوتره د ختکو په لواغره کښي

ئي مكان ؤ نيوه همیشه به ئي په هر لوري تاخت باخت کاوه لښکر ور سره ډیر وه له هره قومَ سلوك ئي د هیڅا سره نه وه د ده ارتینه ډیره صاحب حسنه او دانا او فهمیده وَه اونوم ئي الائي وه د دي زوي عبدالقادر نومیده په دواړو بانده احداد ډیر مَین وه هرکاربه ئي د دوي په راي په مصلحت کاوه بل د ده مطرب وه هغه هم د ده صاحب مدار وه نور د احداد د هیڅا سره سلوك نه وه نقل دي له سفید ریشانو د اکوړ خیلو چه خدري نومیده پیروه د یحي خان د سردارۍ په وخت ډیر بد نهاد وه همیشه په بدیو د ده کار وه یو ځل له بیرډ لواغره ته ؤ رغي احداد ئي را سوور کړ خیرآباد ئي تاخت تاراج کړ په وخت د جاروتو خضر خان اکوړ خیل د چوړپاني په وره کښي پسي ؤ رغي جنګ ئي ؤ کړ خضر خان شهید شه په جهانګیر نامه کښي راوړي دي چه په شپږم کال د جهانګیر د جلوس سن هجرت زر شل وه واقعي د احداد مخ ښکاره کړ خان دوران امرا په دا وخت له ډیره سپاه سره په حدود د ننګنهار او د بنګښ وه او معزالملك بخشي د لږه جمعیت سره په کابل وُه احداد فرصت غنیمت ؤ شماره ډیر سوره پلي ور سره کابل ته ؤ رغي معزالملك کوچه بندي د کابل ؤ کړه متوجه په جنګ شه پښتانه په سبب د کثرت په هر طرف لور د لور په کوچه په بازار پر هله ؤکړه معزالملك تاب د مقاومت را نه وړ په کوټ ننووت کابلیو همت اختیار کړ ډیر جنګ ئي ؤ کړ طرفین ډیر ؤ مړل احداد ؤ جارووت کم. و بیش صل کس پښتانه ؤ مړل دوه صو آسونّ هم د پښتنو پاتو شول په دا ورځو کښي ناد علي میداني په لهوګر کښي وه هرګاه چه دا خبر ورؤ رسیده په ډیر تلوار را روان شه نماز دیګر داخل په کابل شه په پي د پښتنو روان شه لیکن مسافت ئي تر میان ډیر وه ؤ نه رسیده را ؤ جارووت هم په دا ورځو کښي فتح خان له لاهور په ملاذمت د جهانګیر راغي شرف د ملاذمت ئي حاصل کړ دي ئي په حکومت د کابل او په تنبیه د احداد په ضبط د پښتنو تعین کړ

په جهانګیر نامه کښي راوړي دي چه په شلم کال د جلوس اتم د جماد الثاني جهانګیر په هوس د سیر او د ښکار په طرف د کابل روان شه ده څو ورځي په ګرد نواحي د ښهر ښکار وُ کړ په ورځ د جمعي په درویشتم د جماد الثاني کوچ وُ فرمایه افتخار خان چه زوي د احمد بیګ خان کابلي وه د احداد سرئي راوړ ملاذمت ئي د بادشاه وُ کړ بادشاه سجده د شکر وُ کړه شادماني وُ غږولي حکم ئي وُ کړ چه د لاهور په دروازه ځوړند کړي او تفصیل د دِ مجمل دا رنګ دي چه هرګاه مظفر خان زوي د خواجه ابوالحسن و کابل ته راغي خبر ور ته را وُ رسیده چه یلنګتوش ازبک په قصد د شورش او د فتني په نواحي د غزني راغي لاچار د خپلو تعیناتو سره په سر د یلنګتوش روان شه په دا میان کښي احداد قابو وُ لیده په اشارت د یلنګتوش ازبک تیراه ته راغي دست اندازي او رهزني اغازه کړه یلنګتوش له دي قصدَ پښیمان شه یو شخص ئي له خپلو عزیزانو مظفر خان ته واستاوه صلح صلاح ئي وُ غوښته وُ جارووت مظفر خان په سر د احداد له دغه جمعیت سره په لار د کردیر روان شه هرګاه چه خبر د یلنګتوش د جاروتو او د مظفر خان د راتلو و احداد ته را وُ رسیده تاب ئي د مقاومت را نه وړ پناه ئي و لواغره ته یووړه مورچي ئي ځاي په ځاي وُ تړلي محکمي ئي ډیره وُ کړه ذخیره او توښه او آذوقه او اسباب د جنګ ډیر طیار او آماده کړ مظفر خان وُ رغي پنځه شپږ میاشتي جنګ او جدل زد ډیر وُ شه په ورځ د شنبي اووم د جمادالاول پس له ډیره جنګَ چه درِ پهره جنګ وُ شه احداد په اهتمام د مورچه بندي له یوي مورچي بلي و ته ته په توپک وُ ویشت شه وُ مړ پښتانه تنګ شول مورچي پري ښوي په دا میان کښي یو شخص چه د احداد دِ لښکر وه په طریق د مجرا توره او چاره او ګتي د احداد مظفر خان ته راوړه یقین ئي وُ شه چه دا توره ګتي د احداد ده مظفر خان هغهٔ شخص دوړاندِ کړ هغه ځاي چه احداد مړ پروت وه وُ رغي د توپکو په ګولئي ویشتلي شوي وه په دا مجرا مظفر خان

تعینات ئي له بادشاه ؤ شه منصب او اضافه بیاموندہ پس له مرګ د احداد
په لښکر ئي تفرقه ګډه شوه اما په لواغرو کښي یو سخت ځاي دي کوږمه قبیله
ئي هغه ځاي ته ؤ ختل خلاص شول لښکر د مغل را ؤ جارووت بیا په یوه
مدت پس د احداد قبیلي له الائي له عبدالقادرؒ سره و تیراه ته راغلي چه
جهانګیر بادشاه فوت شه شاه جهان په تخت کښیناست لښکر خان صوبدار
د کابل وه په دا کش مکش کښي موسم شه صوبدار د کابل و کابل ته ؤ لاړ
وه عبدالقادر له تیراه لښکرکشي ؤ کړه پیښور ئي محاصره کړ نایب ئي د لښکر
خان او ښهر د پیښور ئي قتل کړ اطراف او جوانب اولوسات د پښتانه واړه
د مغل په بدي متفق شول مګر د قبیلي ارباب د پیښور قبیلي د مؤلف چه
په هغه آوان کښي شهباز خان د مغلو سره وه په ورک زي کښي د ملك تور
قبیله هغه دِ واړه قبیلي سره په اټك په پیښور و په پیښور کښي د مغلو سره
محاصره شو او شهباز خان د قبیلي سره په اټك کښي محاصره شه سعید
خان چه صوبدار د بنګښ وه په هغه وخت را ؤ رسیده د پیښور په محاصره
کښي ننووت اول ابتدا د محاصره عبدالقادر کړه چه دا نور اولوسات جمع
شه لکه د پښتنو جهل نادانی عادت دي رشك ئي پیدا شه چه دا اسم د
عبدالقادر کیږي له عبدالقادرؒ سره خبري د مخالفت واخستي عبدالقادر ؤ
پوهیده چه د مغلُ سره به ساز ؤ کا ما به نیولي ورکا له دي وسواسَ په شپه
کوچ ؤ کړ د خپل لښکر سره و تیراه ته لاړ مغل په دا حال خبر شه چه لښکر
د پښتانه تفرقه شه د قلعي را ؤ ووت له پس مانده‌وو پښتنو سره ئي جنګ ؤ
کړ ډیر یوسفزي ګګیاني مړه شول شکست ئي ؤ خوړ دا مقدمه چه د شاه
جهان په عرض ؤ رسیده سعید خان چه له بنګښ راغي دا هسي تردد ئي ؤ
کړ په یوه ځل پنځ هزاري منصب او د کابل صوبداري ورکړه د کابل په صوبه
کښي بیا عمل مغلي ؤ چلیده عبدالقادر د الائي سره په قول په عهد دلاسا
کړه و پیښور ته ئي را ووست په لږ شپي کښي وفات شه مغل بیا لښکر کښي

په تیراه په احدادیانو پسي وُ کړه یوسف افریدي او آزارمیر ورکزي چه دا دواړه د احدادیانو سرداران وُ جنګونه جدلونه په تیراه ډیر وُ شول دا یوسف افریدي هسي بهادر ځوان وه چه د احدادیانو په لښکر کښي په مړانه د ده ثاني ځوګ نه وه

بیت

"پلنګانش از زورِ سر پنجه زیر فرو برده چنګال در مغزِ شیر"

په دا مهم کښي هم ده هسي توري وُ وهلي چه عالم ورته حیران شه بیا مغل په قول په قرار را وستل هزاري منصب ئي دواړو ته ورکړ بادشاه په حضور وُ بلل وطن ئي پاني پت څخه ورکړ اوس سن هجري زرصل در ویشت دي هغه وطن د دوي د اولاد په تصرف کښي دي پس له هغه د شاه جهان په عمل د کابل د صوبي په پښتنو سخت عملي شوه ماده د اولوساتُ له فتني ډکه شوه شاه جهان بادشاه شاه زاده دارا شکوه چه ولي عهد زوي د ده وه په اګره کښي ئي بند کړېه هغه آوان مهابت خان صوبدار د کابل وه

ذکر په بیان د خپلُ انسابُ او احوال د خپل اُلس چه له یوه ځایَ بل ځاي ته په سبب د حوادثُ د روزګار نقل کړي دي او هرچه په دا امینځ کښي واقعي شوي دي

د خان علیین مکان خوشحال خان نقل دي چه په بیاض کښي پخپل دستخط کښلي دي چه اُلس د خټک داخل د اُلسِ کړلاني دي تر کړلان پورِ او څموږ تر اولادَ پوړِ شل پیړي شي افضل خان د اشرف خان د خوشحال خان د شهباز خان د یحي خان د ملک اکوړي اکوړي د درویش محمد چه مشهور په چنجو دي چنجو د تمن تمن د حسن حسن د شیخ علي شیخ علي د عطا عطا د پټي پټي د اتو اتو د برګویت برګویت د تري تري د تورمان

تورمان د لقمان چه مشهور په خټک دي لقمان د ککي د کړلان کړلان زوي د هوني دي هوني داخل په اولاد د سړبن دي چه له اولادّ د شرکبون دي دا قصه طول لري اما مجمل څه لا و بدي کښلي شي وائي چه په زمکه د ایلاق او د قشلاق کړلان له موره تولد شه په سبب د واقعي و احشامات ته روان شول دي هیر شه هرګاه چه ور یاد شه ورمړ چه ورور د هوني وه په طلب د وارهٔ ؤ جاروت بیا ئي موند یو دیګ هم هور ته د دوي نه پاتو شوي وه کړلان ئي په دیګ کښي واچاوه دیګ ئي په سر واخست و احشامات ته ئي راوړ د ورمړ خپل زوي نه وه و هوني ته ئي ؤ وي ما دا ستا زوي په ډیر مشقت تر دا ځایه راوړ ته ئي مه آخله زه به ئي پرورش کوم دا دیګ ته واخله هوني راضي شه هرګاه چه عوض معاوضه ئي په دیګ ؤ کړه او پښتانه دیګ وته کړهي وائي دي په سبب د کړهي مسما په کړلاني شه هرګاه چه عاقل و بالغ شه ورمړ لور په نکاح ور کړه اولاد ئي ډیر شه څو ګروه خلق دي واړه منسوب په کړلاني دي انشاءالله شرح د دي احوال به پخپل محل راشي ما په زعم د دلازاکو چه په کړلاني کښي دوي لوي اُلس دي دا رنګ دي چه دوي کړلان ته سید حسیني وائي په دا ترتیب چه کړلان د سید قاف سید قاف د سید رجال سید رجال د سید خاتم سید خاتم د سید اسمعیل سید اسمعیل د امام جعفر صادق امام جعفر صادق د امام محمد باقر امام محمد باقر د امام زین‌العابدین امام زین‌العابدین د امام حسین امام حسین د حضرت علي کَرَمُ‌اللّٰهُ وَجْهَهُ هرګاه چه اُلس د دلازاکو ارشد په اولاد کښي د کړلان دي لږ څه به ئي له انسابَ په دي محل کښي ؤ کښل شي نسب د دي قوم په برهان ورځي د کړلان دوه زهمن وؤ یو کودي دویم ککي برهان او ورک دواړه زهمن د کودي دي ورکزي او دلازاک دواړه په اولاد د کودي ورځي دلازاك دوه طایفي دي لوري او یعقوب اُلس د لوري زیات وه اُلس د لوري کښي کیږي عمر خلیل احمد خلیل وتکزي شجره هم داخل په لوري دي د یعقوب

دوه زهمن وُ ذکریا او اما حیدر اوسني حسي دواړه داخل په اما دي سیصده ور ته وائي د ذکریا څلور زهمن وُ یسین مندي موتي ماني له هریوه نه جدا جدا اُلس پیدا شه یسینخیل منديزي موتيزي ذکر به د ورکزي پخپل محل کښي راشي د ککي څلور زهمن وُ لقمان اتمان عثمان جدران دا څلور واړه اُلس په یوه له زهمنو د ککي منسوب دي اتمان او عثمان له یوي موره دي او لقمان له بلي موره دي اما دري واړه له یوه پلاره دي او جدران تره د دي در واړه وه اُلس د اتمان خیل چه په سوات باجوړ اړهنګ بړهنګ میشته لري له نسلً د اتمان دي او اُلس د افریدي چه په تیراه او باړه او خیبر استوګه لري له اولادً د عثمان دي او اُلس د ختك چه په سرحد د یوسفزي تر عیسي پوري په غاړي د آب سیند پراته دي له نسبً د لقمان دي چوتره او لواغر او تل دینو او کربوغه او کرکره دا وطن د دوي دي وائي چه اسم د لقمان په دا سبب په ختك شهرت بیاموند چه لقمان او اتمان او عثمان او جدران څلور واړه ښکار ته لاړ در څلور جونه له قبیلي د افغان صحرا ته وتلي وي یو د بله پیښ شول دوي وُ وي چه راشئ په څلور واړه د څلور واړو هسك واچوو دا لوي ښکار دي لقمان په کښي مشر وه په هسك راضي نه شه وُ ئي ویل چه اول به زه یوه په غوره واخلم په نورو دري واړه هسك واچوئ هم هغه رنګ ئي وُ کړل لقمان په څلورو واړو کښي چه په ښه پوښاك آراسته وَه هغه په کښي،وُ نیوه اما چه ئي وُ لیده حسن ئي موافق د لباس نه وه بیت

"بس صورت خوش که زیرِ چادر باشد چون باز کني مادرِ مادر باشد"

هغه نوري په ښایست په زیبائي تر دي بهتري وي نورو ورونو ئي هسك پرِ وُ کړ موافق د هسك ئي خپلي کړِ هرګاه چه احوال د لقمان ور ته معلوم شه په خندا خندا ئي وُ وي لقمان په ختي لاړ مثل دي د پښتنو چه څوك په یوه سبب درمانده شي وائي چه په ختي لاړ په دا سبب نوم د لقمان ختك

شه او عثمان ته په دا سبب آفریدي وائي چه میلمانه د ده کره راغلل دي ډیر حقیر او کنجي او پریشان وه وخت د ژمي وه دوي له سردئي یو د بله نیژدي ناست وو میلمنو تر پښتنه وکره چه دا څوک دي دوي وو دا هم آفریده دي یعني خلقت د پروردګار په دا سبب نوم د عثمان افریدي شه له نسل د هغو څلورو وارو جونو اولاد د لقمان او غیره ډیر شه هغه جل چه لقمان خپل ځان ته غوره کره او نوم ئي د ختک د دي په سبب بیاموند وائي چه نوم ئي سباکه وه رنګ ئي تور وه قوي هیکله هښیاره وه دوه فرزندان د لقمان تر پیدا شول یو تورمان بل بولاق تورمان د پلار په رنګ وه او بولاق سیاه فام وه په رنګ د مور په ځاي د پلار تورمان کښیناست له ده دوه زهمن پیدا شول یو تري بل ترکي په میان د دیو دوارو ورونو تري قابل شه نوم ئي د پلار ژوندي کړ اولاد د تورمان واره د ده په نامه نومړل شي د تري دوه زهمن وو شول برګویت او امیر د برګویت در زهمن وو شول اسمعیل او امیر او اتو او د ترکي چه زوي د تورمان وه دوه زهمن تولد شول ایسو او یوسف او په میان د تري د اولاد اولاد د اتو او د امیري ډیر شه او اولاد د رجز په میري ورځي او د اتو چه زوي د برګویت دي دوه زهمن پیدا شول پتي او مهمند او د پتي دوه زهمن دي هوتي او چیني او د هوتي څلور فرزندان دي فتح او شیخ علي او کمیل او مژي د شیخ علي زوي حسن دي د حسن څلور زهمن تولد شول میبم او محمود او کریم او تمن د تمن اته زهمن پیدا شول درویش محمد چه په چنچو مشهور دي بارک مندا ذري ناصر شاهد او شیخ احمد ملي او خواجي چنچو ته حق تعالي پنځه زهمن ور کړل یو ملك اکو او مچوري او میر داد او مژي دا څلور واره له یوي موره دي چه مور د دوي اوریاخیله وه پنځم غازي خان مورئي بنګښه وه ملك اکو ته حق تعالي اته فرزندان کرامت کره یحیي خان چه له موره کښي وه او مورئي میژه خیله وه نوم ئي تاروکه وه بل نظام

هم له مورهِ کښي وه مور يُي بولاقَ وَه نښدرکه نومیده بل یوسف خان هم له مورهِ کښي وه نوم يُي د مور دردانهٔ وَه له اُلسَ د غوریه خیلُ له طرف د مهمندو وَه بل تاتار خان چه مور يُي ام الولدَ وَه بل خضر او عبدالغفور چه غفور بیک ور ته وایُي دوارهِ له یوي مورهِ ووُ مور د دوي هم امالولدَ وَه پنځو نومیده بل طاؤس خان چه مور يُي پایُي نومیده چیني وَه بل مصري چه مور يُي خلوزي وَه پس له فوتَ د ملك اکو چه ملك او یوسف خان د بولاقُ د الس شهید شول یحیی خان په ځاي د پلار په اتفاق د ټري د اُلس کښیناست او نظام په حیات د پلار په ځواني مړ وه او یوسف خان چه نوي واده کړي وَه یوه لور يُي وَه فاطمه نومیده یوسف خان ډیر تهور وُکړ ځان يُي پلار ته وُ رساوه اما چه تخت يُي یاري وُ نه کړه کوښښ يُي فایده وُ نه کړه د پلار سرهِ يُي شربت د شهادت وُ څښل مذکور به يُي په خپل محل رایشي یحیی خان له کشرانو وروڼو سرهِ چه هیڅ یو لا بلاغت ته رسیدليُ نه وه په قصاص يُي د پلار ملا وُ تړله په مدد د اُلس يُي ړنا ورځ په دښمنانو تورهِ شپه کړه انتقام يُي د پلار واخست دښمنان يُي نیست نابود کړهِ

فرد

"چو دست رسد مغزِ دشمن بیار که فرصت فرو شوید از دل غبار"

یحیی خان ته حق تعالي یوولس زامن عنایت کړهِ اول شهباز خان چه دا يُي تاریخ د تولد دي

تاریخ

"شهباز خانِ یحیی آن خان بي بدل در کارِ رزم ثاني رستم زیاده یل
تاریخِ مولدش زخرد چون به جستمش گفتا زروي صدق که شهباز خان اجل"

سن د هجرت پورهِ زر وهِ

بهادر خان عالم خان له یوي مورهِ ووُ قذیفه نومیده اسمعیل خیله وَه او آدم خان له مورهِ یکه وه مور يُي مهمنديُي وَه افروز خان مور يُي کهترا وَه نیك زنَ نومیده له یوسف خانَ کنده پاتو وَه یحیی خان په نکاح کړهِ او شریف

خان او جلال خان چه موږ ئي بولاق وَه لوږ د نازو خان وَه چه کشنده د ملك اکوړه په بند کښيوته نوم ئي خانو وَه او محمد خان او شادي خان موږ ئي ام‌الولدَ وَه راڼي نوميده او عبدالله خان او حکيم خان موږ د دوي پير خيله له اولادَ د شاه اسمعيل نغري وَه پير خيله به ئي ورته وي د يحيى خان سوا له ديو زهمنو اته فرزندان نور ووُ په طفوليت مړه شول پس له شهادتَ د يحيى خان شهباز خان قايم مقام په ځاي د پلار شه د شهباز خان څلور زهمن لوي شول يو خان عليين مکان چه تاريخ د خپل ولادت په فارسي په پښتو پخپله ويلي دي تاريخ

"خوشحال ختك در ربيع الثاني آمد چو درين کهنه رباطِ فاني
حق کرد ندا مرورا خير رسان تاريخش گشت خير عالمياني"

دا تاريخ ئي په پښتو دي

"د هجرت زر دوه ويشت سن وه چه زه راغلم په جهان"

بل جميل بيګ چه سکه ورور د خان عليين مکان وه موږ د دوي څلوزئي وَه بل شمشير چه موږ ئي اميره وَه بل ميرباز چه موږ ئي مهمندزئي د نوښهر لوږ د ملك باري وَه پس له شهادتَ د شهباز خان نوبت د سردارئي په خان عليين مکان راغي

ذکر د ختك د مکان چه له کومَ راغلي دي او کوم کوم ځاي سکونت او توطن نيولي دي او تخميناً حساب ئي د کورونو

اول سکونت د ختك په غره د شهال وه چه وطن د وزيرُ دي له هغه نه ئي نقل و بنو ته وُکړ له هوني او منګلي سره آستيده هرګاه چه اُلس د هوني او منګلي له عداوتَ د شتيك او کيوي اخراج شه هندوستان ته لاړل ختك د شتيك سره سکونت کاوه واِله د صدرون د ختك په تصرف وَه پس

له هغه په سبب د عداوت په لور د لواغرو د جونو غرو او و تیري او کربوغه او شیشم او چوترو او الاچي او شکر درو لرو راغلل تر نیلاب پور ملك ئي تر خانَ لاندِ کړ شیر خان سوریاخیل او تپه د ببرو و سونیالي ته راغلل پس له یوه مدت آواز د شیرخان ورته را ؤ رسیده چه وسیع ملك ئي په لاس کښیوت انوخیلو هم پسي کوچ ؤ کړ چنجو هم د کربوغي کوچ ؤ کړ په شیخ تنګي واړول رفته رفته انوخیل دلته راغلل نقل دئ چه کوهاټ تر ریسي پورِ دا ملك د ورکزیو وه بنګښ پرِ دپاسه راغي د ورکزي سرِه ئي جنګونه ؤ کړه د ختك هم د ورکزیو سرِه آزرده ګي وَه رفاقت ئي د بنګښ ؤ کړ تر کوهاټ پورِ له دا ملكَ ورکزي پاخاوه بنګښ ؤ نیوه ریسي پټیاله زیرِه تر توره چیرِه بورِه چیرِه پورِ دا ملك ختك ؤ نیوه پټیه خیل په کربوغه میشت وه دِ کربوغي نه ملك اکو دِ عزیزانو نه آزرده شه و خوړي ته راغي په خورو باندِ ماندوري میشته ړوُ ملك اکو میشته په کوازِ دره ؤ کړه بیا ملك جاني چه په هغه وخت سردار د پټیه خیلو وه عزیزانو پرِ عرض ؤ کړ چه ملك اکو دِ په ناحق آزرده کړ بویه چه پخلا ئي کړي را ئي ولي دي پسي راغي ملك اکو ور سرِه نه ته د ملك جاني هم دا ملك خوښ شه چه بیارته ؤ رغي درسمند عالم به هم په دوي باندِ زور زیاتي کاوه فکر ئي ؤ کړ چه که زه دا اُلس له دي ځایه بیایم وطن خوړ دي ځوك به را سرِه لاړ نه شي د بنګښ سرِه یوه بدي ؤ کړم چه دا عالم واړو را سرِه خانه کوچ روان شي د درسمندُ په ښکار ښه ښه عالم را وتلي ووُ په طریق معهود د دوي و کلي ته راغلل واړه ئي قتل کړه نور ئي له هغه ځایه کوچ ؤ کړ په شکر دره ئي واړول دماغ آوان پرِ خبر شول ملاحظه ئي ځني ؤ کړه چه د مورِ ملك به ؤ نسي تاخت ئي پرِ ؤ کړ طرفین سرِه جنګ ؤ کړ دیرِ ؤ مړل له هغه ځایه کوچ ؤ کړ کوچ په کوچ خوړي ته راغلل بیا ئي په سونیاله قرار ؤ نیو

ذکر د ملك اکوړي او د ده د اولاد چه د تمام خټک خاني او سرداري پخپل خپل وار کړي ده

ملك اکوړي ولد درویش محمد چه چنجو ئي بولي وائي چه په توره ډیر مړني بهادر وه او سخي نهایت وه چه که صبا به ئي وو بیګاه ئي نه وو که بیګاه ئي څه موجود شوي صبا به ئي نه وو هر څه به ئي چه په لاس راغله صرف ئي د یارانو د فقیرانو وو بیت

"چه کښل کا توره سپینه دنیا لوټي بازینه
تیمرغند که نه شي د عنبرغند به شینه"

نقل دي چه له کربوغي راغي و سونیالي وته یوه جماعه به ور سره وه همیشه به ئي تاخت باخت کاوه په هغه آوان دور د اکبر بادشاه او د مرزا حکیم د اکبر نا سکه ورور وه میرزا اکبر په هندوستان کښي وه د کابل صوبه ئي په میرزا حکیم سپارلي وه شه بیک چه د میرزا حکیم نوکر وه د میرزا حکیم له لوریه په پیښاور کښي وه چه میرزا حکیم مړ شه کابل اکبر و نیوه هغه شه بیک خان کور شه بیا خان دوران د کابل صوبه‌دار شه وائي چه د اکبر بادشاه په وخت د هندوانو د جوګیانو ډیر قدر وه ملك اکوړي په سبب د غیرت مسلماني ډیر جوګیان وژلي وو چه اکبر بادشاه ته راغي دا خبره مشهوره وه اکبر بادشاه څني پښتنه و کړه چه څو جوګیان د وژلي دي ده په عرض و رسول چه نور مي شمارلي نه دي یوه موندره د غوږ چه مي ئي په مټ کښي ساتلِ ده لوي مټ څني ډك شوي دي ارشاد مي به د کلیمې ور ته و کړ که به مسلمان شه امان مي به ور کړ کنه مړ مي به کړ نقل دي چه د شه بیک خان کور ورور ئي د لاسه مړ شه په هغه آوان د اُلس زور نه وه دي ئي تنګ کړ چه دا هسي زورآور سړي د تا له لاسه مړ شه ته ور

دروسه له سوري ؤ وزه دي روان شه چاچو په پيښاور کښي وؤ شه بيګ خان کور ته حاضر شه ور ته ئې ؤ وي چه دا تقصير د ما له لاسه شوي دي اوس زه کفن او چاړه در لره راغلم شه بيګ خان سروپاي او څه نقد هم ور کړه رخصت ئې کړ ور ته ئې ؤ ويل چه دا هسي دستګير به زه مړ ولي کړم ته ور څه په خپل قام کښي کښينه زه به په لښکر درشم جنګ به سره ؤ کړؤ هرچه مي له لاسه ؤ شول څما د ورور خون بها ده ملك اکو چه و قام ته راغي قوم ئې هم ور سره ملا ؤ تړله سنګر ئې د لښکر په سيله ؤ کړ وائې چه دوه جنګه ئې عظيم ؤ کړه طرفين سره ډير ؤ مړل اما اُلس ئې له ځايه بي ځايه نه کړ شه بيګ خان په بيارته ؤ جارووت پښوا تر راتلو د دي اُلس ماندوزي او ډنګرزي په دا ملك ميشته وؤ هرګاه چه اکبر بادشاه په تعاقب د مرزا حکيم راغي هاله لا قلعه د اټک بنارس بنا شوي نه وه و نيلاب ته راغي ډيره په خصمانه د لاري زمين‌داران طلب کړه عبدالرحمن خورم ميرخيل او بعضي ډنګرزيو نوم د ملك اکو ور ته ياد کړ چه ده خپل ځان نامدار کړي دي حسب الحکم د اکبر بادشاه ملك اکو ور ته راغي ملازمت ئې د اکبر بادشاه ؤ کړ دا ملك ور ته مرحمت شه له خيرآباده تر نوښهره نور ئې ځاي په ځاي خپل عالم قايم کړ منصب ئې و ده ور کړ ملك اکو مرد دانا وه منصب ئې قبول نه کړ په عرض ئې ؤ رسول چه که منصب زه يواځي واخلم دا نور قوم به را سره حسد ؤ کا خدمت به ستا سر به راه نه شي بادشاه دِ ګوشي په دا لار مقرر کا چه اُلس به په لالچ د حصه او د رسد د ګوشي خدمت د بادشاه په اعتقاد خاص ادا کا بادشاه د ده التماس قبول کړ فرمان ئې د ګوشي ور کړ راغي و خپل قام ته ئې حقيقت بيان کړ واړو ملا ور سره په دولت خواهي د بادشاه ؤ تړله اوس اُلس د خټک تر بلړه چه سرحد د يوسفزيو دي او تر لکي چه سرحد د عيسي خيل دي توطن لري تمام دا ملك به په طول د اوو ورځو لار لري چه په غاړه د آب‌سند واقع دي هره

هرهٔ تپه خپل خپل حد لري حد د انوخیل دي له خیراباد تر غاښي د جانګر چه سرحد د آفریدیو دي او حد د بولاقو له مکهډ تر طري او حد د ختکو د چوتري چه میرخیل دي له ډینګوته تر تلَ د دوربنو

ذکر د ختک د اُلس چه د نورو اُلسونو سره ئي بدي کړي ده

د انوخیلو د بنګښ د درسمند سره خصومت شوي دي ډیر قتال او جدال ئي یو د بله کړي دي د لوهانیو د عیسي خیلو د سارنګو د موسیانو د میري‌خیلُ د نصرتیو سره کرات مرات سخت جنګونه شوي دي دوه ځله لوهاني په چوترهٔ راغلل یو ځله خلیفه ماشي‌خیل چه ښه کدخداي وه لوهانیو مړ کړ بیا میرنخیلُ او نصرتیو په سارنګُ او موسیانو غلبه وُکړه له لکي نه ئي جلا وطن کړه و خشاب ته لاړل له وزیرو سره عداوت د میرنخیلو شوي دي بیا تریو او بولاقو په ملك د اوان د سون سکسیر او کهته تر سرحد د بهري او د خوشاب لاس د غلبي او د تسلط بیاموند دا ملك ئي خراب او اوجاړ کړ ډیر اوان ئي نر ښځي بندي کړي کم و بیش ځلویښت زره اوان نر ښځي په بند شوي وُ په ضبط په ربط د خان علیین مکان تریو بولاقو دست درازي پري ښوه هغه ملك د جبار قلي کهکر شه میر خان زوي د جبار قلي په اغوا د سنبلو بنګي خیل وُ بلل چه رفاقت څمونږ وُ کړئ، چه د بلوڅو سره جنګ وُ کړوُ اما خپل قول ئي مات کړ کم و بیش صل ځوانان ئي د بنګي‌خیلو مړه کړه بیا ملك اکو مرحوم دوه دري ځله په آفریدیو وُ زغاست بیا عداوت او دښمني د یوسف‌زیو په میراث خان علیین مکان ته پاتو شوه او جنګ دا وه چه یوسف‌زي ئي دِ مصري کوټ جلاوطن کړه مصري کوټ شاید مصري باندهي ته واِئي ښه ښه سرداران د یوسف‌زیو مړه شول یحي خان ملك ماموم کړ هر ګاه چه شهباز خان پښه په رکاب فتح‌ماب کښیښوه خوب او آرام د یوسف‌زیو

ورك شه کرات مرات ئي مندړ مړه که هرڅو پلار منع کاوه دي نه منع کیده د یوسفزیو په بدي کښې د پلار په حیات ئي سخت سخت زخمونه په تن آخستي ووُ آسونه ئي په جنګ کښې ګډ کړي ووُ پس له شهادتَ د یحي خان په وخت د خپلي سرداري له مندړو له اکوزیو نه ئي خراج او باج آخست تمام مندړ ئي په ضرب ذ توري مسخر کړي ووُ په میان د اتمان‌زیو او صدوزیو غلیظ او شدید عداوت وه نور مندړو د سیصدي او کمال‌زیو او امازیو حمایت د اتمان زیو وُ کړ لښکر ئي په وهل د مرغز جمع کړ اُلس د صدوزیو ملك الو عمرخیل زوي د ملك بلو چه یګانه آشنا د شهباز خان وه له ځو نورو کدخدایانو سره په اتفاق ئي راستوه التجا ئي شهباز خان ته راوړه خپل احوال د کم قوتئي او غلبه د غلیم عرض کړه معاونت او استمداد ئي وُ غوښت شهباز خان د ډیره لښکره سره روان شه په مرغز ئي دیره وُ نیوه په ورتلل د شهباز خان اتمان‌زیو مندړو برهم وُ خوړ تفرقه شه کلي ئي د اتمان زیو وُ سول کم و بیش یوه میاشت هور ته وه کار ئي د صدوزیو محکم کړ بهاکو خان ئي خان او سردار د دوي کړ صدوزیو ته ئي هسي نصیحت چه په کار د اُلس راځي وُ کړ دوي ښه پیښکښې د شهباز خان تر نظر تیره کړه نور را روان شه کور ته راغي هرګاه چه بهاکو خان استقلال پیدا کړ خاني ئي جاري شوه په سبب د خپلي کوته اندیشئي احسان ئي د شهباز خان فراموش کړ شیخ نظامي فرمائي

بیت

" دوستئ از دشمن طبعي مه جوي آب حیات از دم افعي مه جوي "

دوه دري ځله ئي تمام مندړ جمع کړ د سیند غاړي ته راغي کلي د بولاقو خراب کړه یو ځله شهباز خان په لږ جمعیت تر سیندَ ور پوړ ووت په جهانګیره ئي ډیر جنګ وُ کړ د ختکو سورو سواره د یوسفزیو مات کړه دوه دري تیرَ پرتابَ ئي ماتي یووړه ښه سرداران ئي ملك چندن و غیره پریستل مړه ئي کړه کیجم دار آسونه په لاس راغلل لیکن پیاده ووُ د یوسفزیو

په پیادهوؤ د خټک زور ؤ کړ را هسک ئي کړه په سیند ئي ویشتل نونس شل
کسه خټک په میدان د جنګ ؤ مړه څلوېښت پنځوس کسه په سیند ډوب
شول شهباز خان چه احوال په دا منوال ؤ لید له صفهٔ د غلیم مطابق د
سنت سید المرسلین مردانو غندي ځان له ورطي د هلاکت ؤ یوست په
جنګ جنګ په ګدر د پیرسباك راغي یوه زبونه بیړۍ ؤ لاړه وَه په هغه
کښي کښیناست د قبیلي سره پوري شه اما بیړۍ په ډوبېدو وَه په هزار
مشقت ترِ پوري شوه همه مسلح ځوانان آسونه برکستانونه سره په کښي
وؤ امید د خلاصۍ نه وه حق تعالي هغه کښتۍ را پوري کړه خان علیین مکان
هم په دا بیړۍ کښي د پلاره سره وه لا جنګونه ئي لیدلي نه وؤ ږیره ئي په
مخ نه وَه پس له دي واقعي په دوه دري میاشتي لښکر ئي د اُلس طیار کړ
د مایتري په کلي د بهاکوخان ؤ رغي هغه کلي ئي ؤ واهه را ؤ جاروت بهاکو
خان پسي تعاقب ؤ کړ شکست ئي بیاموندہ ډیر عالم څني مړ شه د کچو په
ترکي څني پس مانده ؤ ختل خلاص شول غانماً سالماً لښکر د شهباز خان کور
ته راغي د هغه اول جنګ چه شکست شوي وه بیا په دا فتحه نقش درست
کښیناست اُلس د مندړ په اطاعت او په مال ګذاري راغي دوه دري ځله بیا بهاکو
خان لښکر جمع کړ تلاش تردد ئي ؤ کړ اما هیڅ کار څني ؤ نه شه په سن د زر
پنځوس د هجرت شهباز خان دِ لړه جمعیتهٔ سره په اکازیو چه تپه د کمال زیو
ده په مال ګذاري کښي سستي کړه سور شه حکم ئي په تاخت د مال مویشي ؤ
کړ تر زرو زیات غوا مویشي په لاس راغلي په هغه شپه باران هم ډیر وورېدلي
وه موسم د عین څیلي روژه په خوله وَه غنیم ور پسي راغي جنګ شروع شه
ساقي بیګ چه زوي دِ اوم خان وه آس ئي په غشي ؤ ویشت شه شخ پائي ؤ
کړه له آسهٔ پرووت زمکه خته لاي وَه ساقي بیګ پټ سپاهي وه په خته کښي
پیاده تلي نه شه غلیم غلبه ؤ کړه خان علیین مکان ساقي بیګ ته مټ ؤ
کړ چه وا ئي خلي اما آس ئي پېي شه په دا کښي ساقي بیګ له خان علیین

مکانؐ په ستنه شه په تورو ئې ؤ واهه په دا وخت چه خان علیین مکان نظر و خپل پلار ته ؤ کړدي په شقیقه په غشي ویشتلي شوي وه خپل آس ئې چه ګډ شوي وه او زنګون ئې چه په غشي ویشتلي شوي وه ور ته ښکاره کړ مطلب ئې دا وه چه دا احوال ئې پلار ؤ ویني او جنګ پریږدي روان شي چه بد ځاي ویشتلي شوي دي اما په دا ئې نظر نه وه ور ته ئې ؤ فرمایل چه ته وړاندې شه په بل آس سور شهٔ خان علیین مکان دوه دري تیر پرتاب چه وړاندې لاړ آس ئې پري ووت پیاده روان شه جمیل بیګ ورور ئې دنبال نیولي وه دي هم په لاس په غشي ویشتلي شوي لاس او نیزه ئې دواړه پیلي وه دوه دري تیر پرتاب چه لاړ هم هغه آس چه ساقي بیګ ئې پریستلي وه سورو نیولي را ووست په هغه آس سور شه پلار ته راغي یو بل غشي هم په دا تردد کښي په څنګل ؤ ویشت شه اما جنګ ئې کاوه مال مویشي تر بلې را پوري کړې هاله جنګ منقطع شه میرزاؐ علي حسن‌خیل هم په دا ځله مړ شه له لري ځایه نظر د شهباز خان په مرزا علي وه په عین جنګ کښي خان علیین مکان ته ؤ وي چه میرزا علي ما لیدهٔ چه ؤ مړ هرګاه چه جنګ ؤ شلیده طاقت د سواري ور ته پاتو نه شه له آسؐ کوز شه بند ئې د نیزو ور ته ساز کړ پیادوو واخست نماز خفتن کور ته راغلل په دا جنګ کښي هیڅ یو سور د مورې بي زخمؐ کور ته را نه غي هر څوك په علاج د خپل زخم مشغول شه توبري چه د خان علیین مکان د پښې په آدوکي کښي ښخ وه دوه دري تنو په انبورؤ نیو په زوربه ئې ؤ کیښ پس له دوو ورځو ئې خان علیین مکان را واخست پلار ته ئې راوړ دوه دري پرهارونه ئې نور هم وؤ عرض ئې ؤ کړ چه کوم پرهار مه درد ډیر کا ؤ ئې فرمایل چه پرهار د سر خان علیین مکان ؤ پوهیده چه دا زخم مشکل دي پس له پنځو ورځو چه په آخر د رمضان زخمي شوي وه په پنځ شنبي د شوال له دار فنا و دار بقا ته کوچ ؤ کړ دا تاریخ ئې د شهادت خان علیین مکان په فارسي په پښتو ویلي دي،

تاریخ

"روز آدینه آخر رمضان خان ما رخش طرف میدان راند
کشت فیروز بر غلیم لئیم لیك زخمي ز تیر بر رو ماند
روز پنج شنبه اول شوال ایزد او را به سوي خلد به خواند
کشت سال شهادتش ز خرد که به خمسین و الف اسپ جهاند"

دا تاریخ په پښتو دي تاریخ

"سن د هجر زر پنځوس وه چه شهید شه شهباز خان"

له زخم سره گزن هم وُ واهه دي ډیر په زړه زړه‌ور وه پروا ئې د زخم نه وه د یك شنبي په ورځ ئې اودس وُکړ سر ئې برهنه کړ مسح ئې وُ کړه باد وُ واهه دوه ورځي ژبه له کفتاره بنده شوه وصیت ئې وُ نه فرمایه څلور فرزندان د ده پاتو شول یو خان علیین مکان چه مشر وه بل فقیر جمیل بیگ دریم شمشیر څلورم میر باز هرگاه چه خان علیین مکان په سن و سال له نورو مشروه په سردارئ د ایل د الس نامزد شه بهادرخان چه ئې مشر تره وه هم په دا کار متفق وه تربرونه ئې هم په خدمت سرگرم وُ فیروزخان او جلال خان او عبد الله خان په هندوستان وُ له دي واقعي په لاري چه کور ته راتلل خبر شول په ډیر تلوار وطن ته را وُ رسیدل پس له څلویښتو ورځو پښه د خان علیین مکان له زخمه ښه شوه او پس له دوه دري ورځو ښکار ته روان شه حضرت شیخ بزرگوار شیخ رحمکار ته وُ رغي دعا ئې تري وُ غوښته لښکر ئې په بهانه د ښکار جمع کړ په رڼا ورځ ئې په انتقام د غلیم په کلي د اکاخیلو سواري وُ کړه څو ور ته بهادر خان راضي نه وه چه دا رنگ په رونړه سواري هیڅا کړي نه ده اما وُ رغي اور ئې په کلي پوري کړ حکم ئې کړي وه چه سپي سړي هرچه په مخه درځي په قتل ئې رسوئ هرچه په مخه ور تلل دواب چار پاي نر ښځي هلکان په هیڅ صرفه وُ نه کړه مړه ئې کړل د وینو رود ئې د دوي په غولیو کښي روان کړویني د سپیو د سړیو گډي

ودي بهيدي دوه دري كلي نور چه متصلٌ د هغه كلي ووُ سواره وُ رغلل هغه ئي هم وُ سول نماز ديگر را وُ جاروت كمال‌زيو امازيو سيصدي لوكي وُ ليد شپږ اووه زره خلق ور پسي وُ ووت دوه كروهه ور پسي راغلل هغه ځاي چه شهباز خان زخمي شوي وه وُ دريده جنگ ئي شروع كړ دوي مات شول ځو تنه نور هم ترِ مړه شول نور را وُ جاروت تر بلږ پوري ور پسي لږ لږ راتلل نيژدي ور تلي نه شول چه تر بلږ را پوري شه په ځاي وُ دريدل نماښام نيژدي شه په دا تردد كښي يو بسي مطرب په توپك زخمي شه كور ته راغي مړ شه دا رنگ لويه فتح حق تعالي رايگانَ د خان عليين مكان نصيب كړه په دا ميان كښي فرمان د سرداري له حضوره د بادشاه په نامه د خان عليين مكان صادر شه او منصب د پلار ور ته مرحمت شه نور مهم د جگتا پيښ شه مذكور د جگتا پخوا تير شوي دي

بهرام چه د توتكيه را وُ جاروت په كاروي واروِل خان عليين مكان لره ئي د عابد خان سره معركه ور ستوله چه په تا مه اعتبار نه شي اوس را پاخه سراي لوري ته مكان خوښ كړه هغه ځاي اوسه خان عليين مكان په دا راضي نه وه هم په دا گفت گوي كښي ډير رد بد عابد خان ته وُ ويل هغه بي مروتَ هم چه څه پرِ ويل شول هيڅ صرفه ئي وُ نه كړه حق ئي د پدري د پسري هيڅ وُ نه ساته وُ ئي ښاره نيا بهرام معركه د اُلس ور ستوله د اُلس د معركه سره لاچار خان عليين مكان د سرور ميلي ته راغي بهرام هم چه سراي ته راغي دا جماعه چه له سرايه تښي وَه په ميان عيسي كښي ناست ووُ خبر شه د شپي ئي تاخت پرِ وُ كړ يوه نيمه گړئي د شپي باقي وَه چه پرِ وُ خوت بعضي وُ نيول بعضي ترِ وُ تښتل تښي تر يوسف‌زيو پورِ په تصديع لاړل خفت او بي عزتي نيوليو وته ډيره وُ شوه اما هغه گادي او بادي په لاس كښي نه وتل يو په لنكركوټ وه يو وُ غرزيده خلاص شه نور بهرام راغي و سراي

ته عابد خان هم لکه خوي د ده جبلي وه ما ته به ئي هم خطونه راستول
د خان سره ئي هم کړ د بهرام سره ئي هم کړ بهرام د ده په کرتوت خبر شه
را وُ ئي باله په حویلي کښي ئي ننیوست توپچیانو ته ئي حکم وُ کړ چه په
توپکو ئي ولي چه توپک ئي ور ته کښېښول دي په کوټه ننووت کوټه ئي پر
دپاسه لوریه سروي کړه په لوټو په کانیو ئي ډیر وُ ویشت نور ئي په قید کړ بیا
ئي حسن خیل ضامن شول خلاص ئي کړ وُ تښ چوتري ته لاړ نور بهرام
مکرم زوي په خان علیین مکان باندِ تعین کړ چه زولاني یوسه خان علیین مکان
قید کړه خان علیین مکان هم دا فوج وُ لید چه راغي یو کوهر خان نصرت
خان ور سره ووُ نور ئي توپک واخستل د غره و اړخي ته شول ږغ ئي پر وُ کړ
چه هرڅوک چه مردان یاستئي توري ته رایشئي د خان ادب په هر چا غالب
وه اګرچه که هغه بد بخت دا ویلي هم وه د چا دِ لاس نه کیده د چینیو
کدخدایان تر مینځ شول خان ئي د حصار تنګ و مېني ته بوت د بهرام
زوي بیا دِ فوج سره پلار ته راغي پلار ډیر غصه پر وُ کړه چه ولي مه هسي
پرِیښ بیا ئي د لښکره سره پرِ ور ستاوه خان ګوهر خان هم د ما په لورِ رخصت
کړي وه زه په هغه آوان د افریدیو په پوري کښي وم دي تنها ناست وه
لښکر پرِ وُ رغي عالم به په حکم د بهرام له دي نه وُ رغي هور ته چه به ئي
خان وُ لیده زړه ئي کړي نه شه چه لاس ئي د بدئي اورد کړي به وه توره وُ
کښلي وَه ناست وِه یو نیم حیض حرام زاده چه مفسد وه وخت ئي موندلي
وه رد بدل به ئي وِ نور ځاي په ځاي لښکر ور ته ډیره شه چوکي ور ته ناستي
وِ چه که دي غافل شي نور به ئي نیسوُ خان علیین مکان باندِ وخت وه د
پیري په درِکم اتیا کالَ عمر د ده چه وخت به ئي د نمانځه شه د دِ لښکر
عالمو ته ئي ږغ وُ کړ چه اي نا اهلانو هونبره فرصت خو را کانږئي چه زه
اودس نمونځ وُ کړم غرض چه نهایت تنګي ور پیښه شوه سبحان الله په دا
دنیا کښي دا هسي کارونه هم کیږي هغه یزید چه په امام حسین کړه د دنیا

مقصود و ته به ئې هم څه پهٔ نظر کښې ووُ دا هسې پلار چه په ځواني کښې کرسي حکومت فرزندانٔ ته پرِيښې پهٔ ځان ئې نه کاوه هونبرهٔ شفقت او مهرباني او تربيت ئې دِ فرزندانو د هريک کاوه په دا وخت پيرانه سالي کښې د هغو خپلو عالمو د لاسه چه دي به پرِ ناست نازيده څه چارِ پرِ وُ شوِ دا څو بيته چه خان عليين مکان دِ زماني د شکايت و يلي دي وُ کښل شول

ابيات

د هغه د خويه بويه په زړهٔ خوړين شوم | د هرچا سرهٔ چه يو نفس قرين شوم
د عالم سرهٔ زيست کړم په ډير ډير غم کښې | زړهٔ مي خوړِ په هيڅا نه شه په عالم کښې
چه ئې خپل مقصود پورهٔ شه نور ويزار شه | چه د سود له مخه څوک را سرهٔ يار شه
په قفا در سرهٔ خير په صل جفا وي | چه ئې مخ په مخ له تا سرهٔ وفا وي
تـل لـهٔ تا سرهٔ په رخهٔ په حسد شي | چه ئې ښه کښي هغه دِ سرهٔ بد شي
هـمـکي وارهٔ لـړم دي يا ماران دي | هرچه تاِ سرهٔ ياري کا نه ياران دي
لـونـه کل وارهٔ ژوري د ماما دي | زوي وارهٔ رنج دل د خپل بابا دي
د خپل ځان دي د خپل سود دي د خپل کور دي | که دِ يار دي که دِ خويښ دي که دِ ورور دي
د هرچا خاطر خپل سود و ته پرِ کيږي | تش د خولي لباس مباس دي سرهٔ کيږي
د محنت ساعت چه راشي ويزاري کا | د راحت په وخت سل لافِ د يارئي کا
چه په بند شه همکي ووُ ځني تللي | شاه جهان بادشاه څه لږ نه ووُ نمنځلي
په صحرا کښي يکتنها کرزيدي خشي | هي توبه له دي عالم تشي تشي

آخرالامر بيا ئې د چينو معرکه ترميان کړهٔ دوړانو لړهٔ ئې ور وسِت په دا ميان کښې چا نيک خواهانو ور ته عرض وُ کړ چه بهرام امير خان ته کښلي دي چه دي ما دست گير کړي دي څوک راستوه چه ور ئې کړم څو ورځي په دوړانو کښې په طريق د قيد ناست وه يوه شپه ئې فرصت غنيمت وُ شماره په دا پيرانه سالي کښې په هغه شپه چه شل ديرش کروهٔ توتکي مفاصله لري پهِ دا هسې غاښيو په دا هسې غرونو و رسيده زهٔ خبر شوم له بوړيو نه و توتکي

ته راغلم مخي ته وُ مي ليده دل جوئي مي ئي وُ كړه زهٔ بيا بوړيو ته راغلم دي مه په مصلحت و زيړي ته د درش‌خيلو كلي ته رخصت كړ گوهرخان صدرخان يوځو زهمن نور هم چه د ما سره ووُ ور سره لاړل ځو ورځي په دا مقدمه تيرِ شوِ نور زهٔ له بوړيو و يوسف‌زيو ته راغلم دي په هغه ځاي وه بهرام دِ سرايه تاخت پرِ وُ كړ خان عليين مكان ئي په لاس راِ نه غي د افريديو غريب ته وُ لاړ ده رفقا ئي په لاس كښيوتل وُ مړل په دا قسم ئي دوه درِ ځله تاختونه پرِ وُ كړل نور راغي د افريديو په دنبرهِ كښي ئي ځاي وُ نيوه زهٔ چه يوسف‌زيو ته لاړم يحي خان صدرخان عجب خان چه قادرخان او باز شيطاني كړي وَه له بهرام ئي له ځان سره بدراه كړي ووُ يوسف‌زيو ته ئي بيولي ووُ دا دواړه شرمنده ورسرهِ دوي هم را لرهٔ را وستل ما هم نظر د ديو هغو بديو ته وُ نه كړ دلاسا مي كړه مصرع

"كه خوي بدش دُشمني در قفاست"

يحي خان صدرخان عجب خان چه په حادثه كښي بي صبره ووُ را ځني جدا شول دوي دواړهِ ورونه په خپل شامت چه بهرام كشتني كړي ووُ له ملاحظي ئي پرِ ويساه نه كړه را سرهِ پاتو شول درِ مياشتي مي تيرِ شوِ اميرخان خلق ترمينځ كړه وُ ئي بللم هغه كال اميرخان د شنواري مهم در پيش كړي وه چه د مهمندو مهم كاوه ډكه ئي و شنواري ته ور كړي وه لكه پخوا ئي مذكور تير شه په دا سبب مهمند له شنواريو آزرده شوي وه او د امير خان مطلب هم دا وه لكه د پښتنو متل دي يو ځورم بل پخوم د ډكي په وركړه په آخستل ئي دوي يو ځبله جدا كړهِ زور ئي كم شهٔ مغلي فوجونه آفريدي وركزي اُلسونه ئي پرِ تعين كړه جنگونهٔ ئي وُ كړل اما په هر جنگ شنواري ښي وُ كړ د پښتنو اُلسونو هم تهيدل ور سره بدي نه كړه د مغل زر ئي خوړل په طريق د سياهي ور سرهِ ووُ آخر اميرخان وُ پوهيده چه دا كار نه تړ سرهِ كيږي صلح ئي ور دوړاندهِ كړه فتح خان شنواري ور لرهٔ راغي مهم موقوف شه

په سن زر اته نوي زه هم وُ رغلم په جلال آباد کښې مې د امیر خان ملاذمت وُکړ لاړم کابل ته د ما دِ منصب تجویز ئې هم وُکړ بادشاه ته ئې واستاوه څه زر ئې هم و ما په طریق د مدد خرڅ مقرر کړه او هرچه د ما سره څه سواره وو د هغو ئې علوفه وُکړه چه جلال آباد لره راغلو د خان علیین مکان د فوت خبر راغي

فواید الشریعه

دَ آخوند قاسم پاپښخیل

باب یادزهم در بیان افات زبان از غیبت و غیره

په احیاءالعلوم کښي دي راوړي چه غیبت هغه ته وائي چه پس شا په هسي څوي سره څوک یاد شي که هغه شخص پر خبر شي البته زړه به ئي بد شي که یو سړي د بل نقصان کا په بدن یا په صورت یا په نسب یا په کار یا په ویل کښي یا په دین یا په دنیا یا په جامه یا په آستانه یا په دابه کښي په دا هم آزاریده وي هغه شخص دي په غیبت کښي (فایده) په تفسیر دُرر کښي هسي وائي له سرور د غیبت چا سوال وُکا سرور هسي ور ت وه وِ چه غیبت و دي ته وائي چه څوك پسي شا په هسي څوي یاد شي که ئي واوري پر آزار شي که هغه بدي په کښي وي د هغه نامه غیبت دي او که هغه بدي په کښي نه وي د هغه نامه بهتان دي (ف) په قرآن کښي دي راغلي بایده دي مؤمنانُ چه غیبت سره مه کانړئ چه یو ورور د بل ورور غوښ سره خوري مرداري خو ب بد ور ته څرګندیږي هسي غیبت د مسلمان غوښي خواړه دي البته له غیبتونُ پرهیز کانړئ (ف) پیغمبر دي فرمایلي کیته بغض تاس یو څبله مه کانړئ هم غیبت سره مه کانړئ چه بندګان د خداي تعالي دي سره ورونړه په ښه مهر وروري کانړئ (ف) پیغمبر دي فرمایلي چه تر زناه هم غیبت ډیر بد دي له سروره سوال وُ شه چه په څه سبب تر زناه غیبت بد دي حضرت هسي ور ته وه وِ زاني چه له زنا توبه وه کا

هغه توبه قبولَ شینَ غیبت همېره بخښه نه شي څو ښتن ئي د غیبت وه
نه بخښینَ بل دا هسي احتمال دي چه زنا کُندِ په زور وي او غیبت ئي په
خپل رغبت سرهِ کوینَ (ف) روایت دي هسي شوي چه خداي وحي و موسي
نبي ته وه که چه څوك وُ مري توبه گار وي له غیبتَ تر همه خلقُ ورستي
به په جنت کښي داخلېږي او که وُ مري له غیبتَ توبه گار نه وي تر همه
خلقُ وړنبي به په دوغښ کښي داخلېږي (ف) پیغمبر دي فرمایلي چه په
شپه د معراج وه رغلم پر هسي قوم باند چه مخونَ دوي شوکول په نوکونُ له
جبرائیلَ مي سوال د دوي د حال وُ که چه دا څوك دي جبرائیل وِ دوي
هغه دي چه به ئي تل کړل غیبتونَ (ف) حضرت عمر هسي ویلي د خداي
یاد پر ځان لازم کانړئي اي خلقُ چه شفا ده د بل چا له یادولُ د بدئي
بیارته کیږئي چه جفا ده (ف) روایت دي هسي شوي چه غیبت کا په
قیامت به هغه شخص و خداي ته حضروین خپله څیرئي به ئي په لاس
کښي ورکوین هغه شخص به هغه خپله څیرئي گوري خپل عمل به د نیکئي
په کښي نه ویني دي به وائي دا څیرئي د عملونُ څما نه ده چه په کښي
کښلي عملونَ څما نه دي و ده ته به دا هسي ځواب وُ شي دا څیرئي د
عملونُ هغه ستا ده تا غیبت وُ په دنیا کښي د چا کړي ستا عملونَ د هغه
څیرئي له تللي بیا به بل سړي و خپل خداي ته حاضر شي خپله څیرئي به
ور په لاس شي دي هسي نیکي په کښي وبني چه هرګز ئي کړي نه وي دي
به وائي دا څیرئي دَ عملونُ څما نه ده چه له ما دا عملونَ شوي نه دي و ده
و ته به هسي ځواب وُ شي چه دا ستا هغه څیرئي ده ول فلانه سړي چه
ستا غیبت ئي په دنیا کښي وه کړي ستا څیرئي لرهِ راغلي د هغه سړي نیکي ده
(ف) روایت دي هسي شوي چه جابر هسي ویلي موږه له سرورَ سره ووُ د
مردارئي بد بوي موږ لرهِ راغي سرور هسي را ته وه وِ څه پوهېږئي چه دا گنده
بوي د څه دي اصحابُ ور ته وه وِ نه پوهېږو چه دا گنده بوي د څه دي

اصحابُ ور ته وه وِ را ته وايه پاك رسولَ حضرت هسي ور ته وه وِ چه
غيبت كاند د خلقُ دا د هغو د خلي بد بوئي ده (ف) كه څوك وائي څه
حكمت دي چه بد بوئي د غيبتونَ د سرور په وقت كښي ظاهرهِ وَه اوس
څمورِ په زمانه كښي نه ظاهيريږي د دي سوال جواب ئي دا دي چه څمورِ
په زمانه كښي غيبت ډير شه د عالمو پوزي ډكِ شوي دي له بوي پرِ غه بوي
نه پوهيږي لك د بل ځاي څوك سړي وي په مهلت د چميارانو كښ كوزيږي
له بدَ بوئي طعام زغملي نه شي نه ئي آرام و قرار كيږي او هغه چه هلته
اوسي د دوئ پوزي ډكِ شوي وي له بوي طعامونَ په كښ خورين پر غه بوي
نه پوهيږي (ف) هسي زده كړه چه غيبت تنها د خلي په ويل نه دي كه
په غيبت اشارت وه ك يا په كښلو غيبت وُ ښكي هم غيبت دي لكه بي بي
عايشه چه اشارت وه كه په لاس سرهِ هغي عورتيني ته چه كوتهه وه په قد
كښي و بي بي ته سرور وه وِ تا غيبت د هغي وه كا چه په لاس دِ اشارت په
غيبت وه ك (ف) د غيبت رښتيا كول غيبت كول دي لكه سړي دِ چا
غيبت كا بل يو هسي ور ته وائي چه رښتيا دي (ف) كه يو سړي د چا
غيبت كا بل سړي خله پته ناست وي چه ئي آوري كه پر منع ئي قادر وي
منع نه كا دغه آرويده غيبت دي چه رسول خداي دي ويلي آرويدوني د
غيبت صاحب غيبت دي آرويدوني د غيبت به له گناه هله خلاص شي چه
پر ژبه دِ انكار پر هغه وه كا چه پرهيز شي يا خبره دِ ترميان كا چه غيبت
ورځني وران كا يا دِ پاڅي له هغه ځايَ د غيبت له آرويدو دِ ځان امان كا
كه پر دا باند قادر وي وُ ئي نكړ دي به خپسر گناه گارك (ف) كه په خله
دا هسي وائي غيبت مه كړه او په زړه دي په رضا وي آرويدوني له گناه نه
خلاصيږي منافق دي (ف) په تفسير زاهدي كښ په تفسير د سورتِ حجرات
كښ هسي وائي كه سړي وي په گناه سره مشهور وي هيڅ غيبت د هغه هسي سړي
نشته لك سرور دي فرمايلي چه څوك د شرم چادر واچوي له مخه بي حيا

شي په ګناه کښې هيڅ غيبت د هغه نشته دي په دين کښي بل حديث دي له سرورَ هسي شوي چه سرور دي فرمايلي ګناه ګار چه په ګناه سرهٔ مشهور وي غه ګناه ئي يادوئي و عالم ته چه عالم ترِ بيارته کيږي (ف) يو شخص له پاكَ سرورَ سوال وه ك هسي عمل و ما ته وه ښيهٔ سروره چه هغه عمل زهٔ وه کړم له دوزخَ پرِ خلاص شم په جنت کښې داخليږم پاك سرور په دوه ګته خپله ژبه وه نيوله چه که دا ژبه نګاه کړئي له بدئي په نيکي ئي چلوئي جنتونَ له به تاسِ ور وه لين که يله مو کړهٔ پرِ بد ګفتارونَ اي امتَ هم دغه ژبه به تاسِ و دوغښ ته رسوين (ف) په کِفايه شعبي کښي هسي روايت دي له ابي‌بکر هسي شوي چه به ابي‌بکر دا خپله ژبه را وُ کښوه په زورهٔ چه به وينه شوه له زوره بيا دا هسي به ئي وه وِ چه دا ژبه به مورِ په هلاکت کښې آچوين (ف) په شريعة الاسلام کښې هسي وائي چه حضرت ابو بکرِ صديق د سرور يارُ به تيرهٔ کيښوه په خله کښې له خبرو به ئي ځان نګاه کاوه په تکلف کښې (ف) که څوك نيت کا د خبرو بايده دي چه دِ کاند هغه خبرهِ چه په کښې ياد د خداي تعالي وي يا امر معروف نهي منکر وي له خبرو بيهوده بي فايدهوُ دِ پرهيز کا څمورِ سرور به خوله نيوله تر ډيره چه د خبري اراده ب د ده وُ شوه په خبرو ب ئي يو ساعت دمه کړه ده به ښه فکر په کښې وه کړ ده به هله وه ويله چه ثواب به ئي ګنړل چه ثواب به په کښي نه وه ده به خوله پرِ پټوله (ف) بعضي وائي که څوك ژبه ځپله نګاه ك خپل عيبونَ به د ځان وارهِ نګاه کا که هر څو خبرهِ لرِ وي هغه ويونکي دِ سپکه نه ګنړين ډيري خبري چه سري پرِ هلاکيږي هغه شخص به په کښې هيڅ باك نه ګنړين په سبب به د هغي يوي خبري اويا کالَ په دوزخ کښي پاتو شين (ف) په احيا کښي دي راغلي چه مهتر عيسي وه ويلي پ لس قسمَ عبادت دي چه نه قسمَ عبادات ئي خاموشي ده لسم ئي له خلقَ تبښتيده دي (ف) په کفايه شعبي کښې هسي وائي د يوَ حکيم له بلَ سره

دیدن شه هغه یو وبل ته وه وِڅوړِ وه لیده په خلقُ کښ عیبونَ هغه هسيَ ورته وه وِ چه په خلقُ کښي ما وه لیده هزار هزار عیبونَ ول په دوي کښ ما موندلي یو خصلت دي که هغه خصلت نکاه کا کل عیبونَ به ئي پټ شي هغه خصلت د ژبي خاموشي ده چه نګاه ئي کا له خبرو به امان شي ډیر ویل څه لوي آفت دي څو بلا ب په خبرو مسلط وِي (ف) په اسرارالعارفین کښي هسي وائي چه په خلوت عمر ابن خطاب هر جمعه حساب کاوه له خپله نفسَ چه به شپه د جمعي راغله ده به ځان دره وه وهله پخپله و خپل نفس ت به ئي وه وِ چه اي نفسَ تا فلانه فلانه خطا ول کوله (ف) روایت دي هسي شوي چه ربیع ابن حشم چه به صباح شه قلم کاغذ به ئي حاضر کړ چه پخپله به ئي خبري څه ویلِ هغه خبري په هغه ساعت ده وه کښلِ په بیګاه به ئي حساب جګړه له ځان سره کوله د زاهدانُ د صالحانُ عمل دا دي چه په زور په مشقت نګاه باني کاند د ژبي په دنیا کښي ئي له نوسَ سره تل حساب دي (ف) لقمان حکیم ویل زوي ته اي زويَ هر چه مل شي د بدانو سلامت نه پاتِ کیږي د بدئي په ځاي څه کښیني بد تهمت ور ته رغیږي چه ئي ژبه په واك کښي نه وِي په آخر به پښیمانیږي تاسُ واروئي مومنانُ اوس څموږ په زمانه کښي د ژبي آفت ډیر شه چه الفاظ د کفر ډیر تر پیدا کیږي د دي ژبي له خطائي دا ایمان ترِ خطا وِي ول دي پرِ نه پوهیږي بایده دي په هر وقت په هر ساعت کښ چه خپل ایمان تازه کوئي چه دا خپل ایمان له کفره وه ساتئي احتیاط په دین کښ کانږئي همیشه دا خپل نکاح نوي کوئي ښه بیدار شئي په حق دین کښي د زنا له شبي ځان خلاصوئي کند خلاص شئي له دوزخَ وه رسیږئي د جنت و بادشاهئي

باب سیزدهم در بیان حق مرد بر زن

په انیس الواعظین کښي هسي وائي یو ویشت حقَ د ښځښتن دي پر عورته اول حق د ښبښتن دا دي چه صحبت لرهٔ ئي بولي هیڅ بهانه دِ ورته نه ک کهٔ بلنَ ئي د ده قبوله نه کړِه لك مار له پوست وُ وزي هسي دا له عبادت به وه وزین دویم حق د ښبښتن دا دي چه خپل ځان دِ و ښبښتن ته دا په ښه زینت لرین دریم حق د ښبښتن دا دي چه بي اذنَ د ده مال نه خرڅوین چه سرور دي فرمایلي چه ثواب ئي د ښبښتن شي دا ګناه پرِ وه ګمین څلورم حق د ښبښتن دا دي چه بي اذنَ د ښبښتن دِ دا روژهِ نفل نه لرین چه دا بي له لوړي تندي نور به هیڅ نه حصلوین پنځم حق د ښبښتن دا دي چه بي اذنَ د ښبښتن دِ دا له کورَ نه وُ وزین که دا وه وته بي اذنَ فرښتي به پرِ لعنت کا تر هغه پوري چه پ بیارته دا و کور ته راشین شپږم حق د ښبښتن دا دي چه دِ ځان د بیګانه له نظرَ وه ساتین که دا ځان نګاه کوین دا ب خپسر له دوزخَ وه ساتین اوم حق د ښبښتن دا دي چه ښبښتن ئي پرِ غضب شي عورتینه دِ سخت خواب نه ورکوین اتم حق د ښبښتن دا دي چه ښبښتن دِ له سوالَ هم له هسي رنګ کارَ چه به دي په کښي تنګیک کیږي البته منع کوین یو سړي وه چه سرور صاحب له راغي عرض ئي وُکا چه سرورَ ځما نیت وه چه له تا بَ د څه سوال کړم له سوال کولُ منع ارتیني کړم او مولي رزق پر ما فراخ کا پاك سرورِ چه ځما سلام پرِ وایه چه ورنیئي به په جنت کښ داخلیږي هم دیدار به ستا له خدایَ روزي کیږي نم حق د ښبښتن دا دي چه د ښبښتن مال دِ په مهر په دیانت سرهِ وه ساتین په خپل کور کښي ګوښه دِ ناسته کوین و دهلیځ ته دِ دا نژدي نه کښینین پاس پر کوټه دِ دا د پاسه نه خیږین تر دیوالَ له هغه خوا دِ ګاونډي سرهِ خبري نهٔ کوین لسم حق د ښبښتن دا دي چه خدمت دِ د ښبښتن د مېلمانه په ځاي کوین هم

پخپله په اخلاص دِ دا طعام تیارروین له یارانُ محبانُ د ښځښتن دِ مروت محبت کا ښه خدمت ئې دِ کوین یو لسم حق د ښځښتن دا دي شفقت مینه دِ دا له فرزندانُ د ښځښتن نه دریغ کوین دو لسم حق د ښځښتن دا دي که ښځښتن د دي بد رنګ وي په ښایست دِ په ښځښتن کبر دماغ دا نه کوین دا دِ سپک دي په خپل نظر کښې نه راوړین دیارلسم حق د ښځښتن دا دي چه خدمت دِ دا د خپل ښځښتن ښه کوین یو سړي وه چه رسول خدای پوښتنَ څني وه کړه چه عورتینه در سره څه که هغه سړي هسي ور ته وِ چه لك وینځه خدمت کاره دا څما هسي خدمت کوین سرور هسي ور ته وه وِ دغه ښځه جنتي ده نزدیکت به په جنت کښې دا له خدای حصلوین څوارلسم حق د ښځښتن دا دي که ښځښتن ئې خوار فقیر وي دا دِ سپک وُ نه ګنړین که ئې سپک شي په نظر کښې په لعنت به دا د خدای ګرفتاره شین پنځه لسم حق ښځښتن دا دي که ښځښتن؛د دِ رنځور شي دا دِ خپل خدمت له ده نه دریغوین همبره حق ئې د خدمت دي له یوه لوریه د پوزيْ که د ده وینې بهیږيْ له بل لوریه زوي عورتینه که هغه په ژبه وه څټین لك خوي د خدمت دي هغه پر څاي کوین (ف) رسول خدای هسي ویلي عورتینه چه اوه ورځ د ښځښتن خدمت کوین له دوزخَ به اوه واره اندامَ د ده خدای نګاه کوین له اوه واره دوزخَ به خلاصیږي هم ثواب د عبادت د اویا کاله بیامومین شپاړسم حق د ښځښتن دا دي چه خپل فرش دِ له ښځښتنَ نه جدا کوین اوه لسم حق د ښځښتن دا دي که ښځښتن د ده له کسبَ کړه عاجز وي څرخه دِ دا وه ریشي کسب دِ کاند نفقه دِ و ښځښتن ته رسوین (ف) رسول خدای دي فرمایلي یو درهم چه عورتینه په ښځښتن باند نفقه کا اویا غرونَ* به د زرو ثوابونَ ور کوین اتلسم حق د ښځښتن دا دي چه مدد په طاعت کښې له ښځښتنَ سره کوین و عبادت ته دِ ښځښتن له خوبَ بیداروین په طاعت کښې دي څان شریکوین نو لسم حق د ښځښتن دا دي چه خدمت دِ د خپل کور

هم د ښځلي خصمانه زیرمه ډِ په ښه مهر کوین په خپل لاس ډِ دا کوږ جاړو
کوین عورتینه لرِ سنت دي چه په اوره کول ډِ.له وینځو سرِه دما مدد کوین
شلم حق د څښتن دا دي که څښتن ئي کوږ نه وِي پرهیزګارَ پاك دامنَ ډِ دا
خپل ځان ښه وه ساتین په تماشا په بي شرمئي ډِ دا ساعت نه تیروین
بیګانه سرِي ډِ کور ته نه پریږدین هم په اول وقت کښي ډِ نمونځ ادا کوین د
خداي په یاد کښي ډِ همیشه مشغولوین یو ویشتم حق د څښتن دا دي چه
ډِ دا د ده دپارهِ د نیکئي د برکت دعا کوین د ده دپاره ډِ توفیق د عبادت له
خپله خدايَ وُ غواړین که څښتن د دي وفات شي څلور میاشتي لس ورځي
ډِ په غم ځان خواروین په شیوه په ښایست ځان نه جوړوین ول هسي کار
ډِ نه کا چه له شرعِ غیروین بي څښتنَ چه د بل چا غم پرِ ورشي تر درِ ورځِ
ډِ ځان زیات نه خواروین

باب چهاردهم در بیان حق عورت بر مرد

یو ویشت حقَ د عورتِ دي پر څښتن باند اول حق د ښځي دا دي پر
څښتن باند چه د دي حق ډِ د مهر ورکوین مستحب دي چه ښځه ډِ خپل
مهر و خپل څښتن ته وُ بخښین (ف) رسول خداي دي فرمایلي عورتینه چه
څښتن وته خپل مهر وُ بخښین جنت دي لرِ واجب شي شفاعت به د
سرور دا وه ګټین دویم حق د ښځي دا دي پرِ څښتن باند نفقه ډِ و عورته
ته رسوین له خلیل سرِه به مل شي په جنت کښ هم بلندي مرتبي به په
جنت کښ وه ګټین دریم حق د ښځي دا دي پرِ څښتن باند چه صحبت ډِ
له ده سرِه په څلور ورځِ کښي یو ځله نه ترکوین څلورم حق د ښځَي دا دي
پر څښتن باند چه اسباب ډِ د سر ولوني فراغت ورکوین یوه ښځه وَه سرور
صاحب لرِ راغله عرض ئي وُکه چه څښتن مي د سر ولوني اسباب و ما نه

48013

راکوین چه اسباب ئي زه له خپله کسبه کړم پاك سرور ورته وه و ته لایقه
د جنت ئي هي لایق د دوزخونه چه ستا حق نه درکوین پنځم حق د ښځي
دا دي پر ښبستن باند مستحب دي چه خوشبوئي دِ ورته ورکوین خوشبوئي
چه له دي دروسي سل فرښتي به ثوابونه د ده و کښي چه له خپله کسب
ښځه خوشبوئي کا دا ثواب به هم ده لره ورکوین شپږم حق د ښځي دا دي پرِ
ښبستن باند چه دِ وینځه یا مریي یا مزدور د دِ خدمت وته سپارین اووم حق د
ښځي دا دي پر ښبستن باند د صحبت ځاي دِ د دي جدا کوین اتم حق د ښځي
دا دي پر ښبستن باندِ چه پرده باند دي فرض چه ایمان اودس لمونځ روژه
د شریعت واړه حکمونه دِ و ښځي ته ښیین او که دي پرِ نه پوهیږي له عالم
دِ دي زده کا چه و دِ ته ئي ښیین نهم حق د ښځي دا دي چه ښبستن دِ ورته
علم وُ ښیین په نرمي دِ له اوله ورته وائي پرِ لته دِ هنمبره نه وهین ك عمل
ئي پرِ وُ نه کا په سختي دِ ورته وائي که په دا هم عمل نه کا دي دِ دا په لته
وُ وهین ك په دا هم عمل نه کا طلاق دِ ورکوین (ف) یو ښځي وه پرِ سرور ئي
عرض وه که چه عورته مي پند نه آخلي حضرت هسي ورته وه وِ چه ته قهر
ورته وُکړه ده وِ قهرمي دي کړي بیا حضرت وِ ته ئي وُ وهه په لته ده ویل ما
وهلي ده په لتُ بیا حضرت ورته ویل چه طلاق ورکړه ده وِ اوس مي کړه
طلاقه بیا سرور وِ خداي تعالي به بله ښځه دینداره هم مالداره خوب صورته
درکوین یوه میاشت لا تیره نه وه چه دعا ئي شوه قبوله لسم حق د ښځي دا دي
چه ښبستن دِ محبت مهر نرمي پر دي کوین چه سرور په نرمي په محبت
سره بي‌بي عایشه ته دا رنګ ویل چه یا روحي یا ریحاني یا محبوبي رسول
خداي هسي ویل چه له کوره سره د مهر د نرمۍ خبري کاند په قیامت به
خداي تعالي و ده ته اندوه نه ورکوین یو لسم حق د ښځي دا دي که د ده
توان وي د سرو زرو د سپینو زرو د مرغلرو د ریښمینو دي دِ دي له ورکوین
(ف) یو سړي وه چه سوال ئي و سرور صاحب ته وُك چه مي ښځي له ور

کړي د سرو د سپینو زرو حلیه ده سرور هسي ور ته وه وِ چه دغهٔ ستا خزانه ده او د ښځي دِ ښیوه ده دولسم حق د ښځي دا دي پر څښتن باندي چه خپل کور ته دِ خبری د هغه عورتینَ نه ك چه سره زره انعام ئي ډیر د پلار له کوره وي موندلي چه تر ده پوري به دا سرکوزِ شین دیارلسم حق د ښځي دا دي ك دوه ښځي وي د ده یوه غني بله فقیره په هر حق کښي دِ دي دواړه سموین د فقیري سپکاوي دِ دي په فقر نه کوین څوارلسم حق د ښځي دا دي پر څښتن باند چه له ورونړو له مورَ و پلارَ د خپلي ښځي دِ دي ښه اخلاص کوین پنځهلسم حق د ښځي دا دي چه ښکنځل دِ ور ته نه کا چه لعنت ب فرښتي پرِده وائین شپاړسم حق د ښځي دا دي پر څښتن باند په حضور د خپلي ښځي دِ دي لاس و خپلي وینځي نه ور وړین اوهلسم حق د ښځي دا دي که له کوره ئي دا بي اذنَ څه واخلي هسي قهر دِ ور ته نه کا چه ګاونډي به ئي واروین اتلسم حق د ښځي دا دي پر څښتن باند له سفرَ چه راځي دي دِ کور ته څه ژاورین اګرچه نور څه نه وي تیزه دِ راوړین نولسم حق د ښځي دا دي پر څښتن باند چه دي دِ و دِ ته پند د عبادت د خدای دپاره ډیر کوین شلم حق د ښځي دا دي که دا وُ مري دي دِ د دي د فرزندانُ آشنایانُ ښه حرمت په ځاي لرین یوویشتم حق د ښځي دا دي چه دي دِ د دي دپاره د نیکئي دعا کوین

باب سي و هشتم در بیان فضیلت جماعت

په حجت الاسلام کښ دي راوړي چه په حدیث کښي دي راغلي په جماعت نمونځنه کانړئي جماعت مه ترکوئي چه یو نمونځ په جماعت کول افضل دي تر هزار رکعتَ چه تنها وي (ف) په روضة العلماء کښ دي راوړي چه سرور دي فرمایلي ما سوال له جبرئیلَ هسي وُ ك را تَ وُ وایه اي ورور چه څما د امت ثواب څو دي د امام په جماعت کښ جبرئیل هسي

جواب وُ ك دوه سرِي چه جماعت د نمانځه وُ كا د سل نمونځونُ ثواب به خداي وركوين چه درِ سرِي جماعت وُ كا د تير سو نمونځونُ ثواب به خداي وركوين چه څلور سرِي جماعت وُ ك د شپږ سو نمونځونُ به ثواب خداي وركوين چه پنځه سرِي جماعت وُ كه د دوو زرو نمونځونُ به ثواب خداي وركوين چه شپږ سرِي جماعت وُ كه د څلورو زرو نمونځونُ ثواب به خداي وركوين چه اوه سرِي جماعت وُ كه د ديرشو زرو نمونځونُ ثواب به خداي وركوين چه اته سرِي جماعت وُ ك د شپيتو زرو نمونځونُ به ثواب خداي وركوين چه نه سرِي جماعت وُ ك د نوي زرو نمونځونُ به ثواب خداي وركوين چه لس سرِي جماعت وُ ك دا دريابونَ كه همه سره سياهي شي او دا ونِ قلمونَ او سرِي پيري ملايك وارِه كاتبان شي او دا زمكه آسمانونَ او د ونُ پاڼرِي ورقونَ شي وارِه كاغذونَ د يوه ركعت ثواب وُ كښو نه شي چه ثواب ئي شي بيَ شماره د نوشتن قدرت ئي نه شي (ف) په روضة‌العلما كښِ هسي وائي ترجمه هم له امامَ سره ورښي تكبير بهتر دي له امامَ سره يو ركعت بهتر دي تر هزار ديناره چه په فقرا ئي صدقه ك له امامَ سره يوه سجده بهتره دَه تر بنده ازادولُ هم به قبر د ده باغ شي د جنت له ښو باغونُ دروازي به د جنت شي ور ته بيارته كور به هنمبره پرِ فراخ شي چه به ويني جنتونَ شپيته ملايكِ ب د هغه پر قبر هره ورځ حضريږي هميشه به د ده دپاره استغفار كا هوسيږي په جماعت چه څوك مَين وي له دنيا ب هنمبرِه نه ځي څو وُ نه ځښي د جنت له خوارِه جوي نعمتونَ او وُ نه خوري د جنت خورِه ميوه ښه لذتونَ (ف) جماعت سنت مؤكده دي څموږ حضرت دي فرمايلي جماعت كول سنت د راه راست دي مسلمان به ئي په قصد نه تركوين مكر هغه چه منافق وي چه سنت مؤكده ترك كول په قصد بدعت دي نه ښائين (ف) په مفتاح الجنان كښ د مسجد په فضيلت كښ دي راوري خواجه امام زاهدي له سروره نقل كړي تر وقت پخوا چه څوك

مسجد لره ور درومي د پنځو ویشت زرو نمونځونُ ثواب به مومي په وقت
د بانگ نماز چه به مسجد لره ور دروميي د پنځو زرو نمونځونُ ثواب مومي
په وقت د تکبیر چه ځوك مسجد لره ور درومي د یوه نمانځه ثواب به
مومي (ف) مقتدي چه تر امامَ پخوا سر کښته پورته وړین گناه گار شي
هیڅ ثواب به ئي نه وین (ف) په تفسیر منیري کښ دي راوړي هره ورځ د
پاك الله ارادهٔ وُ شي چه عذاب به په دنیا نازلوم که دا څلور طایفي نه
وي اول هغه سړي چه په محبت سره د خداي دپاره کار کاند محبان وي
دویمه طایفه د عاشقانُ چه په وقت د سحرگاه آه فریاد ئي وي و خپل خداي
ته دریم هغه سړي چه دوي بنا د مسجدونُ خاص د خداي دپاره کاند
صادقان وي څلورم هغه سړي چه دوي خاصه د خداي دپاره خیرات کاند
دوي امید له چا نه کاند بي له خدايَ (ف) سفیان ثوري هسي ویلي چه د
سرور له صحابهوُ به جماعت چرِ قضا شه اووه ورځ به عالم عذرخواهي ور
ته کوله تکبیر اولي چه به قضا شه درِ ورځ به عالم عذر خواهي ور ته کوله
(ف) په ورځ د قیامت به د څلورو طبفُ عذر و مولي ته قبول نه وي اول
هغه چه اذان واروي جماعت له نه وردرومي دویم هغه سړي چه ئي د حج
توښه موجوده وي حاضره ول حج لره دي نه ځي دریم هغه سړي دي چه به
طعام خوري او سایل ځنِ محروم ځي څلورم هغه سړي چه گناهگار ئي ویني
هم پر منع ئي قادر وي ول منع ترِ نه کا (ف) په حدیث کښي دي راغلي چه
د نیك بخت نښاني درِ دي اول رزق به ئي حلال وي دویم له صالحانُ به ئي
مینه هم صحبت وي دریم نمونځ به ئي عادت په جماعت وي هم د بد
بخت نښاني درِ دي اول رزق به ئي حرام وي دویم مجلس به ئي دایم له
فاسقانُ وي دریم نمونځ ئي بي امامَ یک تنها وي (ف) ابن عباس له پاك
سروره سوال وُ ك چه د دي هسي سړي حال به هورِ څه وي ما خبر کړه
چه نمونځ روژه حجونَ کاند ول نمونځ په جماعت سره دي نه ك سرور

هسى څواب وُك چه تنها نمونځ ئي عادت شي دوزخي دي بيا يوه مياشت ابن عباس څن سوال وُك حضرت هسي څواب وُك چه دوزخي دي (ف) په مکتوبات د شيخ معين الدين کښ دي راغلي چه له شقيقَ بلخي يوه ورځ نمونځ پرِ جماعت کول قضا شه پنځوس دراهم ئي خيرات کړه يوه مياشت ور ته عالم عذر خواهي کړه په روضة العلما کښ دي راوړي له حسنَ بصري دي نقل شوي چه امام دِ پرهيزګار وي آراسته دِ وي په ښو ښو خصلتونُ چه امامت ئي شي خالص د خداي دپاره پاکيزه له نقصانونُ چه امام د قوم ضامن دي ضامنان دِ وي کامل پ پيروي د سنتونُ اول قاري په قرأت د قرآن کښ دِ بهتر وي دويم د سرور په ښه سنتونُ ښه دانا وي دريم پرهيزګار دِ وي له لقمي د شبه او د حرام څلورم دِ د اودس په کار دانا وي پنځم په خوي دِ وي نيک خوي چه نيک خوئي ده خصلت د انبياؤ شپږم پرهيزګار دِ وي له طمع چه دا طمع لوئ تاوان د آخرت دي اوم صابر دِ په زحمت او په ضرورت وي چه صبر خصلت د فايضانُ اتم راضي دِ په قضا وي چه راضي په قضا نه شي دغه قهر پرِ مولي دي نهم قناعت دِ کا د خداي پر قسمتونُ چه و ده وته قسمت د خداي رسيږي پر هغه دِ قناعت کا شکر دار د نغمت وي دا مقام د شاکرانُ اولياؤ امامان دِ پرِ عمل کا لسم بارکښ دِ وي د خلقُ يولسم زړه دِ پريکړي له دنيا وي تعلق دِ ئي د زړه په حب د عقبا وي دولسم ترس ناك دِ وي له خدايه دا مقام د خداي ترسانُ خداي ترسي کړئي امامانُ که له خداي نه ويريږي هغه نمونځ ئي ترغوروټو نه تيريږي چه د امام نمونځ نه قبليږي د مقتديانو نمونځ په څه خداي ته قبليږي (ف) په کفايه شعبي کښ هسي وائي مرتبي د نمانځه درِ دي اول عمل ئي روا کيده دي دويم عمل و پاك درګاه ته پورته تله دي دريم د عمل په لوي درګاه کښ قبليده دي بايده دي چه امامان دِ ښه لايق د امامت وي چه مقتديانُ ته دا وارهِ مرتبي حاصلي د قرابت وي (ف)

په کنزالاخبار کښې هسي وائي چه څلور څیزه وحشي دي بي څلور څیزه نه حصلیږي اول علم وحشي دي بي تکراره نه حصلیږي بند کیده ئي په تکرار دي پرِ زیاتیږي دویم ایمان وحشي دي په نمانځه د جماعت سره حصلیږي دریم مالونَ د دنیا واړه وحشي دي چه حصلیده ئي خپلیده ئي په زکات دي چه پاکیږي څلورم صحت د بدن وحشي دي حصلیده ئي په خیرات دي دارو کیږي (ف) په روضة‌العلما کښې دي راوړي له کعب ابن سعیده روایت دي په هر کلي چه په وقت د نمانځه جماعت نه شي خدای تعالي به ئي شیطانان پرِ مسلط کا چه خوراك خوري شیطانان به ور سره خوري چه اوبه څښي شیطانان به ور سره څښي چه دوي خوب کا شیطانان به ور سره خوب کا (ف) په تنبیه الفقه او په احیا کښې دي راوړي چه یو ځلَ جماعت وه قضا شوي له ولي حاتم اصمَ عذر خواهي بعضي یارانُ ور ته وُ کړه دي په ژړا شه هم له خلقُ ئي گله کړه که زوي څما مړ وي نیم اهل بلخ به څما عذر خواهي کړه چه جماعت له ما قضا شه بي له بعضي محبانُ نور و ما ت هیچا عذر خواهي وُ نه کړه که فرزندان مي واړه مړه وي هغه غم په ما اسان به وه خو چه جماعت مي قضا مه وي هزار حیف دي پرِ عالم چه د دین غمونَ عجب سپك پرِ دوي باند آسان شوُ (ف) په احیا کښې دي راوړي چه د قیامت ورځ شي قایمه ځن عالم به له قبرونُ هسي پاځي چه مخونَ به ئي بریښي لکه ستوري ملایکي به ور ته وائي څه عمل وه په دنیا کښې تاسُ کړي چه دا هسي مرتبې وُم شوِ حاصلي دوي به وائي عملونَ څموږ دا ووُ چه اذان به وُم تر غوږ تیر شه نور به پاځیدو و اودس ته په نور څه به مشغول نه ووُ څو تیاري به وُم کوله و صلوة و عبادت ته ځن نور عالم به پاځي چه مخونَ لك نور هسي بریښنا ك چه هغه و پښتیده شي دوي به وائي عملونَ څموږ دا ووُ چه په مسجد به موږ په هسي وقت حاضر شووُ چه اذانونَ به هلته واوریده شوُ (ف) پیغمبر

دي فرمايلي مسلمان چه منتظر وي و اذان ته چه اذان د مسجد واوري زر را وُوزي و مسجد ته زر ملايكي به پسِ دروميِ ښه تعظيم به ئي کوين خداي تعالي به گناهونَ ور بخښين په حديث کښي دي راغلي چه په مسجد کښي داخليږي او په خله دا کلمه وائي بِسمِ اللّٰهِ دَخَلْنَا وَ عَلَي اللّٰهِ تَوَكَّلْنَا د عملونُ په خيري کښي به وُ کښه شي پنځوس زره نيکئي کل گناه به ئي باخښه شي هيڅ زره د گناه به پاتُ نه شي (ف) په حجة الاسلام کښي دي راوري چه څوک رنړا کا مساجد په چراغونَ ور بخښل شي هميشه گناهونَ د اويا زره کلونَ هم په خيري کښي به ئي وُ کښه شي نيکي د اويا زره کلونَ که په مسجد کښي څوک بوريا وُ غوروين چه پرِ نمونځ څوک گذارين اويا زره ملايکي به ئي له خداي عفوه وُ غوارين که څوک جارو کا مسجدونَ دوي به پاك كاند مولي له گناهونُ (ف) په احيا کښي دي راوړي هر سړي چه تاسُ وايئي چه عادت ئي د مسجدُوي جنّت گواهي پرِولي (ف) په تنبيه الفقيه کښي دي راوړي ودانول او جارو كول د مسجدونُ په جنت کښي به د حورُوي مهرونَ

باب پنجاه و سيوم در بيان امر معروف و نهي منكر

په مسعودي کښي دي راوړي په امر معروف نهي منکر چه څوک قادر شي دي ئي نه کا ترِ ساکت شيِ دا حرام دي په حرام به گرفتار شي په کاشف کښي دي راوړي امر معروف نهي منكر كول پرِ خلقُ باند فرض كفايت دي چه ئي ترك كاند بي عذر گناه گار شي ول كله فرض عين شي لكه سړي په هسي ځاي وي چه بي له ده په گناه هيڅوك خبر نه وي لكه سړي چه د عورتِ يا د فرزند يا د مريي گناه وُ ويني په دا وقت به پر ده امر معروف نهي منكر هم فرض عين شي (ف) په نصاب الاحتساب کښ دي راوړي که سړي و بل ته وائي چه ته امر معروف ول چا ت نه کړي

یا دا هسي ور ته وائي چه فلانه سړي ته امر معروف وُ کړه هغه هسي.
څواب وُ کا چه امر معروف کړه څما څه کار دي یا فلانه سړي څما
څه کړي چه نصیحت ور ته کوم یا دا هسي څواب وُ کا چه ازار له دي
سړي و ما ته نه دي رسیدلي یا دا هسي څواب وُ کا چه غرض څما پر
نشته په دا وارو څوابونُ کافر کیږي (ف) په سراجي کښي هسي وائي که
سړي هسي خبر شي چه فلانه سړي گناه کا که پوهیږي چه امر معروف وُ
کړم و ده ت دي به بیارته له گناه شي دي دِ امر معروف وُ کا که پوهیږي
چه به منع څن نه شي امر معروف که ور ته نه کاند روا دي چه فساد
څن پیدا شي (ف) په تذکرة الاولیا کښي دي راوړي چه بازید بسطامي و
ت چا وُ وِ چه ول خلق نه بولي و خداي ته بازید وِ هغه سړي چه خداي
بند کړي دي په قید د گناهونُ بازید کله توانیږي چه ئي خلاص کا له قیدونُ
(ف) په مِشکات کښ دي راغلي له ابن سعیدَ روایت دي چه رسول خداي
ویلي چه په ورځ د قیامت به خداي سوال له بنده وُ کا چه گناه به دِ
لیده ول دِ منع څن نه کړه دا بنده به ور ته وائي چه له خلقُ ویریدم او د
عفوِ امیدوار یم له تا نه دغه عذر ئي هله دي چه له قهرَ ئي ویریږي او پر دفع
ئي د قهر قادر نه وي که قادر وي پرِ دفع بي ویلُ عذر نه وي (ف) په تنبیه
الغافلین کښي دي راوړي چه عبدالله ابن مسعود هسي ویلي که سړي چرِ
گناه د بل چا ویني ول د منعِ توان ئي نه وي دا ئي عذر دي و خداي ته چه
په زړه پرِ ناراضي وي او بعصي اصحابُ دي ویلي که سړي وي گناه ویني او
پر منع قادر نه وي دا دِ وائي در څله چه پاکَ خدايَ دا گناه دي زه په
زړه څن منکر یم د امر معروف نهي منکر ثواب به ده لره روزي شي (ف)
په معرفت الولي په رسالهٔ قریشیه کښ دي راوړي چه بایزید بسطامي هسي
ویلي که سړي وي چه له ډیرَ کرامتَ مصلي ئي پر اوبه باند غوړیږي یا په
هوا کښي ناسته کاند کرامت د ده حاصلیږي پر دي هسي کرامت ئي غره او

غلط مه شي څو پر امر معروف او پر نهي منکر او په شرع مستقیم نه ودریږي بایزید بسطامي وته چا وُ وِ چه دا خلق هسي وائي چه فلانه سړي په یوه شپه تر مکي پورِ ور درومي بایزید وِ چهِ شیطان هم په یوه سترګه څنبل له مشرقَ تر مغربَ پورِ درومي ول شیطان رانده لعین دي په آخر به دي کافر له دنیا درومي (ف) په کیمیاي سعادت کښي دي راوړي هسي زده کړئ مومنانُ چه امید پرِ هغه کانړئي چه تابع د شریعت وي مستقیم د پاك نبي په ښه سنت وي (ف) شیخ ابو القاسم کرماني دي فرمایلي که په سر د اوبو درومي یا پر هوا آلواته کا یا خبري کا له غیبَ دغه هیڅ کرامت نه دي کرامت هغه ته وائي چه سړي بنده د شرع د مصطفي شي له جمله فعلَ حرامَ او نا رواوُ پرهیزګار شي شیطان له غیبَ هم خبري کاند هم بتان له ډیرَ کارَ کا خبرونَ څه په دا اولیا نه شوُ اعتبار په شریعت وي چه په شرع مستقیم وي خلاف نه کاند له شرعِ هغه شخص خاصه ولي دي هم صاحب د کرامت دي په جواهر ثمینه کښ دي راوړي "به دان که ذرهٔ شناخت بهتر از عالم یافت" مراد له شناختَ معرفت د خداي د ذات او صفات دي مراد له عالمَ یافت د کشف کرامت دي معني ئي دا دي چه یوه ذره د خداي د ذات د صفتونو معرفت بهتري لري تر کشفَ تر همه کرامتونُ عارف هغه ولي ته وائي چه د خداي په معرفت هسي مشغول وي چه د خلقُ پرِ قبول په رد ئي چري نظر نه وي په هر حال دي طلبدار د خداي تعالي د ښه رضا وي (ف) په کفایه شعبي کښي دي راغلي روایت دي هسي شوي په قیامت به یو سړي له خپله اهله سره خداي وته حاضر شي د خداي امر به دوي ته هسي وُ شي چه همه واړه جنت لره ورځئ هغه اهل به د نیكُ دعا کاند و سړي ته دا به وائي چه ته ښه پند ګوي څمور وي طاعت ته منع کړوني وي څمور له ګناه بیا به بل سړي له اهلَ سره خداي وته حاضر شي د خداي امر به و دوي ته هسي وُ شي چه همه واړه

دوغښ لره ورځي هغه اهل به په ده باند دعا کاند د بدو دا به وائي چه ته ځه بد مل وي ځموږ په دنیا کښي چه دِ موږ له بدئ منع نه کړۀ نه دِ امر د طاعت ۇ کړ و موږ ته ځکه موږ په دوغښونۀ کښ له تا سره بندیان شوۀ (ف) په ارشاد المستعظین کښيٰ دي راوړي چه خداي ترس سړي هغهٔ دي په اخلاص چه دي له نهي شي په بیارته که په نهي کښي مشغول وي چه په ظاهر خلقُ ته ژاړي مکر کاند سترګي مُږي هغه ترس له خداي نه دي دي بنده عاصي کاذب دي (ف) چه امر معروف کاند بائده دي چه خاصه دي د خداي دپاره کاند په بادښاه دِ ویرهول د خلقُ نه کا خاص په خداي دِ د عالم ویرهول کا (ف) په کیمیاي سعادت کښي دي راوړي چه په حدیث کښي دي راغلي وحي ۇ کړه خداي تعالي د یوه قوم و نبي ته چه اراده مي هسي ۇ شوه چه له قومَ دِ یو لك سړِي هلاك کړم چه ځلویښت زره نیکان دي او شپېته زره بدان دي هغه دِ دوي نبي سوال له خداي ۇ کړ پاكَ خداي د نیکانُ ځه ګناه دي خداي تعالي وِ نیکو کار په دا سبب هلاکوم چه دښمني ئي له بدانُ سره چرِ کړي نه ده په خوراك کښ هم په ناست په ولاړ کښي له بدانُ سره ګډ دي له دوستي له محبتَ له روزګارَ ئي بَیل نه دي چه له دوي سره مینه محبت کا په طفه د بد بختانُ کښي حساب دي (ف) رسول خداي دي فرمایلي مومنان چه بي ګناه وي په قیامت به عذاب نه شي مکر په دا به دوي عذاب ښي چه ګناه په سترګو ویني منع نه کاند خاموش شي (ف) پیغمبر دي فرمایلي چه څوك امر معروف نهي منکر کا د خداي په ملك کښي خلیفه د خداي تعالي دي هم خلیفه د پاك رسول دي هم خلیفه دي د قرآن کلام الله دي له علي کرم الله وجهه نه هسي شوي روایت دي چه افضل تر غزا هم امر معروف نهي منکر دي

باب شصت یکم در بیان مشیت و ارادت و در بیان آنکه پیر که را گونید و مرید که را گونید

په تفسیر چرخي کښ په تفسیر د دي آیت "اِنَّ لِلْمُتَّقِیْنَ عِنْدَ رَبِّهِمْ جَنّٰتُ النَّعِیْمِ" کښ دي ویلي په تحقیق چه په درګاه د خداي تعالي کښ خداي ترسانۍ لره ډیر دي نعمتونه بي له خدایه نور پر هیڅوك خبر نه دي په دنیا کښي به ﺩ هیڅا په خاطر تیر شوي نه وي هم لیدلي به د هیڅا سترګۍ نه وي یوه بزرګ هسي ویلي د درویش بخره دغه ده چه تقوا دِ خپل عادت کا دا دِ زده کا چه وعده ده د نیکۍ په قرآن کښي خداي ترسانۍ لره شوي نه دانشمندانۍ زاهدانۍ نه شیخانۍ متقیانۍ نه حاجیانۍ نه غازیانۍ خواجګانۍ چه حرام مالونه آخلي دوي مکرونه هسي کاند چه و خلقۍ طعامونه ورکوین و خپل ځان ته خلقه رجوع کوین (ف) په نفحات کښي هسي وائي بایزید بسطامي چه به نماز کړ له هیبته د خپل خداي له بزرګ کنړلۍ د سنت رسول الله به ئي هډونه د سیني پر آواز کړ له ده چا هسي سوال وُ کړ را ته وایه فرض سنت د طریقت د لارخه دي بایزید هسي ځواب کړ چه فرض د طریقت طلب د خداي دي او سنت د دغي لار عین ترك د دنیا دي

بیت

"اي که در شرع خداوندان حال ‎ ‎ ‎ ‎ میکني از سنت و فرضم سوال
سنت آمد رو ز دنیا تافتن ‎ ‎ ‎ ‎ فرض راه قرب مولي یافتن"

(ف) په مشارق الانوار کښي هسي وائي که یوه لویشت ځوك و ما وته نیژدي شي زه به ګز ور ته نیژدي شم که یو ګز ما ته نیژدي شي زه به هغه ته یو وازه نیژدي شم

بیت

"یك صبح به اخلاص بیا بر در من ‎ ‎ ‎ ‎ گر کار تو بر نیاید آنکه گله کن
اي بنده به من گریز خود را یله کن ‎ ‎ ‎ ‎ گر شاه جهان نه گردي آنکه گله کن

رو گرد جهان به گرد پا آبله کن گر به ز من يابي ما را يله کن"

(ف) په احياء العلوم کښي هسي وائي مريد هونسره مريد نه وي څو په قرآن کښي ئي مراد موندلي نه وي هم زياتي نقصان ئي خپل په قرآن نه وي پيژاندلي بايده دي چه مريد دِ پخپل خداي باند غره وي په اخلاص دِ له مخلوقَ مستغني وي (ف) په احياء العلوم کښي هسي وائي مريد چه مبتدع وي چه جاهل په شريعت وي هغه شيخ دِ اول اودس نمونځ ظاهر عبادت ور ته ښئن که مشغول وي په حرام يا په نور گناه گرفتار وي هغه شيخ دِ امر هسي ورته وُکا چه هغه واړه ترکوين چه ظاهر ئي ښايسته په عبادت شي اندامونَ ظاهري له ظاهر گناهونُ په پاکي شي پس له دي دِ و باطن و ته نظر کا چه خويونَ ئي د نفس باطن رنځونَ ئي معلوم کا د مريد مال که د حاجت تر قدر زيات وي هغه مرشد دِ زياتي مال ورځنِ واخلي په فقرا دِ خيرات کا له هغه مالً دِ زړه کلي فارغ کا چه دي دِ نظر په دنيا نهِ کا کبر لوئي خود نمائي که پرِ غالب وي و بازار ته دِ دي وُ وزي گدائي سوال دِ وُکا خپل لوئي کبر دِ ورك کا چه د ځان په خوارولُ په دنيا کښي د سوال تر کميني بل هيڅ کميني نشته څو مده دِ هميشه گدائي کاندِ چه غرور کبر ئي ورك شي چه دغه خود پرستي کبر لوئي ده چه عالم ډير پرِ هلاك شي که غضب قهر پر ده باند غالب وي حليمي خوله پټ والي دِ پر ځان باند لازم کا که و ده وته آزار څوك رسوين دي دِ صبر پرِ کوين که غصه پرِ غلبه شي هغه قهر دِ زغمين تر هغه پورِ دِ دا رنګ کوښش کا چه کميني او حليمي ئي عادت شين (ف) په رساله برهان جلالي کښي هسي وائي ولي کيده په ډير علمونَ سرهِ نه وي که په ډير علم بزرگي وي بلعم باعور بهٔ هم ولي وُه چه دولس زرهِ ئي شاگردان ووُ دولس زره مشوانړئي به ورځخه وِ چه په کښلُ ئي د علم مشغولا وَه هم هسي ولايت مونده په رياضت نه دي چه د زمکي پر مخ ځاي هسي نشته چه د شيطان پرِ سجده نه وه ول دا شيطان پرِ ولي نه

شه هم هسي ولايت مونده په نسب نه دي چه ډير اولاد د انبياؤ کافر شوي هم هسي ولايت مونده په ډير مال سره نه دي که په ډير مال ولايت وي قارون به اوليا ؤه هم هسي ولايت مونده په ډير سخاوت نه دي په سخاوت که څوك ولي وي فرعون غند سخي چرِ څوك نه وؤ فرعون به هم ولي ؤه هم هسي ولايت مونده په ډيرو مريدانو سره نه دي چه څنِ هسي رنګ سړي وي چه لس زره يا دولس زره مريدان ئي وؤ نيولي ول د ډوي ب لايقت د مريدانو نيوه نه ؤه هم هسي اوليا کيده په کشف کرامت سره نه دي چه دا ويره په کښي شته دي چرِ نه چه استدراج وي لکه فرعون چه رود نيل به ئي په حکم کښي روان شه ولي کيده خو په يوه خصلت سره دي په قرآن کښي خداي تعالي دي هغه خصلت دو سو ډيرش ځايه راوړي چه هغه خصلت تقوي ده لك خداي دي فرمايلي "إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللّٰهِ أَتْقَيكُمْ تقوي" هغه ته وائي هر چه خداي پرِ راضي نه وي او فرمايلي ئي څمور حضرت ته نه وي له هغه پرهيز کوين په هغه چه خداي راضي وي او پاك سرور ته ئي ويلي په زره ئي قبولوين په عمل ئي هم راوړين که له تقوي سره هم علم رياضت وي هغه شخص به خاص ولي وي حقاني وي (ف) په رساله قدسيه کښي هسي وائي هر سالك چه ؤ رسيږي هم د زره د ژبي فرق ئي سره کيږي چه ظاهر مشغولا ئي له حضوره منع نه وي هسي حضور ئي له ظاهر منع نه وي ارشاد کول مريد نيول و هغه وته هله اجازت کيږي رسيده د سالك دا دي چه اثر وي د فنا پر ظاهر شوي و مقام د "سَيرِ فِي اللّٰهِ" وي رسيدلي دا مقام ئي د جذبه الهي دي سالك چه د جذبه اثر ؤ ويني په خپل ځان کښي البته چه په جذبه الهي تصرف کاند د بل چا په باطن کښ دا تصرف ئي تصرف د پاك الله دي "اَجْمَعُوا وُضُوءَكُمْ جَمَعَ اللّٰهُ تَعَالٰي شَمْلَكُمْ" اشارت و دي معني ته چه اودس باطني جمع کوئي له اودس ظاهري سره چه ورکه هغه ستاسِ تفرقه شي استقامت باطني درته حاصل شي استقامت باطني دا دي چه د

توحید په کلمه کښې ئې کلي تعلقات جسماني روحاني ورک شي چه تعلق ئې وارہ ورک شي دغه حال استقامت دي پڼ استقامت د حال دلیل استقامت دي د افعالُ استقامت د افعالُ دا دي چه تمامي امرونَ نهي د خداي تعالي پرځاي کوین فرمانونَ د ده عظیم گنړین (فٔ) اهل تحقیق دي ویلي چه پرورش د سالکانُ په جمال جلال وي څو موندلي دوي محبت ذاتیه وي یو علامت د محبت ذاتیه دا دي چه هغه صفات د ذات چه اثرونَ د دوي ضد وي لکه ضرر نفع عزت خواري دوارہ و سالك وته یک سان شي په ضرر نفع د ځان ئې نظر نه وي دي خاصه محب د ذات وي اهل تحقیق دي ویلي په دنیا کښې خداي تعالي و اولیاؤ هغه څیز عطا کوین چه په آخرت ئې و اهل د جنت له اولَ ورکوین هغه صفت د خداي تعالي کُنْ فَیَکُونْ دي چه ولایت ئې پرِ کمال شي په صفت کُنْ فَیَکُونْ به سر فراز شي اراده به ئې مظهره د ارادي ازلي شي لکه ویلي دي بزرگانُ.

بیت

”چون چنین خواهد خدا خواهد چنین میکند حق آرزوي متقین“

ول په سبب دکمالیت د معرفت به په ادب وي اراده ئې خپله د خداي د ارادي تابع لرین بي د خداي له ارادي دا هسي نه وائې چه وُ شه یا به شین کارونَ وارہ و خپل خداي وته وُ سپارین که دا هسي صفت چرِ ترِ ظاهر شي بي اختیارَ به له ده غه پیداوېن

بیت

”چون ولي را هست قدرت از اله تیر جسته بازگرداند ز راه“

(ف) په قدسیه کښې هسي وائې د خداي د طلب مینَ چه د چا په زړه پیدا شي د اهل اللهُ و مجلس ته مینَ دارشي پر هغه شخص باند خاصه فضل دَ خداي دي د طلب ظهور په زړه کښې لوي دولتِ الهي دي خداي تعالي که اراده د تجلي کړل د بنده په زړه کښې نه وي دا اراده نور به په

زړه کښې د طالب کله پیدا وه طلب دار یه د خدای نه وُه هم مجلس د اهل الله به دِ ده اختیار نه وه (ف) په قدسیه کښې هسې وائي طریق د اهل الله کم دیدن هم کم شنیدن دي هم نیستي هم محتاجي ده هم د عمل قاصر کنړل دي د خپل حال ناقص لیده دي انانیت بشري په بل څه هله نه ورکیږي بې له دي چه له عملَ ځان قاصر کنړي کمیږي (ف) په حدیث قدسي کښې دي راوزي د خپل بنده زړه چه خالي زه بیا مومم د دنیا له محبتَ هغه زړه به ئې زه پر کړم له خپلَ محبتَ (ف) حضرت خواجه دي فرمایلي

بیت

"سه نشان بود ولي را ز نخست آن سه معني که چو روي او به بیني دل تو به او گراید
دویم آنکه در مجالس چو سخن کند ز معني همه را ز هستي خود به حدیث مي رباید
سیوم آن بود به معني ولي اخص عالم که ز هیچ عضو او را حرکات بر نیاید"

له کتابَ دَ کلیله و دمنه یا علم خانهٔ دانش

تصنیف دَ افضل خان ختک

خوي دَ اشرف خان نمسي دَ خوشحال خان

کلیله و دمنه یا علم خانهٔ دانش

باب دریم په غورِ نه یستل خبري د چغلخورو

رای دابشلیم وُ وِ مقصود له وصیتَ اولَ دا دي چه بادشاهان دِ نظر په خپل کار او په خپل بندوبست لري مصراع "که با شاه خویشي نه دارد کسي"

د باېدشاهانو دوستان ورونړه هغه دي چه د دیو په مدد کار دِ تور دِ تدبیر او د ملك د بندوبست سر به راه کیږي بیت

"یك نوکرِ مطبوع به از صد فرزند این ملكِ پدر خواهد و آن عمر خداوند"

د دنیا عالم که قابل خدمت سلاطین وي که قابل د خارکشي وِي مرتبي بلندي وته د هر چا زړه پرکیږي لکه د بادشاه نظر په خپل شرم و ننګ بندوبست د ملك وِي هسي د نورو نظر په خپل دولتِ عزت په دا کښِ چه بادشاه څوك لائق د خدمتګارِیِ وُ ګنړي د خپل کار د پاره يُ تربیت کا واړه عالم کینه حسد پرکاندِ بیت

"حاسدان هستند ما را باك نیست بي هنر آن کس که حاسد نیستش"

بلکه مخصوصان د بادشاه چه یو په کښي په مرتبه د قابلیت منظورِ نظرِ بادشاه شي حسد لا زیات کا په دروغ بهٔ رښتیا يُ ور ته چغلوي او بعضي عالم چه حاسدِ دولتِ بادشاهي وِي منافقان یادیږي هغه لا په بنیاد کني د دیو هسي مصاحبانو سعي کا چه په دا کښي زوالِ دولت ویني بیت

"ضرب المثل دي د دانایانو غلیم چه دوست کړي دوست دِ غلیم شي"
په دا کارکښِ بادشاهانو ته څه رنګ احتیاط بایده دي په خوا تر دا هم ګاهي دا هسي معامله چه دوستي په دښمني په ویل د بد ګویانو بدله شوي وَه شوي دَه چه پند څني واخست شي لکه دانایانو ویلي دي رباعي

"مرد هنرمند خرد پیشه را — عمرِ دو بایست درین روزگار
تا به یکي تجربه آموختي — با دگري تجربه بردي به کار"

عمرِ دو باره د سړي هم دغه عبرت دي چه له امړنیو پند آخلي برهمن وُ وِ قصه د مزرِي د ګاو شتربه دلیل دِ تا په دا ویلو ده راي وُ وِ څه رنګ وه هغه حکایت ـ راوړي ئي دي چه یو.سوداګر وه چه ګرمي او سردي د روزګار لیدلي وَه شیریني او تلخي ئي د زماني څښلي وَه د ده دري زهمن وو چه په سبب د مستئِ شیوه ئي د پرهیزګارئِ پري ینښي لاس ئي په مال د پلار دراز کړي وو عمر ئي په بي کاري او په بي هموارِي تیراوه پلار مهربان په ډیرهِ مهرباني ور ته وُ وِ چه اي فرزندانو قدر د مال چه په جمع کول ئي تاسو رنځ څکولي نه دي نه پیژنئِ په نژدي د خردمندانو معذور یاستئِ او بایده دي زده کړئِ چه مال پنګه د نیکیو او سبب د خوبیو دي اهل عالم جویان د درو مرتبو دي اول فراخي د دولتِ دنیا دوهیم زندګانيِ درازه و لوئي د جاه ډریم رضامندي آلهي او په دا کارونو نه رسي مګر په څلور خویه اول حاصلول د دنیا د مال له حلالَ او هر چه په دا کسب په لاس راشي قدر ئي وُ پیژني او ښه ئي وُ ساتي چه عقل فرمائي هغه شان ئي خرڅوي او له بدو کارانو له بدو همنشینانو پرهیزکول بیت

"من فلیل په یوهِ مڅ سرهِ بد بوي شي — بد دِ نه شي یو زمان همراه د چا"

بایده دي چه مځ له کاهلئِ وُ جارباسئِ او ملا په کسب حلال پسي وُ تړئِ هر چه مو له ما نه څه زده کړي دي په عمل ئي راوړئِ مشر زوي ور ته وُ وِ اي پلارَ موږه ته کسب کول فرمائي او دا خلاف له توکلَ دي په دا

مي يقين دي چه هغه رزق چه مقدّر دي که هر څو په طلب ئي سعي نه کړم را ؤ به رسي او هغه چه څما نصيب نه دي څو چه په جست و جو کښي ئي کوښښ کوم سود نه لري ابيات

"گرچه که روزيت رسد در زمان آنچه نه باشد نه رسد بي گمان

پس ز پي آنچه نه خواهد رسيد رنجشِ بيهوده نه بايد کشيد

روزي تو باز نه گردد ز در کارِ خدا کن غمِ روزي مه خور"

ما آرويدلي دي چه يوه بزرگ ويلي دي هر چه څما نصيب وه هر څو چه له هغه تښتيدم لکه سيوره را پسي وه او هغه چه څما نصيب نه وه څو زه پسي تلم له ما په تيښته وه پس که زه کار کړم يا بي کار کښينم خپل نصيب به و ما ته رسيږي مصراع "نصيبهٔ ازل از خود نه مي توان انداخت"

لکه داستان د باشاه د دوارو زويو گواه د دئ حال دي چه د يوه گنجِ بي رنج په لاس کښيوت دويم په اميد د خزانئ د بادشاهئ له تختَ پريوت پلار ؤ پښتيده هغه حکايت څه رنگ وه زوي ورته ؤ وِ چه د حلب په ولايت کښِ يو بادشاه وه ډيرئ جاه ډيرئ سپاه وه د ده دوه زوي وو دواړه په دولت د څوانئ مست وو د دوران له بازئ غافل هميشه په خوښي په نشاط مشغول وو بادشاه چه دانا او عاقبت انديش وه څه لږ و ډير گنج له نقدَ او له جنسَ او له جواهراتَ په يوه زاهد چه گوښه نشين له خلقَ وه آراسته په اوصافِ حميده وه جدا له خلقَ په يوه کنج گوښه کښي ئي آستوګه وَه په طريقِ مخفي ئي پرِ ؤ سپارهِ زاهد په کور کښِ کوهي ؤ کند په کښي ئي کښيښ او وصيت ئي و زاهد وته دا ؤ کړ چه هر وقت دولتِ بي وفا مخ څما له فرزندانو ؤ جارباسي او پريشاني د روزګار و دوي وته ؤ رسي په طريقِ مناسبت دا گنج و دوي وته ښيه شايد چه پس له محنتَ څکولو او له پښيمانئ د مال تلفولو دا خزانه ئي په کار شي او بادشاه خپل کور يو ځاي تعبيه کړ خلق ته ئي دا رنګ ظاهر

کړل چه ګنج او خزانه مي دا ځاي دفن کړي ده زویو ته ئي هم دا وُ وِ چه هر ګاه تاسو محتاج شئ ستاسو دپاره مي دلته ډیر څه یښي دي په مطابق د کار تر آخلئ پس له څو ورځو بادشاه او زاهد له دنیا نه رحلت وُکړ او هغه ګنج د زاهد په صومعه کښي پټ پاتو شه شاهزاده‌ګان پس د پلار له موتَ د میراث په قسمت کول په جنګ شول مشر غلبه وُکړه تمام مال ئي په خپل تصرف کړ کشر وروړئي فکر وُکړ چه دولت خو مخ په زوال کړ آسمان پیشه د بي وفائي آغازه کړه زړه تړل د دنیا په دولتِ پوري آئین د خرد مندئي نه دي پس ګوښه د درویشئ چه سرمایه د خیر اندیشئ ده له لاسَ آچولي نه بویه تنها بیابان ته وُ وت په هغه خرابه صومعه د زاهد ننووت ورئي د تللو راتللو په ځان وُ تاړه په هغه ګوښهٔ بي توښه کښي په ریاضت مشغول شه یوه ورځ په طلب د اوبو کوهي ته وُ رغي کوهي وچ وه فکر ئي وُکړ چه بي اوبو آستوګه مشکله ده نور کوهي ته کوز شه یوه ژوره ئي وُ لیده چه د هغي ژوري په خاورو د اوبو زیم پوري شوي وه هغه خاوري ئي په لاسونو لري کولي چه پښه ئي په ګنج ننوته شکرئي د خداي تعالي په ځاي راوړ د ځانَ سره ئي وُ وِ چه اګرچه مال ډیر دي امّا له درویشئ نه پرهیز کول نه بویه په قدر د ضروري خرځول بویه وُ ګورم چه له غیبَ څه معلوم شي مشر وروړئي چه په غفلت عمر تیراوه د رعیت د لښکر پرورښ ئي نه کاوه په امید د هغه ګنج چه ګنړه پلارمي په کورکښِ ښخ کړي دي هرچه په لاس ورتلل هغه ئي تلف کول ناګاه سخت غلیم ورپیدا شه چه قصد ئي د ده د ؤلایت وُکړ شاهزاده خزانه تشه لښکر بي سامانَ پریشانَ بیا موند هغه ځاي ئي وُ کنده چه پلارئي په دروغو ویلي وه چه دلته مي ګنج دفن کړي دي خزانه ئي بیا نه مونده چه له ګنجَ نا امید شه بالضرورئي په هرحال مخ په جنګ کړ پس له هغه چه په دواړه لوریهَ ئي صفونه آراسته کړل لوګي د اور د جنګ په فلك شه د غلیم د لوریه یوغشي په شاهزاده برابر شه په ځاي سوړ شه قضاي

آلهي د دي بله لوريه غشي په بادشاه بيگانه ساز شه رخت ئي د هستئي و تاړه دواړه طرفه لښکر حيران پاتو شه لا جنگ و جدل تر ميان وه چه له دواړ طرفه داناياڼو جنگ موقوف کړ هغه شاهزاده ته په اتفاق و رغلل چه د زاهد په صومعه کښي گوښه نشين وه په تعظيم تمام ئي له کنج تنهائي را و يوست په بارگاه ئي د بادشاهئي ننيوست هم کنج بي رنځ بيا موند هم ملك په ده قرار و نيوه دا حکايت مي په دا راوړ چه په تحقيق معلوم شي چه موندل د نصيب تعلق په کسب نه لري پس اعتماد په توکل بهتر دي له کسب چه هغه زوي ئي دا داستان په آخر و رساوه پلار ور ته و وِ هر چه دِ بيان کړه رښتيا دِ و وِ اما دا عالم اسباب دي اکثر کار و بار د دي جهان وا بسته په اسباب دي لازم دي سعي کول په اسباب پسي او اعتماد په توکل کول مصراع "بر توکل زانوي اشتر به بند"

منفعت د کسب ډير دي تر گوښه ناستي په دا چه نفع د کاسب و بل ته رسي او فائده د گوښي ناستي تر ده نه تيريږي خوك چه توانيږي چه نفع ئي و بل ته و رسي حيف دي چه کاهلي کا مگر تا قصه د هغه مرد نه ده آرويدلي چه حال ئي د باز او د قارگه و ليده اسباب ئي ترك کړل گوښه ئي و نيوه آخر ئي له هغه صاحب دل نه څه عتاب و ليده او څه خجالت ئي و ځکاوه زوي و پښتيده چه څه رنگ وه دا حکايت پلار ور ته و وِ چه يو درويش وه په قدرت کښ ئي د خداي انديشه کوله ناگاه ئي باز و ليده چه ځخو غوښه ئي په منگل کښي نيولي په نيژدي د يوي ونې ئي پرواز کاوه په هغه ونه کښ هغه درويش يو قارگه بال پر شکسته په ځاله کښي و ليده هغه باز غوښي په شوکه کښ نيولي په موافق د ده د حوصلي په خوله کښي ور کولي هغه مرد و وي چه سبحان الله څو مهربان پروردگار چه قارگه چه بال پر نه لري بي رزق نه پريږدي ابيات .

"اديم زمين سفرهٔ عام او است برين خوان يغما چه دشمن چه دوست

چنان پهن خوانِ کرم گسترد که سيمرغ در قاف روزي خورد"

پس زه چه په طلب د رزق کښِ هرگز نه کښېنم او سر مي په بيابان د حرص يښي دي دا همه نتيجه خما د سست اعتقادئ ده پس بهتر دا دي چه پس تر دا گوښه ؤ نسم او جست و جوي د اسباب ترک کړم تر هغه پوري چه لاس ئي له همه کارَ کوتاه کړ دري شپي ورځي ئي په گوښه کښي بي خوراکَ ځښاکَ تيري کړي له لوږي له تندي نقصان په عقل کښِ چه سرمايه د تميز او پيرايه د هر ځيز دي پيدا شه ناگاه يو دور انديش پرِ راغي په حال ئي خبر شه نصيحت ئي ورته ؤ کړ چه لاس و پښي درلل په بي لاس و پښي قياسول دا همه اسباب په نه اسباب شمارل نه رضاي آلهي ده نه آئين د عقل چه و تا ته ئي لاس و پښي درکړه په معني کښِ رخصت تکاپوي درکړ تا زاغ ؤ ليده سترگي دِ پټي کړي ولي بي هوده وخت تيروي او قدر د دي گوهرِ عقل نه پيژني الله تعالي هسي اسباب متابع دِ تا د عقل درکړي دي لکه باز چه د نورو بي اسبابو سبب د معيشت وه ځان دِ ولي دا هسي بي کارَ کړ دا سرگذشتِ پسنديده مي په دا راوړ چه با وخودِ اسباب ځان په توکل نه شل کړي بويه بل زوي ئي خبره آغازه کړه چه اي پلارَ هرگاه چه دنيا په کسب حاصله کړم او خداي تعالي و ما ته دولت را کا ساتل او خرڅول ئي را ته ؤ وايه څه رنگَ بويه چه ستا ويل د خپل روزگار دستور العمل کړم پلار ور ته ؤ وِ مال په لاس راوړل آسان دي ساتل ئي گران او له هغه نه فائده آخستل مشکل د هرچا چه مال او دولت د دنيا پلاس راشي دوه کاره ور ته کړي بويه اول دا چه هسي رنگ ساتلي بويه چه له تلفَ تاراجَ په امن وِي او لاس د غله او ره زن ځني کوتاه وِي چه د زر دوستان ډير دي دښمنان ئي تر شمارَ تير دي دويم له دنيا فائده آخستل بويه که دنيا په محافظت کښيښوه شي او خرڅ خوراک ځني نه شي دي گداي دي د دنيا ښتن نه دي بيت

"چه داري دوست آنکش وقت مردن به دشمن ترکسي باید سپردن"
اوکه لاس ئي په صرف کښېږدي ابیات

"به خور چیزي از مال چیزي بده ز بهرِ کسان نیز چیزي بنه
مه خور جمله ترسم که دیر ایستي به پیرانه سر بد بود نیستي
دري خرچ بر خود چنان هم مه بند که گردي ز ناخوردني درد مند
چو رشته ز سوزن فزون ترکني بسا چشم سوزن که در سر کني
نه بذلي که طوفان در آري ز مال نه صرفي که سختي در آري به حال"

بایده دي چه مال د دنیا اسباب وي دانا ته د دنیا د گټني دپاره مصراع "که زر زر کشد در جهان گنج گنج"

هر چه دانا دي بهره آخستل ئي ښني دا دي چه دا مال ئي سرمایه وي په سود ئي که لږ وي که ډېر وي زیست د دنیا روزگار کا که ډېر آمد وي ډېر خرڅ دِ کا غریب د غربا پا شکسته بي دست و پا لاس دِ آخلي مدد امداد دِ ور سره کا که آمد ئي کم وي د خپل خرڅ ترعهده وتل بویه

قطعه

"چو دخلت نیست خرچ آهسته ترکن که میگویند ملاحان سرودي
اگر باران به کوهستان نه بارد بسالي خشك گردد دجله رودي"

ابیات

"بر آن بحر کابي نه یاید به وي به اندك زماني شود خشك پي
اگر کوه گیري و نه نهي به جاي سرانجام کوه اندر آید ز پاي"

د هرچا چه دخل د آمد نه دي او خرڅ ترآمد زیات کا عاقبت کاربه ئي په بیم گدائي وُ رسي او انجام کاربه ئي په هلاکت لکه د هغه موش تلف کار چه ځان ئي له غمَ د مال هلاك کړ زوي وُ پوښتیده چه څه رنگ وَه هغه خبره

حکایت

پلار ورته وُ وِ راوړي ئي دي چه یو دهقان وه عاقبت اندیش د خپل

خاندان دپاړه انبار د غلي ئي نګاه کړ لاس د خرڅ ئي څني کوتاه کړ چه وخت د ضرور به په کار شي قضاءً د یوه مږک کور هغه انبار ته نیژدي وه په هر طرف ئي زمکه په غاښو کندله ناګاه ئي لار و غله ته بیا مونده فراوان رزق د ده په خونه ننووت هغه کم حوصله ئي د عقل له لار لري یوست مغروري غافلي ئي واخسته د هغي محلي مږک په دا حال خبر شول واړه ورته راغلل ملا ئي د ده په خدمت وُ تړله دوستانِ هم نواله او حریفانِ هم پیاله د ده شول خوشامندونه ئي د ده کول بر آمد ویل ئي هرګز نه کول چه مه بادا په رښتیا ویل کښي دِ موږ و دولت وته نقصان وُ رسي دي هم په خپلو بریتو غلط شه ژبه ئي په لاف لاس ئي په اصراف پرانتل د نن ورځي په خوښي ئي د صبا غم نه کاوه چه څو مدتَ تیر شه قحط سال پیښ شه دهقان ور د انبار لري کړ غلي ئي نقصان موندلي وه آه ئي وُ کړ وُ ئي وِ چه غم خوړل د هغه څیز چه سود نه لري طریقه د عقل نه ده پس هغه باقي غله ئي په بل ځاي کښښېښوه هغه موش چه صاحبخانه وه هغه ساعت اوده وه دا نور موشان چه آشنایان د آب و نان وو په هغه کش مه کش کښِ په یوه سوراخ ننوتل په بل لور وُ وتل لاړل هغه ولي نعمت ئي تنها پریښ بیت

"این دغل دوستان که مي بیني مگسانند گرد شیریني"

بله ورځ چه هغه مږک سر له خوبَ پورته کړ که ښي کینړ ئي وُ کتل یاران ئي هیڅوک وُ نه لیدل ور پسي پاځیده که هرڅو وړاندِ ورستو ور پسي وُ ګرزیده مصاحبان ئي بیا نه موندل نور پریشان غله ګران دل ګیر خپل کور ته روان شه چه ور شم هغه په کور کښِ ذخیره ښه وُ ساتم چه کور ته راغي یوه دانه ئي وُ نه لیده په هغه سوړه انبار خالي ته راغي هورته ئي اثر د غلي بیا نه موند چه د یوي شپي قوت ئي بیا شوي وي هیڅ طاقت ئي پاتو نه شه له ډیرَ غمَ ئي سر په دیوال وُ واهه ماغزه ئي وتل په هغه ځاي وُ مړ فائیده د دي حکایت دا چه خرڅ دِ سړي په موافق د آمد کا او د نیکئي له سوده

نه دِ ځان بهرهِ مند کا چه پلارئي له دي داستانَ فارغ شه کشر زوي پلار ته
دعا وُکړهِ ورته ئي وُ وِ چه اي پلارَ پس تر هغه چه سړي د دنیا مال وُ ساتي
او له هغه مالَ نه نفع تمامَ واخلي دوه کاره دِ وُ کاندِ یو دِ له اسرافَ ځان
وُ ساتي او په لارِ د اعتدال چه په هر څیز کښِ پسندلي ده روان شي

ابیات

"هست بر مردم عالي گهر بخل ز إسراف پسندیده تر
گرچه عطا درهمه جا دل کش است هرچه به هنجار بود آن خوش است"

دویم دِ ځان د بخل له عارَ د کم همتي له عیبَ وُ ساتي چه مال د بخیل
به عاقبتَ نخبه د تاراج او د تلف د غشیو شي لکه یو لوي حوض وي چه له
څو جویونو اوبه ور ته را درومي که اندازه ئي د راتلو وتلو سړي څخه نه وي
نا چار به اوبه په هر طرف لار غواړي او په هر لور به ئي زیم پیدا شي په
دیوال کښِ به ئي رخنه وُ شي آخر الامر به په یوه ځل وچ شي دا څو قصي
چه بیان شوي اگرچه په اصل کلیله او دمنه کښِ نه شته د خبري د گریز
گاه دپاره ابوالفضل راوړي دي خالي له فایدي هم نه دي په دا کتاب کښِ
هم وُ کښي شوي القصه چه زهمنو د پلار نصیحتونه وارویدل یوه فرزند ئي
اسراف په لاس واخست شومي کاهلي ئي له لاسَ کښیښوه مشر زوي ئي
سوداگري اختیاره کړه دور دست سفر ئي دوراندِ کړ دوه غوایه د بارکښي دپاره
ورسره وو د یوهِ نوم شتربه د بلِ نوم مندبه په سبب د درازئي د سفر سختي
ورپیښه شوه قضاءً په لارکښي جوړ راغي زمکه ئي خته وه شتربه په کښِ
پاتو شه خواجه وُ فرمایل په کوښښ تمام ئي را وُ یوست طاقت ئي د تلو نه
وه د مزدور په حواله ئي کړ چه خصمانه ئي کړهِ هرگاه چه قوت ئي پیدا شي
کاروان ته ئي را وُ رسوه مزدور دوي دري روځي په بیابان کښِ ور ته تیري
کړي آخر له تنهائي دل گیر شه راغي خواجه ته ئي وُ وِ چه شتربه مړ شه
شتربه په لږ مدت کښِ جوړ شه په طلب د خواجه په هر طرف گرزیده ناگاه

یوه مرغذار هوا دارته ؤ رسیده د شتربه هغه منزل زړه ته پریوت په فراغت په
ځرکښیووت مشقت محنت ئي د سفرپه راحت د اقامت بدل شه ډیر فربه
شه مستي ئي واخسته سلکیده غرچیده خټ به ئي په شاخ سم کړسم به ئي
په سوموتوخم کړ په نواحي د هغه مرغذار یو مزري وه خون خوار په دار
مدار د هغه دیار په سریر د سلطنت ناست وه ډیر جانوران په خدمت د ده
کمربسته بي شماره درندگان په زیور د بندگۍ آراسته وو اما هغه مزري خود
راي ځوان وه چه هرگز ئي غوږکي لیدلي آواز د گاو ئي آرویدلي .نه وه
پرانګ که تیز حمله دي هاتي که قوي جثه دي ده هیڅ نه کتل په خپل
جسم غلط وه هیڅوك ئي په نظرکښي نه راوړل نه ئي چا سره مشورت وه
نه خبر د زماني له آفتً وه ناګاه ئي آواز د شتربه تر غوږ شه زړه ئي له
ګوګلً پریوت په دا حال ئي ملازمان نه خبرول د ده په لښکرکښې دوه
چغالان وو د یوه نوم کلیله د بل نوم دمنه وه چه په هوښیاري په تیز فهمي
مشهور وو اما دمنه لا ډیر دانا وه په خواهش د جاه د ناموس حرص ناك وه
د عقل له مخً ؤ پوهیده چه مزري ته هراس رسیدلي دي چه وسواس ور
پیښ دي کلیله ته ئي ؤ وِ چه څه پوهیږي بادشاه خوښي د سیل ځوبي د
ښکار په څه سبب ترکه کړه کلیله ځواب ورکړ چه ستا په دا سوال څه کمال
دي دا ویل و تا ته کوم مناسب دي ځما ویل ؤ منه ځان خپل ؤ پیژنه
مصراع "تو از کجا سخنِ سر مملکت ز کجا"
موږه د بادشاه له درگاه رزق مومو په سیوري د دولت په آسایش عمر تیره وو
ځما ویل پسند کړه د بادشاهانو په راز غرض مه کړه چه موږ هغه عالم نه
یو چه په صحبت د بادشاهانو مشرف شو خبره دِ موږه په نیژدي د سلاطینو
چندان اعتبار نه لري.چري نه وي هغه در باندِ ؤ شي لکه په هغه بیزو
شوي وه دمنه ؤ وِ هغه څه رنګً وه حکایت

کليله ور ته وُ وِ راوړي دي چه يوه بيزو وه ترکاڼ ئي وُ ليده چه لرګي ئي پرِکاوه دوه ميخ ورځخه وو يو ميخ به ئي په هغه لرګي کښِ ټک واهه تر يوه ځاي به شګاف وُ شه بيا به ئي هغه لري کړ بل ميخ به ئي پرِ ټک واهد په دا رنګ ئي چاوه هغه ترکاڼ چه کار ته پاځيده لاړ بيزو راغله په هغه چوب کښيناسته پرِي کاوه ئي دواړه خائي ئي د لرګي په شګاف ننوتي اول ميخ ئي وُ کيښ چه بل ټک وهم دواړه خائي ئي محکمي په هغه لرګي کښِ وُ نښتي بيزو په ژړا شوه دا ئي وُ وِ قطعه

"په جهان کښِ بهتر دا دي چه هرڅوك دِ خپل خپل کار کا
هر سړي چه خپل کار نه کا ځان به ما غندِ زر خوار کا"

ځما کار ميوه ټولول دي نه اره ځکول هنر ځما د ځنګل تماشا دي نه تبر تيشه ناګاه ترکانړ راغي هومبرهٔ ئي وُ وهله چه هلاکه شوه دا مثال مي ځکه وُ وي چه دروډګري کار د بيزو نه دي او دا حکايت مي په دا سبب راوړ چه هرچا ته خپل کار په کار دي قدم دِ له خپلي اندازي نه وُ باسي دمنه ور ته وُ وِ چه په ويل دِ وُ پوهيدم ليکن زړه کړه چه شکم په هرځاي دك شي په هرڅيز موړ شي اما دانايان چه قربت د بادشاهانو غواړي نه د طمعي د لقمي دپاره بلکه فائده د ملازمت د بادشاهانو نصيب عالي دي چه په هغه وسيله به زړه د دوستانو په لاس راوړي او خاطر به له دښمنانو جمع کړي قطع نظر له لطفَ د دوست يا له قهرَ د دښمن به په غور د ستم ديده‌ګانو وُ رسي او خاطر به د شکسته دلانو په لاس راوړي د هرچا چه همت خپل په درګاه د بادشاهانو د خواب و خورش دپاره وي هغه په مثال د بهايم دي لکه وږي سپي چه په هډوکي خوشحال شي يا خسيسه پيشي چه په نان پاره شوروا آلوده محظوظه شي مقرر دي شير شرزه چه ښکار د سوي په پنجه راوړي چه صيد د ګورخر وُ ويني دا له لاسَ پريږدي په ښکار د ګورخر شي بيت

"همت بلند دار که پیشِ خدا و خلق باشد به قدرِ همت تو اعتبرِ تو"

دانا سړي چه په مرتبه بلنده وُ رسي که هر څو کم زندگاني وِي نيکي څني په دنيا کښِ ياد کار پاتو شي په مثال د گلابو د گل وِي د گلاب گل که عمر کم لري فائده نقشِ نيکي د ده په هر زړه کښِ تر ابده قايم وِي او کم همتَ په مثال د گندهيري د چنار د پاڼري دي که ژوندي وِي هم لا ينفع که مړ وِي هم لعنت در قفا ابيات

"مرواريد گز اصل ز عيب پاك است آرايشِ بخش آب و خاك است

تا هست درست گنجِ کانها است چون خورد شود دواي جانها است

به نکو نامي جاويد نه ميرد هرگز مرد آنست که نامش به نکوئي ببرند"

کليله وُ وِ دا چه بيان دِ کړه وا مي رويده په خپل عقل کښِ سر په گريبان د فکر ننباسه در ته به معلوم شي چه خواهش کول دَ منصبِ عالي له هغه چا نه زيب لري چه پهٔ اصل په نصب بزرگ او بزرگ زاده وِي اما خاصيت د نيکو سيرتي په کښي جمع وِي اصل دِ مور د هغي طائفي نه دي چه په دا کښِ قدم دوړاندِ کيږدوُ ذات او اصل دِ موړ تر دا تير دي چه په موړ به څوك شك گمان د بل څه راوړي دمنه وُ وِ لاس د پايهٔ بزرگي عقل دي او ادب نه اصل دي او نسب هر څوك چه فکر درست او خرد کامل لري ځان به له پايي خسيسي په مُرتبه د شرافت وُ رسوي هرچه بي خردي او بي فکري کا په زر به له مرتبي بلندي په پستي پريوزي له معمورهٔ هستي په ويرانه د نيستيِ کښيوزي بزرگانو ويلي دي لوئي مرتبي ته ختل په ډير محنت او مشقت دي مصراع عروج بر فلكِ سروري به دشواري است او را کوزيدل له لوئي مرتبي په لږ کلفت ميسر شي بيت

"وداني ئِي په ډير غم به څكر خون وَه ويراني ئِي را شهٔ گوره په څه دود"

لکه لوي کاڼري په ډير مشقت د غره و سر ته خيژاوه شي چه د غره له سره پريوزي په آساني کښتَ را دروځي هم پهٔ دا سبب دی چه څو مرد بلند

همت نه وي په دانائي په گران باري موصوف نه وي د بادشاهانو د مصاحبت د لوئي مرتبې هوس دِ نه کا اوکه ئې وُکه زر به رسوا شي هرڅوک چه آسایش غواړي لاس دِ له آبروي پريونځي او همیشه به په نا کامي او په خواري گرفتار وي او چه ئې په محنت او مشقت پسي ملا تړلي وي له خارستانَ د لاربي ملاحظه وي گل د مراد به له چمنَ د بزرگئ په لمن راوړي تا مکر داستان د هغو دوو ملو نه دي آرويدلي چه يو په طلب د محنت د مشقت په مرتبه د بادشاهئ وُ رسیده دویم په سبب د کاهلئ د تن آسانئ په خاورو د خوارئ او د پريشانئ کښيناست کلیله وُ وِ څه رنگ وه هغه حکایت دمنه وُ وِ راوړي دي چه دوه مصاحب وو يو تر بله د یوه نوم سلامت وه د بل غنیمت په سفر د خپل مراد له کورَ وُ وتل په هر دښت او بیابان گرزیدل او غرونه ئې طي کول ناگاه ئې په یوه کوه دامانه گذر وُ شه هغه غر ډير لوي غر وه په لمن کښي ئې یوه چينه وَه اوبه ئې نهایت سړي او خوږي د چيني دوراندِ يو لوي حوض ساز کړي وه او گرداگردِ د حوض لوئي ونې وي سایه داري القصه هغه دوه یاران و هغه منزل پاك ته وُ رسیدل هغه ځاي چه ډير خوش مکان وه په رسم د آسایش په هغه ځاي مقام شول يو زمان ئې آرام وُ کړ پس له آسودگئ پاڅیدل د هر ځاي د هر مکان تماشا بين شول او هر ځاي ته ئې نظر کاوه ناگاه ئې نظر په یوه سپين کاڼي وُ لگیده چه د حوض په کناره پښي وه يو څو سطري پرِ کښلي وي دویو وُ کوت سطري ئې وُ لوستي په مضمون ئې آگاه شول دا ئې کښلي وه اي مسافره ته چه و دي ځاي ته راغلي ستا مهماني مي ښه فکر کړي ده ولي په دا شرط چه ځان و دي تالاب ته واچوي او ویره د ډوبیدو په خاطر وُ نه رسوي په هرشان ځان له تالابَ وکناري ته وُ باسي او مزري د کاڼي د غره په ويخ کښي پښي بې درنگَ ئې په اوږه واخلي او د غره ترسره ئې په یوه دَو وُ رسوي او له هوله د درندگانو خونیو ته وُ نه ویریږي او له اغزيو د خاردارو ونو چه په تا څرخيږي

له ملاحظې د دې کاره پاتو نه شي چه دا لارستا د تلو په سر ؤ رسي گل د مراد به ستا په سرکښېښ شي غنیمت مځ و سلامت ته کړ چه اي یاره را شه چه په پښو د همت دا لار په سر ؤ رسوؤ بیت

"یا به ستا زلفینې ؤ نسم په لاس کښې یا به سردر بانډِ بایلم دوي وینا دي"

بیت

"یا بر مراد بر سر گردون نهیم پاي یا مرد وار بر سرِ همت کنیم سر"

سلامت ؤ وِ اي یاره عزیزه په مجرد لوستل د خط چه نویسنده معلوم نه دي په دا لارکښ چه خطرناکه ده په دا خیال چه بي فایده دي ځان و دي هسي گرداب تهلکي ته آچول نشان د بي خردۍ دي هیڅ عاقل زهر په یقین او تریاك په گمان نه دي خوړلي او هیڅ خرد مند نقد په راحتِ نسیه بدل کړي نه دي غنیمت ؤ وِ اي رفیق دا مقام د خست او د پست همتۍ دي په لارِ خطرناکي تلل او سعي په محنت او مشقت پسي کړل په مرتبه اعلی پسي نشان د دولت او د عزت دي هر چه مرد عالي همت وي د هغه همت په گوښه توښه قرار نه نیسي څو په پایه بلنده ؤ نه رسي گل دَ مقصود بي خاره او گنج د مراد بي ماره په لاس راوړل مشکل دي څما د همت مرغه په جنبش د پر و بال راغي چه یو څل پرواز ؤ کړم په موجب د مضمون د خط ځان لکه نهنگ دي حوض ته واچوم او لکه اژدها مزري د کانړي په اورِه واخلم لکه سیمرغ د کوه قاف و سر ته ئي ؤ رسوم ؤ گورم چه له پردې د غیب څه راز را پیدا شي سلامت ؤ وِ په هغه لار قدم کښېښول چه حد او پایان ئي معلوم نه دي او په هسي دریاب کښي ځان آچول چه نیکي او بدي ښکاره نه ده کار د عاقلانو نه دي هوښیار چه د ننوتو او د وتو په کار پوهیدلي نه دي په هغه کارکښي ځان نه آچوي ابیات

"تا نه کني جاي قدم استوار پاي مه نه در طلبِ هیچ کار
در همهِ کاري که در آئي نخست رخنهٔ بیرون شدنش کن درست"

شاید دا خط په مسخرهګي چا کښلي وي یا دا حوض داسي شان ګرداب وي چه وتل ئښني مشکل وي اوکه ئښني ؤ وزي هغه د کانړي مزري نه وي اوکه وي په غاړه ورنه شي اوکه ورشي د غره ترسره په یوه ساه یوړ نه شي اوکه دا واړه ؤ شي معلوم نه چه نتیجه به ئي څه وي زه په دا کارکښي درسره مل نه یم او تا هم له دي کاره منع کوم غنیمت ؤ وِ پریږده دا خبري چه زه تر دا تیریم او په دا لارتلوني یم او پوهیږم چه ته په دا کارکښي ئما مل نه ئي په دا ځاي ناست اوسه ئما ننداره ګوره په دعا را سره مدد ګار اوسه سلامت ؤ وِ وینم دي چه له دي کاره آوښتوني نه ئي او ترك به د دي نه کړوني ؤ نه کړي زه طاقت د دي نه لیدوني کار نه لرم او تماشا د هغه کار چه موافق دِ ما د طبعي نه دي کول و ما ته دشوار دي ما خپل مصلحت کړي دي چه څوته شروع د دي کارکړي زه په خوا تردا لار د ګریز ؤ نسم تر لیدلُ د دي هسي افعالِ شنیعه نه لیدل بهتر دي سلامت لار د غنیمت پریښوه فرصت ئي غنیمت ؤ شماره هغه غریب ئي تنها پر هغه ځاي پریښ غنیمت په نا امیدي په کنار د حوض راغي ابیات

"در بحرِ محیطِ غوطه خواهم خوردن یا غرق شدن ګهري آوردن
یا در به هردو دست کند خواجه برکنار یا موج روزي افکندش مرده درکنار"

پس په قوت د بخت د زړه په همت په چشمه ننوت په توفیق د خداي تعالي په بله کناره ؤ ووت د کانړي مزري ئي په اوږه واخست په یوه دو په غره ؤ خوت که ئي کتل عظیم ښهر ئي ؤ لیده ناګاه د کانړي مزري هسي سخت آواز ؤ کړ چه په غره په سمه زلزله شوه هغه آواز چه د ښهر خلقو واورېده ډیر عالم مخي ته ورته را ؤ ووت د غنیمت په استقبال متوجه شه غنیمت د الله تعالي و قدرت وته حیران وه چه یو جماعت د بزرګانو د غنیمت په ملازمت مشرف شه او په التماس تمام ئي په آس د دولت سور کړ او په لور د ښهر ئي روان کړ سر او تن د ده ئي په ګلاب په حمام پریوي خلعت ګران

مایه ئې د بادشاهۍ ورواغستاوه بادشاهي ئې د هغه ملك په ده ؤ سپارله غنیمت حقیقت د دې معاملي ؤ پښتیده هغه عالمو ځواب ورکړ چه اولنیو حکماؤ په دا چینه باندې یو طلسم سازکړی دی هرګاه چه حاکم د دې ښهر له دې سرای فاني نه وداع ؤکا الله تعالي یو بخت بلند چه طالع د سردارۍ لري و دې سر چشمې ته راولي هرګاه چه هغه بخت بلند ځوان په بدرګۍ د الله تعالي د عنایت له دې چینې تیر شي مزري په اوږه واخلي او په آرویدل د مزري د آواز ساکنان د ښهر شکر د حق تعالي په ځای راوړي او دې په بزرګۍ او په سرداري قبول کا په سایه د عدالت کښې په آسایش روزګار تیره‌وي دمنه ؤ وې چه دا حکایت مې په دا راوړ چه زده کړې چه نوش او ناز او نعمت بې نیشَ او بې آزارَ محنت میسر نه دی هر څوك چه خیال د سرفرازۍ لري د هر یوه سفله پاي مالي نه څکوي او په زبونه مرتبه قناعت نه کا زه څو مصاحبت د مزري حاصل نه کړم پښې به په فرش د راحت دراز نه کړم کلیله ورته ؤ وې حاصلول د دې کار له کومَ ځایَ فکر دی دمنه ځواب ورکړ په دا وخت چه مزري په غم په اندوه ګرفتار دی خپل ځان به و ده ته عرض کړم ښائي چه په ښو خبرو مصلحت آمیزو خوشحالي بیا مومي او له دې اندیښنې چه لري شي په دا وسیله دانائي ځما خاطر نشانه د ده شي او یو له مقربانو مې کا او مرتبه مې زیاته شي کلیله ؤ وې ته به تقرب د مزري په څه حاصل کړې او که حاصل کړې هرګاه چه تا خدمت د ملوکانو کړې نه دی او ادبونه د ملازمت نه پیژنې په لږ فرصت هر چه حاصل کړې بای به ئې کړې دمنه ؤ وې مرد دانا ته لوی کارونه هیڅ زیان نه لري په دا چه په زړه نموني د عقل په هر کار کښې چه شروع ؤکا له عهدې ئې په وجه احسنه را ؤوزي بل دا چه که دولت یاوري ؤکا هر چه ئې نه زده وې زده ئې‌کا لکه راوړي دي چه یو ځوان وه صورت د فرزانګۍ ئې درله مرتبه ئې د سلطنت حاصله شوه داد او عدالت ئې په جهان شهرت ؤ نیوه یوه له بادشاهانو ورته

فرمان ؤکیښ چه ته په اصل ترکانړ ئي په کار د ترکانړئ ښه پوهیږي تدبیر د مملکت او دا کار د سردارئ دِ له چا نه زده کړئ دي ده خواب ور ته ؤ کیښ چه هغه چا چه دولت و ما ته ارزاني کړ هره دقیقه ئي د جهان دارئ را ته تعلیم کړه ابیات

"خرد چون دفتري تلقین کشاید زمن آن در وجود آید که باید
ز دولت هرکه را روشن شود شمع همه اسبابِ دانائي کند جمع"

کلیله ور ته ؤ وِ په مجرد دِ بادشاهانو د نوازش خرد مندي تعلق نه لري بلکه څو قدیمي نسبت او پسندیده خدمت ور سره جمع نه شي صورت نه نسي تا ته په درگاه د بادشاه هیڅ یو حاصل نه دي له عقلَ لري دي چه ته مقصود بیا مومي دمنه ؤ وِ هر څوک چه په ملازمت د بادشاهانو و ځاي ته رسیدلي دي په یکبارگي نه دي بلکه په واسطه د پسندیده خدمتونو چه کامل عیاري ئي معلومه شوي ده درجه په درجه ئي قدرت موندلي دي اما محنت او مشقت ته ئي غاړه ایښي دي هر څوك چه په دا پنځه صفتَ خدمت د بادشاه کا حسب المدعا به ئي مراد حاصل شي اول بردباري چه لنبه د قهر په اوبو د حلم مړه کا دویم پرهیز کول له هوا هوسَ چه خدمت د بادشاه په آرزو دَ خپل نفسِ مقدم لري دریم حرص چه فریبنده وي او طمع چه فتنه انگیزه ده په عقل چه رهنماي دي غالب کړي نه بویه څلورم بنا د کار په راستي او درستي بویه پنځم حوادث چه مخ ښکاره کا اضطراب او بي قرارئ بایده نه دي الحمدلله چه له دیو صفتونو بي بهرِه نه یم کلیله ؤ وِ ما فرض کړل چه تا قربت د بادشاه حاصل کړ په کوم هنر به منظور د بادشاه د نظر شي دمنه ؤ وِ که دولت د بادشاه د ملازمت حاصل شي پنځه خصلتَ به اختیار کړم اول به خدمت په اخلاص کړم دویم به بي د ده له پیروئ کار نه کړم دریم به د ده کارونه په ښه عبارت ادا کړم څلورم هغه کار چه صلاح د ده د دولت وي هغه به دَ ده په زړه او په سترگو کښي آراسته کړم پنځم که

بادشاه یو کار اختیار کا چه مناسب د ده د دولت نه وي په نرمي او په ملایمت به ئي ور ته عیب ښکاره کړم او کوم یو هنر به بهتر وي له دیو خصلتونو چه ما ؤ وِ هرگاه چه بادشاه هنرونه ځما ؤ ویني ما به په خپل عنایت مرحمت مخصوص کا کلیله ور ته ؤ وِ هسي معلومیږي چه له دي خیالَ جاروتوني نه ئي بارِ په ویرهِ اوسه چه ملازمت د بادشاهانو کار دي خطر ناك او مهم دي دشوار لکه ویلي شوي دي بیت

"چه صحبت د ملوکانو سرهِ کاندِ بویه دا چه ویل نه کا لاندِ باندِ"

ابیات

"همانا که پیوندِ شاه آتش است به آتش در از دور دیدن خوش است

چو شاهان زکینه فروزند چهر به فرزندِ خود بر نه یارند مهر"

حکماؤ ویلي دي دوه کارهِ دانایان نه اختیارهوي صحبت د سلطان ښبل د زهرو په گمان د زړهِ راز ویل با زنان دِانایانو مثال د بادشاهانو د لوي غره سرهِ مثال کړي دي چه په غرهِ کښي اگر چه کان د جواهراتو واورو د ونو میوي وابښه لرگي انواع نعمتونه ډیر دي اما خالي له خطرهِ د پړانگ د مزري د سباع درندهؤ نه دي او هم په غرهِ ختل گران دي او هم آستوگه کول پرِ مشکل او دا ئي هم ویلي دي چه صحبت د بادشاهانو مثال د دریاب د سوداگرئي دي یا ډیر سود په لاس راوړي یا په گرداب کښِ د هلاکت گرفتار شي دمنه ؤ وِ هر چه دِ ؤ وِ از روي نیک خواهي دِ ؤ وِ او زهٔ پوهیږم چه بادشاهان مانند د بلي لنبي دي هر چه و دوي ته نیژدي وي خطر ئي د ځان بیشتر اما هر څوك چه له خطري ویریږي په مرتبه د لوئي نه رسي مقرر دي چه په دوه کارَ کښِ شروع نه بویه مگر په بلندي د همت خدمت د سلطان او سفر د دریاب مقهورول د اعدا او زهٔ ځان پست همت نه گنړم پس څه لره به له ملازمتَ د سلطان ترس کړم کلیله ؤ وِ اراده ستا و ما ته معقوله نه ده اما چه په دا کار ته په جد ئي خداي تعالي دِ ئي مبارك کا

فال دِ نیک اوسه دولت دِ همقرین له کلیله نه رخصت شه په دربار د مزري راغي له لري ځاي تیت شه سلام ئي ؤ کړ مزري له خپلو مصاحبانو پښتنه ؤ کړه چه دا څوك دي څه مطلب لري ؤ ئي وِ زوي د فلانه دي چه دِ تا له ملازمانو قدیمو نه وه مزري ؤ وِ پلار ئي پیژنم نور ئي ځان ته ؤ باله ور ته ئي ؤ وِ چرته اوسي دمنه ور ته ؤ وِ اګرچه یو څو ورځي له آستانِ جنت نشان محروم وم اوس په دستور د پلار اراده مي د ملازمت د درګاه عالم پناه په خاطر آرزو وَه میسره شوه او دا خدمتګاري د حضرت سر مایهٔ سعادت او پیرایهٔ بخت ګنړم اراده مي ده دا چه بقیة العمر تر قدمِ مبارك لاندِ او متوصل په رکاب د سعادت صرف کړم او په هر دم منتظر اوسم چه یو لوی خدمت بادشاهي مخ ښکاره کا او زه په هغه خدمتګاري کښِ په سعي د خرد ګوي د مراد تر مناري د چوګان بازي ؤ باسم او رضامندي د بادشاهِ زمان حاصله کړم مزري ؤ وِ چه دا څه خیالِ محال دي چه تا په خاطر مصمم کړي دي دِ تا اصل او بنیاد خود معلوم بیت

"انجیر فروش را چه بهتر انجیر فروشي اي برادر"

دِ تا اصل چه کوڅه ګرد واقع شوي دي او همیشه توتئي د درویزي په لاس نظر دي د باغبانانو په جوار خواري دي چه یو سک په کلي کښي چخاچخ ؤ کا رِغ د باغبان واروي وراندِ تښتي ورستو ګوري د دي هسي خلق په درګاه د بادشاهانو څه مناسبت لري اوکار و بار د بادشاهت چه وزیرانو او عاقلانو ته د سرکار والا نوبت نه رسي او د هسي ګدا طبعانو او کوڅه ګردو ته څه نسبت د خدمت دمنه په عرض ؤ رسول هرچه په زبان صدق ترجمان بیان شول عین کرامات دي لیکن دا درګاه د بادشاهانو لکه ویلي شوي دي بیت

"په لښکر کښِ دِ هم ساد وِي هم دِ غله وِي کله غښي په کار شي کله ګزونَ"

مصراع "اندرین باغ چو طاؤس به کار است مګس"

بعضي کارونه د بادشاهئي دي چه له لویو سریو سر به راهیرِي بعضي هسي

هم دي چه تعلق په خوردانو لري په هاتي کوتونه ماتیږي غوښت او کچلي په چرګو په کوترو وا وښتي شي د ستني کار له ستني شي د نیزي کار د نیزي شي یو کارد توري دي یو د قلم تراش مطلب دا چه خانه زاد چه دا په عرض ؤ رسول په دا کارخانهٔ بادشاهي کښِ لوي کم لږ او ډیر همیشه په کار وي وچ لرګي که په لارکښِ پروت وي که په خلال د غاښ یا په خاربښتول د غوږ په کار نه شي د سولو په کار خو دي ځان دارکه هر څوکم او زبون وي ترجماد نه خوکم نهِ وي مزري د ده په خوږو په ښایسته ؤ خبرو حیران پاتو شه په خاطر ئي راغله چه که هر څو بد اصل ضعیف جثه دي اما لایق د تربیت او د خدمت دي مخ ئي خپلو مصاحبانو ته را ؤ جاریوست دا ئي ؤ وِ چه جوهر دَ عقل عجب بي بها دي چه هر څو له بد اصلَ کم نام سرهِ مل شي په مرتبه ئي د بزرګيِ ؤ رسوي لکه لنبه د اورکه هر څو ئي مړه وونيِ کوزه وي یو ځل خو سر پورته کا نور مزري ؤ وِ چه دا خردمند ځوان ځما له درګاهَ او له سلامَ مه منع کوئي او نوم د ده ځما په ملازمانو کښي ؤ کښئي دمنه خوشحال شه ؤ پوهیده چه خبرهِ ځما قبولِ درګاه شوه بیت

''دو بامداد گر آید کسي به خدمتِ شاه سیوم هر آینه در وي کند په لطف نگاه''

دمنه ملا د خدمتګاريِ تینګه ؤ تړله او همیشه به حاضر په خدمت کښي وه یو دم به د بادشاه له خدمتَ غافل نه وه آستوګه ئي د کور ترکه کړه شپه په چوکئِ او ورځ په ښکار په دیوان حاضروهِ په عقل په هنر به ئي خدمت د بادشاه کاوه په وسیله د راست کارئِ او راست ګفتارئِ ورځ په ورځ په ترقي کښي د مرتبي وه منظور نظر د بادشاه کیده یوه ورځ چه مزري په جالهٔ خوښ وقتي کښِ ناست وه په عرض ئي ؤ رسول چه ملازمانو ته د بادشاه لازم دي چه کار و بار د بادشاهئِ هر چه دورانده ور ته پیښ شي په اندازه د عقل خپل دِ په هغه فکر ؤ کا چه صلاح د دولت او بهبود د بادشاه په کښي وي په عرض دِ ؤ رسوي چه نیک خواهي او میزان د عقل د دیو بادشاه

ته معلوم شي او د دویو له دولت خواهۍ او له نیک اندیشۍ بادشاه محظوظ او خوشحال شي او خدمتګاران هم په واسطه د دي خدمت په نوازش خسروانه سر بلند شي دانه څو په زمکه کښ پټه وي هیڅوک په پرورش د دي کوښښ نه کا هرګاه چه له زمکي سر هسك کا جهان په سرسبزي رنګین او شاداب کا پیرایه د خلعتِ نوروزي واغندي زیارت ګاه د خواص و عوام شي نا چار ښتن ئي په محافظت او په تربیت شي او اصل د کارونو او سر د دولتونو تربیت د بادشاهانو دي هر څوك چه وي له خردمندانو نه په نظر د التفات او تربیت سرفرازکا په اندازه د عنایت او د تربیت بادشاه فائده د خدمتګارۍ له دویو آخلي مزري وُ و تربیت د خردمندانو څه رنګ کړي بویه او د دویو له خدمت څه رنګ فائده آخستي بویه دمنه وُ و بادشاه ته بویه چه نظر په ملازمانو په قدر د دویو د عقل او د دویو د دانش کا نه په هنرمندي د پلارونو او په روش کښ د څوان مردۍ بي هنران او کم خردان اګرچه په وسیله د هنرمندۍ د خردمندۍ د پلارونو روتۍ ته وُ رسي اما په مرتبه د لوئۍ نه رسي بیت

"ګردِ نام پدر چه مي ګردي پدري خویش شو اګر مردي"

حکماؤ ویلي دي چه آدمي زاد واړه یو اصل او یو وجود دي بیت

"بني آدم اعضاي یکدیګرند که در آفرینش زیك ګوهرند"

بادشاه ته نه بویه چه نظر د دیو په خویش په بیګانه لري یا نظر په اصل په نسب په پلار او مور کا خوبي ذات او پسندیده ګي صفات دِ ملاحظه لري چه په عقل په دانش په راستي په درستي موصوف وي هم په هغه دِ مهرباني کا لکه مار او لږم له سریو هم خانه دي په سبب د ضرر چه و خلقو ته رسي په کشتن او زدن د دویو بي صرفي کوښښ کا باز او چیته چه جانورانِ درنده دي او وحشي صفت په څو تردد په څو تلاښ له صحرا نیول شي او څو رنځ او محنت د دویو په تربیت وُ ښکاوه شي چه هغه نفعه ځني آخسته

شي پس بایده دي بادښاهانو ته چه مردان عاقل په هر ملك په هر دیار چه وي طلب کوي او په توجه بادشاهي دِ ئي مخصوص کا چه رونق د بادشاهئ په ښو ځوانانو دي هغه څوك چه په کارونو کښي کاهل او له هنرونو نه غافل وي هغه په دانایانو باندِ نه لویه‌وي چه منصب د خردمندانو بي خردانو ته ورکول هسي شان دي چه د سر ځیره په پښو تړل او د پښو پړتوك په سر تړل هر بادشاه چه جلب د اختیار په لاس د نادانانو ورکا او دانایان له کارونو د مملکت بي دخله شي کلي خللونه په هغه ملك پیدا شي چه دمنه له خبرو فارغ شه خرد مندي او کار آگاهي ئي معلومه شوه په لږ مدت کښي مزري د خپلو خاصانو په شمار کړ هر کار ئي د ده په صلاح کاوه کلي او جزوي مهمات ئي د ده په ښه تدبیر کړل دمنه یوه ورځ قابو بیا موند په خلوت کښي ئي په عرض وُ رسول چه ډیر مدت وُ شه چه بادشاه قرار په ځاي ناست دي د ښکار خوښي مېل په مهماتو ملکي نه کا که په سبب ئي وُ پوهیږم چه په هغه باب حق د نمك په ځاي راوړم مزري خپل راز تر پټاوه چه په دا مینځ کښِ شتربه یو هول ناك آواز وُ کړ چه د هوش جلب د مزري له لاسَ پریووت پس له ډیرَ ساعتَ چه په حال خود راغي راز د زړه ئي و دمنه ته پرانت وُ ئي وِ سبب د وحشت څما دا آواز دي نه پوهیږم چه دا څه آواز دي اما گمان مي شي چه آواز د ده دلیل په هیبت او صولت د ده دي په زور په قوت لکه آواز هومبره ئي تن توش که حال دا هسي وي آستوګه د دي ځاي مناسبه نه ده دمنه وُ وِ د بادشاه غیر له دي آوازه سهمناکه بل هم څه په خاطر رسي چه سبب د ملال وي وُ ئي وِ نه دمنه وُ وِ سکه په آواز خالي وطن خپل پریښول نه ښائي بادشاه لکه غر ثابت قدم بویه په هر باد دِ حرکت نه کا ابیات

"خلاصي خواهي از سیلاب اندوه قدم بر جاي باید بود چون کوه
گر از هر باد چون بیدي به لرزي اگر کوهي شوي گاهي نه یرزي"

بزرګانو ویلي دي چه په هر آواز بلند په جثه قوي غلطي نه بویه ډیر دي چه آواز ئې بلند وي جثه ئې حقیره ډیر دي چه په جثه قوي هیکل وي دل ګرده ئې نه وي مثل "هرکه را دل قوي بازو قوي" هر څوک چه له قوي جثه او له آواز بلنده واهمه کا هغو ته به هغه ؤ رسي لکه هغي روباه ته ؤ رسیدل مزري ؤ وِ څه رنګ ؤه دا حکایت

دمنه ؤ وِ چه یوه تروږۍ په ځنګل کښي په بوي د طعمې هر طرف جویانه او پویانه وَه نظر ئې په یوه مرغِ خانګي ؤ لګیده چه تر وني لاندِ مشوکه په زمکه وهله دا ور ته په څو شوه چه ښکار ئې کا په هغه ونه پوري یو طبلِ باز آویزانده وه او چه د هغي وني څانګه پر لګیده د طبلِ باز نه به آواز سهمګین خوت تروږۍ فکر ؤ کړ چه دا آواز قوي جثه بهتر تر چرګ او د چرګ تر ښکار دي شاید دا په غوښه څورب او په طعمه زیات وي د چرګ له څو پاخیده په طبل ؤ زغاسته چرګ په دا واقعه خبردار شه مخ ئې په ګریز ؤ نیوه له تهلکي د تروږۍ خلاص شه دا په صل محنتَ په ونه ؤ خته طبلِ باز ئې څیري کړ بي پوستَ ئې نور هیڅ په کښِ بیا نه مونده اور ئې د پښیمانۍ و اندرون ته پریوت نم ئې د زړه د کباب تر سترګو جاري شه ؤ ئې وِ دریغَ چه له اصلَ کارَ چه بهبود وه په جثه نا بوده باندِ غلطه شوم ابیات

"دهل در فغان است دایم ولي چه حاصل که اندر میان هیچ نیست
ګرت دانشي هست معني طلب . به صورت مه شو غره کان هیچ نیست"

بویه چه بادشاه له دي آوازَ اندیښنه و خاطر ته نه رسوي که حکم شي زه به ورشم حال به ئې تحقیق کړم په عرض به ئې ؤ رسوم مزري خبره د دمنه منظوره کړه دمنه ئې په تحقیق د احوال رخصت کړ چه یو زمان تیر شه مزري اندیښنه ؤ کړه له آستولو د دمنه پښیمان شه له ځانَ سره ئې ؤ وِ لویه خطا مي ؤ کړه بي فکرَ کارَ را څخه ؤ شه چه بزرګانو ویلي دي چه بادشاه دِ په لس ګروهَ اعتماد نه کا خپل راز دِ ور ته نه وائي اول هغه څوک چه له بادشاه ئې

بي گناهَ آزار موندلي وي او مدت د رنځ ئي دراز شوي وي دویم هغه څوک چه مال او حرمت د ده په ملازمت د بادشاه ورک شوي وي دریم هغه څوک چه له خپلَ منصبَ معزول شوي وي او امید د عمل دارئي نه لري څلورم هغه سړي چه طبیعت ئي خواهان د فتني د شور انگیزئي وي په ایمني په آرام ئي خوي مایل نه وي پنځم هغه گنه گار چه یارانو ئي شربت د عفوي څښلي وي او ده تلخي د عقوبت څکولي وي شپږم هغه گنه گار چه تر نورو گنهگارو و ده ته ډیر آزار رسیدلي وي اووم هغه چه خدمت ئي ډیر کړي وي او نتیجه ئي لږ موندلي وي او نورو خدمت کم کړي وي رعایت زیات ور سره شوي وي اتم هغه څوک چه په خوا ئي دښمني کړي وي او له کم قوتئي بي دست و پاي شوي وي پس له صلحِ ملازمِ درگاه شوي وي بیت

"دشمن که به عذر شد زبانش ایمن مه شو وز درمه رانش"

نهم هغه سړي چه د بادشاه په زیان کښِ خپله فائدهویني لسم هغه څوک چه موافق د خپل خواهش قبولیت خپل په درگاه سلطاني نه مومي او نژدي کیدل و غلیم ته د بادشاه خپل بهبود او بزرگي گڼړي اصلِ کار هسي دي چه د چا دیانت او مروت او سړي توب بارها آزمیلي وي خپل راز دِ ور ته نه وائي پس پخوا تر آزمینتَ آستول د دمنه په طرف د غلیم له عقلَ لري دي دمنه هوښیار چرگ دي ډیر مدت شوي دي چه څما له درگاهَ رنځور مهجور دي مه بادا چري په زړه ئي د آزار خار خرخیدلي وي په وخت د فرصت خیانت وُ نه کا فتنه را ته پیدا نه کا مزري په دا اندیښنه کښي کله پاشیده کله کښیناست سترگي ئي دمنه ته ختلي وي ناگاهَ ئي دمنه وُ لیده څخو زړه ئي په قرار شه دمنه راغي په ادب ئي سلام وُ کړ مزري ور ته وُ وِ چه څه دِ وُ کړه دمنه وُ وِ اي بادشاهَ عالم پناهَ هغه آواز چه په گوشِ مبارك رسیدلي وه د غوایه وه چه بي خوراكَ او خوبَ بل کار نه لري مزري وُ وِ اندازه ئي د قوت څه ده دمنه وُ وِ ما په ده کښِ څه دبدبه وُ نه لیده

چه د قوت اتکل مي ئې کړې وي د بزرګئ د بلند همتئ اثر مي په کښي بیا نه مونده چه پوهیدلي وَي څه خیال په سرکښي لري هرڅو سلوكِ برادرانه بلکه غالبانه خبري مي ور سره وُ کړي د ده مي هیڅ هیبت او صلابت وُ نه لیده مزري وُ وِ په یوه پیژندګلوي فریفته نه بویه او هغه نښان د ناتوانئ نه ګڼړلي بویه

ابیات

"ز بادي کز کلاه از سر شود دور گیاه آسوده باشد سرو رنجور
چو کوه از زلزله گردد به دو نیم ز افتادن بلندان را بود بیم"

باد تند ورو بوټيو ته زیان نه رسوي مګر لوئي ونې له بیخه لوړوي بزرګان هغه دي چه کم غلیم لوي ګڼړي که هرڅو ضعیف وِي زور قوت ئې ترڅانَ کم نه ګڼړي

بیت

"مه شمار عدو خورد را خورد که وي از ره خود چنین توان برد"

د باښې نظر د چتي په لګئ دي د شاه باز نظر د میور په خوړنګ دمنه وُ وِ بادشاه دِ له دي څیزَ دا هونبره وسواس په خاطر نه ګرزوي چه ما په آئینه کښِ د ده د وچولي واړه حقیقت د ده د اندرون معائینه کړ قهر مهر د ده د وروځیو تر مینځ وینم مصراع "د جبین تخته ئې یښې و لوستن ته"

ځای د وسواس هیڅ نه شته که د بادشاه باور څما په دا ویل نه شي حکم دِ کا چه دي راولم په ملازمانو د درګاه ئې داخل کړم چه زین پوښ د هوادارئ او د بندګئ په اوږه کښیږدي او په ښو خدمتونو رضامندي د بادشاه حاصله کا مزري په دا خبره خوشحال شه او د ده په راوستو ئې اشارت وُ کړ دمنه شتربه وته وُ رغي په آرت زړه په ویلي وچولي په روانه خبره بې اړکیدو ئې خبره آغازه کړه شتربه ئې وُ پښتیده چه له کومَ راغلي ئې دا ځای آستوګه په څه سبب ده او راتلل دِ په څه سبب وه شتربه صورتِ حال په راستي او په درستي ورته عیان او بیان کړ دمنه له خپلي فهمیدهګئ شکرانه په ځای راوړه چه لکه څما ګمان وه ګمان باطل نه شه هرچه مي په عرض

دِ مزري رسولي وه هم هغه شان معلوم شول شتربه ته ئي وُ وِ زه مزري راستولي يم چه ورشه دا شخص دا هونبره مدت وُ شه چه په دا مکان کښي د ده آواز آروم په ملازمت ځما ولي نه راځي يا له ما خبر نه دي يا له ما ملاحظه لري دلاسا ئي کړه له ما ئي خبر کړه دِ ما په ملازمت ئي راوله اوس راغلم ته مي خبر کړي که را سره ځي شرف اندوز ملازمت به شي رنګارنګ فائدي به له ملازمت د مزري حاصلي کړي او که نه ځي ځواب را کړه مصراع "بر رسولان بلاغ باشد و بس"

شتربه وُ پښتيده چه مزري څه دي او څوک دي دمنه ورته بيان د مزري د خوف او د رجا د بيم او د اميد واړه چه وه مفصل وُ کړ مجمل دا چه بادشاه د دي ځنګل دي او جمله بهايم او سباع د ده د دولت تر سيوري لاندِ په امن په امان روزګار کا بعضي چه د ده هم خوانِ سفره وي هغه بهره مند د ده د خوان يغمان وي او هر چه رعايا او وښخور د دي ځنګل دي هغه په پناه کښي د ده له لاسَ د ظالمانو په امان دي او بهره مند د ده له عدالتَ مصراع "لشکري از دولتُ شهري زداد"

شتربه هم له آرويدو د دي ګفتار کښيني د فکر په ګرداب کښي د بيم او اميد وُ ګرزوله ورته ئي وُ وِ دا چه تا بيان وُ کړ معلوم شول اما دا مقدمه ډيره مشکله را ته ښکاره شوه په ميان د مورِد اصل او د شير شرزه دښمني ذاتي ده چه موږ قوم اسباب د باورچي خاني د ده د قوم وي اما په هر حال چه تقريب د آستوګي په دا ملک واقع شوي دي او ستا په ذات کښِ هم چهره د نيک نيتي او د بزرګي ليده شي د نيکي د بدي عهده ځما که پخپله ذمه آخلي لاچار به درسره دروںم دمنه له هرَ لوريَ د ده د نيکي د بدي متعهد شه او قسمونه ئي مغلظه په ميان راوړل شتربه په ظاهر شادان اُو په باطن پريشان ور سرهِ روان شه لکه پښتانه وائي پيښ شوه خويښ شوه هرګاه چه په درګاهِ سلاطين و سجده ګاه د مزري داخل شول دمنه را

وراندي شه مزري ئي له راتلو د شتربه آگاه کړ مزري سجده د شکر په درګاهِ باري تعالي په ځاي راوړه حکم ئي د شتربه د ننه یستو و ملازمت ته وُکړ شتربه په حضور راغي لوازم د بندګي او د سر افکندګيِ ئي په ځاي راوړل مزري لکه رُوش د بزرګانو دي په لطف په مهرباني د احوال پښتنه وُکړه وُ ئي وِ په دا ملك کله راغلي ئي سبب د راتلو دِ څه دي شتربه تمامي خپله قصه په عرض وُ رسوله مزري ورته وُ وِ ډیر ښه وُ شول چه په دا ملك راغلي په آرام په جمع خاطر سره په دا ملك کښِ څما تر سیوره لاندِ کاه چرائي کوه او له هیچا ملاحظه په خاطر مه راوړه بیت

"درین مملکت گر به گرِدي بسي   زما در شکایت نه بیني کسي"

بیت

"در اول به کاري که نیت کنم   نظر در صلاحِ رعیت کنم"

شتربه ډیره دعا او ثنا د مزري وُ ویله ملا ئي د خدمتکاريِ مضبوطه وُ تړله مزري پهِ دانائي او په تدبیر پخته د دمنه آفرین وُکړ چه لکه ویل هسي وه او لکه ئي کړل هسي وُ شول مرتبه ئي دِ توصل او د بزرګيِ په درګاه د مزري روز افزونه شوه او شتربه له ملازمانو د درګاه ورځ په ورځ ئي د اخلاص له مخَ خدمتکاريِ او بندګي په ځاي راوړله مزري ورځ په ورځ تخته د دانائِي او د فهمیده‌ګيِ او خدمتکاريِ د ده لیدله تربیت او رعایت ئي د ده په باب کاوه او په دا میان کښِ به ئي جاسوسي د احوال د ده کوله د آزمایښت په ځایونو کښي آزمیبه هرګاه چه عقل او اخلاص ئي د ده خاطر نشین شه پوهیده چه په دا کارونو کښي دي مستثني دي نور ملازمان ئي برابر نه دي دا خوي د بادشاهانو دي چه نظر په نوي په زاړه په جدید په قدیم نه لري هر څوك چه کارګذار راست ګفتار درست کردار وُ ویني هم هغه محلِ اعتماد او محرمِ رازکا او پایه ئي تر واړو هسکه کا پس له ډیرَ آزمایښتَ ئي مرتبه د ده هسکه کړه په ارکانِ دولت کښِ ئي له مقربانو مقرر کړ او کارو بارئي د ملك بي د ده له صلاحَ نهِ کاوه

سر آمد ئي د خپلو مصلحتيانو نشه دمنه په ليدل د دي مرتبه د شتربه چه په مرتبي ئي اعلي ؤ رسيده اور ئي د حسد په لمن د صبر ؤ لګيده شعله تر ګريبانه چه في الحقيقت دست ګرفته د شتربه وه ؤ رسيده بلکه خرمن ئي د خردمندئ تمامي ؤ سه سراسيمه او پريشان په تال د فکرئي د شتربه د کار زنګل بيت

"دمنه د فکر په تال زانګي خلقَ ورو ئي چري پريوزي"

هرګاه چه دا همه مهمات واړه په خلاف د کليله د صلاح ده دوراندِ کړي وه نه ئي کليله ته ژبه د ويلو وَه نه دا راز د ده نه د ساتلو وه بيت

"نه روي رفتن و نه پاي باز ګرديدن چو خنده بر لب ماتم رسيده حيرانم"

يوه ورځ له ډيرَ سوخته د حسد ليوني شه څڅک په خوله اوښکي په سترګو کليله ته راغي ور ته ئي ؤ وِ چه وروره خدمتونه مي لوي لوي د مزري په ځاي راوړل شتربه مي ور ته را ووست انديښنه مي د ده له زړه لري کړه اوس کار و بار د دربار واړه په ده شه زه له خپلي مرتبي پريوتم څه لار را ته ؤ ښيه او څه علاج ؤ کړه کليله ځواب ورکړ چه اِي جانِ منَ د خود کرده څه تدبير دي خپله پښه دِ په خپله په تبر ؤ وهله د فتني په غبار دِ په خپله ځان آلوده کړ په تا هغه ؤ شول لکه په يوه زاهد شوي وه دمنه ور ته ؤ و هغه حکايت څه رنګ وه کليله ور ته ؤ و راوړي ئي دي چه يوه بادشاه يوه زاهد ته قيمت بها خلعت ورکړ يو غل ور پسي په غلا ډير ؤ ګرزيده په لاس ئي کښي نه ووت نور د هغه زاهد مريد شه خدمت ئي د زاهد واخست د درويشئ په ادبونو کښِ ئي کوښښ کاوه په لږ مدت کښي محرمِ اسرار شه يوه شپه ئي هغه خلعت واخست نورلاړ چه زاهد خبر شه نه جامه وه نه مريد وه نور زاهد ور پسي روان شه په لارئي ؤ ليدل چه دوه نخچيره يو تر بله په جنګ شئ وو يو تر بله ئي جنګ کاوه لکه دوه مزري په دار وګير سره اړاند وو ويني ئي له سره له ځئ توئيدي ناګاه ترورئي راغله د ديو ويني ئي څټلي په حرص

ور ته نیژدي کیده ناګاه د یوه نخچیر ښکرئي په کیده ساز نس ئي خري شه
زاهد له دِ صورتَ پند واخست ورانډِ روان شه شپي ته یوه ښهر ته وُ رسیده
ورد ښهر پوري وه هر لورِ ته ئي جست و جو تکاپوي په طلب د لارِ کاوه ناګاه
یوه بوډئي له سرګردانئي د زاهد خبرداره شوه خپل کور ته ئي وُ باله زاهد طلب
د بوډئي غنیمت وُګانړه کور ته ئي وُ رغي په ګوښه د هغه کور په خپلِ عبادت
مشغولِ شه قضاءً هغي ښځي چه په بد کاري او په نا هنجاري مشهوره او
معروفه د عالم وَه وینځي به ئي د بد کارئي دپاره واخستي د هغو په حاصل به
ئي اوقات ګذاري کوله یوه په هغو کښِ چه په حسن او په خوبي یګانه د روزګار
وَه دل بستګي د زړه ئي په یوه شخص چه له مجمع دِ اوباشو نه وه پیدا کړي
وَه یو تر بله ئي ګرم یاري چلوله نه هغي وینځي په بل سړي میل د زړه کاوه او
نه به هغه ځوان بل ته پریښوه هغه بوډئي چه میړمن د دي وَه د دیو له
دي کارَ په تنګ رسیدلي وَه هر چه په وزغ به څه زر د دي د حاصل وه د
بوډئي په لاس را نه غله په وا ویلا په داد فریاد به وَه همت ئي درست د دي
ځوان په مرګ ګمارلي وه لکه پیشو و موږک ته په څو ناسته وي هغه شپه
چه زاهد د دي و کور ته نیووت هغه شپه هغي ښځي تدبیر د هغه ځوان د
مرګ کړي وه ډیر شراب ئي عاشق او معشوق ته ورکړه چه دیو دواړه ئي بي
خودَ کړه د کور عالم ئي په خواب غفلت اوده شه بوډئي فرصت غنیمت وُ
شماره څځو زهر هلاهل په ماشوره کښي کښیښول د ماشوړي سر ئي د ځوان په
پوزه ننیوست هغه سر ئي بوډئي په خوله کښِ وُ نیوه چه دا به ورپوکړم اثر
به د زهرو د ځوان و دماغ ته وُ رسي ناګاه ځوان له تندئي د زهرو نړي وُ کړ
په قوت د نړي زهرواړه د بوډئي په حلق ننوتل په ځاي سړه ککړه شوه زاهد
په لیدلُ د دي حالتِ پر ملالت آزرده شه سترګي ئي صبا ته وُختي چه یو
ځلَ صبا شولي زه له دي کورَ وُ وتي د صبا بانګ د ملا ویل د زاهد له هغه
کورَوتل په جست و جو د بل ځاي شه یوکفش ګر چه له مریدانو د زاهد

وه په لار ئي وُ لیده خپل کور ته ئي بوت لازمه ئي د مهمانداریِ په ځاي راوړه او خود په کار پسي له کورَ وُ ووت ښځه د خمیار په یوه بل مینه وَه چه کور ئي خالي وُ لیده د نائي ښځه چه ئي ریباره تر میانَ وَه عاشقِ فاسق ته ورستوله چه نن شپه له اغیارَ خالي یارِ نه کا معطلي نه وسواس د همسایه شته نه څوك شته د چغلي زلمي په تمام آرزو په جوش د زړه بورجل ګاه ته چه مراد د دي له کورَ دي ور روان شه په ورَ ور تله د ده په ورَ راتله د خمیار دواړه شول سره دو چارْ خمیار هم په دا کار پخوا تردا متشکي وه چه په دا هسي باریك ځاي وُ لیده یقین د فساد ئي په کاله متیقن شه کور ته ننووت ښځه ئي ډیره وُ وهله په ستني پوري ئي مضبوطه وُ تړله سر ئي په بالش د آسائش کښیښ اوده شه زاهد په اندیښنه چه دا بي ګناهَ وهل د ښځي او تړل له آدمیتَ لري دي بویه چه شفاعت مي ئي کړي وي ناګاه ښځه د حجام راغله دي تړلي ته ئي وُ وِ چه اي خوري هغه ځوان به ترکومَ په انتظار کښِ ناست لري دي په غمجن آواز سره و ځان ته وُ بلله او له خپلَ احوالَ ئي خبرداره کړه ور ته ئي وُ وِ چه اي غمخواري خوري شاید دي بي مهرَمیره مي دي په ورَ وُ لیده لکه لیوني په ورَرا ننووت زه ئي ډیره وُ وهلم اوس ئي په ستني پوري تړلي یم که په موږو دواړو مینه ئي ما پرانزه ځان د ما په ځاي وُ تړه چه زه ورشم تسکین د شعلهٔ محبت د هغه یارجاني وُ کړم را به شم تا به پرانزم ښځه د حجام له کمالي مهربانئي په پرانتل د دي په خپل تړل راضي شوه دا وُ وته زاهد په خپل زړه کښِ پښیمان شکر وُ کاړه چه شفاعت مي ئي وُ نه کړ په دا میان کښِ چمیار ویښ شه ښځي ته ئي ږغ وُ کړ ښځي د حجام جواب نه ورکاوه چه مه بادا په آواز پوري مي وُ پیژني هر څو چه ده ناري کړي ځواب نه وه اور د قهر په خمیارغالب شه رنبي ئي را واخست پوزه ئي د دي پري کړه په لاس ئي ورکړه چه دا تحفه و خپل عاشق ته یوسه ښځي دِ حجام له شامتَ د فکرِ خام د ځان له ویري

پریکول د پوزي دولت غنیمت وُ گانړه آه ئي وُ نه کیښ له خپلَ ځانَ سره
ئي فکر کاوه چه گناه نور چا وُ کړه سزا نور چا بیا مونده خپل عیب تیره دي نه
پوهیده چه سر د گنهگارو زه یم چه ښځیاره بیا راغله خپله خورئي پوز پري کړي
وُ لیده دل گیره شوه عذرئي ډیر وُ کړ دا ئي پرانته ځان ئي په ستني پوري وُ تاړه
ښځه د حجام پوزه په لاس مخ وکور ته روانه شوه په تمامه حیراني کله په خندا
کله په ژړا زاهد دا عجائبات واره لیده حیران حیران کیده چه دا څه معاملي
له پردهٔ غیب را ته څرگندیږي ناگاه ښځیاري لاس په دعا پورته کړل او په عجز
په زاري ئي خواست آغاز کړ چه آلهي ښښتنَ زه په هغه گناه ته پوهیږي چه بي
گناهَ یم دا هسي آزار او شرمندگي ئي را وُ رسوله ته عادل ئي که ستم کړ دا ښځا
پوزه چه نور ښځا د مخ دي بیا ئي به حال خود کړه ښښتن ئي په دا آواز بیدار
شه رږغ ئي کړ چه اي نا بکاري تبه کاري دا څه آرزو دي چه ئي لري دعا د
بد کارانو په درگاهِ آلهي مقبوله نه ده ښځي ور ته رږغ وُ کړ چه اي ظالمَ
ستمکارَ د فاني دنیا د پاره نه دِ ښځا حق وُ پیژانده نه دِ خپلي لوئي ته وُ
کتل نه دِ یوي ورځي آشنائيِ دا هسي بد ترین کار دِ په ما وُ کړ پاڅه قدرت
د آلهي تماشا وُ کړه چه خود خداوند تعالي په پاکي ښځا گواهي لي چه تا
پري کړي پوزه مي په څه قدرت سره پیونده شوه او زه ئي د خلقو له
تهمتَ له رسوائيِ خلاصه کړم مرد ساده دل پاځیده ډیوه ئي بله کړه ښځي
ته راغي پوزه ئي د دي وُ لیده د دي پوزه پري کړي نه وَه چه جراحت او
پرهارئي وُ لیدي دا ئي له بندَ خلاصه کړه تر پښو ئي پریووت په عذر د خپل
گناه ور سر شه چه که صل کوسري مي په سروهي عذر مي نه شته اوس مرید
د تا د پاك دامنئي شوم نور به هرگز په کار کښي تلوار هم نه کړم او ستا له
حکمَ به قدم بیرون نه کښیږدم د حجام ښځه چه پوزه په لاس وکور ته وُ
رغله په فکر شوه چه څه کړي بویه صبا به دوستان همسایکان ما گوري څه
عذر ور ته کوم او خپل ښښتن ته څه وُ وایم په دا میان کښي حجام له

خوبَ ويښ شه ور ته ئي وُ وِ چه کسبت را کړه چه د فلانه کرَ ځم ښځي ئي ورو ځواب ور کړ يوه چاړه پاکي ئي په لاس ور کړه حجام چه په فرمان برداري کښي ئي تاخير وُ شه يواځي چاړه ئي په لاس ورکړه په تياره کښِ ئي چاړه بيا ور وُ غرزوله دي زيږئ وُ کړي چه پوزه مي دِ پري کړه حجام حيران شه خويښان همسايګان پرِ تول شول ښځه ئي په وينو لړلي پوزه پري کړي وُ ليده هر لور ئي په حجام ملامت وُ شه دي بي چارَ حيران او پريشان په ځاي ولاړ نه ئي مخ د اقرار نه ژبه د انکار درله چه ورځ شوه خويښان د حجام د ښځي جمع شول دي ئي محکمي ته د عدالت روان کړ زاهد په آشنائي د هغه حاکم ورغلي ور سخه ناست وه.حاکم له حجامَ پښتنه وُ کړه چه دا دِ ولي بي ګناهَ د دي پوزه پري کړه دا هسي ناشائسته کار هم څوک کا حجام له تقريرَ د ځوابِ دل پذير عاجز پاتو شه حاکم وُ فرمايل چه د حجام پوزه هم پري کانړئ زاهد پاځيده ور ته ئي وُ وِ په دا کارکښِ تحمل بويه او سترګي د فراست غړولي بويه په دا چه جامه د ما غله پته کړي نه وَه ترورړئ نخچيرو وژلي نه وَه او بوډئ په زهرو هلاهلو مړه نه وَه او خمسيار پوزه د حجام د ښځي پري کړي نه وَه دا همه بلا ما په سترګو وُ ليدي او د ما دوړاندِ تيري شوي حاکم تر خپلَ حکمَ تير شه مخ ئي زاهد ته راوړ چه دا مجمل مفصل ويلي بويه زاهد هر چه ليدلي وه له اولَ تر آخرَ واړه ئي ورته وُ وِ او دا ئي هم وُ وِ که ما هوس د مريدانو د نيوُ نه کولي په خوړو خبرو د غله نه غليدي چه په وقت د فرصت ئي خما جامه پټولي او ترورړئ حرص نه کړي خوله ئي په خونخواري نه ککړه ولي چا به د دي ګيده خيرله بوډئ مکاري که قصد د وژلو د هغه ځوان غافل نه کولي ځان شيرين به ئي په باد فنا نه ورکاوه ښځي د حجام که مدد ګاري په بد کاري د بد کارانو سره نه کړي پوزه به ئي د حيا په لاس د بي حيائي وکور ته نه وړه بيت

"چه له بدانو سره مقيم شي که بيم ئي نه وي هغه په بيم شي"

حاکم له حقیقتہ د کار آگه شه هر یو ئې له دیو مناسب د پاداشِ عمل په جزا د سیاست ؤ رساوه هر څوک چه بد کا طمع دِ د نیکئ نه لري هر څوک چه کني غواړي مړه‌غوني دِ نه کري نکته "که کشت که نه درود که کرد که نه یاقت" ابیات

"به چشم خویش دیدم بر گذرگاه که زد بر جانِ موري مرغکي راه
هنوز از صید منقارش نه پرداخت که مرغي دیگر آمد کار او ساخت
سپهر آئینهٔ عدل است شاید که هر چه از تو به بیند وا نماید
منادي جهان آنرا که بد کرد نه بر جانِ کسان بر جان خود کرد
مکر نه شنیدي از فراش این راه که هر کو چاه کند افتد دران چاه"

مقوله "مَنْ حَفَرَ بِیراً لِاَخِیهِ فَقَدْ وَقَعَ فِیهِ" بیت

"چنین گفت داناي آموزگار مکن بد که بد بیني از روزگار"

کلیله ؤ وِ دا حکایت مي په دا راوړ چه ته ؤ پوهېږي په دا لارد محنت په خپل اختیار په خپلو پښو روان شوي ئې ورډِ د رنځ او د حرص په خپله په ځان پرانتي دي نصیحت دِ ځما قبول نه کړ بهره مند له عاقبت اندیشئ نه شوي دمنه ؤ وِ رښتیا وائې دا کار مي په خپله کړي دي لیکن تدبیر د خلاصئ څه ویني فکر د دي غوټې د پرانتو څه رنګ کړي بویه کلیله ؤ وِ الله تعالي د خپلو بندګانو په باب تر موره بهتر پوهیږي په درخورِ حال د هر یوه موره ته ئې دولت او نعمت را کړي دي دا نن هر چه په عرصه ظهور راځي له روزِ اول دي هر چه ستا د زړه مراد وه الله تعالي و تا ته میسر کړ مصاحبت د بادشاه دِ حاصل شه نیک نقشي د راست ګفتارئ د راست کردارئ دِ د بادشاه زهن نشین شه په سایه د ده د امن د هر چا له بدو په امان شوي درګاه د بادشاهانو منحصر په یوه سړي نه دي بیت

"شاه باید که لشکر انګیزد از سواري چه ګرد بر خیزد"

شتربه هر چند که په آسمان والوزي بیا نوم ستا د دست ګرفتګئ پر پوري

دي نه بويه چه ته د ده په مرتبه حسد او رخنه کوي زه ستا بهبود د بادشاه له خدمتَ بل څه وينم دمنه وُ وِ بزرګانو ويلي دي عاقلان په پنځه کارَهر څو ډيرکوښښ کا معذردي اول په هغه مرتبه پسي چه د ده پخوا وَه دويم په هغه تدبير پسي چه زيان ئي په تجربه رسيدلي وي دريم نګاه داشت د هغه حال د هغه وقت چه دي په کښي وي او بهره آخستل له خپلَ مالَ څلورم ځان يستل له هغه ځايَ چه هغه ځاي د بدګمانئي او د آفت رسيدو وي پنځم په ملاحظه کښي د سود او زيان چه آينده راتلوني دي هرګاه چه شتربه نيکي څما د حقونو د خدمت په ځاي را نه وړه بلکه د ده رضا وَه چه ما ورك کا بيخ بنياد څما په بادِ فنا ورکا اما تر اوسَ ما خداي تعالي د ده له ضررَ په امان کښِ ساتي اوس کوښښ څما دا دي چه دي په هرشان چه شي آواره دشتِ ادبارکړم زه بيا په خپله مرتبه فارغ البال په خدمت د مزري سرګرم اوسم کليله وُ وِ هرلورته چه پيك د زړه د انديښني زغلوم بي صبرَاو زياتيدل د اخلاص په خدمت د مزري بل څه نه وينم بارِ ستا څه فکر په خاطر رسيدلي دي دمنه وُ وِ رضا مي ده چه يو مکروُکړم او په هر روش چه شي په شتربه پسي وزم چه حيات د ده د وجود په ممات بدل کړم يا ئي له درګاهَ د مزري مختوري پښي شني وُ باسم چه بهبود د مزري او څما د کار دواړه په دا کښي دي په دا کارکښي تاخير او سستي عقل رخصت نه را کوي که په دا کار کښي سترګي پټوم خردمندانو ته به معذور نه يم

بابو جان

بابو جان

ځو د دِ دنیا شاهان وو هغه څه شو ابر باد د دوي تختونَ په هوا وړه هغه څه شو لك سکندر یا سلیمان چه بادشاهي د درست جهان کړه اتیا زره د سکندر جماعداران وو هغه څه شو په شماره د دوي لښکري نه کیوزي له سلیمانَ سره څلویښت لکه یاران وو هغه څه شو چه په دنیا کښ دعوي کړه د خداهي څلویښت زره د نمرود فوجداران وو هغه څه شو هم ئي بادشاهي کړه قاف تر قافَ نه لکه ئي سپین مقنع هتیان وو هغه څه شو چه آواز ئي د جنت تر خلقو صاف وو د داوود په آواز زایل وحشي مرغان وو هغه څه شو چه همیش به ئي له فرعونَ سره جنگ وو له موسي سره اتیا زره یاران وو هغه څه شو د جنت مثال ئي روغ کړ په دنیا کښ چه شداد او شدید د بادشاهئي په سهمان وو هغه څه شو چه خیمي ئي لال جوهر مزي د زرُ کبرجن فرعون هامان وو هغه څه شو له سکندرَ سره تل د عود جام وو په هیبت له دِ قیانوسَ خاص و عام وو هغه څه شو هم تاج د ضحاك د فریدون مانړئي شوِ پاتِ د کسري د کیکاوس زر زر شاعران وو هغه څه شو د هغو د سخاوت نوم شته دي ترابدَ لك محمود حاطم طائي نوشیروان وو هغه څه شو عاج عفریت غرونَ مات کړه په خپل زور خو رستم غوند نامدار پهلوانان وو هغه څه شو چه د سرو او د سپینُ حساب ئي نه وه ډیر غنیان لا له عثمانَ وو هغه څه شو چه دلیل ئي په هر څه کښ چلیده حکمتي وو افلاطون یا ارسطو بهلول لقمان وو هغه څه شو د سلیمان گتي شوه ورکه تخت ئي باد

یوور خزاني لال مرجان وو هغه څه شو آهینه د سکندر شوه ریز مریزه دا دواړو په قیمت هرګورَ ډیر ګران وو هغه څه شو د موسي همسا به مار آتش مزري شوه جام د جم ذوالفقار او دل‌دل په لاس د شاه مردان وو هغه څه شو دا قصه که پسي ګرم نه تمامیږي د دِ زمکي په مخ څو څو نامداران وو هغه څه شو د دنیا په مینه څو عالم غولیدلي بابو جان غوند څو څو خریداران وو هغه څه شو که بادشاه د کل جهان شي یا په تخت د سلیمان شي چه تنها ځني روان شي دا هم هیڅ که سکندر غوند د دوو قرنو سلطان شي هم امیر حاکم د قاف قیروان شي چه بندي دِ ګورستان شي دا هم هیڅ که سلیمان غوند د انسُ جنُ خان شي هم حاکم د خزنده و د مرغان شي چه د مرګ محصل درشي حیران شي دا هم هیڅ که غني لکه عثمان شي سوداګر هم د ایران هم د توران شي مسافر که د بیابان شي دا هم هیڅ چه حکیم لکه لقمان شي چه آګاه په ظاهر درد هم په پنهان شي چه د خپل مرګ علاج در نه کیده بي ځانَ شي دا هم هیڅ که په کشفُ کرامت د اولیا شي په دریاب باند په وچه پښه روان شي چه ګرفتار د نفس په فعل په تاوان شي دا هم هیڅ که ته هر څو صاحب راي اهل برهان شي چه په عقلُ تمیز خوښ د بادشاهان شي چه په سوال د کراماً کاتبین وران شي دا هم هیڅ که دِ عمر د خضر شي ژوندي په دا زمان شي په هزار کلونَ نه زړیږي ځوان شي چه د مرګ محاصل دریشي نا څار تر فرمانَ شي دا هم هیڅ که په سیر د مرغان شي یا ته تیر تر اوه واړه آسمان شي په صراط باند چه تیر نه شي حیران شي دا هم هیڅ که په دا ویل آګاه د بابو جان شي په آخر چه له فاني سراي روان شي چه خرڅي در څخه نه وي بیا د نورُ فاتحه ته نګران شي دا هم هیڅ څو د دِ دنیا شاهان وو دوي د زمکي بادشاهان وو کل همه واړه د مرګ په لور روان شو د سلیمان د سکندر له قصي وارود چه د مرګ په منزل ورغله حیران شو د فرصت ساعت يُ غوښت هم يُ بیا نه موند په تنها لاري تنها

مسافران شو بل د شداد د قیانوس له قصي واروه چه د مرګ ساعت پرِ
ورغي پښیمان شو په دینا کښ دعوي کړِ د خدائي اوس سر توري بندیوان
د ګورستان شو که ته وُ ګرزي د مړو په حدیره کښ څو د تا غوند غنیان د
ګور بندیان شو څو څو هسي شاهان د زمکي نور وو اوس نومونه ئي څوک
نه آخلي بي نښان شو په دنیا ئي بادشاهي په عزیزي کړه اوس په خاورو
کښ خاور استخوان شو چه همیش په مجلسونو د دوي خلق وو اوس تنها
ئي وطنون په بیابان شو چه ماشي مکس نه پریښو و ځان ته اوس په غوښو
ئي لګیا لړم ماران شو د هغو چه کوهي ډک د خزانو وو اوس له دوي به
حساب غواړي حیران شو چه ئي سترګي د دینا په خزانو نه مړیدلي اوس په
سترګو کښ سرِ ویني روانِ د باران شو چه د نوس په خوښي تله حساب ئي
هیر وو اوس د لعنت طوق ئي په غاړه په زندان شو چه په دنیا کښ راحت
کا بابو جانَ مسافر دي له دِ زمکي پرَدیسیان شو څو نامدار تر زمکي لاند
آرویده شي نه ئي نام نه ئي نښان له دوي لیده شي د مرګ د خوب ور تله
په هرچا وُ شي که هر څو بیداري که آخر اوده شي هر چه وُ مري هغه خر
وي یا ډنګر وي چه دلي د نیکو نوم پاتو نه شي د حاطم د نوشیروان د سفر
ډیر کالون تیر شو د دوي نوم به تر قیامتَ ښه وایه شي دَ نیکئي ورځي دِ دا
دي که نیکي کړي ناګهه به ډمامه د اجل وُ شي د راتلو لارِ به بنده شي تر
ابدَ هغه ځاي دِ تنهائي حال به دِ څه شي ستا صورت به بند په بند ښبله
بیل شي هم هډونَ به دِ تار په تار خواره شي زیرمه د قیامت کړه بابو جانَ
د دنیا ساعت په هر حال تیراوه شي که هر څو دِ عمر ډیر شي هم به تیر
شي که خوراك دِ د دنیا شهد شکر شي هم به تیر شي که د دنیا ښادي واړه
و تا د رکه یا څه ښه لذتونه د دنیا تر حلقَ تیر شي هم به تیر شي که اوره ډر
باند سوري د غرمو که یا ښي خوشبوئي وني په تا سیوري د چمبیر شي هم به
تیر شي که خوبي د زماني دِ تا حاصل شي یا آوازِ د داوود نبي په خیر شي

هم به تیر شي که بهادر شي د فوزونٌ یا توچق د بدخشان باد پاي دِ زیر شي
هم به تیر شي که سلیمان غوند دِ تخت په هوا درومي لال یاقوت یا مرغلري در
سرهٔ شي هم به تیر شي که په اورهٔ دِ تخت روان شي یا چه نوم د سکندر غوند
په خیر شي هم به تیر شي که ضحاك یا فریدون دِ نوکران شي د لښکرو دبدبه
دِ د جام یا د قیانوس شي هم به تیر شي که دنیا دِ د قارون یا د شداد شي.
چه نعمتونٌ د بهشت دِ د دنیا په مینه هیر شي هم به تیر شي که د دنیا
سرفرازي وارهٔ ستا شي ولي نوس به صبر نه که نه به سیر شي زرهٔ پرِ ښاد
مه کړهٔ بابو جانٌ د دنیا نعمت که ډیر شي هم به تیر شي د دنیا په حب
کمائي د بادسو سیور به دِ یوسي خود نمایه ستا د یاد په عهد هسي امید وُ شه
چه دوستي ئي په نقصان نه د بقا ئي هغه تخت د سلیمان چه باد صبا وړ هسي
باد په چرته یووړ ته کومٌ ځایه د هستئ په ځلیښو کښې بند لکه مګس شوي
د پنداي په زور به وُ نه وزي له لایهٔ لکه د زاغ د پلتئ په بوي پرواز کړي
قناعت دِ تلقین نه شه له همایه تل په طمع پسي تللي سزا د دا وو په تش
لاس لاړِ د هر دربار ګدایه د اخلاص عمل دِ نوم طلبي وه د دنیا په مینه پور
وي سر تر پایه د ریا عمل به ستا د اور زنځیر که هغه په نام ور کړهٔ دِ وارهٔ دي
بي ځایه په آخر بهٔ نفعٌ هیڅ ځني نه مومي هر عمل چه دِ ځه کړي دي بي
خدایه دوارهٔ کون ئي بها دي بابو جانٌ یګانه محبوبه پټه پټه ستایه خصمانه
مه کړهٔ پرایه خپل صورت له بدو بیایه پردي غم ته به نه رسي فارغ اوسه هم
له لورهٔ هم له زویه غم د هیچا د رزق مکړهٔ دي رازق دي په دوهٔ سرایه ته
ژغوري د خپل وجود شه په ثابته لار ئي بیایه نا روا آواز مه آورهٔ بي هودهٔ
په خله مه وایه زرهٔ بادشاه نوس ئي وزیر شي سترګي غم راوړي له ورایه په
آرزو پسي چه ولاړهٔ د هغو ټنګه شوهٔ برپایه بدٌ عمل به هوري ستا د غاړي
طوق شي هم هوري په ځه بلا که در نمایه نګاه بان د خپل صورت شه
بابو جانٌ هغه قدیم آشنا وُ مه باسه له رایه هر چه خله ئي په حرامو شوهٔ

آلوده سینه ئي په غفلت شي خواب آلوده د نیکانو له صحبته په ستنَ شي
شیطاني سبق ئي واخست له جهودَ د شداد په دود دعوي د خداهئي که
روي گردان شي له سلیمانَ له داؤدَ چه جبل به ئي په سوك سره پاره کړ
عاج اِرم* عنق هلاك شو له اخدودَ د بخت نصر پیاله د کبر شوه نسکوره
بادشاهي وه ترقافَ ترحد حدودَ جالوت طمع له غزا کړه کبر خوار کړ
د طالوت تکیه په حق شوله مذبوده د همایون پګړئي پریوته په اور کښې
د قارون خزانه غرقه شوه نابوده چه همیش به له موسي سره ستهزه وُ
څکه غرق په رود نیل وُ لاړ مردودَ د دنیا په خود مستي دِ خپسرخداي که
په حیات خوراك د ماشیو شوي نمرود دِ کسري ماڼرئي هم وُ لویدي له
ویخه دي منکروه د رسول له ښه درود د کیکاوس د فریدون پوښتنَ وُ کړه
عداوت وُ له ایازَ له محمودَ د دنیا تختونَ څو هسي باد وړي بادشاهان ئي
دست خالي لاړل له سودَ دنیا مرداره طالب سپي دي د سپي تل وي په
مرداره خله آلوده دورخوي د زماني دي بابو جانَ خلقه ده تر مرګَ
پورِ خواب آلوده اي غافلَ خداي دِ هیر شه ته د نس په خوښي لاړي وار
دِ تیر شه نوس دي پیر ته ئي مرید شوي شیطان در ته د ښه نیك خواه په
خیر شه دا دنیا ئي درته ناوي ښایسته کړه زړه دِ درست د دِ په مینه ترِ
چاپیر شه د دنیا په آشنائي ته جهان ویني بي دنیا جهان همه درته اندیر
شه د دنیا په خزانو دِ صبر نه شي که دِ تخت اګره ډیلي لاهور اجمیر شه
که ایران توران دواړه پرګنه شي یا رعیت دِ پېښور صوات بونیر شه نه دِ
ژبه په دروغ ویل شوه ستړي نه دِ نوس په نا رواؤ خوړو سیر شه د حاصل
وقت دِ تیریږي حیواني کړي دورخوي د زماني دي په بل پیر شه د پیرئي د
خزان باد دِ رباند والوت د څوانئي پسرلي بهار دوړ ئي تیر شه ملا دِ کوزه شوه
و مرګ وته سلام که درست صورت دي تحرك وُ که سنګریز شه وارثانو غلبه
درباند وُ کړه په حیات دِ حکم ورك شه صورت ګیر شه د بندي طوطا په

دود به نارهٔ وُکړي چه ګورستان دوړاند تنبول لحد ګوالیر شه زړه دي شه
سخت اثر پرِ نه شي د بابو جان د نصیحت سبق دِ هیر شه د دنیا په
خپلوي مهٔ شه بي پرواه د دنیا آشنائي وصله ده له ساه هغه وقت چه
تنسته د ساه پوده شي نور ماکو به پرِوا نه چوي جولاه رزق هم د عمر
په ساه پورِ تړلي اندیښني دِ لرِ تللي دي ابلاه هغه وقت چه ساه خارجهٔ
شي له کالبوتَ هم جدا شي له ارواحَ آرویده لیده کاته به له تا لاړ شي
هم شمارهٔ د قدمونو شي کوتاه کهٔ ته نور خته تر پریوته. بادشاه وي کل
لښکرِ به خوري شي لهٔ بادشاه کهٔ ماڼرۍِ وي په لاجبر و په شنګرف باند
روغه ورځ به تیرهٔ په کښ نه که تر بیګاه که سړي پیري وارهٔ په فرمان
وي یکتنها به خني دروميِ بي همراه د صورت بیړۍِ بنا د باد په ساه
ده هم د باد په خوخیده به شي فناه اصل د دنیا بنیاد په باد وه چه باد
وُ خوځي دنیا به کاند وارهٔ فو فناه پرِ باد ودانَ پرِ باد به شي ورانَ عارفان
ورځځه ځکه نا ویساه ارمان به وُکه بابو جانَ چه د باد په خزانو وُ نه
که لاه یوه ورځ به ملامت شي په دوه ګواه د طاعت په خوا توبه کړه له ګناهَ
دغه پس و طاعت وته دریږه د نمانښام روښنائي ور وړهٔ ترصباه هغه ګنج د
سعادت به دِ په لاس شي که درود دِ وظیفه وي له سحرګاهَ د شها د خوښۍِ
داد په سحرګاه وه مستحقو بخرهٔ یوړه له درګاه طالبان په کمیني کښ وصال
مومي له غافله په لوئي کښ شوه پناه دا په ژبه یادول هم لوي حجاب دي
طالبان ئي یادوي د زړه له تاه دا غافل طالب ناري وهي په زوره د حاضر خو
پاسباني له خپله ساه هرهٔ ساه ده بها د دواړو کونو له دِ هسي خریدَ مه شه بي
پرواه که سرمایه د آخرت دِ و باد ورکړه بیا هوري به ارمان کړي چه دریغه
ساه په هرهٔ ساه کښ فائده د آخرت ده دا سرمایه د آخرت مه کړه تباه ته
په ورځ په تلاوت په روژه اوسه غافل مه شه د مسجد له انتباه شب قدر
نن دي بابو جانَ چرګ بانګ بي صبا نژدي شه شپه کوتاه ستا سینه

کړه د دنیا میني لټاړ زړه مینه د تمام پسي لاړ د دنیا له میني هسي مبدل
شوي څه دروغ الا بلا دِ کړ په غاړ محرمان مستحقان دِ نا محروم کړه د حرامو
پوښتنَ نه کړي هر څه نغاړ که دنیا دِ اشتران غوا بزي وي په قیامت هغه
دنیا در پسي تاړ هغه مال به دِ بلا شي سیاه سرخه للګ خوګ خنزیر پلنګ
وُ وزي له جاړ تا به بیا مومي په همبره ډیر عالم کښ ستا بشره به په سومونه
که لټاړ په ښکرونَ به دِ آخلي یو دِ بله هیڅ ذره به دِ پري نه ږدي بي ګذاړ
که دنیا دي همه واړه سره یا سپین وي هره تنګه به دِ داغ کاند له ناړ په
صورت به دِ داغونَ ږدي له اورَ په عذاب به دِ بشره کاند ګرفتاړ هم لړم به پرِ
لګیا کاند له اورَ ایاتونَ واقع شوي دي له ماړ انبیا له بخیلانُ روي ګرداِن دي
عرض به نه که د ظالم بخیل دپاره د بخیل په باب راغلي ایاتونَ غذابونَ به
پرِ سخت کاند دو باره د بابو جان په بیانونَ باور نه که د هغو چه بخره
شوي ده له ناړ اي باري خدايَ اکبرَ و هرچا وته رهبرَ هر چه ستا کرم پرِ
وُ شي د هغو بخره بهتره و تُعِزُّ مَنْ تَشَاءُ وَ تُزِلُّ تا ویلي د هرچا بخره راغلي
له اولَ وَ مَا تِلْكَ بِيَمِينِكَ تا وُ وِ چه په ښي لاس کښ دِ څه دی پیغمبرَ
موسي وِ دا همسا ده دا همسا را کړي تا ده دا همسا څما تکیه شي چه
مانده شم بي وقرَ هم زه وني پرِ وهم هم پاڼړي تویه‌وم چه رمه مي وي نهرَ
دا همسا څما وصله ده په هر ځاي څما په ښه ده هم ته وي څما رهبرَ
آدم صفي همسا غوښتلي وَه له حقَ له جنتَ هغه همسا راغله مطلقه هغه
همسا د حق په نور وَه منوره شپاړس غاښه د دِ تیره وو دولس ګزَ ئي اوږده
وو ویخ ئي یو وه دوه ئي سره د همسا نوم علیق وه په موسي څښتن شفیق وه په
میراث وه راوړي له پدرَ هغي همسا به کړِ موسي وته خبرِ د همت د نصیحت
واړه زړه ورِخداي پرتا یم راستولي په ضرور له تا سره یم په دښنو دِ یم غاوره
مار مزري څني دهشت کړ هم غلیم څني هیبت کړ چه به پرِ دا شوه برابره
هغه همسا به غیلي پووِ نه لیوه به غیلي یووِ لیوګان په وو له دِ به ویره که هر

ځو به کوهي ستر وه که به سل ګزَ یا زرَ وو دا به ویاسته هم بوکه شوه ډیر
عالم به شه سیراب له اوبو خورِه هم به ونه پرِسایه شوه رنګا رنګ به ئي میوه
شوه هغه میوه یو تر بله وَه بهترِه چه په ده باند به شپه شوه دا چراغ هم
به ډیوه شوه هم ساته ئي له خطرَ هم تورِه وَه مصرئي و غلیم ته وَه مزرئي دا
په هرِه بلاَ برِه چه په لار ته دا ئي آس وَه خوش آواز لکه جرس وَه تله به په
غرونو په سندونو برابرِه چه به ورِي شه نعمت وَه دا خورِه لکه شهت وه دِ
جنت له نعمتونو له ثمرِه د همسا صفت لا ډیر وه بابو جان یو قصه کړِه مختصره
خبر شه له حکایتَ د کسري له عدالتَ د ده عدل په عالم باند سایه وَه
ظالمان کل سرنګون وو له هیبتَ د هرچا وه قناعت په خپله بخرِه ظلم تللي
وه د ده له ولایتَ په خوبي په خرمي ناز هوس وه کل غریب فقیر د ده له
برکتَ پاسواني کړِه د زرِونو حاجت مند به ئي خشنود که له نعمتَ په
ژوندون ئي تازِه وو کم زوري وارِه هغه دعا به وَه د نیکو له رعیتَ هسي عدل
ئي په خلقو غوریدلي د ظالم لاس به کوتاه وه له شدتَ که به زاله په لار تله
سرِه سپین ور څخه ترس ئي نه وه د بدانو له ظلمتَ یو آهو ئي وه په ښکار
ورکیوتلي خپل یاران وو ورسره له جماعتَ د کباب حکم ئي وُکه مالګه نه وَه
بي له مالکي کل طعام وي بي لذتَ یو غلام د ده نمك لرِه روان شه له
بازارَ به ئي راورِم تر ساعتَ نوشیروان وِ بها یوسه نمك راورِه بي بها به
وي له ظلمَ قباحتَ که په ظلم له چا څه آخلي به حرام وي که په خواست
غوارِي سوالي وي بي عزتَ د ده سپاهي یو وري له زالَ واخست کم سپاهي
خالي وي له ظلمَ له شدتَ غه زال پرِ بادشاه باندِ عرضي شه چه له ما
وري سپاهي په زور واخست حضرتَ نوشیروان وِ دو چندان ته له ما واخله
چه هوري په عادلانو کښ زه نه شم هزیمت ده وِ په لښکر کښ دِ شته ظلم
عدل وُکړِه اي بادشاهِ ولایتَ بادشاه وِ د پنځو بیع ته واخله ترس مي شي له
آزارَ له آفتَ بیاَ بادشاه وِ د لسو بیع واخله چه په ګرانَ ورِځ زه نه شم ملامت

ده وِ عدل وُ کړه ظالمان به نه جاروزي له عادتً بیا بادشاه وي د شلو بیع
واخله زه ویرېږم دِ هولونو له هیبتً ده و عدل وُ کړه د کم زوري تکیه کومً بي
حضرتً بیا بادشاه وي چه د زرو بیع واخله چه بلا خلقو ته رسي د بدانو
له شامیتً ده وِ عدل وُ کړه په دا به نه جاروزي له عادتً هغه سپاهي دغه
وري په ځاي قصاص شه خبر شه خلق د ده له عدالتً په ولایت ئې نوم د
ظلم پاته نه شه ظلم هیچرِ چا نه که له هیبتً عدل داد چه په چا وُ شي
ظالمان به روي سیاه وي سر په ښکته هم عادل هم سخي وي بابو جانَ
د هغو چه بخړه شوي له جنتً باري خداي له موسي راز کړ.موسي دا څواب
د راز کړ چه همسا څخه شته دي ډیر هنر وَاَلقِهَا یَا مُوسي ورته وُ وِ د موسي
په زړه پیدا شوه ډیره ویره د موسي امید کوتاه شه له آخستو دا ئې واچوله
دورستو دا خبره پرِ موسي وَه سخته تره چه ده واچوله مار شوه دا په قهر د
قهار شوه هم له قهرً تله اوتره د دِ جله یوه دره شوه هره سترګه ئې لنبه شوه
وني غرونَ به ئې نغردِ بیا به وري وَه نهره موسي ډیر څني لرزان شه شا ئې
ورته کړه روان شه یو الهام په موسي وُ شه له اکبرً اي موسي ور نژدي کیږه
ته ئې نسه مه ویرېږه د موسي له زړه خارجه شوه کلي ویرهِ موسي لاس کړ هغه
مار ته مار همسا شوه وِ خپل یار ته په زمان هسي کړه وُ نشوه له اکبرً
کُن فَیَکُون دي بابو جانَ چه هیڅ کار ئې خالي نه دي له هنرً فرعون چه
سیالي کړه له باري خدايً اکبرً د ده نه شوه له حضورً خدايً ویرهِ ده له
خدايً ویره نه کړه حنګ دعوي د خدائي کړه نه ویرېږي له قهارً و موسي
وته ئې وُ وِ جادو کرً راشه په حضور وایه سحره هم دعوي به په حضور شي موثرً
څلویښت بارً ئې راوړي رسئي د اشترو هغه رسئي واړهِ ماران کړ سحر کړو هره
ویاسته ئې تور مار شوه دوه ئې سرً موسي هم همسا واچوله مار شوه دا په
حکم د قهار شوه هغه ماران کل تمام کړه وړي پاتو شوه نهره څلویښت زرً
سحر کړ ئې مسلمان شو هزیمت ئې کافران شو دِ فرعون په طالع نوي شوِ سفرهِ

بیا فرعون په موسي پسي روان شه موسي تیښت ؤ که دوان شه چه پر سند راغي حیران شه یو الهام په موسي ؤ شه له اکبرَ دا همسا په سند گذار کړه و لښکر وته روغه سپینَ لارکړه د موسي لښکر امان شه فرعون غرق شه هرڅه سره د فرعون خزاني هم ئي مالونَ هم باغونَ واړه د موسي لښکر اولجه کړه هرڅه سره چه دښني که له نیکانو بابو جانَ عاقبت به د هغوچارِ شي ابتره باور ؤ کړه اي غافلَ دا خبره ده مشکله مردگان به پرِ ژوندي شو روغ به واړه لیوني شو چه موسي به پرِ همسا ؤ گرزوله په نوس به د مادر شه که دختر هم به پسر شه چه موسي همسا پرِ ؤ وهله که به هرڅو سخت رنځور وه یا ئي رنځ طاوون ناسور وه له هغه رنځه به فارغ شه چه همسا به ئي په څان پورِ ؤ مښله وچه به شوه تانده هم میوه پرِ آویزانده چه موسي به دا پرِ ونو وهلهٔ دوُلس چني څني روانِ لور په لورِ به شوِ دوانِ چه موسي به په کاڼي وهلهٔ چه په سند به ئي گذارکړه و عالم ته به ئي روغ سپینَ لارکړه سلامت به خلق خلاص شه له مشکله دوُلس زرّ بیاستِ د فرعونِ تور ماران شوي دوي به یو د بله نغړدِ دیگران شوِ هغه.به هم عظیم مار شوه د فرعون ماران ئي ؤ خواړه پرِ بله که قصه واورِ له عاجه عاج ئي مړکه بي علاَجه دا په رنگ د عزرائیل شوه د عاج دم ؤ خوت په خپله هړه زیرمَ به ئي خداي کا بابو جانَ چه هغو تکیه په خداي ؤ نبلهٔوله د سلیمان دگتي څرنگ برکت وه په څو رنگَ ئي صفت وه روغه شوي وَه په عرشه کښي مشتمل په ډیر حسن په زینت وَه په سلیمان باند نزوله وَه له غیبَ نهٔ د سلیمان په کښي آزار نه ئي محنت وه برکت د بادشاهيِ وه په دي کښي میسر ئي څکه روي د مملکت وه رجالُ الغیب به د ده په مجلس ناست وو هم حاضرد فرښتو به جماعت وو انس او جن هم و ده وته اکرام کړ دیو پیري ملك ئي واړه په خدمت وو مدلل د آسمان زمکي ورڅخه وو د اتیاوُ آسو د هریوه قوت وه په درِ پښي به تله له خیالَ یوه پښه به ئي وړه بالا د دوي عادت وو په بها ئي مشتریان

نه رسیدنه په قلم نه رغیده هسي خط وو یوه روښ سلیمان د دوي په ننداره وه زړه ئي ډیر په خوشحالي په عشرت وه په سلیمان باندې الهام وُ شه له غیبَ چه ترما و تا ته تیردغه لذت وه هغه آسونه ئي د څښتن په رضا ور کړه سلیمان ډیر د خداي له ویري په هیبت وه باد صبا خداي دغو آسو په ځاي ورکړنه ساتل نه ئي ترل نه خدمت وه هغه تخت به باد د ده په حکم واخست په غه ملك به ئي ور وړ چه د ده نیت وه باد صبا دغو آسو په ځاي بیا موند دغه هسي برکت د سخاوت وه هیڅ ئي نه خواړه مگر له خپله کسبَ که ئي ډیره وَه دنیا ډیرئي دولت وه ته شغرب ته مغرب ئي وه حکم دغه واړه زیات زکوة برکت وه په دوه کونَ به روي داروي بابو جانَ د هغو چه په ازل بخره همت وه خبرشه له دِ بیانَ عنایت وه له رحمانَ آهنه ئي روغه شوي په قدرت وَه هم په فیضل د قدرت ئي وه روښانَ په سکندر باند راغلي وَه له غیبَ تمامي دنیا په دي کښ وَه عیانَ له نظرَبه ئي هیڅ پوښیده نه وو څو تعریف د دِ وایه شي له صفا نه د دنیا احوال کلي په کښ معلوم وه له نظرَئي ذره نه وَه پنهانَ یمین یسار په کښ لیده شو شنوائي ئي وَه ترقافَ و قیروانَ برکت د آهیني ورسره مل وه په همت ئي صفا واخسته له دارا نه که به هرڅو په ده وُ رغله مشکله په دعا د فقیرانو به مشکله شوه آسانَ یو د غیب قوت هسي ور سره وه د دارا لارئي بنده کړه له جهانَ سل څلور لکه سواره د ده موجود وو همیشه به ئي بري وه له جولانَ نَصْرٌ مِنَ اللّٰهِ دي ویلي تل د خداي په حمایت ئي وَه مړانَ ولایت ئي د دارا کړ واړه فتح حقاني کرم ئي مل وه له سبحانَ چه سفرئي په نا لیدلي لار وه آهینه ئي مدلله وَه دیدوانَ چه ده به د آهیني په مخ نظرکه نهایت به ئي حاصل شه ترپایانَ د سلیمان په حکم باد وه د ده ابر آهینه گوښي بخره له سلیمانَ په دینا به څه امید که بابو جانَ چه هغه هسي شاهان لاړه له ارمانَ سکندر لره ورکړي حق سبب وه قیاس نه کیږي عجب وه د عاقل د هنر درك په کښ نه وه نه

نقره وه نه ذهب وه نه کانړي وه نه خښته نه حشیش وه نه حطب وه نه دي روغ په آب خلیس وه نه په خشك نه په رتب وه هیڅ مثال لیده نه شه تر روغ تیز روان په شب وه آلواته ئي وو بي پرو په هوا به د ده سیر د سحب وه رسیده به له یمینَ و یسار ته له شغربَ به روان شه په مغرب وه چه ښیتن د دواړو کونُ ورته وائي دا خطاب د ده په اسم مرتب وه بل چه اسم اعظم د ده په یاد وه حاصل شوي کلي واړه مطلب وه بل د حیات د چشمې یافت د ده ضحا وه له حیاتَ خضر لیاس وړي منصب وه بل حکمأ مدلل د لرِ ملك وو روزي شوي د هرمهم مطلب وه نه په خوا ئي وه ثاني نه به پیدا شي لکه و ده سبب ورکړي مسبب وه د فلوس ظلم ئي نه کړ په کم زوري چه دوراندِ بادشاهان دا مذهب وه نیکو بد به د بادشاه په باب دعا کړه چه بادشاه د فقیرانُ د سر سبب وه په خوښي سړي و خلقو وته دروند وي د سلیمان د سکندر څو په دنیا درب وه تر قیامتَ به ئي نوم وي بابو جانَ د هغو چه په اخلاص پسي مطلب وه د حاطم نوم به جاري وي تر قیامتَ د ازل بخره ئي وَه له سخاوتَ حاجت مند په ښني نا امید تللي نه وو ورکول ئي وو بي اجر بي منتَ د سوال گرزېره به ئي روغ په مرحبا کړ کاهل نه وه د فقیرانو له خدمتَ هر سوالي چه به د ده په درحاضر شه هغه رنځور به فارغ روغ شه له زحمتَ په جهان نوم پریشان د سخاوت شه فقیران به پرِ ور تله له ولایتَ په ښهرونو ئي نوم لاړ د سخاوت ښه بادشاهان په غوصه شول له شهرتَ چه د ده د سخاوت بیان به وُ شه بادشاهانو به له شرمه که سر ښکته د بادشاه هغه خبر اعتبار نه وه خپل وکیل ئي ورستاوه له جماعتَ چه ته ورشه احوال ئي واړه زده کړه هم خبر شه د ده له مروتَ یو ښه آس ورځخه شته دي و ئي غواړه دلالان ئي نه رسیږي له قیمتَ که ئي درکه هم کریم دي هم سخي دي که ئي درنکه بخیل دي بي همتَ هغه سائل چه په دربار د ده حاضر شه د حاطم خوي دلاسه روي تازه خندان

عادت په هغه ورځ پر هغه ملك آفت نزول شه كل چارپاي په بيديا بند شه
له آفتَ بل ځيز ور ځخه نه وه هغه ښه آس ئي حلال كړ چه زه نه شم ترميلمه
پوري بي پتَ هغه آس په وكيل گران وو زړه ئي بد شه درست خبر شه د حاتم
له حقيقتَ غه سايل په بيارته لاړ شه له حاتمَ سائيل پوره لمن يوړه له نعمتَ د
ده حال ئي و بادشاه وته معلوم كړ آفرين بادشاه پر وُكه له رحمتَ نور خلق په
صفت واړه مشغول شه څو قصي كيږي د ده له سخاوتَ همت د خداي له
خزانو دي بابو جانَ همت ناك دي ځښتن نه كه بي همتَ اي جبارَ جهان
دارَ بادشاهي دِ ده قرارهِ فرعون چه دِ بادشاه كړ چه په مصر ئي خداهي كړله
اظهاره رود نيل ئي په فرمان شه تا دوستانَ زهيرول د ده دپاره لكه به دي
په غره روان شه سخت كمر به ور ته زمكه شوه هواره په دعا به ئي وريځه
سيلي باران شه هم به زمكه په نعمت شوه مرغذاره په درياب به ئي كه حكم
كله كله دُرگوهر به ئي خارج كړه په كناره ده ئبه هر رنگ استدراج په زمكه وُ
كه ساحران د ده په حكم وو بي شمارَ فَقَالَ اَنَا رَبُّكُمُ الْاَعْلَي وُ وِ په ويل ئي
خلقه شوه اعتباره د فرعون په عزت به دوي قسم كړ دشواري دروغ وړن ته
شوه دشواره بادشاهي ترِكمالَ شوه كاملَ اتيا لكه ئي سواره له كارَ و زارَ وَ
تُعِزُّمَنْ تَشَاءُ ويلي له هرَجنسَ دنيا ډيره وَه بي شمارَ ذَالْاَوْتَادِ الَّذِيْنَ ئي ويلي
د خيمو موږي وو د سرو زرو سره لعل ئي روښنائي وه له نارَ تمام ښهر ئي
خوشبوي وه په عمبرو خوشبوئي همیشه وه له عطارَ توريتيانو د موسي حال
ور بيان كه بادشاهي ئي شوه په موسي هم نكونساره په كشتن ئي د هلكو حكم
وُكه شهيدان ئي كړه طفلان هشتاد هزارَ عورتيني ئي په زور ور ځخه بوتي د
مردانَ خلاصي نه وَه له بيكاره فَاَكْثَرُوْا فِيهَا الْفَسَادَ آيات د دوي په باب راغلي
گناهونَ ئي بي حده كړه بي شمارَ ظلم جور ئي ډير وُ كړ په خلقو هم ئي ډير په
بني اسرائيل شوه دشواره بيا ئي روغه و آسمان ته مناره كړه پونسو كروه په
هينداره چه په دا كښ به زه ور شم تر آسمانَ بيا به آسمان په الماسونو

کړم دو پاره چه د څلورو میاشتو لار ئي پورته بوته ملائیك شوي پرِ نزولِ له قهارَ هغو فریبښتو مناره پورِ وهله هغه سخته مناره لور په لور شوه تار په تارَ د څلوېښتُ میاشتُ لارئي ځښتي ولاړي له هیبتَ خلقه وُ مړه بي شماره فَصَبَّ عَلَیْهِم دي ویلي هلاکت په دوي نازل شه له قهارَ زن فرزند مال متاع ئي غنیمت شوه بني اسرائیل ئي وارثان شوه په تیاره فرعون آزار ورك کړ بابو جانَ هامان قارون دواړه غرق شوه له آزارَ د فرعون اعتباري همراه هامان شه څکه دي له لاري وُ وُت بي ایمانَ شه د بد یار آشنائي زهر قاتل وَه چه اثرئي په ده باند عیان شه لکه بابا آدم چه وُ وُت له بهښتَ بد همراه مصلحتي ده شیطان شه اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشیطَانِ الرّجِیْمِ دي ویلي بد همراه مثال شیطان د هر انسان شه ده به هسي د فرعون مثال تعبیر کړ چه فرعون به و خداهي ته بد گمان شه د دنیا په هوښیاري کښ کامل که زیرکي د دین ورکه شوه نادان شه هسي کبر غرور په کښ پیدا شه چه ناڅیز ئي تر نظر پورِ انسان شه د سلام په ځاي سجده کړه ور ته خلقو هغه تمام عالم په کفر کښ لغزان شه په حضور به ئي ثنا کړه هر چا ډیره د ده صفت به په زړه د دوي نشان شه لوي هلکو به مدام د ده صفت کړ د ده زړه به په صفت د دوي ښادان شه هر ثنا به د ده کیده د نیکو په صفت ئي ښه هم بد واړه انسان شه په ده زیري وي خبرِ د پیریانو درست باور د زړه یقین ئي پرِ پیریان شه غروري ئي زړه ته پریوته د کفر اَنَا رَبُّکُمُ الاَ عْلَي وُ وِ مدعي دي د رحمان شه چه دلي ذوق وه هوري طوق شه ترابدِ ورځي پوري په زندان شه د نوح نبي زوي لایق د نبوة نه وه د بدانو په مجلس شه بي ایمانَ شه بد همراه دِ د چا نشي بابو جانَ د بد یار په ویل ډیر خلق لغزان شه

له کتاب د مخزن پښتو

تصنیف د اخوند درویزه پاپیني

امام عمر نسفي هسې ويلي مبرهن دي چه صوفيان د حق دوستان دي هم د زړه په پاك كردن دي دوي پريښې غيرهٔ مينه آشنائي ئې ده له خداىَ موافق څې له كتابَ آراسته د پاك رسول پر ښه سنن دي پاك الله دي په دوستي واړه نيولي چه له خلقَ تبرا دي هم چه نغښتي د رسول د شريعت په پيراهن دي په دا فساده زمانه كښ هر څوك لاف د درويشۍ كا دوي دوو لس فرقي ښوي غه يوه طائفه ناسته د پاك رسول پر ښه سنن دي غه يوو لس گمراهان دي د نبي له منهَ ورا دي دوي به واړه وُ شميرمَ افغانان ور خبر نه دي و دانا ته مبرهن دي اول فرقه حبيبيه اوليائيه شمراخيه اباحتي دي حاليه حلوليه دي حوريه دي دوي واړه په غلته چار برند دي واقفيه متجاهليه متكاسليه الهاميه دي په ظاهرِ دوي درويشان دي په باطن دوي له شيطانَ سره پيوند دي ـ فرقهٔ اول ـ د حبيني مذهب زده كړه د نبي له پسروۍ دي وتلي دوي وائي د هغو چه د ښه خداي مينه روزي شوه عبادت څنِ نور وُ لاړ شه په بندگي نه دي نيولي دښني كا له عالمانُ هم حرام حلالوينَ د نبي په دين كښ نه دي چه فرضونَ ئې برمنډ دي ولِ دوه گتي چوتي دي وهلي دوي گفتار كا په مثال د اولياؤ هم ډير خلق گمراهوينَ سكه حتياط څنِ وُ كانړۍ دوي د كفر په گرداب دي كښيوتلي څوك پيران شوُ ولِ ډير خليفه ئې كړل لومه خلقه ئې كړه گمراه عامي خلق للكَ مرغي په كښي نښلي دوي بي شكَ كافران دي درويشي تركِ وجود دي ولِ دوي په هوډه غواړي

چه په توره په توبري وبلَ ته زغلي په هره زمانه کښ چه دا* گمراهان پیدا
شي بادشاهان به پر هغه خلق باند ظالم وي هم به هر رنګَ بلا هله پیدا
شي دا حضرت رسالت هسي ویلي سکه پرهیز دِ هر څوك وُکا له دي هسي
گمراهي زیات هغه چه دوي په خداي او په رسول لاس لګولي دا روایت
که دي امام عمر نسفي په فارسي کړي افغاني ئي درویزه څنِ ویلي ـ فرقهٔ
دویم ـ بل مذهب اولیائیه دي ته ئي ګوره چه د دوي کفر څه بلا روښان دي
دوي وائي هر بنده چه اولیا شي پرده امر نهي وزګ شي د دوي هم تللي
ایمان دي وسکه سنت جماعتي دِ ور ته وائي چه که امر نهي نه واي پر نبي
باند به نه ووُ چه نبي په انبیاؤ کښ ترخان دي شفاعت به دي د نورو
رسولانو د امت کا چه د پاك نبي م روي پر الله ګران دي هم هسي دا
سپي وائي چه ولي به هم افضل تر نبي وینَ په دغه بده خبره بد مذهب د
حق په دین کښ هم لغزان دي تهٔ پناه له خدايَ غواړه له دي هسي ګمراهي
د درویزه خبره پند کړه دا فقیر م د نبي د دین جویان دي ـ فرقه سیوم ـ دریم
مذهب د شمراخي کافران دي نا روا روا کوینَ دوي وائي د هغو چه له ښه خدايَ
آشنائي شوه امر نهي څه لره پرځاي کوینَ هم هسي هرآواز چه وي د دف
یا د شپیلۍ هم له چنګَ له ربابَ دغه سپي ئي آرویده روا کوینَ هم ئي کفر
پیدا کړي چه ئي زنا دي حلال کړي دوي وائي دا عورتي دي ګلونه ګل هم هر
څوك بویوینَ دغه قوم د عبدالله شمراخي دي په ظاهر دوي صالحان دي په
باطن کښي کافران دینَ اوس څموږ په زمانه کښ لکَ څوك تاریك پیدا شه
دا خبره ئي انشا کړه ولِ ډیر افغانان ئي وُ یاسته له دینَ د دوي خون دي
مباح شوي نبي هسي دي ویلي چه پر مرګ ئي سرفه مه کانړي امتَ هر چه
څما دین به بدلوینَ درویزه بیان پښتو کړ له قرآنَ له حدیثَ بل هر چه
مؤمنان دي په سینه هم پرتمر دِ کیږدینَ ـ فرقه چهارم ـ څلورم مذهب اباحتي
دي په بدانُ کښ بتر دي دوي وائي پر خپل څان وُم قوت نشته چه ئي

بیارته کړو له بدٔ سکه په نورچا ؤم څه چارده په دغه وئي کافر دي نه وچا ته
وائي چه نیکي کړه نه څوک له بدٔ آروینَ پردي مال او هم زنا حلالوینَ ترکافرُ
لا بتر دي گفتارکردارئي دي د کفرهم آزار حجاب گنړینَ دوي بي شکَ کافران
دي ترکافرُ هم بتر دي دا هسي گمراهان په دا فساده زمانه کښي ډلِ ډلِ به
دوي گرزي برمنډ کړي به ئي فرض وي سکه حتیاط څنِ ؤ کانړئِي چه دِ کافرانو
سر دي سکه څمورِ حجت هم دا دي امر نهي په رسول باند راغلي هرچه
امر نهي نه کاند نه ئي وائي مسلمان نه دي اوتر دي د امام اعظم اقوال دي
درویزه په کتابونو کښں لیدلي هرچه امر معروف نه کا شیطانان دي دوي ناست
پر شور شر دي ـ فرقه پنجم ـ پنځم مذهب ئي حالیه دي دوي سر هوا چاري
به کاند هرچه مردِ او زن ئي گوري دوي سماع حلالوینَ گاه بي هوښَ شي
دوي پریوزي گهي لاس پر بل وهینَ گهي څرخ کا گهي ښوري دوي په زوره کا
خبري هم سرونَ خوځوینَ دوي وائي دا ؤمَ حال دي لکَ پیري ورته حاضر
شي دوي وائي فرښتگانِ دي راغلي را ته گوري مریدان ئي وهي لاپ چه دا
حال څمورِ د پیر دي عالمان ور خبر نه دي هرچه پیر وائي سفیدي ده چه
علمان وائي غه توري په دا رنگَ ضلالت او بدعت سړي کافر شي په قیامت
به ئي مخ تورکا چه اته لس زره قامَ به ئي گوري هرچه سرهوا خبره کاند له
نبي سرهِ ئي جنگ دي او هغو چه د نبي سنت خلاف کړ ور به نه یشي د
شفاعت په لوري درویزه کتاب پښتو کړ بلَ وارهِ افغانان دِ هم یاد کا چه
فرقي د گمراهانٔ دوي زده کا هم ایمان له دوي ؤ رِغوري ـ فرقه ششم ـ شپږم
مذهب د حلولي دي چه ئي کفر پیدا وار دي دوي وائي د شهوت نظر حلال
دي دغو سپیو دغه حال دغه کردار دي لکَ ښه صورت ؤ ویني رقص کاند
چه د خداي جمال م ؤکوت دا اقوال د کافرانٔ دا کافر هم په دغه کفر گرفتار
دي د درویزه بنده گفتار د زړه صیقل دي که ئي نغوري هرچه وائي له قرآنَ له
حدیثَ د نبي د چهاریارو مینه دار دي ـ فرقه هفتم ـ اوم مذهب د حوریهٔ ؤ

ځان درویش او شیخ شمرينَ نه پوهیږي لکَ دوي په خلوت شي شیطان وائي چه خداي را کړه دوي په هر رنګ لیده به غلطیږي لکَ ور شي د شیطان لښکرونَ دوي واړه رنګارنګ شي ولِ ځنِ لکَ حوري چه په لاس ئي صراحي وي هم چراغونَ ور نمائیږي لکَ بي هوشَ شي په ځرخ کښ وسکه تخت به د شیطان ور ته ځرګند شي چه دا عرش دي هم شیطان په ښه صورت ور ته ځرګند شي چه زه خداي یم ستا له خدايَ لیده کیږيَ بیا به دا ور ته وُ وائي له علمانُ خپلوي مه کړه دوي راه زن دي ستا له حالَ دوي منکر دي چه دا حال ئي نه حصلیږي هم به دا ور ته وُ وائي چه موسي لیده صفات وو ته ذات وینِ اوس په هسي مرتبه شويَ چه موسي غندِ نبي در نه رسیږي ګاه پیري شي ورحاضري وائي حوري دي راغلي موږ به ملاست ور سرهِ کړونَ چه په هوښ شي غسل کاندِ پر دا واړه ګمانونَ چه یقین کا کافر کیږي دا بیان چه افغاني دي په دغه رنګکَ ویلي عبد الله یافعي دي په رسالهٔ مکیهٔ کښ ئي وُ غواړه که باورِ په پښتو ژبه نه کیږي درویزه دي بیان کړي روایت ئي آوریدلي له جملهٔو امامانُ ـ چه آګاه له دي ځلورَ علمَ نه وي پیري کاند مریدان به ئي ښوئیږي اول علم تفسیر دي له حدیثَ له کلامَ ځلورم علم تعاط دي که له درِواړهِ اګاه وي له تعاطَ آګاه نه وي عاقبت به وُ ښوئیږي او که لاپ کا له تعاطَ له تفسیرَ له حدیثَ له کلامَ خبر نه وي دي ګمراه دي خلق ګمراهوینَ ولِ هر رنګکَ سړي نه ور پوهیږيَ ـ فرقهٔ هشتم ـ اتم مذهب د واقفي دويَ له شناختَ منکر شوي دوي وائي خداي به پیژانده را نه شي دوي په شناخت کښ حیران شوي دوي وائي خداي دي خپل خپسر پخپل پیژاندلي په بنده به پیژانده نه شي په دغه وئي ګمراه دي غلط تللي له اسلامَ بیزون شوي ولِ اهل سنت وائي پیژانده د حق آسان دي پر بنده باندِ راغلي هر بنده دِ هنمبرهِ زده کا چه خداي یو دي کل کارونَ ئي په حکم پیدا شوي درویزه بیان دي کړي بل هرځوک دِ دا زده کا چه خداي یو دي هر چه وائي

خداي به پيژانده را نه شي غه کسان دي گمراه شوي - فرقهٔ نهم - نم مذهب متکاسليه دي دوي له کسبَ لاس وُ ښکلي تل بنيژي کاند په غاړه درويزه کا هم کچکول ئي دي په ملا پورِ تړلي تل له خلقَ به زکات صدقه غواړي په زاري تل بي عذرَ درويزه کا دوي خلاف دي د نبي له کفتَ کړي نبي وِ که وُم وچولي خولي شي يا وُم لاس شي په تنړاکه کسب کانړئي هر چه آساني کا کسب نه کا رزق به غواړي تل له خلقَ هغو دين دي پرولولي چه مطلق آساني کا نه به گډ وي نه به شل وي نه طالب به وي د علم نه به زوي لور ودوينَ نه به ډير عيال لرينَ چه ته فصل به نه رسي نه به دي وي پورورِي هم هسي تل بي عذرَ درويزه د ده عادت وي په قيامت به ئي د مخ غوښي وُ رژيږي چه به دي وي شرمولي او که دا هنمبر عذرونَ چه م ياد کړهٔ ولِ يو پر ده پيدا وي باك ئي نشته که به خواست کا په قيامت نه دي نيولي درويزه چه دا بيان کړ روايت له معتبرو کتابونو ئي را وُکيښ هر چه پسروي به کا د کتابونو د نبي پاکيزه راه هغو نيولي - فرقه ذهم - لسم مذهب متجاهليه دي څه به وايم د بد بختو له بيانَ دوي قوم د دهريانو چه منکر دي له حديثَ له قرآنَ بيزار شوي دي له علمَ له علمانٌ سر هوا خبري کاند دليل وائي دوي وتلي له ايمانَ دوي وائي چه قرآن حجاب د راه دي دا بدلي دي برحقي چه قرآن د طريقت دي څه به وايم دغو سپيو له گمانَ دوي عمر په بدلو هم په کفر گمراهي کښ تيروينَ کله وائي چه دا پير څموږ خداي دي يا نبي دي يا ولي دي کله وائي چه مهدي آخر زمان دي په دا بده زمانه کښي اوس هر رنگ گمرهان ډيز شوُ ولِ زيات ئي په افغان کښ بنياد دي له تاريکَ پير روښان او که ته طالب دَ خداي ئي ته به بي د پاك رسول له پسروئي قبول نه شي د درويزه خبره پند کړه ده ويلي له حديثَ له قرآنَ - فرقه يازدهم - بيا هم زده کړه دا مذهب د حلوليه د دي سپيو څرنگ بد گمان دی شوي دوي وائي خداي په خلق کښ خلق په خداي کښ

محو شوي خاورِ ئي په خله شه چه هيڅ نه وُ هله خداي وُ هسي دي
هسي به وينَ هر چه څه په کښ وي ميانِ کاواك وي او هغه چه په څه
کښي وي غه عاجز وي پيدا شوي بلِ مذهب د الهامي په حلوليه پورِ تړلي
نفل نمونځ روژه به نه کا له فرضونَ ولِ مخ ئي له قرآنَ هم له علمَ له
علمانُ جاروتلي نيک بد پرِ بل وهينَ دوي وائي مورِ خراباتي يوُ له قرآنَ
له معراجَ ئي منکر دي دوي د ګمراهانُ شعر د قرآن پر ځاي نيولي دوي
عمر په دا بيهوده بدلو تيروينَ دوي بي شکَ کافران دي هر چه دا خبره
وائي غه کافر دي هم عورته ئي طلاقه دا حديث د پاك رسول تر خلي وتلي
درويزه چه دا بيان کړ افغانانُ لره بس دي که يقين باند وُ کاند هر چه
دا خبره زده کا پرِ باور کا هغو لاس په پاك نبي ور لګولي ـ فرقه دوازدهم ـ
دولسم مذهب ته زده کړه چه دا پاکيزه مذهب دي د سنيانُ دوي سنت
جماعت دي هم پيرو د پاك نبي دئ هم دايم مدام صحبت ئي دي له
علمَ له علمانُ د خداي فرضونَ نه قضا کوينَ له حرامُ پرهيز کاند له جمله
حرامَ فعلَ له شرابَ هم له رقصَ له سماعَ له بازئي حتياط کاند يارانُ کسب
کاند د حلالو هم معراج بر حق ګڼرينَ چه په تن وُ تل دايم صحبت ئي له
سنت جماعتي نيک کارَ پرهيز کاند ناسته نه کا له بدانُ که څوك ور ته
ښکنځل کا دوي به بد ور ته نه وائي چه شريك به په لعنت شي دوستي کا د
خداي له خلقَ ولِ کبر او مني نه کا تر هو چا خپسر کوز وينينَ دغه خوي
دي د خاصانُ په فارسي په عربي هر څوك پوهيږي درويزه بيان پښتو کړ په
فارسي په عربي کښ علمانِ دي و خپل قام وته ښځپلَ ژبه وائي ولِ کم
څوك پيدا شوي له افغانانُ

بسم الله الرحمن الرحيم

بسم نام د الله خداي دي کارساز د کل عالم دي د بندګانُ رحمان مهربان خداي دي رزق روزي ؤ رسوينَ و مومن و کافر و جملهؤ ځانورانُ رحمان رحيم دوارِه مشتق له رحمتَ د رحمان معني م ِؤ وِ رحيم بسيار بخشاينده دي هورِ ډير به ور کوينَ دي خاصهؤ مومنانُ ما چه دا کتاب آغاز کا د خداي نوم م ِبدرګه که هم امان غوارِم له خدايَ له شيطانَ م ِګريز دي بلَ نه شم دِ ښيمانَ جمله صفت ستاينه چه چا ؤ وِ يا به وائي دا لايق د الله ده چه خالق د کل عالم دي هم پروونده د جهانيانُ د هغه جهان ښادئ د هغو دي چه پرهيز ئي کړ له کفرَ له ګناه به ئي خلاص کا هم جزا به ور کوينَ له خاصانُ د خداي درود رحمت پر پاك رسول شه چه ښه نوم ئي محمد دي هم ئي پر اصحابُ پر امتي دغه پس پر علمانُ ته زده کړه چه بنده دي آزميلي په نيکي هم په بدي کښِ د نيکانُ به ثواب وِي د بديو به عذاب وِي د عاصيانُ په آزميښت کښِ ئي فاعل بنده تړلي په روا په نا روا دي ځوك دِ کاندِ ځوك دِ نه کا پس هيڅ ښاره م ِنشته د روا د دوارِه نوع له بيانَ هم هسي د روا د نا روا معني به وايم له حکمونُ چه آسان پر طالب شي ولِ زيات پر افغانانُ درويزه بيان کا اوس توفيق غوارِي له خدايَ فرض واجب سنت مستحب سره روا دي پنځم مباح هم ور سره کانړئ يارانانُ حرام مکروه ئي نا روا دي بل مفسد ور سره مل دي مفسد چه په روا عمل کښي راشي دي تباه کا تاسُ واروئ دوستانُ پس دا وارِه اته رنګ ـ هر چه فرض دي ثابت شوي په آيت هم په حديث دينَ بي شکَ پس حکم ئي ثواب دي د کامل

هم عذاب دي د بي عذرَ تاركانُ هرچه له اتفاقي فرض منكر شي به كافر شي لکه پنځه وقت ئي نمونځ دي لازم کړي پرعورتُ پر مردانُ ـ هرچه واجب دي ثابت شوي په آيت يا په حديث دي لبکي شک به په کښي وينَ د کړو د نه کړو حکم ئي د فرض دي اعتقاد ئي هسي نه دي چه منکر به ئي نه وي د كافرانُ ـ سنت چه به نبي دايم مدام کړ ولِ يو ځله يا دوه ئي وُ پريښي ثواب ئي په کردن دي په دي نه کړه ملامت په مؤکده کښ چه به دي شي له پښيمانُ ـ مستحب چه نبي يو ځله وُ کړي نور ئي نه کړ امامانُ کړ پرِ مهر په کردن کښ ئي ثواب دي په نه کړه ملامت نه دي ولِ ډير ارمان به وُ کا لکه لوي بخره ويني د نيکانُ ـ په مباح کښ مخير دي که ئي کاندِ که ئي نه کا هم ثواب عذاب ئي نشته دا خبر په روايت د بينايانُ ـ په حرام کښي ده نهي ثابتَ شوي اوس مطلق چه د هيڅا جګړه نشته هرچه ئي د خداي د ويري پريږدي ډير ثواب دي او په کړه کښ ئي عذاب دي د بدانُ ـ هر چه حرام اتفاقي حلال ګڼړينَ به كافر شي لکَ سرود وي يا شپيلۍ وِي يا آواز به ئي ښوک آوري يا به رِقص کاندِ په دوي دغه فعل د شيطان ـ هم هسي پر مکروه نهي ثابتَ ولِ ګاه په ضرورت کښ به مباح شي په کړه کښ ئي عذاب دي په دا نه کړه ئي ثواب دي که حلال ور ته وُ وائي دي نه دي د كافرانُ ـ مفسد چه په روا عمل کښ راشي غه عمل به حبطه کا په قصد کړه کښ ئي عذاب دي که په وهيرځنِ پيدا شي دي نه دي د فاسقانُ هسي زده کړه په نمانځه کښ جمع شوي دا څلور ځيزَ ورښي دِي ولِ دا نور هم پيدا کيږي ګاه ګهي له مصليانُ پس هيڅ ځاره م نشته د دوي واړه له بيانَ هره نوع به تمامَ وُ شميرمَ چه لفظونَ ئي کوتاه وي او پوره په کښ بيان وي مسايل د مصليانُ سکه دا واړه اته رنګَ اته بابَ به ئي کړم چه آسان پر مؤمن شي ولِ زيات پر افغانانُ

باب اول در بیانِ فرایض نماز

پنځه لس ځیزَ فرض دي په نمانځه کښ ځوکَ درون دي ځوك بیرون
دي عزیزانُ تن ځاي جامه دِ پاك وي خپسر پټ كانړۍ یارانُ وقت نیت
قبله زده کړه له تکبیره دا اته سره پیرونِ دي بیا قیام له قراتَ له رکوعَ له
سجودَ هم ورستي گذار کښیني مصلیانُ ترتیب فرض د غو ځیزونُ هر چه یو
ځله مونده په هر رکعت شي لکه قیام له قراتَ له رکوعَ هر چه یو شي ځنِ
پاتَ نمونځ ئي مات شي مصلیانُ هم هسي ترتیب فرض د غو ځیزونُ چه په
درست نمانځه کښ یو ځله مونده شي لکه ناستَ په ورستي ځله یا تکبیر
ويْ له اولَ که له ځايَ شي بي ځايَ نمونځ ئي مات شي انسیانُ په یوه
چارِ له نمانځه وُ وزه که سلام وِي که کلام وي دا اوه واړهِ درون دي وُ
پوهیږي طالبانُ

باب دویم در بیان واجبات نماز

واجبات دي واړهِ یو ویشت ځنِ عام په هر نمانځه کښ هم پرِ واړه
مصلیانُ ــ عام لفظِ تکبیر تحریمه دي هم ورښي گذار کښیني هم په دوه
قعده تحیات د پاکانُ په رکوع سجود آرام کړه فرض واجب له خپله ځايَ لرِ
مه کړه هم په لفظ د سلام له نمنځه وُ وزه دا طریق د مسلمانُ او که ځوك
قرات درست کا و رکوع وته زر نه ځي یا ورښي گذار چه کښیني درود وائي
په طریق د ساهیانُ دغه نفي تاخیر واجب وه وُ ئي نه کړ دغه نمونځ په
نقصان شه په نور ځه به پوره نه شي مگر دوه سجده پرِ وُ کاندِ د سهوي په
اقوال د امامانُ هم که ضم سورت به پریږدي و رکوع وته را کوز شي بیا په
بیارته وُ جارووزي سورت ضم کا دا واجب وه لکه بي ځايَ شه له ځايَ
سکه سجده سهوه دِ وُ کاندِ یارانو ـ اوه عام ووُ چه م وُ وِ ـ ځور لس خاص
دي اوس به وایم د فرض په ورښي رکعت کښ لولي هم الحمدُ تر بل
سورت دوړاندِ یو ځله لوستلي بویه مومنانُ له الحمدُ سره بل سورت پیوند

کړه یا که یو آیت دراز یا دِرکوتاه وي دغه واړه پر امام پر منفرد دي ولِ
نه پر مقتدیانُ هم په وتر کښ قنوت دي دِر نمانځه په زوره دوه په ورو
لوستلي بویه چه امام په زوره لولي تاسُ غوږ باسئي خلقَ هم خله پټه واړ
اوسئي یارانُ هرچه ورشي ته امامَ او امام وي په نمانځه کښ ور سره وتلي
بویه وسکه څه شؤ که رکعت ئي په حساب د نمانځه نه شي دغه خوي د
پس روانُ بل سجده سهو هم پر امام پر منفرد ده چه واجب د نمانځه
ترک کا په مانند د ساهیانُ د واړه عامُ که یو ترک کا مګر طمانیه چه وجوبت
ئي د نورچا د پاره شوي اوْ د خاص که وړنبلي اته وهیر که سکه سجده سهوه
دِ وُکا زاهدانُ

باب سیوم در بیان سنتهاء نماز

اوَ ویشت سنت دي په نمانځه کښ دا اوَ لس په کښ عام دي فهم کانړئي
یارانُ - اول لاس پورته کول د تحریمي او د قنوت دي هم د اختر په تکبیرونَ
د فقیرُ د شاهانُ هم کړه ګتي څبله بیارته په دا واړه چه نه دوي سره پیوستِ
وي نه لرِ هم سُبحَانَكَ اللّٰهُمَّ لوستلي بویه هم چه ښي لاس پر کینړ کیږدئي
بندګانو هم چه کښته پورته درومئي تکبیر وایئي هم دا هسي د قنوت تکبیر
سنت دي د رکوع تسبیح دِرڅله وُ وایئي هم دا دواړه زانو نسه په رکوع کښ
چه وي ګتي څبله بیارته طالبانُ هم قومه جلسه وُ کانړئي هم سجده پر دا
اوه اندامَ کانړئي عالمَ د سجدي تسبیح دِرڅله وایئي لږ دي منفرد که ئي تر
لس څله کم وائي دغه خوي د زاهدانُ په تشهد پسِ درود پر پاك نبي دي
په درود پسِ هم بلَ دعا وائي هرچه یاد مي په کښ خپل څان کړه هم دعا وُ
کړه پر واړه مومنانُ ولِ هسي دعا مه کړه چه د خواست ويَ له سړيَ دغه
نمونځ به دِ تباه کا هم ښي کینړ سلام جارباسه په کښ نیت کړه د سړي هم
د دواړه فرښتګانُ اوس بیان به کړم د خاصُ چه د څنُ نمازګذارُ په نمانځه
کښ وي راغلي هر امام دِ خپل تکبیر په زورَ وائي مقتدیان دِ هم دا خپل

تکبیر پیوند کا په تکبیر د امامانُ د امام ته پسروي په هره چارِ کړه هم تعوذو تسمیه دواړه په ورو لوستلي بویه دا خلور واړه پر امام پر منفرد دي له تامینَ پورِ لولي عالمانُ او که امام په زوره لولي مقتدي دِ آمین وائي بي خلافَ هم تسمیع پر امام ده او تحمید پر منفرد پر مقتدیانُ بل په دواړه قعده کینړه پښه پرِ باسَ ته پرِ کښینه ښئي ولاړه کړه اي یاره ولِ عورته دِ دا دواړه پښې په ښي لوري وُ باسي پر سرین باند دِ کښیني محبانُ

باب چهارم در بیان مستحبات نماز

مستحب دي واړه درِ ویشت ولِ خور لس په کښ عام دي انسیانُ ښي کینړ کاته ته پریږده پر هر حال و هغه ځاي وته ته گوره چه ویلي فقیهانُ که اروِي در باندِ زور کا یا سرفه وي دواړه شونډي پرِ بلَ کیږده پري ئي مه ږده خو توانیږي هم تر درِ آیتَ زیات لوستلي بویه هم قرآن په مخرج لوئي قاریانُ په رکوع کښ ملا له سرَ برابره کړه طالبُ چه قدح پرِ وُ دریږي دوه زانو وږنبلي تر لاسونو لاس تر پوزي دا تر وچولي وږنبلي و سجدي وته یښود دي مصلیانُ په دوو لاسو کښي سجده کړه چه قیام لره به دروِمي واژگونه آخله چه یاد شوي د لاسو د پښو د گتو مخ و قبلي ته په رکوع هم په سجود کښ لك کړه پیغمبرانُ که دِ وچولي په خاورو په خلو وي خو بیرون له نمانځه نه شي پاك ئي مه کړه لك و خداي وته درِيّ په نمانځه کښ د دوو گتو تر میانَ خلور گتي ځاي پریږدیِ صالحانُ دواړه لاس په ورانه کیږدیِ په قعده کښ هم پر دواړه لوري مخ څرگند کانړِئ چه سلام لئِ نیکانُ ـ خاص واړه سره نه دي اول لاس پورته کول په تحریمه کښ ته غه پورِ څوِ ئي حد وي مردانُ د دواړه نوك د کتو گتو ته نرمه د خپل غوږ رسوینَ ته اوږو پوري هسك کانړِئ زنانُ بیا مردانِ دِ دواړه لاس تر نامه د کښي کیږدي او عورته دِ پاس پر سینه پریږدي بل چه تحریمه تړي دواړه لاس هم تر لستوڼي بیرون کا مردانُ ـ امامان دِ په نمنځونُ کښ وُ لولي هغه رنك سورتونه چه راغلي

په حدیث په روایت دي هم صباح دِ دا وارهِ ورنبلي رکعت اوږدِ کا تر.
ورستلي دغه خوي د مومنانُ منفرد تر درِ خله تسبیح زیات وائي چه طاق
وي دوه بازو هم کشاده لرئِي له کیدي ولِ کیده له ورنونو له پنډئِي هم له زمکه
په رکوع هم په سجود کښ کشاده لرئِي مردانُ او عورته دِ دا وارهِ پیوسته کا
هم دِ تول سره پریوزي بل یو ځاي له بله لري نه وي د فرض په ورستي رکعت
یو الحمدُ لولي بي سورتَ دا مذهب د عالمانُ پر هغو چه قرات دي تسمیه
دِ تر الحمدُ ورنبي وائي په هر خله او مسبوق دِ هم بیا هنمبره منتظر وي و
امام ته هر څو دي نمونځ تمام کاند یارانُ

باب پنجم در بیان حرامهاء نماز

حرام وارهِ سره څور لس ـ هر چه عام دي پرهیزکانرئِي متقیانُ تسمیه چه
له تامینَ بلند لولي هم چه شي کینږ به ګوري او څه مخ ئِي ګرزولي وي
بندګانُ و آسمان ته چه ګوري یا بي عذرَ به پرستن یا پر لاس باند تکیه
کا یا به لاس پورته کوي پر هغه ځاي چه روایت به باند نه وي د فقیهانُ
هر چه په رکوع هم په سجود کښ دي د پښو ګتي کا پورته دا حرام دي او
که سر ئِي یښي وي پښي کا پورته بیا چه سر واخلي و پښي کیږدي دغه
نمونځ به ئِي تباه شي په دا فعل د ترکانُ و هر چه تشهد لره پر پنډئِي باندِ
کښیني یا په تن یا په جامه به څوك یو دوه خله بازي کا هم که اشارت پر
سبابه که لكَ مذهب د شافعي دي ولِ دا فعل حرام پر حنفیانُ هم سلام
پر یو لورکا هم دعا قنوت به بي وترُ دي لولي په تکبیر او په ثنا په تسبیحات
په تشهد کښ به څه زیات کا تر غه قدر چه امام اعظم ویلي له یارانُ که
له یو ویشت واجبَ یو عمداً څنِ خطا شي دا حرام دي په محیط کښ ئِي
حرام او مکروه یو رنګَ ویلي مصنف دي طالبانُ

باب ششم در بیان مکروهات نماز

هر چه په نمانځه کښ مکروهات دي دوي شپیته په یوه کم دي واعظانُ

دو ځلویښت ئي په کښ عام دي لکه تکبیر چه څوك تکرار کا رفیقانُ هم هر څوك چه په گته آیتونَ تسبیحات حسابوینَ دا مکروه دي هم هسي هر چه لاس پر تشي کیږدي یا پیدا کا په نمانځه کښ دي بد خوي د جابرانُ هم هر چه بي عذرَ توخیږي که حرفونَ پیدا نه شي کراهیت دي بل که پوزه پاکیزه کا یا پوکي کا په نمانځه کښ که هر څو آوریده نه شي مومنانُ که په خوله کښن ئي درم وي یا څه نور څه چه خواندن ئي منع نه کا یا هم هسي په قومه او په جلسه کښ کا مخ پورته وُ آسمان ته یا غاښ سکوي تر حلقَ وُ لاړ شي که هلك غه ترڅخود وي ادیبانُ هم هسي که سنت پرېږدي دِ سنتُ یا په کښته هم په پورته وړل د تحمید د تکبیرونُ یا بي عذرَ دواړه لاس پر زمکه ږدینَ و سجدي ته تر دا دوه زانو دوړاندِ دغه خوي د ضعیفانُ هم چه ئي پس له زانو آخلي چه دریږي یا د سپي په دود به کښیني په قعده کښ هم چه بي اروږي خله کا وبله تؤلَ یا به سترگي پر بلَ نسي دا سنت د جهودانُ هم هسي که یو دوه څله کاږي کا له سجده لري او مگر که سجده نه شي مکروه نه دي هم هسي خوله له خاورو کا پاکه په نمانځه کښ یا جامه پورته کوینَ دغه خوي د جاهلانُ چه جامه کا اویزانده یا به بي عذرَ اروږي کا یا به خپسر پروښینَ یا به گتي ماتوینَ هم چه گاه پر یوه پښه وُ دري گهي پر بله هم چه گتي کاند ډیرينَ څبله لري مگر رکوع سجود وي ندیمانُ هم چه ډیر په تلواړ لولي هم چه سر به دِي له شا سره سم نه کا په رکوع کښ هم چه تر درِ گامَ یا زیاتِ بي عذرَ واخلي که پر هر قدم دریږي صالحانُ هم چه خوښي په نمانځه کښ هم تر درِ سپږي کم وږني یا ئي ښخي کا په زمکه هم چه لاړي آچوینَ هم موزهِ په لږ عمل دي په آخره قعده وُ کاږي طالبانُ هم چه خوش بوئي په لاس کښ واخلي بوي کاند یا یو یا دوه څله دي باد کا په جامه یا په ببوزي هم که یو سورت تعین کا په نمانځه کښ چه به بي له ده بل نه لولم دغه خوي دي د

عامیانۀ هر چه دوه سورت په یوه رکعت کښې لولي ولې یو سورت د دواړه تر میانَ پریږدي یا چه دوه آیت لولي او تر میانَ ئې پاتِ شوي یو سورت وي دغه فعل د نادانۀ هم چه ورستي سورت به تر وړنبلي وړنبي لولي اګرچه په دوه رکعت وائيْ دا مکروه دي هم چه تسمیه تر هر سورتَ دوراندِ به په هر رکعت کښې لولي دا مکروه دي امتیانۀ هم چه هلك آخلي په نمانځه کښې دغه بي عذرَ ښه نه دي مګر ویرهِ وي له پړانګَ هم له اورَ له لړمَ له مارانۀ - خاص مکروه واړهِ اَو لس په نمانځه کښې یو امام چه منتظر شي په رکوع کښې چه آواز د کوښۀ واروي دا ئې زده وي چه څوك غټ دي دغه خوي د فاسقانۀ هم ورستي رکعت چه اوږد کا په دا فریضه نمانځه کښې یا آیت چه د رحمت یا د عذاب وي وُ ئې لولي او په فکر کښې دریږي ښه به نه وي مصلیانۀ توقف په فریضه په نافله کښې مقتدي او امام دِ نه کاند منفرد په فرایضُ کښې٠او منفرد په نفل په سنت کښې کا فکر دي به شي د خاشعانۀ هم هر چه د دستار په وله سجدهٔ کا یا مړونه چه به ګیډه له ورنونَ یا بازو به له تخرګونَ پیوسته کا یا په لړ عمل قمیس خولۍ وُ کاري یا ئې واغندي یارانۀ هم امام چه په نمانځه کښې اوږده سورتونَ لولي چه پر قوم ئې ثقیل شي یا تلوارکا د دي دپارهِ چه آسان شي پر دوي یا امام له مقتدیانۀ ښول غواړي ولِ هنمبرهِ ئې وي لوستي چه ئې نمونځ پر جایزکیږي انسیانۀ یا د ورځِ په نفلونۀ کښې که څوك امامت کا په زورهِ لولي یا د سجدي آیت وُ لولي امامان په ورو نمانځه کښې مګر دا چه دا سورت په دنباله وي فاضلانۀ که د غم یا د ښادئِ یو آیت وي دي ئې بي عذرَ تکرار کا په دا فریضه نمانځه کښې هم چه یو سورت د فرض په یو رکعت کښې ډیر خله تکرار کا موحدانۀ هم مړونه لك نمونځ کا او لستونړي ئې پورته تر څنګلَ وي یا امام لك د ویري د امید آیت وُ لولي او مقتدي وائي ربښتیا دي خداي ویلي هم راوړي رسولانۀ هم که بي عذرَ په فرض کښې تکیه کا پر دیوال پر

ستن باند. دا مکروه دي او په نفل کښ که هر څو دي بي عذرَ تکیه کاند
دي نه دي د کارهانٔ

باب هفتم در بیان مباحات نماز

مباح کل سره یوَ لس او اته ئي په کښ عام دي امامانٔ لك د سترګو په ګوښه څوك نظر کاند مخ ئي نه ويَ جاريستلي دا مباح دي مسکینانٔ هم که ځاي به د سجدي سرِي یو دوه څله هوار کا که وي عذر یا مار وژني په نمانځه کښ دا مباح دي که هر څو سرِي محتاج په چوب و سنګ شي بل هره نوع چه وينَ د مارانو که په خله کښ یا په لاس کښ ئي درم وي چه طریق ئي لوستنِ او د يښو منع نه کا یا به درست قرآن وُ لولي ته اولَ ته آخرَ په ترتیب لك دا خوي د حافظانٔ هم چه جامه ور ګردوينَ په رکوع کښ د دِ دپاره چه په تن پروته نه شي هم که دنباله د دووُ شورتو دي په دوه رکعت لولي ده مباح په روایت د راویانٔ خاص واړه سره درِ دي لك یو سورت د نفل په یو رکعت کښ ډیر څله تکرار کا هم چه بي عذرَ په نفل کښ تکیه کا پر دیوال یا پر ستن دغه خوي د کاهلانٔ هم چه د امام په زړه کښ نشك شي او د سترګو په ګوښه په بیارته ګوري که دا قوم مِ به کښیني یا ولاړیږي زهِ به هم دا هسي کړم دغه خوي دي د وهیر غازِي امامانٔ

باب هشتم در بیان مفسدات نماز

مفسدات واړه پنځه دي په تحقیق روایتونَ واړهِ عام دي مصلیانٔ ـ یو خبره د سرِي که په قصد وي یا اوده یا بیدار وي یا ئي وائي په طریق د ساهیانٔ که خبره حقیقي وي لك م وُ وِ یا حکمي وي چه په لوستنَ څوك پوه وينَ یا به خاندي هم هسي ډیر عمل چه صلاح نه وي په نمانځه کښ او پیدا شي له نادانانٔ هم چه فرض د نمانځه پریږدي په نمانځه کښ .نمونځ ئي مات شي که په قصد ئي وي پریښي یا په وهیر او په خطا وي پاتِ شوي دغه فعل د نادانٔ هم که په قصد څوك اودس مات کا نمونځ ئي مات

شي او که قصد ئې باند نه وی سکه بنا به ئې روا وي دي به وي د مصليانُ

خلاصه م په پوښتو کړه بل هر څوك دِ ئي زده کا که بنده وي که آزاد وي هم عورته که مېره وي دي به شي د کاملانُ افغانان په زمانه کښي دي بي علمَ څکه مخ ئي له شرع جاروتلي که له خداي له رسولَ ئي بايده دي سر هوا رسم دِ پرېږدي وسکه پيروي دِ کاند د علمانُ لك دا زده کړه پر هز چا باند لازمه درويزه بنده د خداي دپاره وُ و هر چه خداي رسول مني له قيامتَ وُم شي ويرهٔ آساني په کښي مه ګانړئي افغانانُ د فقير پر افغانانُ شفقت دي څکه ديربيان د دين ور لرهٔ کاند هرچه ياد ئي په دعا کا هغه کس دِ ودزيږي له مؤمنانُ

ګل دسته

د عبدالقادر خان ځوي د خوشحال خان خټک

ترجمه د ګلستان د شیخ شعدي

گل دسته د عبدالقادر خان

باب اول په بیان د خوي خصلت د بادشاهانو

حکایت

یوه بادشاه په وژلو د یوه بي گناهٔ اشارهٔ وُکړ هغه بي چارهٔ چه له حیاتَ نا امید شه هر چه په ژبه ورتله بادشاه ته ئي ښکنځل کړه هر څوك چه لاسونه له ژوندونه پریوینځي هرچه پر زړه ورځي تر خوله ئي وُ باسي بیت

چه وقت په سري تنګ شي نه خلاصیږي له ضرورهٔ
لازم ور لره دا شي چه لاس وړي په تیره تورهٔ
پیشو چه شي عاجزه سپي ئي کا تر سینه لاندِ
خواه نا خواه غصه پیدا کا حمله کا په سپیو باندِ

بادشاه پښتنه وُکړه چه څه وائي یوه له وزیرانو چه نیک ذات مبارك سرشت وه عرض ئي وُکړ چه دعا کاندِ او هسي وائي چه هر څوك چه غصه وُ نغري گناه کار سړي وُ بخښي احسان وُکا حق تعالي د احسان ښتن دوست لري د بادشاه پرِ رحم وُ شه معاف ئي کړ او له وژلو ئي تیر شه بل وزیر چه د ده ضد او مخالف وه بد نهاد ښتن د عناد وه وُ ئي وِ چه دي سړي بادشاه ته ښکنځل او نا سزا ویل کول تا په خلاف بادشاه ته عرض وُکړ بادشاه مخ د ده له خبري وُ جاریوست اعراض ئي ورځني وُکړ وُ ئي فرمایل چه د ده دروغ ویل څما پسند شول ستا له دي رښتیاوُ ویلو چه د هغه په دروغو کښ مصلحت وه او ستا په دا رښتیا کښِ خباثت دي چه هوښیارانو ویلي دي دروغ چه له مصلحت سره آمیز وي له هغو رښتیاوُ بهتر دي چه فتنه انګیز وي

بيت

هغه څوک چه بادشاه کاندِ هرچه دي ورته وُ وائي
چه به بي له ښو څه وائي په هغه باندِ نه ښائي

دا لطيفه يعني نرمه خوږه خبره په ايوان د فريدون بادشاه ليکلي وَه بيت

دا جهان به پاتِ نه شي چا ته وروره د جهان پيدا کوونکي و ته گوره
په هرڅه چه دي خشنود شي هغه کارکړه ځان په ښه خوي د نيکانو سره شمارکړه
تکيه مه کړه په دنيا په ملك په اصل البته به دِ تا شي ورځني فصل
ډيرئي هسك کړل بيا ئي وُويشتل په زمکه مينه نه کا هوښياران په دنيا څکه
چه نيت وُ کاندِ د تللو ارواح پاك څه مرگ پاس په تخت باندِ څه په خاك

حکايت

يو بادشاه د خراسان د ملك په خوب کښ سلطان محمود د سبکتگين ځوي وُ ليد سل کالَ پس د ده له مرگَ چه درست وجود ئي رژيدلي وه خاوري شوي مگر سترگي ئي چه په کولکونو کښِ غړيدلي نظر ئي کاوه واړه حکيمان معبران ئي له تعبيرَ عاجز شول مگر يو درويش وُ وِ چه اوس ئي سترگي وُ غړيدي چه ملك ئي د نورو شه بيت

تر اوسَ گوري په سترگو تورو چه ملك ئي وُ نيو شاهانو نورو

قطعه

ډير نامدار ځوانان ئي لاندِ کړه تر خاورو چه په زمکه له دوي پاتِ نښان نه شته
د ښو نوم ئي لا تر اوسَ په جهان شته مدتِ وُ شه چه حاطم نوشيروان نه شته
خيرخيرات کړه اَي فلانه تر هغه وړاندِ چه ناگاه وُ شي رږغ چه فلان نه شته
چه د بل له مرگَ واړوي ځان وُ ژاړه چه ستا هم له هغي ورځي امان نه شته

حکايت

يو ملك زاده وه کوتاه قد او حقير نور ورونړه ئي ښائيسته بلند قامت دل پذير يوه ورځ مگر پلار ورته نظر په حقارت وُ کړ دي په فراست وُ پوهيده

چه پلار را ته په خوار نظرکاندِ عرض ئي وُ کړ اي پلارَ خبرهٔ کړم که دِ نه وي په خاطر گرانه چه کوتاه هوښیار بهتر دي تر نادانَ په قامت مهتر هاتي که لوړ دي مردار دي گډ که وروکي دي حلال هسي رنگ لړ مال چه حلال وي بهتر دي تر هغه چه درخچه حرام ډیر مال وي قطعه

کوهِ طور تر همه غرونو ظاهر کم دي دا خبرهٔ و هرچا ته ده څرگنده
په نژدي د حق چه قدر د ده ډیر دي مرتبه ئي ده تر قافَ لا بلنده

قطعه

یوه ورځ احمق څاریه ته په جدل کښِ وُ کړ دا رنگه ډ نگر هوښیار مقال
تازي آس تر ښو څربو خرونو بهتر دي که هرڅو ضعیف لاغروي بد ئي حال

پلار ئي په دا خبرهٔ وُ خندل او وروڼره ئي وُ رنځیدل قطعه

څو خبرهٔ مرد تر خولي پستلي نه وي په کښِ پټ وي د ده هرعیب و هنر
په ځنگل کښِ گمان مه کړهٔ چه خالي دي ښائيَ وي چه په کښِ پروت وي شیر نر

اتفاقاً هم په هغه مدت کښِ بادشاه ته سخت غلیم مخ ښکاره کړ چه دوارهٔ لوریه لښکري څبله وُ رغلي اول چه میدان ته وُ ووت او آس ئي وُ ترپاوهٔ هم هغه هلك وه دا ئي وِ قطعه

هغه نه یم چه غلیم وته به شا کړم که په جنگ کښِ په سینه په مخ واهه شم
جنگیالي په خپلو وینو بازي کاندِ یا مي فتح یا په تورو به ورژه شم

دا ئي وُ وِ نور ئي ورگډه کړهٔ څوانان کارندهٔ ئي پرییستل پلار لرهٔ راغي زمکه د خدمت ئي ښکل کړهٔ وُ ئي وِ قطعه

اي چه تا ته مي صورت حقیر ښکاریږي زنهر مه گڼرهٔ د تن څربښت هنر
ډنگر آس په ورځ د جنگ په کار را دروميي د سوارئي په وقت نه څورب گاو خر

راوړي دي چه لښکر د غلیم ډیر وو لږو څني قصد د تیښتي وُ کړ دي هلك پرِ آواز وُ کړ چه اي مردانو بهتر دي تاسو ته مخ په وړاندِ کوښښ چه درِ وا نه غنډي د ښځو پوښښ نورو څوانانو لرهٔ په ویل د ده غیرت وُ رغي

تهور ئې زیات شه وارو په یوه ځل په غلیم حمله وُکړه حق تعالی فتح ور کړه بري ئې بیا موند پلار پرِ مهربان شه په سر و سترګو ئې ښکل کړ په غیږ کښې ئې وُ نیو ورځ په ورځ ئې متوجه په حال شه نظر د تربیت ئې پرِ کاوه تر هغه چه خپل ولي عهد ئې کړ وروڼو ئې حسد پیدا کړ زهر ئې د ده په طعام کښې واچول خور ئې له دریڅې وُ لیدل تنبه ئې وُ وهله ده په فراست سره معلوم کړ لاس ئې له طعامَ وُ نیو وُ ئې وِ محال دي چه هنرمندان وُ مري او بي هنران د دوي ځاي وُ نیسي قطعه

که هماي مرغه له ملکَ ځوك معدوم کا د هماي سیوري به کله حاصل بوم کا

له ازلَ ځوك مسعود ځني منحوس شول سعد و نحس نه آسمان نه ئې نجوم کا

پلار ئې په دا حال آګاه شه وروڼړه د ده ئې وُ بلل ګوشمالي ئې لکه حق وه هسي ورکړه هر یوه لره ئې حصه د ملك معینه کړه فتنه ئې تر مینځ دفعه شوه حکیمانو ویلي دي لس درویشان په یوه تغر کښې ساعت تیروي دوه بادشاهان په یوه ملك کښې نه ځائیږي قطعه

حقاني سړي که نیم کوکړي وُ خوري وربه کا و بل فقیر ته هغه بل نیم

که اووه اقلیم خپل کا ګمان مه کړه چه به نه کا بادشاه غم د بل اقلیم

حکایت

یو جماعت د عربو د غلونو په غره کښې ئې ځاي کړي وه لارئې د کاروان بنده کړه رهزني به ئې کوله رعیت د هغي نواحي پریشان او ترسان شه او لښکر د بادشاه مغلوب په دا سبب چه سخت ځاي وه چه دوي په غره کښې نیولي وه ورختل د لښکر محال وه هرچه تدبیر کوونکي د هغه ملك وو سره کښیناستل مصلحت ئې د دفع د مضرت د دوي کاوه چه په دا روش ځو مدت دوي په دا ملك تیر کا مقاومت به ور سره مشکل شي چه لا تازه دي زور قوت ئې نیولي نه دي دفع کول ئې بویه قطعه

هره ونه چه تازه وي نهال شوي په قوت د سړي وُ خیژي له ځاي

چه ئي ولي زرغوني شي ستة لويه　　په څو کسَ به وُ ښکي شي را ته وايه
له اولَ زيم د چيني په لرڅه بند شي　　چه نم تراوش کا له گل و لايه
په څو ورځو چه ئي زور د اوبو وُ شي　　هاتي هم څني جارباسي مخ له ورايه

آخرالامر اتفاق په دا وُ شه خبره ئي مقرره کړه چه جاسوس دِ ور پسي تعين شي تجسس ئي جاسوسانو کاوه يو وقت چه غلونو په يوه قوم بانډِ تاخت وُ کړ ورستو ځاي د دوي خالي پاتو شه يو څو ځوانان چه کارديده آزموده وو وُ رغله د غره په لمن کښِ په ناله کښِ پټ کيناستل په شپه چه غلونه له تاختَ ستړي راغله سفر ئي کړي وه خوب پرِ زور نشوي وه ولچي ئي کيښوي ملا ئي پرانتي اول غليم چه تاخت ئي پرِ وُ کړ خوب وه هرگاه چه کللك اوده شول هغه ځوانان له پڅوني ور پاڅيدل واړه ئي وُ تړل صبا ئي په درگاه د بادشاه کښِ حاضر کړل بادشاه حکم د واړو په وژلو وُ کړ ناگاه په منځ کښِ د هغوُ غلونو يو ځوان وه ښائيسته امرد چه خط د عذارينُ ئي نوي توکيدلي وه بهارئي د حسن تازه غړيدلي وه يوه له وزيرانو پايه د تخت د بادشاه ئي ښکل کړه عرض ئي وُ کړ مخ ئي د شفاعت په زمکه کيښو چه دي هلك د ژوندون له باغَ ميوه نه ده خوړلي اميد له کرمَ د بادشاه څنِ دا دي چه په بخښل د ده د خون په بنده منت کيږدي بادشاه مخ له دي خبري وُ جاريوست موافق ئي د بلند فکر را نه غله وُ ئي فرمايل　بيت

تربيت کله آخلي چه بد ذات وي بد نهاد　مرد کي کولي نه شي په گنبذ بانډِ ايستاد

نسل اولاد د دوي چه منبع د فتني او فساد دي قطع کول ئي بهتر بيخ تبار د دوي له اصلَ را وُ ښکل صواب اور مړول او بچري پريښول کار د نادانانو دي　　قطعه

که وريځي د ژوندون اوبه کا توي　　وُ به نه خوري هرگز څوك د ولي بر
له بد ذات سره روزگار کول ضايع دي　　له دړمو نه به څوك بيا مومي شکر

قطعه

که اوریځ د ژوندانه اوبه باران کا په تاثیر به ئې شي واړه ونې لویې
بیا به واړه ونې اصل ته رجوع کا شنډه ونه به میوه نه کاندې تویې

وزیر چه دا خبره د بادشاه واوریده خواه نا خواه ئې پسنده کړه او په فکر د بادشاه ئې تحسین وُکړ آفرین ئې وُ وِ عرض ئې وُ کړ هر چه صاحب فرمائي عینِ صواب دي او مسئله بي جوابه ده اما دي لا هلك دي د بدانو د خوي اثر په کښِ شوي نه دي بغي عناد ئې په وجود کښِ متمکن نه دي ممکن دي که په صحبت کښِ د نیکانو داخل شي چه له ښو خویونو واصل شي اثر پرِ د صحبت وُ شي تبدیل ئې د اخلاقو وُ شي قطعه

د نوح خوي چه له بدانو سره کیناست د بدانو له صحبتَ نا خلف شه
پیروي ئې د اصحابِ کهف وُ کړه هغه سپي په سپیو کښِ اهل شرف شه

دا ئې وُ وِ نور بیا عرض مکرر وُکړ امرایان مصاحبان نور هم ور سرهِ په شفاعت کښِ مددگار شول بادشاه د هغه له خونَ تیر شه وزیر ته ئې معاف کړ وُ ئې فرمایل وُ مي باخښه اگر که مصلحت نه وه بیت

و رستم وته زال پند وایه اي زویه کم غلیم په زره کښِ لوي گڼلي بویه
ما له کمي چیني دي هسي رود لیدلي چه له بار سرهِ ئې اوښ دي رغړولي

وزیر د هغه هلك په ناز و نعمت پرورش کاوه ادیب ئې ور ته مقرر کړ لائق د بادشاهانو د څواب و سوال شه ناسته ولاړه ئې د ملوکانو د خدمت حاصله کړه د هر چا په نظر کښِ مقبول شه یوه ورځ وزیر د ده له شمائیلو صفت بادشاه ته وُ کړ چه صحبت د عاقلانو پرِ اثر کړي دي جهل قدیم ئې له وجودَ وُ ووت بادشاه وُ خندل وُ ئې فرمایل بیت

عاقبت به د لیوه بچړي لیوه شي که هر څو ئې پرورش له سړي وُ شي

دوه دري کالَ چه تیر شول د محلت له اوباشو سره ئې موافقت وُ کړ په وقت د فرصت ئې وزیر سره له دوو زهمنو وُ وژي دولت ئې ډیر تر قیاسَ

زیاتَ واخست په هغهٔ ځاي کښِ چهٔ ئي پلارونه ناست وو وُ رغي کیناست عاصي شه بادشاه. وارویدل گتي د حسرت ئي په غاښونو د حیرت چیچلي وُ ئي وِ

قطعه

له ترخي وسپني کله ښه تیغ کیږي کاریگر که هرڅو ښه لري دست رس
که هرڅو ئي تربیت حکیمان وُ کا دا محال دي چه ناکس سړي شي کس
باران کله په بارش کښِ تفاوت کا ښه خوړهٔ زمکه گل کاندِ ښوره خس

بیت

په ښوره زمکه کښِ کله زراعت شي د امید تخم هرگز پرِ ضایع مه کړه
له بدانو سرهٔ ښه بدي له ښو شي دا وینا ده هر چا وته کړه
عاقبت به د ارمان ورغوي ژوئي یو زمان دِ بدان نه شي چا کړه

حکایت

شیخ سعدي قَدَسَ اللّٰهُ سِرُّهُ الْعَزِیْز وائي چه یو سرهنگ زاده مي په ورهٔ کښِ د اغلم د سراي وُ لیده چه عقل او پوهه ئي زیات تر بیان وه فراست او دانائي تیرهٔ تر حدَ تخښي د بزرگئي ئي په وچولي کښِ پیدا وي او نور ئي د هوښیارئي په مخ کښِ جلوه گر بیت

پاس په سرئي د دولت ستوزي درخښان وه خوش منظر شیرین کلام عالي نشان وه

په لږ مدت کښِ مقبول د نظر د بادشاه شه چه هم په حسن صاحب جمال وه هم په عقل څښتن د کمال وه حکماوُ دي ویلي توانگري په زړه ده نه په ډیر مال عقل په سر دي نه په ډیر والي د کال بیت

چه په عقل هلك پیر وي و دانا وته کبیر وي

نورو سیالانو ئي حسد ښه پیدا کړ د ده په منصب ئي کینه وُ کړه د ده د وژلو ئي سعیه بي فائده وُ کړه مصراع "دښمن هیڅ کولي نه شي چه پرِ مهر لري دوست

رباعي

چه هنرمند وي هغه حاسد لري اغزي گلونه رقیب شاهد لري

په څو به خويشي د بومو زاغو بازچه مسکن د شاه ساعد لري ۰
بادشاه پښتنه ورځنِ وُکړه چه موجب د دوي د دښمنۍ له تا سره څه
دي آزار ئي په کم سبب له تا زره دي عرض ئي وُکړ چه په سيوري مي
ستا د دولت هر څوك خشنود کړي دي مګر حسود چه دي نه راضي کيږي
بي څما د نعمت له زوالَ ستا اقبال دولت دِ ذو الجلال باقي لري قطعه

توانيږم چه هرګز به زړه د هيچا آزار نه کړم
بي حاسده چه زحمت لري په زړه کښِ د حسد
دي به خلاص له دي زحمتَ هم هاله شي چه دي وُ مري
تر حسدَ په رنځونو کښِ هيڅ نه شته بل رنځ بد

قطعه

بد بختان په آرزو غواړي د نيك بخت زوال د جاه
شاپيرك په ورځ نه ويني نمر هيڅ نه لري ګناه
دوي دِ واړه پرِ راندۀ شي نه د نمر سترګه سياه

حکايت

يو له بادشاهانو ظالم وه لاس ئي د ظلم په مال د رعيت اوګد کړ خلق د ده
له ظلمَ په ځان شه بي وطنَ آواره په جهان شه محصول د ملكَ په نقصان
شه خزانه ورکه سپاه پريشان شه غليمان له هره لوريه پرِ ښکاره شول قطعه
په محنت کښِ که څوك غواړي چه دِ مل شي په راحت کښِ د هرچا کړه دلبري
په احسان به بيګانه لکه برده کړي شتا دپاره به په شا څکوي وري
عدل داد کرم انصاف ور لره بويه شلطنت هسي کار نه دي سرسري
مل هغه چه په لري کښِ درسره وي تمامي جهان دِ مل دي د بري
يوه ورځ په مجلس د هغه کښِ شاه نامه لوستي شوه هرکله چه قصه
په زوال د ملك د ضحاك او د زماني د فريدون راغله وزير له بادشاه نه
پښتنه وُکړه چه فريدون خزانه لښکر نه درله څه رنګَ ملك په ده مقرر

شه بادشاه وُ وِ لکه چه آرویدلي دِ دي خلق په تعصب چه د ضحاك له ظلمً پریشان شوي وو په دَه را ټول شول قوت ئي وُ نیو بادشاهي ئي واخسته وزیر عرض وُ کړ هرگاه چه جمع کیدل د خلقو موجب د بادشاهئ دي ته خلق ولي پریشان لري مګر خواهش د سلطنت دِ نه شته بیت

شاهانو لرهِ بویه پرورش د سپاهي بي لښکرو نه شي په ملکونو بادشاهي

بادشاه وُ فرمایل سبب د جمعیت د لښکر د رعیت څه دي عرض ئي وُ کړ بادشاه لرهِ کرم بویه چه خلق پرِ ټول شي رحمت بویه چه ملك ئي ودان شي تا څخه له دوارو یو نه شته قطعه

لکه نه شي له لیوانو شباني هسي نه شي له ظالمً سلطاني

خرابي د ملك له خپله لاسً کاندِ هر بادشاه چه ستم کا په خلقو باندِ

بادشاه ته پند د ناصح وزیر دل پذیر نه شه موافق ئي د طبعي را نه غي زندان ته ئي واستاوه په لږ مدت کښِ وارثان د ملك چه د دهٔ ترِبرونه وو خروج ئي وُ کړ میراث ئي د پلار طلب کړ هغه قوم چه د دهٔ له ظلمً پریشان شوي وو په دوي جمع شول قوت ئي وُ نیو ملك ئي له ظالمً را نیو دوي پرِ مسلط شول . قطعه

چه ستم په زیر دستانو باندِ ډیر کا په معني د زورور غلیم دوستدار دي

د عادل بادشاه لښکر خپل رعیت دي د عادل بادشاه هم عدل لوي حصار دي

حکایت

یو بادشاه په کښتئ کښِ ناست وهٔ یو مریي عجمي هم ورسرهِ په خدمت حاضر وهٔ مریي کله سیند لیدلي نه وهٔ د کښتئ ناستي ئي آزمیلي نه وهٔ ژړا زاري فریاد ئي آغاز کړ اندامونه ئي وارهِ په لرزه شول که هرڅو مهرباني دلاسا ئي کوله آرام ئي نه کیدهٔ د بادشاه طبیعت ور څخه برهم شه له علاجً ئي عاجز یو حکیم په هغه بیړئ کښِ ناست وهٔ عرض ئي وُ کړ که حکم وُ شي زه ئي خاموش کړم بادشاه وُ وِ ډیر منت به دِ را باندِ بار شي حکیم حکم وُ کا

چه مرېي سينه ته واچوه څو غوټي چه ؤ خوړي تر وينستو ئي ؤ نيوه بېړئي ته ئي را واچاوه په لاس ئي بېړئي کلکه ؤ نيوه په ګوښه کيناست آرام ئي ؤ نيوه بادشاه تعجب ؤکړ ؤ ئي فرمايل چه په دا کښې څه حکمت وه حکيم عرض ؤکړه چه ده محنت د سيند د غرقيدلو ليدلي نه وه دا د بېړئي ناستي ده ته زحمت وه هم هسي رنګ قدر د عافيت هغه څخه وي چه په مصيبت ګرفتار شي

قطعه

د ماړه تر فهمَ هيڅ نه ده غنمينه ولي وږي ته حلوا ده اوربشينه
جنتيانو ته اعراف لکه دوزخ دي د دوزخ عالم اعراف جنت ګڼرينَ
تفاوت دي چه ئي يار پغير کښي پروت وي له هغه چه ګوري ور چه به را شينَ
واصلانو ته څنبل ستړګي حجاب شي مهجوران په تش سلام سره پائينه

حکايت

هرمز شاهزاده چا ؤ پښتيده چه د پلار د وزيرانو څخه دِ خطا ؤ ليده چه دِ ؤتړل ؤ ئي وِ خطا ئي معلومه نه ده اما ؤ مي ليدل چه څما هيبت ئي په زړه کښي ډير دي را څنِ په ويره دي باور ئي را باندِ نه شته ؤ ويريدم چه له خپلي ويري به قصد څما د هلاکت ؤ کا پس په حکم مي د حکماو د قول کار ؤکړ چه ويلي ئي دي

قطعه

که په پوهه په دانش نه ئي سقيم هميشه اوسه په نغته د حکيم
چه له تا نه ډار لري ور څنِ ډار کړه که په زور په قوت ته وي ستا سهيم
پشو هم د څان له ويري په پړانګ زغلي که هر څو حقير جثه ده پړانګ جسيم
څکه مار ګذار په پښه د شپانه کاندِ چه له کاڼري ئي په ويره دي په بيم

حکايت

يو د عربو له بادشاهانو رنځور شه په وقتِ پيري ئي اميد له ژوندون پر کړي وه چه ناګاه يو سور تر وره را ننوت زيري ئي پر ؤکړ چه فلانه کوټ مو ستا له اقبالَ فتح کړ دښمنان څوک ؤ مړل څوک بند شول دوستان ښادکام او

خورسند شول سپاه رعیت د هغه ملك مطیع او فرمان بردار شول هر چه مفسدان وو ورك ئې بېخ او تبار شه بادشاه سوړ آه له ګرمي سیني ؤ کیښ چه دا زیري څما نه دي بلکه څما د غلیمانو دي یعني د وارثانو د ملك

نظم

حاصل شول مقصودونه د دنیا له هرۀ بابَ   عاقبت به په ارمان ورځني څم سینه کباب
دا امید ئې چه پوره شه لا ئې زیات اندوه د زړه شه   تللي عمر به را نه شي روح له تنَ په واته شه

قطعه

اوس د کوچ نغاره ؤ شوه حکم راغي له اجلَ   اندامونو تاسو واړه تودیع ؤ کړئ یو له بله
دا بیلتون څه هسي نه دي چه بیا ویني بي محشرَ   څما سترګو تاسو دواړه وداع ؤ کانړئ له سره
تر قیامتَ به هم هسي تارپه تار خپله اوسي   د صورت خاوري به ګوره نصیب چرته چرته یوسي
د غلیم په نغته مه څئ عبرت واخانړئ له ما نه   تاسو اي څما دوستانو غفلت لري کړئ له څانَ
مال و ملك که خزاني دي که حشم که سلطاني ده   خالي لاس ورځني دروميِ تر حاصله پښیماني ده

حکایت

شیخ وائي قَدَّسَ اللّٰهُ سِرَّهُ الْعَزِیْز چه څو ورځي په جامع کښِ د دمشق په زیارت د یحي پیغمبر عَلَیْهِ السَّلَامُ معتکف وم یو له بادشاهانو د هغه ملك چه په بي انصافئ مشهور وه په زیارت راغلي نمونځ ئې ادا کړ زیارت ئې ؤ کړ حاجت ئې ؤ غوښت   بیت

درویش دي که غنيِّ دي محتاج واړه د دي در دي
بلکه لا تر درویشانو چه غنیان دي محتاج تر دي

بیا ئې ما ته ؤ وِ چه همت د درویشانو یمن برکت لري امید چه توجه د خاطر له موږه سره کړئ په دعا مو یاد لرئ چه له زورورۀ دښمنَ اندیښمن یم ورته مي ؤ وِ چه په ضعیف رعیت بانديِ رحمت کوه چه له غلیمِ قوي څخه زحمت ؤ نه ویني   قطعه

په قوت د لیچو زور په ضعیف مه کړه   چه ؤ نه ویني د بل زورور زور

که ځوك خوږ كړي وُ پوهيږه چه به خوږ شي — دا متل دي هرگز نه زړيږي پور
نيك و بد د خپل عمل درته جاروزي — بي هوده په نورو كړي د گتو تور
دستگيري د افتاده ځكه هوښيار كا — چه كه پريوزي دستگيري ئي وُكا نور
پنبه وُ كاږه له غرورو عدل و داد كړه — چه غليم دِ سرنگون وي كر و كور
دا چه نن درته كم زوري ترميږي دي — عاقبت به ئي په تا كاندِ منكور

قطعه

په معني كښِ آدم زاد واحد صورت دي — پلارئي يو اصل ئي يو يوئي فطرت دي
چه په دردِ شي پر اندام د آدم زاد — بل اندام كله له غمَ وي آزاد
كه پيدا د پښي په نوك باندِ الم شي — دردِ آموده سرو لاس پشت و شكم شي
ته له غمَ چه د بل آدم بي غم ئي — نه پوهيږم چه حيوان ئي كه آدم ئي

حكايت

يو درويش مستجاب الدعوات په بغداد كښِ ښكاره شه حجاج بن يوسف ئي خبر كړ درويش ئي وُ باله ورته ئي وُ وِ چه دعا را ته وُ كړه درويش وُ وِ خدايَ ځان ئي واخله حجاج وُ وِ الله الله دا څه دعا وه وُ ئي وِ دا دعا د خير وه تا لره او مسلمانانو لره كه ته وُ مري ته به له گناهونو خلاص شي مسلمانان به ستا له ظلمَ خلاص شي

رباعي

چه دِ له لاسَ آزاروي زړونه — مرگ دِ بهتر دي له دي ژوندونَ
څو به دِ بلي لنبي د ظلم وي — آخر به وُ سوځي دا اورستا خونه

بيت

هسي رنگ وُ مره چه خپل ځان له خلقَ خلاص كړي
نه چه ئي سبب د خلاصئ شي ستا رحلت

حكايت

يو له بادشاهانو چه په بي انصافي په ستم مشهور وه يو عالم رباني ته ئي وُ وِ چه په عبادتو كښِ كم عبادت فاضلتر دي وُ ئي وِ ستا خوب تر نيمي

ورځي چه خلقو ته څو ته اوده ئي آزار ؤ نه رسي له جوره دِ په آرام وي

قطعه

د چا چه خوب له وينښ واليَ ښه دي بيدار ئي مه کړه پريږده اوده وي
د ساعت خوب ئي چه هونښره سود لري ته خود قياس ؤ کړه مرګ به ئي څه وي

حکايت

يو له ملوکانو درسته شپه په عيش په عشرت مشغول وه په عينِ مستي کښِ ئي ؤ وِ بيت

په جهان کښِ ما ته به تر دي دم نه شته چه د چا د ښود بدو مي غم نه شته

درويش په ساړه کښِ د ده تر قصر لاندِ برمنډ پروت وه جواب ئي ور کړ

بيت

اي چه نن د تا څوک سيال په عالم نه شته
ستا کا هيڅ نه شته اندوه څما هم نه شته

د بادشاه د ده په ضعف حال رحمت ؤ شه همساني د زرو دينارو ئي له دريڇي را ؤ يسته غږ ئي کړ چه اي درويشَ لمن ؤ نيسه درويش وي لمن له کومَ راوړم چه جامه نه لرم د بادشاه شفقت پرِ زيات شه سر و پاي او هغه زر ئي ور لره راستول درويش هغه زر په څو ورځو کښِ تار پړه تار کړه بيا راغي رباعي

صبر په زړه کښِ د عاشقانو دنيا په لاس کښ د آزادګانو
لکه اوبه په غلبيل کښِ نه دريِ هسي قرار نه کا اي تجربه دانو

و بادشاه ته دا د ده صدا موافقه را نه غله په غضب شه مخ ئي ترِ ؤ جاريوست څکه هوښيارانو ويلي دي چه دَ بادشاهانو طبيعت شامل لازم دي کله چه دماغ ئي صاف وي په کنځلو خلعت ورکا او کله چه فقير ور ته دعا ؤ کړي له دره ئي بدر کا قطعه

په هغه نعمت حرام دي د بادشاه چه فرصت د عرض نه لري نګاه

چه بي وقت دولتمند ته کا عرضونه و هغه ته ترخه کيږي جوابونه
حکم ئي وړکړ چه دا شوخ چشم گداي بد خرڅ بي باك لري کانړئي نور ئي مه راپريږدئي چه دا هونبره ډير مال ئي په څو وقت کښ ضايع کړ خزانه د بيت المال لقمه د مساکينو ده نه طعمه د اخوانو شياطينو قطعه
هرابله چه په ورځ شمع د کافور ږدي بي ډيوي به ئي په شپه وُ ويني کور
چه په خرڅ کښ انداز نه لري ساتلي زر يا سوال ته وُ دري يا غواړي پور
يوه له وزيرانو چه ناصح خيرخواه د بادشاه او د خلق الله وه عرض ئي وُکړ چه مصلحت دا دي چه د دي هسي خلقو وظيفه په قدر د دوي له حاجت سره معين شي چه روز مره ورته رسي اسراف په کښ نه شي کولي اما زجرو منع د محتاجانو مناسب د صاحب همتانو نه ده يو څل اميدوار کول بيا نااميد له دره شړل خوي د څوان مردانو نه دي قطعه
چه يو څله څان مشهور په سخاوت کا نوم د داد و دهش کاندِ په څان پوري
نور هرگز بائده نه دي و هغه ته چه به ورکا په محتاج د ورکړو پوري
په شيرينو اوبو جمع ډير عالم شي نه هغه اوبه چه تلخ وي يا شوري

حکايت

يو بادشاه په نگهباني ملك ئي سستي کوله لښکر ئي په سختي ساته په دا سبب سخت غليم ورته مخ ښکاره کړ لښکر ئي ورته شا کړه قطعه
بادشاهان چه له سپايانو ساتي زر په تنگسه کښ به ئي سپائي وُ ساتي سر
په ميدان به څرنگ جنگ کا له غليم چه لاسونه ئي خالي له زر و سيم
په راحت کښ آسوده ساته سپايان چه په وقت د محنت تيرشي ترخپل څان
هغه څوك چه د سرونو بها خورين کم انصاف دي چه ئي څوك وړي لرين
شيخ وائي يو له هغه سپايانو څما اخلاص مند وه ملامت مي کړ چه سفله حق نا شناس دي نمك حرام نا سپاس دي چه په لږ تغير حال خپل صاحب ته شا کا د کالونو حقونه پايمال وُ ئي ويل که عذر مي قبلوي شايد

آس مي په سبب د لوږي له سوارۍ پاتِ شوي وي او زين مي د خپل قوت د پاره گهنه وي بادشاه چه په زر ورکول د سپاهي سره بخيلي کا سپاهي به په سر ورکول څرنگ څوان مردي کوي قطعه

د ملك بادشاه که دِ کشور بويه تخت د شاهۍ تاج دِ د سر بويه
شرم ساتوني زر غورزووني شه له سپاهي نه سر بويه له تا نه زر بويه

حکايت

يو له وزيرانو له وزارتَ معزول شه په مجلس د درويشانو کښِ کيناست د صحبت اثر پرِ وُ شه جمعيت د زره ئي حاصل شه حرص ئي د دنيا کل زايل شه رباعي

د خو د بدو صحبت تاثير لري چه مس پرِ زر شي اثر اکسير لري
له درويشانو سره چه کيني زره ئي نور بيا مومي زړونه منير لري

بادشاه څو ورځي پس د ده له عزلَ پښيمان شه بيا ئي خدمت د وزارت پرِ سپاره نه ئي قبلاوه وُ ئي وِ اي بادشاهَ ما لره دا معزولي ښه ده نه مشغولي

نظم

چه په کنج د عافيت ئي زره آرام شي عاقبت د عافيت په کنج ښاد کام شي
د دي کنج ويره هرگز د زوال نه شته هيڅ دولت له دي دولت سره سيال نه شته
چه قانع په خامتاين شي په پتيره غم ئي نه وي له بادشاه له اميره

بادشاه وُ وِ ما لره البته هوښيار وزير بايده دي چه د ملك بندوبست بي د ښه وزير له تدبيرَ نه کيږي وزير عرض وُ کړ چه هوښيار صاحب تدبير هم هغه دي چه دي کار ته هوس نه کا قطعه

چه قانع په يوه څاځکي شه صدف قيمتي گوهر ئي څي په هر طرف
چه هماي مرغه قانع په استخوان شه په مرغو باندِ ئي بيامونده شرف

حکايت

سياه گوش ته چا وُ وِ چه په څه سبب دِ ملازمت د مزري اختيار کړي دي

وُ ئي وِ پس خورده د ده د ښکار خورم او له دښمنانو په پناه د ده په آرام یم ور ته ئي وُ ویل چه هرګاه اقرار د نعمت دِ وُ کړ او په حمایت د ده فراغت ئي ولي نژدي نه ور دروښي چه له خاصانو مقربانو دِ شمار کا وُ ئي وِ هسي رنګ ئي له حملي او له قهرَ په امن هم نه یم بیت

کِه سل کاله پرستش د اورګبران کا یو ساعت که په کښي پریوزي څان به زیان کا

کله ندیم د بادشاه زر بیا موښي کله ئي سر لاړ شي مثنوي

له صحبتَ د شاهانو کړه پرهیز طبیعت د دوي تر اورَ دي لا تیز
که دا اور هرګور رڼرا لري پر نور دي فراغت وي هم هغه چه څنِ دور دي
په خپل قدر وقار کار د حکیمانو ظرافت بازي روش د ندیمانو

حکایت

شیخ وائي یو آشنا څما وه چه د روزګار له ګردشَ ئي کار تنګ وه اوقات ګذاري ئي نه کیده په قدر حاجت ضرور درمانده شوي وه شکایت ئي د احوال خپل یوه ورځ ما ته بیان کړ چه عیال مي ډیر دي آمد مي هیڅ نه شته طاقت د فاقي نه لرم څو څله مي په خاطر کښِ وُ ګرزي چه بل ملك لرِه لاړ شم څان له وطنَ وُ باسم بیت

چه دِ قدر په کښِ نه وي وطن څه په کار بي ننګ
پاڅه زر څنِ روان شه تا ته نه ده دنیا تنګه

په هر صورت چه وي په نا آشنا عالم کښِ ګذران کوم څوك مي به په ښه بد حال واقف نه وي نظم

ډیر مسافر وړي څوك ئي نه پیژني څوك که شاه که امرا وي څوك پر نه وي خبردار
پخپل وطن کښِ ګران شي ګذران د نیست کارانو مرګ ئي دي هردم چه نور عزیز ویني دي خوار
هرڅو وطن خوړوي هم ترخواه ناخواه روان شي وړي که برمنډ وي روزګار کا په بل دیار

بیا له پیغورهِ د دښمنانو اندیښنه وُ کړم چه را پوري به خندا کا سعي به

ځما چه په حق ئې د عيال کوم حمل به ئې په بي مروتي په بي حميتي کا دا به وائي

قطعه

وُ به نه ويني هرګز بي حميتَ — په دنيا کښې مخ د بخت و د اقبال
د خپل ځان په خوشحاليو پسي ورک شه — و خواريو ته ئې وُ سپاره عيال

په علم د حساب کتاب البته پوهيږم که ستا په سپارش مي چرته نوکري وُ شي په يوه خدمت منصوب شم چه موجب مي د جمعيت وُ شي بقيه عمر به ستا شکرګذارم وُ مي وِ اي ورورهٔ عمل د بادشاهانو دوه لوريه لري حاصلول د نان يا نقصان د ځان

قطعه

درويشانو لره هيڅوک نه وردرومي — چه خراج د زمکي را کړه يا د باغ
کله موړ کله فاقه روزګار بهتر دي — چه آرام دي د صورت د زړه فراغ
يا قبوله پريشاني کړه غصه نغره — يا زړه ورکړه چه تونکي پرِوهي زاغ
زاغان څوک دي حاسدان معاندان دي — چه پرِ سوځي چه بل وينې د چا چراغ

وُ ئې وِ دا خبره دِ موافقه له حالَ ځما سره وُ نه کړه جواب دِ ځما د سوال وُ نه کړ آرويدلي دِ نه دي چه حکيمانو ويلي دي هر څوک چه خيانت پريږدي لاس ئې په وقت د حساب نه ريږدي

قطعه

چه کاره وي د هغو له اوره غم وي — څه ئې ويره له آتش وي چه سم وي
له ربښتنيو سرهِ مل پروردګار دي — را ته وُ وايه څوک ورک په سمه لار دي

هوښيارانو ويلي دي څلور تنه له څلورو تنو په ځان دي مفسد له سلطانَ غل له پاسبانَ فاسق له غمازَ روستائي له محتسبَ هر چه په حساب کښې پاك وي له محاسبي ئې څه باك وي

قطعه

که دِ زړه دي چه خوله بنده کړي د چغلو — په عمل کښې روزګار مه کوه بي ننګَ
ته پاك اوسه باك په زړه کښې له چا مه کړه — خيرن نمري به وهي دوبي له سنګَ
په نيت صاف په خوله شيرين اوسه ښه وينه — چه په امن ئې د خو بدو له جنګَ

وِ مي حکايت د هغي لونبړي مناسب ستا د حال دي چه چا ليده چه

تښتیدہ کله پریوته کله پاڅیدہ یوہ ؤ پښتیدہ چه سبب د دي خوف څه دي
چه دا هسي گریزانه لرزانه ئي وِ ئي آرویدلي مي دي چه اوښان په بیگار
نیولي شي هغه شخص ور ته ؤ وِ د اوښ له تا سرہ څه مشابهت دي او ستا
له اوښ سرہ څه مناسبت دي ؤ ئي وِ که حسودان ور ته ؤ وائي چه دا د
اوښ بچړي دي څوك به غم څما د خلاصئي کاندِ تر هغه چه تحقیق کاوہ
شي زہ به هلاکه شم بیت

له عراقَ چه تریاق ور ته را دروِمي مار چیچلي به د مرگ پیاله ؤ شوِمي

هسي رنگ لکه وائي ستا فضل دیانت او تقوي امانت شته اما دښمنان
قابو طلب دي څو ئي وهلي وي که په خلاف ستا د سیرت د خصلت تقریر ؤ
کا د بادشاہ په غضب چه کیوزي څوك به وي چه ستا د خلاصئي غم ؤ کاندِ
د چا قدرت به وي چه ستا حقیقت په واقعي عرض کا مصلحت دا وینم
چه د قناعت په ملك سکونت ؤ کړي او ترك د ریاست بیت

که سودونه په دریاب کښِ بي شمارہ دي خلاص هغه چه ترِ ولاړ په کنارہ دي

دا څما دوستانه ویل په موافق د دہ د طبعي را نه غله له دي جهته چه
صاحب د غرض لیوني وي خبري ئي را ته رنجش آمیزي ؤ کړي آزردہ خاطر
شه وِ ئي حکماوُ رښتیا ویلي دي چه دوستان هغه دي چه ته په زندان کښِ
وي ستا په کار شي که نه وي په وقت د سفري دښمنان هم لکه دوستان
ښکاریږي قطعه

دوست ئي مه شمارہ چه لافي د اخلاص کا په هغه ساعت چه ته ئي په نعمت کښِ
هغه یار رښتني یار گڼلي بویه دستگیري چه د یار ؤ که په زحمت کښِ

ؤ پوهیدم چه متغیر شه نصیحت څما په غرض گڼري یو صاحبِ دیوان
چه مي آشنا وہ دم ئي را سرہ د اخلاص واهه هغه لرہ ؤ رغلم د دہ احوال
او قابلیت مي ور ته بیان کړ سپارش ئي قبول کړ په یوہ مختصر کار ئي نصب
کړ پاکیزہ گي د طبیعت ؤ لیدہ امانت دیانت ئي ور معلوم شولِ له ادني مرتبي

ئي پورته کړ په اعلي مرتبه متمکن شه هسي رنګ ستوري د بخت ئي په ترقي وه تر هغه چه مقرب د بادشه شه په دا حال د ده مي شکر وُکړ خوشحال شوم وي مي

قطعه

په محنت کښ نا امید له خدايَ مه شه محنتونه که هرڅو در باندِ ډیر شي
پټ مهرونه د ښیتن په بندګانو چه وقت راشي عاقبت باندِ برسیر شي
په ظلمات کښ د حیات چینه موندي شي په غمجن باندِ مژده ښادي به ویر شي
چري نه وي وار خطا کړي په محنت کښ د دنیا محنت کوتاه دي زر به تیر شي

هم په هغه مدت کښ اتفاقاً یاران ځما حج لره روان شول زه هم ورسره لاړم پس له ګذارلو د حج ځن چه را وُ جاروتم دي دوه منزل وړاندِ استقبال ته ځما راغي ډیر پریشان احوال وي مي دا څه حال دي وُ ئي ویل لکه چه تا ویل هسي رنګ حاسدانو حسد ځما په مرتبه وُ کړ په خیانت ئي منصوب کړم بادشاه تحقیق د کار وُ نه فرمایه یاران دوستان له حق ویلو چپ شول حق ئي د صحبت هیر کړ

قطعه

د دنیا دولت چه مخ کا و سړي ته خلقي ورسره کاندِ یاري ډیري
چه نکبت ورته دوچار شي اقبال شا کا همګي یاران ئي کاندِ یاري هیري

هسي رنګ څو مدتَ په انواع عقوبت ګرفتار وم په دي هفته کښ چه د قافلي د حجیانو بادشاه ته خبر وُ رسیده په شکرانه ئي بندیان آزاد ول زه هم ورسرهِ خلاص شوم وي مي ما خو اول درته ویلي وه چه عملِ د بادشاهانو لکه سفر د دریاب دي سود ئي هم ډیر دي خطرئي لا تر حدَ تیر دي بیت

سوداګر کله حاصل له سیندَ سود کا کله سیند ئي کنګجړ سرهِ وجود کا

زیات مي تر دا مصلحت نه لیده چه څه مي ویلي مالکي مي د ده په پرهار دوړه ولي خو په دا دوه بیت مي خبره کوتاهَ کړه قطعه

نیکخواهان نه کا تقصیر د پند ویلو نیک بختان بویه چه غوږ د دوي په پند کا
په سوراخ کښ د لړم چه ګتي ږدینه خود به خود نادان خپل ځان وته ګزند کا

حکایت

شیخ وائي قَدَسَ سِرُهُ چه یو ځو تنه یاران ځما په صحبت کښ وو ظاهر ئي آراسته په شریعت باطن ئي ښائسته په طریقت وه یو له دولت مندانو چه په حق د دي طائفي نیك گمان او معتقد د درویشانو وه وظیفه ئي د دي یارانو مقرره کړي وَه ناګاه له یوه نه هسي حرکت ظاهر شه چه مناسب د دوي د حال نه وه اعتقاد د هغه شخص ورځنِ مات شه بازار د دوي سوړ هغه چه ئي څه مقرر کړي وو منع ئي کړه ځما خواهش وُ شه چه په یوه طریقه هغه کفاف بیا په ځاي کړم قصد مي د هغه دولت مند د ورتلو وُ کړ دربانان مانع شول نه ئي پریښوم معذور مي کړه لکه هوښیارانو ویلي دي قطعه

اول بویه چه حاصله وسیله کړي له هغه پسَ په وره ور شهٔ د بادشاه
سپي دربان چه مسافر سړي وُ ویني ښپي ګریوان د سړي نیسي خواه ناخواه

هرګاه چه مقربان د بادشاه په دا حال خبر شو په اکرام په عزت ئي ور وستم ښه هسك ځاي د ناستي را ته معین کړ اما زه از روي تواضع کوز کیناستم وي مي بیت

د مسند لیاقت نه لرم کمین یم له کمینو څخه ناست په زمین یم

وِ از براي خدا دا څه خبرهِ وائي بیت

پاس په سر ځمونګه کینه دل نشین ئي ستا نازونه به په سترګو ورو نازنین ئي

آخر الامر کیناستم له هره بابَ گفتګو مذکورونه کیدل عاقبت خبره د یارانو د مذلت په مینځ کښ راغله وي مي قطعه

لړ تقصیر ځنِ واقع یا واقع نه دي صاحب منع د یارانو کړ ادرار
بزرګي په خداي ښائي بنده نواز دي هره ورځ کا ګناهونه ګناه کار
عقوبت ئي هرګز دي په تلوار نه کا رزق روزي ئي په دستور وي برقرار
سل زر عیبَ د بنده ورته ښکاره وي دي ستار د همه واړه دي ستار

حاکم چه دا خبره وارویده اسباب ئي د یارانو د معاش لکه وه په هغه

شان بیا مقرر کړ او گذشته چه پاتِ شوي وو هغه ئې هم ورکړه شکر مي د نعمت ؤ وِ زمکه مي د خدمت ښکل کړه عذر مي د دي گستاخۍ ؤ غوښت رخصت شوم وي مي

قطعه

د مقصود کعبه که لري په هواد وي هم ور درومي که اصیل وي که آزاد وي
تا ته بویه تحمل د محتاجانو برهم مه شه په تصدیع د فقیرانو
شنډي وني وته کله خلق گوري کانړي تل په میوه داره ونه اوري

حکایت

یو بادشاه زاده وه خزانه ئې بي قیاس د پلار له میراث په لاس کیوته لاس ئې په سخاوت کښخود دولت ئې ډیر تر حساب تیر په سپاه په رعیت ښانده

قطعه

له اول چه ځان ؤ سنځي په اورکښې خشبوئي هاله مونده شي له اگره
دهقانان اول کندوان په کرل تش کا له غه پس ئې بهره آخلي له بره
که بزرگي غواړي کرم ورکړه عادت کړه نوم بي ورکړو د چا نه درومئ پسره

یوه هم نشین از روي دولت خواهي نصیحت آغاز کړ چه بادشاهانه چه گنجونه جمع کړي دي د یوه مصلحت دپاره دي جهان ځاي د حوادثو دي لاس له دي حرکت کوتاه کړه چه په وقت د حاجت در مانده نه شي

قطعه

خزانه که واړه ؤ ویشي په خلقو لکه وریجه هر گدا ته ؤ رسیږي
له هرچا که د اوربشي بر زر واخلي خزانه به د ر ته هره ورځ تولیږي

شاهزاده مخ له دي خبري ؤ جاریوست موافق ئې د طبعِي را نه غله ور ته ئې قهر ؤ کړ ؤ ئې فرمایل خداوند تعالي چه دا دولت ما لره را کړي دي بویه چه هم ئې خورم هم ئې بخښم نه چه ئې ساتم نگهبان ئې شم قطعه

د قارون که هر څو ډیر مال و دولت وه څه په کار چه ئې سبب شه د وبال
په ښه نوم د سخاوت حاطم ژوندي دي که ئې نه وه د قارون عندِ ډیر مال

حکایت

نوشیروان چه په عدل په انصاف مشهور وه یوه ورځ ښکار ته وتلي وه څه
ئي وژلي وو کباب ئي کاوه مالګه حاضره نه وَه خدمتګار ئي کلي لره واستاوه
چه ور شه مالګه په بها راوړه چه بدرسمي وُ نه شي کلي به خراب شي
چا وُ ویل په دا هومره مالګه راوړل به څه خرابي کیږي وُ ئي وِ بنیاد د ظلم
اول لږ وه هر څوک چه حاکمان کیدل په وار وار ئي زیاتاوه چه تر دي حده
وُ رسیده

قطعه

که بادشاه د چا له باغَ شفتالو په ظلم وُخوري د باغ وني به له ویخَ وُ کاږي د ده مریونه
که ستم په یوه هویه د غریب بادشاه روا کا سپاهیان به ئي چرګان د رعیت کا په سیخونه

حکایت

یو عامل وُه ظالم د رعیت خوني به ئي ورانولي د بادشاه خزانه به ئي
آبادوله بي خبرَ له دي خبري وه، چه هر څوک چه خدای تعالي آزاروي د
مخلوق د زړه ښه کولو دپاره حق تعالي هم هغه مخلوق پرِ وُ ګماري چه
مکافات د خپل کردار ور ښکاره کا بیت

هسي رنګ خرابي اورنه کا په خس لکه آه په جهان کاندِ د بي کس

ویلي شوي دي چه سرد حیواناتو مزري دي او کمترین د جانورانو خر په
اتفاق د خردمندانو هغه خر چه بار وړي بهتر دي له هغه مزري چه مردم
در دي

نظم

خر که هرڅو بي تمیز دي چهٔ بار وړي هسي عزیز دي
اوښ غځکي چه باربرداروي له ظالمَ بزرګوار وي
دد چه وُ مري ترِ ددي ښي دي دوزخ ته په بدي ښي

بادشاه ته ئي په وار وار حقیقت د ظلم د ستم معلوم شه په شکنجه کښِ
ئي را ښکه په انواعو عذابونو ئي مړ کړ قطعه

که دِ زړه وي چه بادشاه له تا خورسند شي شفقت کوه د خدای په خلقو باندِ

په هر څه کښِ رضا جوي د کردګار شه چه راضي له تا نه خپل بندګان کاندِ

په دا حال کښِ یو مظلوم چه د ده له لاسَ ئي ډیر ستم لیدلي وهِ په هغه لار تیریده دي ئي وُلیده وُئي وِ قطعه

که هرڅوئي جاه منصب تسلط ډیر وي ور ته نه بویه چه آخلي آزارونه

دا بي کسَ عالم مه ګنړه بي کسَ خپل څښتن پوره کوي د دوي کارونه

نمونه ورته ښکاره د خپل عمل شوه په قیامت به ئي وُ ویني انبارونه

حکایت

له یوه مردم آزاره حکایت شوي دي چه د یوه صالح سړي سر ئي په کاڼړي ویشتلي وه هغه درویش عاجز وه توان ئي د انتقام نه وه هغه کاڼړي ئي ځان څخه ساتلي لاره تر هغه چه بادشاه په هغه بر ګشته بخت باندِ په قهر په غضب شه په کوهي کښِ ئي واچاوه بند ئي کړ درویش راغي هغه کاڼړي ئي د هغه ظالم په سرو ویشت وُئي وِته څوک ئي او ولي دِ په کاڼړي وُ ویشتم وُئي وِ زه فلاني یم او دا کاڼړي هم هغه کاڼړي دي چه په فلانه تاریخ دِ زه پرِ ویشتلي وم ظالم وَیل تر اوسه چرته وي درویش وُ وِستا له جاهَ مي اندیښنه کوله اوس چه مي په څاه کښِ وُ لیدي فرصت مي غنیمت وُ ګاڼره انتقام خپل مي واخست قطعه

نا لایق سړي چه وُ ویني بخت یار عاقلان ورتهٔ تسلیم کاندِ اختیار

چه قوت د انتقام درڅخه نه شته لا علاج د ظالمانو وړه آزار

صبر وُکړه خود به دور د ده تیر شي مخالف به شي له ده سره روزګار

ورجاروزي به و ده ته کردي خپلي په سره سینه ترِ وُ کاږه دمار

حکایت

یو له بادشاهانو په هسي زحمت ګرفتار شه چه له یادولو ئي نه یادول بهتر دي حکیمان د یونان متفق شول چه دي زحمت لره نور هیڅ دارو نه شته مګر تریخي د سړي چه په دا سن په دا صفت موصوف وي طلب ئي کړ یو

دهقان بچه ئي بيا موند مور و پلارئي ؤ بلل زر ئي ډير ورکړه خشنود ئي کړل قاضي هم فتوي ورکړه چه د بادشاه د سلامتي دپاره ئي مرګ روا دي جلاد چه قصد د هلك د وژلو ؤ کړ هلك آسمان ته ؤ کتل ؤ ئي خندل بادشاه ؤ پښتيده چه په دا ځاي چه ته ئي څه ځاي د خندا دي ؤ ئي وِ اي بادشاهَ ناز د فرزندانو په مور و پلار وي او دعوه قاضي لره وړي ور درومي داد له بادشاهانو مومي مور و پلار په علت د دنيا ځما په مرګ راضي شول قاضي فتوي ځما د مرګ ورکړه بادشاه د خپل صحت دپاره حکم ځما د کشتن ؤ کړ اوس بي له خدايَ بله اثرِ پاته نه شوه قطعه

چه مي به طمع د زړه و چا ته شوه له همه وارو په وار وار ماته شوه
اثري د خپلو د پردو ؤ لاړي اوس مي يواځي اثرِه و تا ته شوه

بادشاه ډير رقت ؤ کړ سترګي ئي له اوښيو ډکي شوي ؤ ئي فرمايل هلاك ځما بهتر دي له وجلو د هسي بيْ ګناه ذ هلك سر سترګي ئي ښکل کړي په غيږ کښِ ئي ؤ نيوه ډير څه ئي ورانعام کړه آزاد ئي کړ حق تعالي چه ده دا رحمت په مظلوم ؤ کړ خپل رحمت ئي په بادشاه ؤ کړ صحت ئي ورعنايت کړ هم هغه دم روغ شه رباعي

چه ئي رحمت په عالم اظهار شي په هغو رحم د کردګار شي
نه په نمونځونو نه په روژه ده چه رحم کار شي شيخ رحمکار شي

قطعه

د درياب په غاړه پاس په هاتي سور وه مهاوت کاوه له ځانَ قال و قيل
که تر پښو لاندِ احوال د ميږي زده کړي هسي ځان کنږه تر پښو لاندِ د فيل
په اولاد د اسرائيل فرعون غالب وه حق غالب کا په فرعون رود نيل

حکايت

يو مريي د عمرليث بادشاه تښتيدلي وه څوك ئي ورپسي واستول ؤ ئي نيو را ئي ووست د وزير ور سره څه عداوت په زړه کښِ وه عرض ئي ؤ کړ چه

وجلي بويه چه د نورو عبرت وُ شي داهسي دِ نه کانډِ هغه مريي بادشاه ته سر په زمکه کيښود عرض ئي وُ کړ بيت

هر چه په ما دروميي چه ئي ته پسندِ روا دي
ته صاحب زه دِ بنده يم څما څه دعوي له تا دي

اما په موجب د دي خبري چه پرورده د نعمت يم نه غواړم چه په قيامت څما په خون گرفتار شي که خواه نا خواه وژلي شم بارِ په تاويل د شرعي سره مي وُ وژنه چه په آخرت ماخوذ نه شي بادشاه وُ ويل تاويلِ شرعي څه وُ کړم وِ ئي حکم وُ کړه چه زه وزير وُ وژنم پس له هغه ما ئي په قصاص کښِ وُ وژنه بادشاه وُ خندل وزير ته ئي وُ ويل څه مصلحت ويني وزير وُ وِ چه په صدقه د خپل پلار د گور دا شوخ ديده بي حيا معاف کړه چه زه ترِ خلاص شم گناه څما وه چه په قول مي د حکيمانو کار وُ نه کړ لکه ئي ويلي دي قطعه

له جاهل سره چه جنگ کوي هوښياره خوبه مات کړي خپل تندي په نادانه ئي
چه گذارِ دِ په غليم د غشي وُ کړ ترِ حذر کړه چه ئي ناست په نښانه ئي

حکايت

د يوه بادشاه وزير وه ډير نيک خوي او خيرخواه د خلائق وه دلبري ئي د هر چا کوله رو به روي د هر چا حرمت کاوه پسي شا به ئي د دوست د دښمن صفت اتفاقاً له ده هسي حرکت واقع شه چه د بادشاه پسند نه وه محبوس ئي کړ هغه نگهبانان چه ممنون د ده د احسان وو څو ورځي چه دي په قيد وه واړو ئي خدمت کاوه او په هر کار کښِ ئي ور سره رفق او ملائمت د ده په دلگيري واړه دلگير وو چه بند د ده د احسان په ځنځير وو

قطعه

خاطر د هر چا په ښه ويل ښاد کړه چه بد دِ ياد کا ته ئي په ښه ياد کړه
وائي که بد در ته د چا وُ نه رسي په دوست دښمن باندِ احسان کرم زياد کړه

څو مدت په سبب د باقي تاوان په زندان کښِ پاتِ شه يوه له بادشاهانو د هغه نواحي چه د ده په ديانت په کفايت واقف وه پټ ئې ور لره خط کتابت راستاوه چه دغه بادشه څخه ستا قدر نه وه څکه ئې په لږ تقصير دا هونبره بي حرمتي بي عزتي در وُ رسوله که په دي لور دِ نيت د راتلو دي دا عالم خاص و عام واړه ستا اشتياق لري وزير چه په دا حال خبر شه مختصر ځواب ئې هم پر شا د هغه خط وُ ليکه روان ئې کړ يوه د ده له معاندانو چه په دا حال واقف شه بادشاه ته ئې وُ وِ چه فلاني چه محبوس دي د فلاني بادشاه سره آمد و رفت تر مينځ لري خط کتابت وردرومي بادشاه برهم شه جاسوسان ئې وُ کمارل چه کشف د دي کار وُ کا قاصد ئې وُ نيو خط ئې وُ لوست ليکلي ئې وه چه نيک گماني د بزرگانو په بنده زياته د بنده تر فضيلت ده اما در تله د بنده چه په خدمت د حضور مشرف شي امکان د دي امر د اجابت نه شته بنده پرورده د نعمت د دي خاندان دي په لږ تغير حال له مخدومَ قديمَ جاروتل خدمتکار لره مناسب نه دي بي وفائي کيږي

بيت

د هرچا چه عنايت په تا هر دم وي بار ئې وړه که ئې په تا کله ستم وي

د بادشاه د دې دا خوي د وفادارئِ او د حق شناسئِ ډير پسند شه خلعت او نعمت ئې ور ته عنايت کړه عذر ور څني د ما سبق وُ غوښت چه ما خطا وُ کړه چه ته مي بي گناه آزرده کړي عرض ئې وُ کړ چه د صاحب په دا کار کښِ هيڅ خطا نه شته بلکه تقدير د حق عزَّ اِسْمُهُ په دا مقدّر شوي وه چه دا محنت به ما ته رسيده نه وُ شول چه هم ستا د لاسَ را وُ رسيده چه حقوق دِ د نعمتونو را باندِ ثابت دي رباعي

که دِ دوستان دي که دښمنان دي چه رسووني د سود و زيان دي
واړه له خداي کنړلي بويه غير به نه ويني چه عارفان دي

حکایت

یوه بادشاه د عربو حکم وُ کړ په خپلو دیوانیانو چه د فلاني خدمتګار یومیه تر سابق مضاعفه کانړيٍ چه همیشه په خدمت حاضر دي او نور په لهو و لعب مشغول دي او په خدمت کښِ کاهل یوه صاحب دل وارویدل وُ ئي ژړل وُ ئي وِ چه مرتبه موندل په درګاه د حق تعالي هم دا مثال لري قطعه

په خدمت کښِ چه حاضر وي د بادشاه یوه ورځ پرِ آخر وُ کاندِ نګاه

عابدان چه عبادت په اخلاص کاندِ البته پرِ رحم وُ شي د اله

مثنوي

که مهتري غواړي فرمان بردار اوسه په عبادت کښِ د کردګار اوسه

په ورځ انصاف کړه په شپه بیدار اوسه د بل آزار وړه ته بي آزار اوسه

حکایت

یو ظالم وه شریر چه لرګي به ئي له درویشانو پیرودل ارزان په زور توانګرانو لره به ئي ور کول ګران په سود یوه صاحب دل ور ته وُ وِ بیت

مار ئي ته چه په هرچا باندِ ګذار کړي یا ګنګي چه چرته کیني زمکه غار کړي

قطعه

زور قوت که دِ ځي پیش په فقیرانو د خواب قوت دِ نه شته و یزدان ته

زنهار مه آخله آزار د غریبانو چه آهونه ئي لاړ نه شي و آسمان ته

ظالم له دي خبري وُ رنځیده مخ ئي وُ جاریوست التفات ئي وُ نه کړ ناګاه د باورچي خاني اور ئي په انبار د لرګو وُ لګیده درست کور ئي سره له متاع وُ سه اتفاقاً هم هغه درویش چه نصیحت ئي ور ته کړي وه ده مخ ترِ جاریستلي وه په هغه لار تیریده هغه ظالم له خپلو یارانو سره خبري کولي چه نه پوهیږم دا اور څما په کورله کمه لوریه وُ لګیده درویش ور ته وُ وِ چه له آهٔ د درویشانو

قطعه

په حذر اوسه د خوږو زړو له آهٔ چه آخر د زړه لنبه ژبه ښکاره کا

يو کور څه چه له دي اوره لوي ښهرونه هسي سوځي چه عالم ئي نندارهٔ کا .

دا لطيفه پر تاج د کيخسرو بادشاه ليکلي وَه بيت

څو څو کالونهٔ به را باندِ تير شي شيرين صورت مي به په بل بل پير شي
دا ملك د نورو و ما ته راغي بل ته به هسي له ما نه هير شي

حکايت

يو پهلوان وه چه په هنرکښِ د پهلوانئ کامل وه تير سو شپيته هنره ئي فاخر دي کسب حاصل وه هره ورځ به ئي يو هنر ښکاره کاوه مګر په يوه شاګرد ئي مهرباني تر نورو زياته پيدا شوي وَه تير سو يو کم شپيته هنرونه ئي ورته وُ ښيل يو هنر ئي څنِ پټ کړ په ښيل کښِ ئي دفع الوقتي کوله عاقبت هغه هلك هم په هنرکښِ د پهلوانئ سر آمد شه نور شاګردان ئي پس کړل د چا مجال نه وه چه له ده سره ئي برابري وُ کړي يوه ورځ ئي د بادشاه دوړاندِ لافي وهلي چه د استاد په ما باندِ فضيلت از روي حقوق د استادئ دَي چه تعليم ئي را ته کړي دي او که نه په قوت تر ده کمتر نه يم او په صنعت کښِ ورسره برابريم بادشاه ته دا خبره دشواره ښکاره بده پرِ وُ لګيده حکم ئي وُ کړ چه سره دِ مصارعت وُ کاندِ ميدان ئي د پهلوانئ ور ته جوړ کړ بادشاه ارکانِ دولت امرايان واړه جمع شول خلق ډير ټول شه هغه ځوان لکه مست هاتي راغي په هسي دماغ چه که د وسپنو غر ئي په مخ کښ وي هم به ئي لوړولي وه استاد ئي فکر وُ کړ چه دي ځوان دي په قوت تر ما ډير دي هغه هنر ئي چه پټ کړي وه ور ته ئي واچاوه شاګرد ئي دفع کولي نه شوه عاجز شه استاد په دواړهِ لاسَ پورته کړ تر سر ئي خار کړ په زمکه ئي وُ ويشت شور له خلقَ پاڅيده بادشاهٔ وُ فرمايل چه استاد لره ئي خلعت او نعمت ور کړئ او شاګرد ئي ملامت کړ چه له خپله استادَ سره دا هومبره شوخي کول لاف څه مناسب دي وِ ئي اي بادشاهَ استاد په زور په قوت پر ما غالب نه شه بلکه له ما ئي يو هنر پټ کړي وه زه ئي نن ورځ په هغه هنر لاندِ کړم استاد

وِ ما هم د دي ساعت دپارهٖ له تا دا يو هنر دريغ کړي وه چه هوښيارانو ويلي دي چه دوست لرهٔ هومبرهٔ قوت مه ور کوه چه که احياناً غليم شي برابري درسرهٔ وُ کا

قطعه

يا وفا په دي جهان کښِ ښخوا نه وه | يا ئي نه کا څوك څمورِ په زمانه
له هر چا نه چه ويشتل د غشيو زده کا | هم هغه به عاقبت کا نښانه
دد و دام له دي سرِيو وفادار دي | ښه چه ګرزي ليوني په وِيرانه

حکايت

يو درويش وه مجرد گوښه نشين په صحرا ناست وه د بادشاه پرِ گذر وُ شه درويش په ملك د قناعت توانګر وه هيڅ التفات ئي پرِوُ نه کړ بادشاه په خپل سلطنت مغرور وه ورځنِ برهم شه وُ ئي وِ چه دا طائفه په مثال د حيواناتو ده آدميت اهليت ورځخه نه شته وزير درويش لرهٔ راغي ورته ئي وُ وِ چه باهشاه د ملك په دا تيرشه تا ئي ولي خدمت او ادب په ځاي را نه وړ درويش وُ وِ بادشاه ته وُ وايه چه اميد د خدمت له هغه کوه چه اميد د دولت له تا لري بل دا چه بادشاه ساتندوي د رعيت دي نه رعيت ساتندوي د بادشاه دا ئي مکر په غورِو نه دي رسيدلي سَيِّدُ الْقَوْمِ خَادِمُهُمْ

قطعه

په معني بادشاه خادم د رعيت دي | که هر څو ښبتن د حکم و حکومت دي
رعيت لکه رمه بادشاه ئي شپون دي | چه خدمت د رمي نه کا شپون زبون دي
هم ئي ژغوري له ليوه هم ئي ښه پيائي | هم ترِ قوت هونبرهٔ آخلي چه په پائي
د رمي څښتن مالك پروردګار دي | تِصرف دِ شپون پرِ نه کا که هوښيار دي

قطعه

د يوه که کل مراد د زرهٔ حاصل وي | د بل زرهٔ په نا مرادي زير وزبر
نا مراد دِ يو څو ورځي صبر وُ کا | مرګ به زر کاندِ دوي دوارهٔ برابر
د بادشاه د ګدا هيڅ تفاوت نه شته | چه ځيري د مرګ اره د دوارو سر

که قبرونه ئي څوك وران كا وُ ئي گوري   څوك به وائي چه دا خوار دي دا توانگر

بادشاه ډير په دا ويل د درويش خوش او ممنون شه ور ته ئي وُ وِ چه څه غواړي وِ ئي دا غواړم چه له ما نه څه نه غواړي غرض را سره نه لري بادشاه وِ پند را کړه وِ ئي

بيت

دا څو گاه غنيمت دي نكه بان شه د انفاس
که دِ ملك که دِ دولت دي لاچار دروِمي لاس په لاس

قطعه

عدل و انصاف کړه د ملك بادشاهَ   څو دِ لا گرزي په تن كښِ ساهَ
را تلنه كيږي د مرگ نا گاهَ   په ځان خبر شه د ځان گمراهَ

حكايت

يو وزير په خدمت د ذو النون مصري رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْهِ راغي همت ئي وُ غوښت چه شپه او ورځ په خدمت د بادشاه مشغول يم له خيره ئي اميدوار يم له شره ئي په ويره ذو النون وُ ژړل چه که زه له خپلَ خدايَ هسي په ويره په هيبت وي لكه ته له بادشاهَ له جمله د صديقانو به وم   قطعه

که بي خدايَ ئي اميد و چا ته نه كړي   د درويش قدم به پاسه په فلك وه
که وزير له خدايَ هسي ترسنده وي   لكه ترس كا له ملكَ نور ملك وه

حكايت

وزيران د نوشيران جمع شول تدبير او بندوبست ئي د يوه ملك كاوه هر يوه په موافق د خپل فكر مذكور كړ بادشاه يو تدبير چه په زړه كښِ جوړ كړي وه بيان ئي كړ بذرجمهر د بادشاه راي پسنده کړه نورو وزيرانو وُ ويل چه د بادشاه په راي كښِ دِ څه خوبي او مِصلحت وُ ليد چه په هونبره وزيرانو كښِ ستا د ده مصلحت غوره شه حكيم وُ وِ په دا سبب چه آخر د كار په يقين معلوم نه دي او فكر د واړو په مشيت كښِ دي د اَللّٰه تعالي وَاللّٰهُ اَعْلَمُ خطا دي که صواب نور موافقت د بادشاه له رايَ سره بهتر چه که احياناً

خلاف صواب راشي چه متابعت د ده د فکر دي له غضبً به د ده ایمن یم

قطعه

د بادشاه متابعت ور لره بویه که څوک څان عزت د ده له قهرً ژغوري
رنړا ورځي ته که وُ وائي چه شپه ده وایه وُ خته پیروني غټ غټ ستوري

حکایت

یوه شخص وینښته د سر کیسو کړه چه زه سید یم د حجاز له قافلي سره راغي چه له حجً راځم قصیدهٔ ئي د شعر بادشاه لره یووړه چه ما ویلي ده بادشاه خلعت نعمت ور وُ باخښه یو د بادشاه له ندیمانو هم په هغهٔ کال له سفره راغلي وه عرض ئي وُ کړ چه ما دي د لوي اختر په ورځ په بصره کښي لیدلي وه حاجي څرنګک دي بل وُ وِ چه زه ئي پیژنم پلارئي نصراني دي سید په څه دي شعر ئي په دیوان کښِ د انوری بیا مونده د شعر دزدي کړي وه بادشاه پرِ په قهر شه حکم ئي پرِ د وهلو وُ کړ چه دا هونبره دروغ دِ د څه دپاره ویل وُ ئي وِ یوه بله خبره که حکم وي وایم که هغه دروغ شي نور هرعقوبت چه را رسوي سزاوار یم بادشاه وُ فرمایل چه وُ وایه وُ ئي وِ قطعه

چه یوه کاسه اوبه چمچه شونبلي وي د فقیر کره هله اګره شي سپینه
په دروغو د بنده په غضب مه شه جهان ګرد سړي اکثر دروغ وائینه

حکایت

د هارون رشید له زهمنو یو پلار لره راغي چه فلاني امیر زاده ما ته کنځل د مور کړي دي هارون رشید ارکانِ دولت وُ پښتیدل چه سزا د هسي سړي څه ده یوه اشارت په وژلو وُ کړ بل وُ وِ د ژبي پرِکول ئي بویه بعضوئي قید مصلحت وُ لیده هارون وُ وِ اي زويً نیکک خوئي او کرم دا دي چه عفوه ئي کړي او که نه توانیږي ته هم ور ته کنځل وُ کړه نه وي چه له حدً تجاوز وُ کړي ظلم به هاله ستا له لوري شي دعوي به در باندِ د ده بیت

مست هاتي خوني مزري سره که جنګک کا که به لاف د مردئي کا ور ته نه ښائي

مرد هغه دي چه په نزد د ښو خوانانو چه په قهر کښِ باطل چا ته نه وائي

حکایت

شیخ وائي قَدَسَ سِرُّہُ چه له بزرگانو سره په بېړۍ کښِ ناست وم یوه کښتۍ د وروستو څمور ډوبه شوه دوه ورونړه په گرداب کښِ پرېوتل یوه له بزرگانو ملاح ته وُ وِ چه دا دوارِه وُ کارِه سل دیناره به دَر انعام کړم ملاح یو خلاص کړ یو ډوب شه وي مي سُبحَانَ اللّٰه باقي عمرئي پاتِ نه وه څکه په وِستلو کښِ د هغه تاخیر واقع شه ملاح وُ خندل وِ ئي چه یقین دي په دا کښِ هیڅ شك نه شته مرگ د هر چا په خپل وار دي اما بل سبب هم وه وي مي هغه څه دي وِ ئي دا چه خلاص شه یو وقت په بیابان ستړي شوم د تلو قوت مي نه وه په اوښ ئي سور کړم تر منزل ئي وُ رسولم او د دي بل له لاسَ مي تازیانه خوړلي وه وي مي صَدَقَ اللّٰهُ تَعَالي مَنْ عَمِلَ صَالِحاً فَلِنَفْسِهِ وَ مَنْ اَسَاءَ فَعَلَيْهَا

بیت

چه ښه بد عاقبت څان ته را جاروزي زنهار مه آخله د هیچا آزارونه
په دنیا په دین خپل کر سړي آخلي کر د گلو کوه مه کره خارونه
تل حاجت پوره کوه د محتاجانو چه ستا هم څښتن پوره کاندِ کارونه

حکایت

هارون رشید چه ملك د مصر وُ نیو وُ ئي وِ په خلاف د هغه باغي چه په غرور ئي د دي ملك دعوي د ربوبیت کړي وه وُ به نه بخښم دا ملك مگر خسیس ترین وته د مریونو یو حبشي مریي د ده وه خضیب نومیده هغه ته ئي ملك د مصر وُ باخښه وائي چه حماقت ئي تر دي حدَ وه چه رعیت ور له راغي شکایت ئي وُ کړ چه پنبه مه کرلي وه په کناره د رود نیل باران بي وقتَ وُ شه سیلاب راغي وارِه تلف شول وِ ئي مناسب وه چه تاسي وړي کرلي وي یوه صاحب دل وارویدل وُ ئي وِ قطعه

رزق روزي که زیاتیدي د چا په پوهه په دنیا کښِ به تل خوار وو نادانان

په کم عقلو باندِ هونبرهٔ دولت ډير کا   په حيرت شي ور ته پاتو دانايان
کيميا گر هنرمندان په خواري وُ مري   ابـلـه مومي خزانه په بيابان

حکايت

يوهٔ بادشاه ته ئي وينځه له ختنه راوسته خواهش ئي ور سره د صحبت وُ شه په هغه حال کښِ چه دي مست وه وينځي خان ته نه پريښود منع ئي وُ کړه بادشاه په غضب شه غلام حبشي ته ئي وُ بخښله چه ډير بد رنگ بد قيافه وه پاس شونډه ئي تر پوزي رسيدلي وه او کوزه شونډه ئي په گريوان پريوتلي وه   قطعه

لکه ختم په يوسف د حسن کار وه   هسي دي په بد رنگ والي کښِ اوځاروه
ديو به هم ور ته نظر کاوه په کرکه   هسي رنگ کريه منظر بغل مردار وه

راوړي دي چه نفس دِ هغه حبشي د مدتونو طالب وه شهوت پرِ غالب مهر ئي پرِ پيدا شه مهر ئي ترِ واخست صبا په وقت چه بادشاه وينځه ياده کړه احوال ئي ورته وُ وايه بادشاه په غصه شه وُ ئي فرمايل چه دواړهِ دِ سره وُ تړي له کوتي دِ ئي خندق ته واچوي يو له وزيرانو چه خير خواه د خلايقو وه عرض ئي وُ کړ چه بي چاره گناه نه لري خطا ترِ صادره شوي نه ده بلکه واړهِ بندگان اميد وارد صاحب له انعامونو وي او پرورده د نعمتونو بادشاه وُ فرمايل چه که يوهٔ شپه ئي تاخير کړي وي ما به بها د وينځي دو چنده ورکړي وه وُ ئي وِ مگر صاحب نه دِ آرويدلي چه چا ويلي دي   رباعي

تږي چه وُ ويني اوبه دوړاندِ   که مست هاتي وي په اوبو باندِ
ترخانۍ به تير شي اوبه به وُ څښي   که ئي هاتي که د ښپو د لاندِ
ملحد وي وږي خونه خالي وي   ډک له طعامَ يبِبي تالي وي
غمَ به هيڅ نه کا له رمضانَ   روژه خوړل به ئي په خوشحالي وي

بادشاه په دا لطيفه د وزير خوښ شه وُ ئي فرمايل چه حبشي مي تا ته بخښلي دي اما دا وينځه څه کړم وزير عرض وُ کړ چه وينځه هم حبشي ته

وُ بخښه پس خورده د سپي هم سپي لره بويه قطعه

که هرڅو ئي ښه پوښاك ښه ئي زيوروي د بازار لولئي بد بويَ وي خبيثَ

پس خورده د سپيو سپيو لره وركړه نصيحت واخله څما له دِ حديثَ

اَلطَّيِّبَاتُ لِلطَّيِّبِيْنَ وَاَلخَبِيثَاتُ لِلْخَبِيثِيْنَ په كتاب كښِ راغلي دينَ

حكايت

سلطان سكندر رومي چا وُ پښتيده چه ملك د مشرق و مغرب دِ په څه وينو تر تا پخوا بادشاهان چه تير شوي دي لښكر خزاني عمرونه ئي تر تا زيات وو دا رنگ فتح ور ته ميسره نه شوه سكندر وُ فرمايل په مدد د الله تعالي هر ملك چه به مي وُ نيو رعيت مي نه آزاراوه او نوم د بادشاهانو مي بي له نيكئي په بدي نه يادا وه بيت

په بزرگي به ئي هوښيار سري نه ستائي سپك ويل چه بزرگانو و ته وائي

قطعه

واړه هيڅ دي چه تيريږي	كه دِ بخت دي كه دِ تخت
د ښو نوم په ښه آخله	په دوو كونو شه نيك بخت
له هر چا شه په خوي نرم	جهان دي له سختو سخت
په خپل وقت عدل انصاف كړه	تل به نه وي دِ تا وخت
د ښه بد قماش معلوم شي	هر څو وُ نغاړي خپل رخت

حكايت

چا زيري په نوشيروان عادل باندِ وُ كړ چه فلاني دښمن دِ حق تعالي له جهانَ واخست وِ ئي هيڅ دِ آرويدلي دي چه ما به پريږدي قطعه

د غليم په مرگ چه واروي هرگز مه كړه ښادماني

نن دي لاړ صبا به ته ځي دا ځاي نه شته ودانئي

عاقبت له دي جهانَ تله د هر چا په نا كام دي

ته هم نورو غوندِ وُ كړه يو څو ورځي كامراني

نسخي ء نظم

فهرست د غلطو

نسخه	صفحه	سطر	غلط	صحیح	PAGE.
دیوان د عبدالرحمان	۲۳	۱۰	کاهي کودي	کاهي توز کودي	23
	۲۹	۹	د دي	دي د	29
دیوان د خوشحال خان	۲۴	۱۴	ما تري	ماتري	54
دیوان د خواجه محمد	۷	۱۸	آشنائي و ته	آشنائي و چا ته	109
	۱۲	۲۰	محمه	محمد	114
	۱۶	۱۲	و ماته	و ما ته	118
دیوان د میرزا	۴	۲۰	پد کثرت کبني	په کثرت کبني	122
	۶	۱۷	تمام کسیف	تمام کثیف	124
دیوان د شیدا	٥	۴	له پردي	له پردي	137
	٥	۲۳	کبني	کبني	,,
دیوان د اشرف خان	۱۱	۱	سامان کوچ	سامان د کوچ	159
یوسف و زلیخا	۱۰	۱۱	پیوري	پوري	172
	۱۶	۱۴	کاګناه خان به په زحمت	ګناه خان به په زحمت کا	178
	۲۰	۱۴	ورغیدلم	درغیدلم	182
دیوان د عبدالقادر	۳	۱۱	کا	که	189
دیوان د احمد شاه	۳	۴	خانکند	خانکندن	203
	۱۱	۱۳	د زمکل	د زمکي	211

00048013

Digitized with financial assistance from the
Government of Maharashtra
on 07 April, 2016